بسم الله الرحمن الرحيم

بدرُ الفتاویٰ
فی الفقه الحنفی

دافغانستان د اسلامي امارت د ستري محکمې
قاضي القضاة او د مرکزي دارُالافتاء رئیس

مولانا مفتي نور محمد ثاقب
په مشرتابه کې

مکتبة نورُ القرآن
کانسي روډ۔ کوټه

بدرالفتاویٰ

فی الفقه الحنفي

دريم ټوک

دافغانستان داسلامي امارت دستري محکمې قاضي القضاة
او دمرکزي دارالافتاء رئيس مولانامفتي

نورمحمدثاقب

په مشرتابه کي
دافغانستان دمرکزي دارالافتاء لخوا صادرشوي مسائل

مرتب

مفتي مولوی احمد «نوري ،ضيائي »

همکار

ابو خالد مولوی عبدالاحد «مجروح»

ناشر

مکتبه نور القرآن النور کتب خانه مارکيټ کاسي روډ کوټه
۰۳۳۱۲۵۸۹۶۷۳ - فضل ربيه - ۰۷۰۲۸۰۶۵۱۵

کتاب پیژندنه :-

دکتاب نوم : **بدرالفتاوى فى الفقه الحنفي** دريم ټوک
تاليف: دافغانستان داسلامي امارت د مرکزي دارلافتاء علماء
ترنظارت لاندي: دافغانستان دستري محکمي قاضى القضاة
اودارالافتاء رئيس مولانامفتي نورمحمد ثاقب
ترتيب: مفتي مولوى احمد «نوري ، ضيائي»
تصحيح اوعنوانات : مولوى عبدالاحد «مجروح»
خپرونکي: نورالقرآن خپرندويه ټولنه
النور کتب خانه مارکيټ کاسى روډ کوټه
چاپ ځاى : لاهورپاکستان
دخپريدوکال: ۲۰۱۵ميلادى دمارچ مياشت
دچاپ شمير : ۱۱۰۰عدد

د دریم ټوک فهرس

که ښځه کاله وروسته دشفعې دعوه وکړی اوداوايي چې ماپه زړه کي دشفع ناره وکړه څه حکم لري؟..................... ۱۲
که یوه ښځه دچاکورته پناه ورووړي اوپه عده وفات کي وي څوک دعوی په وکړي دانکاح صحیح کیږي کنه؟..................... ۱٤
داجاري دمځکې عشر چې ورکړل سي داجاري پرپیسو هم زکات یاعشر سته کنه؟............ ۱٦
کومه مځکه چې خرڅه سي تعمير پکښې جوړسي بیاتقسیم سي،ورثه تصرف ويني (۲۸)کاله تیرسي ورثه دعوه کولای سي کنه؟..................... ۲۷
که په یوه هیواد کي قتل وکړي ورثه په بل هیواد کي قصاص اخیستلای سي؟............... ۲۰
که دوه طلاقه ورکړي اوطلاق نامه ئې نه وي ورکړي طلاق واقع کیږي کنه؟................ ۲٤
که پلار زامنوته خپل ټول جایداد تقسیم کړي هغوئ ئې قبض کړي بیا یوزوی دیوه مخصوص کوردعوه کولای سي..................... ۲٦
لوټمار قمندانان چې په زور مالونه چورکړي اسلامي حکومت دامعاوضه ورکوي کنه؟..... ۲۸
هغه مالونه چې شرعائې خرید وفروش مباح یامکروه وي خودولت دمصلحت په خاطر منع کړي وي ددغسي دعوو فیصله کول په کومه محکمه کي باید وسي څارنوالي که مرافعه؟............... ۳۰
که ښاروالي په خلګو دکانونه جوړکړي وخت پر تیرسي داملکیت ئې دچاګرزي دښاروالي که دخلګو؟..................... ۳٤
که څوک دچامځکه پر بل چاخرڅه کړي وخت تیر سي اصلي مالک دعوی وکړي وئې ګټې اورد سي مشتري خپلي پیسي له اصلي مالک څخه غوښتلای؟اواصلي مالک له ده څخه خوړلي حاصلات غوښتلای سي کنه؟..................... ۳۹
که زوی مسکین وي زکات واخلي بیاله غني پلارسره مرسته کولای سي کنه؟............. ٤۱
د دولتي مځکو څخه د اډې،ګنج اومیله ځای استفاده،کرایه اوپه اجاره ورکول اودنوروځایو خلګ دې ځای ته په راتګ مجبورل څه حکم لري؟..................... ٤۲
که څوک دولتي مځکه قبضه کړي اودملکیت سند ئې نه لري دولت ئې تري اخیستلای سي؟...... ٤٥

په ولسوالي که بله جامع جوړه سي ايا په هغه کي هم د جمعې لمونځ صحت لري؟..............۴۸
که طرفين د مدعی بها مځکې له تصرفه د امير په امر بند سي ذ حاصلاتو نقصان به د چا پر ذمه وي؟...۵۰
دوکانداران که د ښاروالي تاکلي نرخونو څخه سرغړاوی کوی څه سزاء بايد ورکوله سي؟...۵۱
اميرالمؤمنين د بيت المال مالک دي که متصرف؟او په بيت المال کي څومره واک لري ؟....۵۳
هغه مالونه چې انتقال ئې بهرته بند وي که دولت ئې ونيسی دولت کولای چې په مناسب قيمت ئې وپلوري؟...۵۵
که څوک په خپله د روان موټر مخته ورغوځارسي ترموټر لاندي سي مړسي پر موټروان ديت سته کنه؟...۵۷
دهندوانو اونورو ذميانو بندسوی عبادت ځايونه اسلامي دولت بيرته خلاصولای سي؟او دولت دلاوارثه مځکو تصرف کولای سي؟...۵۹
ښاروالي کولای سي چې کرايه دارانو اومالکانوترمنځ ددکانوکرايه وټاکي؟اوبل داچې کرايه د سرقلفي دعوي کوي؟ اوبل داچې کرايه دارئې بل کرايه دارته په لوړه کرايه ورکولای سي؟..۶۲
که باري او سواري موټر ټکرسي د مړيو ديت پر کوم موټروان ده؟..............................۶۵
که له حکومت څخه دابادئ په شرط مځکه واخلي بياعذر پيښ سي اباده نسي بل حکومت ئې بل چاته ورکړي هغه مالک ئې خرڅه کړي د کوم مالک حق کيږي؟.........................۶۸
پرجامو خامک جائزدي کنه؟اودهديرې بوټي څوک کښلای سي جوازلري کنه؟.............۷۰
عشر اونصف عشر په کومو مځکو کي وي؟...۷۳
که مځکه په بيع وفاورکړي،پيسې قبض کړي،بيرته بيع فسخ کړي،څه پيسي مشتري ته وصول کړي،مځکه بيرته له مشتري په اجاره واخلي داجازه صحيح ده کنه اوددې وخت حاصل د چادي؟..۷۴
دنورمحمدترکي د وخت دمځکو تقسيمات څه حکم لري چې دچاشخصي مځکې ئې بغير عوض نوروته ملکاً ورکړي؟اوکه په هغو کي دولتي مځکي ورکړي وي هغه د چا کيږي؟.....۷۶
دهندو له مځکې به دولت څه شئ اخلي که خراج؟نو څومره؟...۷۸

که قرارداد دیوه شریک په نامه وسي نوراستفاده تري کولای سي، که قرارداد دولت کړي وي پرهغه مال ګمرک اخیستای سي، همداسي دموټردترازو پیسي پرچادي؟............ ۸۱
اسلامي دولت کولای سي چې دصلیب شکل له موټرانو وغیره څخه خراب کړي؟............ ۸۵
چې دجنازي لمونځ وسي دمړي په پټولوکي ځنډ څنګه دي؟............ ۸۶
یوه ولسوالي چې کافي اوسیدونکي ولري دجمعې لمونځ صحت لري کنه؟............ ۸۷
دمجاهد عسکرپه هکله (۵) مهیمي پوښتني اوځوابونه............ ۸۹
که په قسطونوځمکه خرڅه سي څه قسطونه وصول اوڅه باقي وي وخت تیرسي بیابیع فسخ کیدای سي؟که نه فسخ کیږي دکوم قیمت قسطونه به ورکوي؟............ ۹۳
دسرقلفي په اړه مفصل بیان، احکام ،اقسام اوسرقلفي اړوند ټول جزئیات............ ۹۵
که دچاپر زوی پور وي ،پټ سي، پلار ئې پوروړي ته باغ د(۵)کلوپه اجاره وکړي،نوهرکال نوې اجاري غواړي کنه؟ اوکه په دې جریان کي زوي پیداسي،بیرته ئې په پوراداکولو مجبورولای سي کنه؟............ ۱۰۳
که شل کاله مخکې سرای په بیع وفا اخیستي وي بیا خرابه سي نوڅه حکم لري بیع وفاده که فسخ؟............ ۱۰۵
سیدان اوفاروقیان په بیت المال کي حق لري کنه؟............ ۱۰۸
که دکرایي یاسرقلفي دکان نړیږي کرایه دارحاضرنه وي مالک کولای چې دمعتمد شخص په حضوردکان دجوړیدولپاره مات کړي اودهغه مال حساب کړي ؟............ ۱۰۹
که دچاپربل افغانئ باندي وي هغه دپوروړي له اجاردارڅخه کلداري واخلي په خپل سرئې وته کړي پوروړئ دخپلو کالدارو حقورباندي لري کنه؟............ ۱۱۱
دپیر اومرید ،دذکرونو حلقې ،حرکات، اقسام،وغیره په اړه (۲)مهیمي لارښودني............ ۱۱۳
که دچاپه کښت اوښان ګډ سي،مالک اوښان راولي داوښانومالک نه پیداکیږي؟که داوښانودخرڅولو ،مالک ته دپیسو ورکولوحکم وي نودساتنې د ورځومصرف به له مالکه اخلي کنه؟............ ۱۲۲
که دملک له حاکم سره دعوه وي تر درو محاکموزیات حق لري کنه؟............ ۱۲۳

که ورونه په مشترک مال کي ودونه وکړي بیاتقسیم وکړي یو وروربې واده پاته سي دولور حق پرنورو لري کنه؟.......... ۱۲۵
که ځوک موټر واخلي اسناد ئې له مالک سره وي پیسي ئې هم پوره نه وي وکړي په دې وخت کي ئې مشتري پربل چاخرڅولای سي کنه؟.......... ۱۲٦
په تراویحو کي به بسم الله دهرسورة په سرکي په زوره وايي که دیوه سورة؟.......... ۱۲۸
ژوندی حیوان په تاله (وزن) خرڅول څنګه دي؟.......... ۱۳۰
که دولتي محکه په اجاره ورکول سي هم عشر ورباندي سته؟که وي نوپردولت که پرمستأجر؟.......... ۱۳۱
ځیني مواد،حیوانات،اجناس چې له یوه ملکه بل ملک ته انتقالیږي دولت واک لري چې دخپل ملک دمصلحت په خاطرئې له خارجه بند کړي؟،اوځیني جایدادونه چې مالکان ئې غائب وي دولت کولای سي چې په غیاب کي ئې داصلاح په خاطر ونړوي؟.......... ۱۳٤
دزیارت اصلي طریقه څنګه ده؟!یاله زیارته مرسته غوښتلای سي؟.......... ۱۳۷
که ځوک تناب کش کړي بل سړي په ځاه کي واچوي،مړسي،دیت،ضمان سته کنه؟.......... ۱۳۹
که انګور دګل پر وخت خرڅ کي اوله دې وروسته دباوړئ اوبه پر لګوي عشرکه نصف عشر ورکړي؟که هریو وي پر بائع ده که پر مشتري؟.......... ۱٤۱
که یودلګی مشر دجهاد لپاره موټر واخلي اوپوره پیسي نه لري محاذمشرئې نه ورکوي هغه نیمي هم پور وي بیرته ئې خرڅولای سي چې پورپه اداکړي؟ اوکه یومجاهد خپل موټر خرڅ کړي پیسي دده دي که دبیت المال؟.......... ۱٤۲
داجاري دعشرپه هکله څلورمهیمي پوښتني،په اسپیکرکي بې ضرورته لمونځ کول، دسیپارو ختم څه حکم لري؟.......... ۱٤٤
که په ابتدائیه محکمه کي دشاهدانو شاهدي رد اوپه مرافعه کي قبوله سي په کومه عمل کیږي؟.......... ۱٤۷
که دوه ورونه تقسیم ونه کړي مړه سي دیوه لور دبل په کړوسیانو،لمسیانو(۵۰) کاله وروسته دعوی کولای سي؟.......... ۱٤۸

که خورخپل ملک کشر وروړته وبخښي اوبیاکشر،مشراوخورمړه سي دمشر ورور ورثه دعمه په حق دعوی کولای سي کنه؟.......... ۱۴۹
که مضارب تاوان وکړي ،یادروغ ووايي،رب المال دحساب اوقسم حق ورباندي لري کنه؟...... ۱۵۱
که ترتقسیم مخکي داسي مځکه هبه سي چې دخویندوحقوق هم پکښي وي خوبخښلي یې وي داهبه دمشاع ده کنه؟که هبه دمشاع سي حکم ئې څنګه دي؟.......... ۱۵۳
له مصنوعي غاښ سره غسل څنګه دي؟.......... ۱۵۵
دانجلۍ دبلوغ سن به څوکاله شمیرل کیږي؟.......... ۱۵۶
که دخورپه غیاب کي تقسیم وسي حصه ئې معلومه سي ،خودې ته ورمعلومه اوتسلیم نسي،خورابراء خط ورکړي صحت لري کنه؟.......... ۱۵۷
که سرای واخیستل سي ،په مسجدکه سي بیرته ئې مالک غوښتلای سي کنه؟.......... ۱۵۸
که صلح وسي دیوه حق پربل کنبیښودل سي،اوبیا ثابته سي چې حق ئې نسته صلح باطلیږي؟ که باطلیږي کوم شرائط لري؟.......... ۱۵۹
صرف ذولیدي حجت ده کنه؟د ذولیدي احداث یابطلان پرمدعی لازم ده کنه؟.......... ۱۶۱
که دلاري په خاطر دچادکان له ښاروالي سره استملاک سي، اوقیمت ئې ترلاسه نکړي، لارجوړه نسي،موقت دکانونه ورباندي جوړسي نوښاروالي مالک ته قیمت ورکړي ښاروالي کرایه واخلي که مالک ته کرایه ورکول سي؟.......... ۱۶۲
که درې واره داسي ووایي:(پرماباندي خپله ماینه خور ومورده) (داښځه والله که زماپه کوربیارانئوزي) اوښځه په دغه کورکي وي اوبیاداهم ووایي چې ثلاثه اوکلما هم یادکړي اونیت ئې هم دطلاق وي نوڅه حکم دي؟.......... ۱۶۳
دوصیت ،له جنازي پس دعاء،په روژه کي پیچکاریٔ،دپیرصاحب په نوم نذرپه دې اړه څلور مهیمي پوښتني اوجوابونه.......... ۱۶۵
ددولتي مځکوپه اړه څومهمي پوښتني اوجوابونه.......... ۱۷۵
که دولت دبل هیواد دجاسوسي اداري،اوصلاح توزیع کونکي،همدارنګه په داخل کي چې دبل هیواد لپاره جاسوسي کوې موټران ونیسي څه حکم ئې دي؟.......... ۱۸۰
دکفاروپه لاس اوپه برقي اله حلال سوي حیوانان څه حکم لري؟.......... ۱۸۳

که دوه ورونړه په شراکت مځکه رانیسي بیائي تقسیم کړي نور ورونړه حق پکښې لري؟..... ۱۸۶
که څوک له خور څخه خپل حق په بیع واخلي او بیا خور څه دعوی وربانديوکړي حق لري کنه؟ ۱۸۸
دګروئ دکان په دحکومت په نقشه کي راسي او نړېږي څه حکم ئې دي؟.......................... ۱۸۹
په حیله چې کومي پیسي اخیستلي کېږي سود ده کنه؟ هغه پیسي چې دپیسو ماتول ورته وایي.. ۱۹۱
دسرقلفي دکان که دمالک په اجازه ترمیم سي څه حکم ئې دي؟.................................. ۱۹۳
که شاهد ددرواغو شاهدي ووایي فیصله صادره سي او شاهدان خپله شاهدي بیرته واخلي اقراوکړي چې موږ درواغ ویل څه حکم دي؟.. ۱۹۵
حکومت کولای سي چې خارج ته تلونکي مالونه په خپل هیواد کي تم کړي؟.................. ۱۹۷
که څوک په خپله کوزده خبرسي ووایي(زه دابنځه نه کوم) بیاووهل سي ووایي(په ثلاثه اوکلماپرماطلاقه ده)طلاق واقع کېږي کنه؟که طلاق نو کوم طلاق؟............................ ۱۹۹
ددکان تړه ،اودمسجد داودس تازه کولوځای اودمسجد دائره (صحن) څه حکم لري؟....... ۲۰۰
که میریزي ورور دمیراث ناتقسیم سوي مځکه خرڅه کړي دمړي لمسیان حق پکښې لري کنه؟که خپله حصه وګټي په نوره دشفع دعوی کولای سي کنه؟................................ ۲۰۳
که دچا دمځکې په څنګ کي پخوانۍ لاره وي اوخلګ نه وي لاره جوړه کړي له درو کلو وروسته دمځکې مالکان کولای سي چې نوې لاره بنده کړي ؟.. ۲۰۶
که مور په خپل ژوند کي خپله حصه یوه زوی اود دوولمسیانو ته وبخښې څه حکم دي؟...۲۰۷
دزور طلاق څنګه ده؟او دیتیمي ورېړې سرپرستي به څوک کوي؟................................. ۲۱۰
که پلار په خپل ژوند کي یو زوی په پټه وصي کړي نو څه حکم لري؟............................ ۲۱۲
که ورور دحور حق نه وي ورکړي اوله مورنې څخه سرای خپلې بنځې ته په مهر کي ورکړي دابنځه ئې له یو څه عوضه سره بیا بل چاته هبه کولای سي کنه؟.................................... ۲۱۳
ژوندي تازان په اور کبابول اودهغوئ خوړل مباح دي که حرام؟...................................... ۲۱۶
په اسپیکر کي لمونځ کول جائزدي کنه؟... ۲۱۸
زما دپلار په منقول اوغیرمنقول جابداد زماعمه دعوه کولای سي کنه؟............................ ۲۲۰

که دحیلې په ډول لرمځکه چاته وبخښې شفع بندیږي کنه؟که شفع ثابته سي کوم نرخ معتبردی؟ دخرڅ دورځې که دنن؟.......... ٢٢٢
که پلار دمځکې قباله دځلورو زامنو په نوم جوړه کړي پنځم له حقه وباسي له وفات وروسته پنځم حق پکښې لري کنه؟.......... ٢٢٣
که قاتل دچاپه قتل له محکمې دباندي اقرار وکړي ،په محکمه کي منکرسي،دده داقرار شاهدان په محکمه کي شاهدي اداء کړي بیانورشاهدان شاهدي ورکړي چې دمقتول وارثانو دعفوي اقرارکړي کوم شاهدان منظوردي؟.......... ٢٢٥
دمیراث مځکه مي وګټله نیم ملک ئې راتسلیم کړ نیم پاته دپاته ملک دتیروکلونو حاصل زماحق کیږي کنه؟.......... ٢٢٦
که یوحکومت مځکه توزیع کړي نیم قسطونه اداسي نیم په بل حکومت کي اداسي اسناد ورکول سي بیا حکومت دابیع فسخه کولای سي کنه؟.......... ٢٢٧
په هبه کي داشرط راتلای سي چې خرڅوي به ئې نه؟.......... ٢٣٠
که دپلار له مرګ وروسته زوی په شخصي کاروبار ملک پیداکړي اکا حق پکښې لري کنه؟.... ٢٣٢
که ددوو سرایو په منځ کي دمسجد اوکاریز لپاره لاره وقف سي دسرایو مالکان کولای سي چې دکوڅې ته ابرو اودروازه راخلاصه کړي؟.......... ٢٣٣
که بالغه انجلۍ په خپله کوزده راضي نه وي نکاح صحت لري کنه؟.......... ٢٣٥
یوشریک بې له اجازي دنورو مشترکه مځکه خرڅولای یابخښلای سي کنه؟.......... ٢٣٦
که په لږقیمت له چاڅخه په زور مځکه واخلي اوقباله په زور په جوړه کړي ابادي پکښې وکړي بیا مظلوم داسلامي حکومت په مټ بیرته خپله مځکه خپلولای سي ؟که ئې خپله کړي دآبادي څه حکم دي؟.......... ٢٣٨
که شئ په پور واخلي بیائې بیرته په هغه پور کي داخیستو ترقیمت په کم ورکړي جواز لري کنه؟.......... ٢٤٠
که شریک په مشترک ملک کي په یوه سرای شخصي مصرف وکړي بیاپه تقسیم کي دبل سي مصرف به څه په کوي ؟که قیمت ئې کیږي نودکوم وخت ؟.......... ٢٤١
که یو زوی دپلار په ژوند او وفات کي خپل کسب کوي دانور ورګډ دي کنه؟.......... ٢٤٢

له جنازي وروسته دغه مرده اونوروته په ناسته دعاکول روادي ؟........ ۲۴۴
که اکا کوچني وراره هبه وکړي، مور زامنوته اوهغه تقسيم چې دخوندو حق ور نه کړي صحت لري کنه؟........ ۲۴۵
که په حالت دغضب کي داسي ووايي(زمابنځه پر ماخور اومورده)څه حکم لري؟........ ۲۴۷
له يوې ولي ځخه چې لښتي جلاسوی وي په ګډه بهئي کاروي که يواځي دلويه ولي مالکان؟........ ۲۵۰
که مځکه اجاره کړي اوپه مځکه دعوه وسي درې فصله معطل سي څه حکم لري؟........ ۲۵۱
دحج او اوقافو وزارت کارکونکي دحاجيانو وکيلان دی که اجيران؟........ ۲۵۲
دويالي يالښتي حريم څومره دي؟........ ۲۵۴
که موټر په داسي ډول چپه سي چې ترافيکي ملامتيا ورباندي نه وي څوک پکي مړسي پرموټروان ديت سته؟ که سته نوڅومره؟........ ۲۵۵
که دولتي مځکه يوقومندان شخصي خلګوته ورکړی دولت ئې بيرته ځيني اخيستی سی؟ که اخيستلای ئې سي دهغوئ بناوي څه حکم لري؟ اوپه بناوکي فرق چې ځيني پوره وي ځيني مانده؟........ ۲۵۷
که دولتي مال چاته په کرايه ورکړي هغه ئې شريک ته ورکړي څه حکم لري؟........ ۲۵۹
که ديوه ورور زامن غائب وي دخورزامن ئې د اکاله زوی ځخه دمور حق غوښتلای سی چې داکا دزامنو په منځ کي تقسيم هم نه وی سوی؟........ ۲۶۱
که کوچنۍ نجلۍ کوچني هلک ته په نکاح کړي (۱۵)کاله وروسته معلومه سي چې هلک ليونی، فلج اوعصبي ده انجلۍ له نکاح ځخه خلاصيدای سي؟........ ۲۶۳
که ديو ضرورت په خاطر مځکه چاته هبه کړي بيرته رجوع کولای سي؟........ ۲۶۵
که دموټرانو دنمايندګي نماينده ظلم کوي رشوت اخلي دولت دغه نمايندګي په خپل لاس کي اخيستلای سي........ ۲۶۷
که دموټروان اونماينده ترمابين مال ورک سي ذمه وار څوک دي؟........ ۲۶۹
که په تقسيم کي ديوه ورور برخه کمه وي دده له وفات وروسته دده زامن په اکادپوره حق دعوی کولای سي کنه؟........ ۲۷۰

له کوموسیمو چې دولت مالونه بند کړي وي اوخلک ئې په قاچاق وړي که دغه خلک یائې مالونه ونیول سي څه حکم لري؟
دکوڼدې ،رضاعت اوشاهدی په اړه څومهیمي پوښتنې اوجوابونه ۲۷۲
دغصب په مالونو کې دغصب دورځې قیمت معتبرده که دنن؟ که دغصب دورځې وي اوهغه مثلاً افغانۍ بې ارزښته وي نو دهغه وخت دپیسو خارجی معادل نن هم کیدای سي کنه؟ ۲۷۴
دمولود شریف په نامه محفل داسلام له نظره ۲۷۹
دتواتر شاهدي ۲۸۲
دتواتر یاتسامع شاهدي اوفقهي اعتبار ۲۹۱
دمنکراتو دپیدا کولو لپاره تلاشي کول ۲۹۲
دهدیرې دمځکې حکم ۲۹۳
دټکس اماکن شرعي حکم ۲۹۵
که پلار زامنو ته تقسیم ورکړي لوڼو اوخویندو ته حق ورنکړي هغوئ حق لري کنه؟ ۲۹۶
ددوهم جماعت حکم ۲۹۸
دولت کولای سی چې دچاشخصي مالونه له خارجه بند کړي ؟ ۲۹۹
دزوراقرار ،اوددووکسانو قتل چې مشخص قال پکې معلوم نسي څه حکم لري؟ ۳۰۰
دتیلو په اړه قراردادونه دشریعت په رڼاکې ۳۰۲
په هیواد کې دتیلو دپمپونو اړوند بشپړ احکام اومفصل بیان ۳۰۵
۳۰۷

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة والایمان



ددعاپه هیله

عبدالاحد «مجروح»

دهجرت میله پښتون آباد کوټه

بسم الله الرحمن الرحیم

که پنځه کاله وروسته دشفعې دعوه وکړي اوداوایي چې ماپه زړه کي دشفع ناره وکړه څه حکم لري؟

سوال: و حضورته د دارالافتاء جناب محترم رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

محترما زه حاجی عبدالرحمن د حاجی محمد گل زوی د پنجوائی د ولسوالی د تلکان د قریه اوسیدونکی یم . عرض لرم ما دروسانو په وخت کی د کندهار د ۶ ناحیی په منطقه کښی یو باب سرای رانیولی وو ځکه زه په هغه وخت کښی پاکستان ته په هجرت تللی وم بیا چه روسان د افغانستان د پاکی خاوری څخه ولاړه زه بیرته و خپل وطن ته راستون سوم نو په داغه سرای کی می ختی شروع کړی یو دوو ۲ سپین ږیرو زما څخه پوښتنه وکړه چه داغه سرای تا په څو افغانیو رانیولی دی ما ورته وویل چه ما په ۳ لکه افغانی رانیوی دی دغه زما د سرای و بغل ته داغه سپین ږیری ویلی وه پس له یوی هفتی داغه زما د بغل سړی پر ما راپورته سو د شفعی دعوه ئی په ما وکړه زما څخه ئی هغه سرای واخیستی ځکه په هغه وخت کی شرعی نظام حاکمیت نه درلودی نو اوس چه شرعی نظام په افغانستان کی نافذ دی عدالت و مابین ته راغلی دی نو زه د خپل سرای چه زما څخه په زبردستی اخیست سوی دی د خپل حق غوښتونکی یم او په داغه مابین کی چه ده زما سرای نیولی وو ۵ کاله عمر تیر سوی وو پس له هغه ئی په ما د شفعی دعوه وکړه دهغه وخت قاضی دده څخه پوښتنه وکړه چه تا د شفعې نعره وکړه چه زه د دغه سرای شفعه یم یا دې شاهدان و درول ده وویل چه مانه ناره کړی ده او نه می شاهدان درولی دي هغه قاضی بیا ورته وویل چه په زړه کښی دي هم نعره نه وکړه یا دي په زړه کی نه درو گرځیدل چه ناره و کړی او یا شاهدان و دروی ده وویل چه هو په زړه کښی می را و گرځیدل هغه ورته وویل چه بس شفعه ستا حق ده نو بیا ما ورته وویل چه ته دغه لاری ورښه یی نو زه په تا ولی شریعت کوم؟

(حاجی عبدالرحمن)

جواب: کله چه یو شفیع طلب د خپلې شفع کوي نو اول واری به په هغه مجلس کی چه دی په بیع خبریږي طلب د شفع به کوي یعنی داسی یو لفظ به وایي چه ده شفع پر طلب باندي دلالة وکړی یوازی په زړه کی غوښتنه کفایت نه کوي دوهم واری به دستی راولاړیږي او د نورو شاهدانو په مخ کی به وایي چه زه دغه خپل حق د شفع غوښتونکی یم دریم واری به راځی د قاضی په مخ کی به غوښتنه د حق کوي دا نو ۳ طلبه سوه که چیری په اول طلب کی تاخیر وکړی یعنی په هغه مجلس کی چه دی په بیع خبر سوی دی غوښتنه ونکړی وروسته بل ځای غوښتنه وکړی او هیڅ مانع او عذر په اول مجلس کی نه وی نو دده حق د شفعی باطل سو او که په دوهم طلب کی دونه تأخیر وکړی چه په هغونه وخت کی دی شاهدان پیدا کولای سی او ده خپل حق غوښتنه کولای سی او نه یی وکړی هم یی حق باطلیږي او حق د شفعی په تیرید لو سره د کلونو نه باطلیږي یعنی که دغه شفیع پس د ډیرو کلونو په دغه بیع خبر سو هم یی حق د شفع سته.

یلـزم فـی الـشفعة ثـلاث طلبـات وهـی طلـب المواثبة و طلـب التـقرير و الاشهاد و طلب الخصومة والتملک (المجلة المـ۱۰۲۸) يلـزم علی الـشفيع ان يقـول كلاما يدل علی طلب الشفعة فی المجلس الذی سمع فيه فی الحال كقوله انا شفيع المبيع الخ (المجلة المـ۱۰۲۹) لو اخـر الـشفيع طلب المواثبة عـن مجلس علمه بـالبيع بـدون عـذر كان اشتغل بـامر اخـر ..... سقط حقـه فـی الـشفعة فـان وجد عـذر مـانع مـن المبـادرة بـالطلـب كـوجـود حـائـل مخيف من وحـش او سيل مثلا لا تبطل شفعته حـتی يـزول المـانع (الفقه الاسلامی صـ۸۳۰ج ۵) هـكـذافی (بدائع الصنـائع صـ۱۷ج ۵) (المجلة المـ۱۰۳۲) ولـو اخـر الـشفيع طلب التـقرير و الاشهاد مدة يـمكن اجراء هـا فيهـا ولـو بإرسـال مكتوب يـسقط حـق شفعته (الفقه الاسلامی صـ۸۳۰ج ۵) هـكـذافی (المجلة المـ۱۰۳۳) لو اخر الـشفيع طلب الخـصومة بعد طلب التقرير و الاشهاد شهرا من دون عـذر شـرعی كـكـونـه فـی داراخـری يـسقط حق شفعته (المجلة المـ۱۰۳۴) هـكذافی (الفقه الاسلامی صـ۸۳۱ج ۵) قوله لـو اخـر شهرا هذا قول محمد و به يفتی كمـا فـی ردالمحتـار عـن شيخ الاسـلام و قاضيخان

فی فتاواه و شرحه علی الجامع و مشی علیه فی الوقایة و النقایة و الذخیره و المغنی و فی الشرنبلالیة عن البرهان انه اصح ما یفتی به ..... الفتوی الیوم علی قول محمد لتغیر الزمان (شرح المجلة للاتاسی صـ۶۱۸ج۳) و به ظهر ان افتاء هم بخلاف ظاهر الروایة لتغیر الزمان فلا یرجح ظاهر الروایة علیه و انکان مصححا ایضًا ..... و قد شاهدت غیر مرة من جاء یطلبها بعد عدة سنین قصدًا للاضرار و طمعا فی غلاء السعر فلا جرم کان سدهذالباب أسلم والله تعالی ﷻ اعلم ـ (ردالمحتار صـ۱۵۹ج۵) (وحکمها جواز الطلب عند تحقق السبب) ولو بعد سنین ـ مرتبط بقوله له جواز الطلب ای اذا لم یعلم بها (ط) (ردالمحتار صـ۱۵۴ج۵) هکذافی (الفقه الاسلامی صـ۷۹۵ج۵)

والله تعالیﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که یوه ښځه دچاکورته پناه وروړي

اوپه عده وفات کي وي خوک دعوی په وکړي دانکاح صحیح کیږي کنه؟

سوال: د یوې ښځې میړه مړسو میراث خورو خپل کور ته بوتله زیات ظلم ئی دد غې ښځی سره کاوه دغه ښځه مجبوره سوه د دوئ د ظلم د لاسه د کوره ووتله د یو چا کور ته ئی پناه وروړه هغو ته ئی وویل چه ما تر هغه وخته وساتئ چه زما خپلوان راځی هغو ورته وویل چه که چیری زمونږ کورته راځی په مونږ کی به حتمًا یو سړی میړه کوي هغې ورته وویل چه زه اوس په عدة کی یم ، هغوی ورته وویل که عدة وي که هر څه وي حتمًا به یو میړه کوي ، ښځی څه ونه ویل په هغوئ کی یو تن وویل چه بس د غه ښځه زما ده د همدغې عدې په وخت کی ښځی ورته ویلی دي چه ستاسی خوښه ده د همد غه عدې په وخت کی د ښځې ورور ورغلی ښځه ئی کورته راوستله ، ښځې وویل چه زه د غه سړئ نه کوم اوس د غه سړی وایي چه د غه

زما ښځه ده ، آیا دغـه ښځه بـل میړه شرعی کـولاس سی او کـنه ؟ د دغې ستونزی پـه هکلـه رهنمای شرعی راته وکړئ ثواب به مو وي ؟

(عبدالله د محمد هاشم زوی)

جواب : که واقعه داسی وي لکه مستفتی چه لیکلي دي نو دا ښځه بالکل کولای سی چه بل ځای میړه وکړی هر ځای چه ددې خوښه وي ځکه په وخت کی د عدّی چه عقد د نکاح وسی هغه عقد هم باطل دی هیڅ صحت نه لري او په صورت کی د استفتاء خو عقد هم نه دی سوی .
د بالغی ښځې د نکاح لپاره یو شرط دادي چه دا به په هغه ځای راضی او خوشحاله وي او که ددې خوښه او رضاء نه وي نو نه ئی خپل قریبان کولای سی چه یو ځای ئی په زوره او جبرًا په نکاح ورکړی نه د پخوانی میړه قریبان کولای سی چه جبرًا یی په نکاح کړی . نو د دغې ښځې پر قریبانو دا لازمه او حتمی ده چه ددي خوښی او رضاء ته به گوری او په هغـه صورت کی چه د ښځی رضاء نه وي او قریبان یی ورکړی نو دا کار ناروا او ناجائزه دی.

ثانیـا ـ تحـریم الـزواج لایجـوزلـلاجـنـبـی اجماعـا انـکـاح المعـتـدة لقولـه تعـالی ولاتعزمـوا عقـدة النـکـاح حـتی یبلـغ الکتـاب اجلـه ـ ای لا تعقـد و اعقـد النـکاح حـتی تنـقـضی العـدة التی کـتبهـا الله علی المعـتـدة . . . . و اذا تزوجـت فالنـکـاح بـاطل (الفقه الاسلامی صـ۶۵۳ج ۷) (بـدائع الـصنـائع صـ۲۰۴ج ۳) یـا ایهـاالذیـن آمنـوا لایحـل لـکم ان تـرثـوا النـسـاء کـرهـاً (آلایة سورة النـسـاء آیة نمـ۱۹) ای تأخـــذ و هـــن کـمایؤخـــذ المیــراث و تـزوجـــوهن کـارهـــات او مکـرهـــات (تفسیر المظهری صـ۴۹ـ ج ۲ ـ ۲) هـکذافی (روح المعانی صـ۲۴۱ج ۴) .
باب اذا زوج ابنـته وهـی کـارهـة فـنـکاحـه مـردود حـدثـنـا اسماعیل . . . . عـن خنسـاء بنـت خـذام الانـصاریة ان أباهـا زوجهـا وهی ثیب فکرهـت ذلک فأتـت رسـول الله ﷺ فردّنـکـاحهـا (بخـاری شریف صـ۷۷۱ج ۲) و (مشکـوة المصـابیح صـ۲۷۰)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

داجاري دمځکې عشر چې ورکړل سي داجاري پرپيسو هم زکات ياعشر ستة كنه؟

سوال: د کندهار ولايت د دارالافتاء د محترم رئيس صاحب حضورته السلام عليكم.
اما بعد: ما يوه اندازه خالصه مځکه واقع پيرپايمال کی چه په باوړی سره آبياری کيږي په (۳) کالو چه د يوه کال إجاره اتيازره کالداری پاکستانی په إجاره ورکول سوي دی، د مځکې د ټولو حاصلاتو عشر ورکول سوي دي، دوهم ځل په دغه اتيا زره کالدارو د اجارې کې زکات کيږي او که څنګه هيله ده چه شرعی مسئله راکړي. که چيري کيږي نو څووم زکات ورکول کيږي او مذکوره مځکه سالانه په اجاره سره ترا اتيا زره ۸۰۰۰۰ زيات ارزښت لري اعنی مذکور مبلغ اجرة ناقص دی؟

جواب: که دغه مؤجر د إجاره دار څخه دونه أجرة اخستی چه إجاره دار ته د أجرة او عشر ورکولو پس يا هيڅ نه پاتي دی يا ډير لږ څه پاتيدی نو په دي صورت کی به عُشر پر مؤجر وي نه پر اجاره دار او که إجاره دار هم أجرة ورکړی هم يی عُشر ورکړی او بيا هم ښه کافی ګټه ورته پاته سوه نو بيا عُشر پر إجاره دار دی. او که دغه أتيا زره کالداری مؤجر واخستلی او کال پر تير سو نو بيا پر دغه پيسو زکوة لازميږي او دا چه هم د مؤجر څخه عُشر اخلی هم يی د مستأجر څخه نو دا سخت ظلم او حرام کار دی.

فان امكن اخذ الاجرة كاملة يفتى بقول الامام والا فبقولهما لما يلزم عليه من الضرر الواضح الذى لايقول به احد (ردالمحتار صـ۶۰ ج۲) هكذا فى (امدادالفتاوى صـ۵۸ ج۲) (احسن الفتاوى صـ۳۴۷ ج۴) (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۰ ج۱).

عشر نکالنے کے بعد پیداوار فروخت کے تواس سے حاصل ہونے والی رقم پر زکوۃ الگ فرض ہے۔

لان الحقين لم يتعلقا بمحل واحد فان العشر حق الارض النامية بالخارج حقيقة وزكوة النقود حق المال النامى تقديرًا ..... البحر الرائق (احسن الفتاوى صـ۳۷۰ ج۴)

والله تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

کومه مځکه چې خرڅه سي تعمیر پکښي جوړسي بیاتقسیم سي، ورثه تصرف وینی (۲۸) کاله تیرسي ورثه دعوه کولای سي کنه؟

سوال : و حضور ته د مقام محترم فضیلت مآب د دارالافتاء مرکزی اسلامی افغانستان و محترم رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

اما بعد : ستاسی د مبارک حضور څخه احترامانه هیله لرو چه زمونږ د یوې ساده حقوقی موضوع صورت حال فقط په ۶ مادو کی ستاسی و مبارک حضور ته وړاندي کوو. هیله لرو چه ستاسی د رحمت او مهربانی له رویه پر هره ماده باندی جلا جلا د کتابو له رویه شرعی فتوی راکړئ.

یوه ټوټه خالصه مځکه چه په ۱۲۵۱ سنه کی ۲۸ کاله پخوا چه ۲ حصې حاجی محمد اسلم نامی او یوه حصه غلام قادر نامی د قاضی صاحب جان نامی څخه په قطعی قیمت رانیوله. او غلام قادر نامی په هغه ۱۳۵۲ سنه کی د خپلې دریمې حصی قیمت و قاضی صاحب جان نامی ته ور ورساوه او پر حاجی محمد اسلم نامی باندی ئی فقط یو لک افغانۍ پاته سوي او په هغه وخت کی حاجی محمد اسلم نامی دغه یو لک افغانۍ رسیده گی نسوای کولای. نو په همدې نسبت د شرعی قبالی مراتب معطله سوه څه لږ وقت وروسته قاضی صاحب جان نامی وفات سو. او زمونږ پلاس کی هغه عرفی قباله تر نن ورځی پوری پاته سوه او د مځکی ذوالیدی او تصرف هم تر نن ورځی پوری چه ۲۸ کاله کیږی زمونږ پلاس کیدی.

(**اول سوال**) په دغه ۱۳۵۲ سنه کی مونږ په دغه مځکه کی دوه ۲ منزله او ۳ منزله تعمیرونه جوړ کړه او په دغه وقت کی د قاضی صاحب جان نامی ټوله ورثه حاضر او زمونږ دغه د تعمیر وجوړول ئی په سترگو لیدل هیڅ کوم یوه نه عرض وکړ او نه شکایت نو آیا دغه پټه خوله شرعاً د دوئ اقرار بلل کیږي او کنه؟

(**دوهم سوال**) بیا په ۱۳۵۴ سنه دغې کارخانی د برق د شاټی له سببه اور واخیست او دوهمه پلا مو بیا د تعمیر په جوړولو شروع وکړه او په دغه وخت کی هم دوئ ټوله حاضر او زمونږ سره څنگ پر څنگ همسایگان او فقط یو دیوال مو په مابین کي دی او زمونږ دغه

تعمیر جوړول ئی دوهمه پلا بیا په خپلو سترګو لیدی بیا هیڅ کوم یوه نه عرض وکړ او نه شکایت ؟

(**دریم سوال**) بیا پر ۲۱ / ۱ / ۱۳۷۳ سنه کی د قاضی صاحب جان یو زوی شیخ نامی په محکمه کی د خپل عرض په اثر پسله تحقیقه داسی اقرار وکړی چه هو زما پلار دغه مځکه خرڅه کړیده خو قباله ئی عرفی ده او هم زما د پلار یو لک افغانی پر حاجی محمد اسلم باندي پاته دي نو د محکمه مرافعی محترم اعضاؤ د شیخ نامی د دغه اقرار په اثر زمونږ قباله را تائید او مهر او امضا کړه ؟

(**څلورم سوال**) اوس بیا پسله ۲۸ کالو د قاضي صاحب جان ورثې په خپل مابین کی یو داسي وکالت خط ترتیب کړیدی چه په دغه وکالت خط کی بعضی وجود لری او بعضي ئی نه لري بعضی په امریکا کی او بعضی په افغانستان کی او بعضي مړه او بعضی ژوندي دي ، او که بعضی د قاضی جان د ورثې څخه ژوندی وي او په دغه وکالت خط کی وجود ونه لری دغه وکالت صحت لري او کنه ؟

(**پنځم سوال**) زمونږ دغه قباله چه د محکمی مرافعی له خوا د قاضی صاحب جان د زوی شیخ نامی د اقرار په اثر تائید سوی او هم په خپله قاضی صاحب جان او هم ئی بل زوی حمید نامی هم امضا کړیده او هم دا ۲۸ کاله کیږي چه ذوالید او تصرف زمونږ پلاس کیدی او هم مو په سوو میلونه افغانی مصرف پکښی کړیدی فقط دا یو د (عرفی قبالی پنامه) دا ټوله حیف او برباد او که څنګه ؟

(**شپږم سوال**) بیا پسله څو کالو حاجي محمد اسلم نامی هم وفات سو او د حاجی محمد اسلم نامي څخه بیا و ندا احمد نامي ته ورثه پاته سوه د ندا محمد نامي څخه بیا د ده وزامنو ته ورثه پاته سوه زامنو ئی بیا دغه مځکه سره تقسیم کړه په دغه حصه کی د قاضي صاحب جان د ورثې ادعا شرعًا د کتابو له رویه قابل د اعتبار ده او کنه ؟

د اول او دوهم سوال جواب: که چیری واقعه داسی وي لکه په استفتاء کی چه لیکل سوي دي یعني تاسو په دغه مځکه کی بناء کړی وي او قاضی صاحب جان یا د هغه ورثه ؤو ستاسو دغه تصرف لیدلی وي او دعوی ئی نه وي کړی او هیڅ شرعی عذر هم دپاره د ترک دعوی په

هغه وقت کی موجود نه وي نو دغه سکوت مانع د دعوی څخه گرځي یعنی دوئ نسی کولای چه په اوس وخت کی دعوی وکړی.

قـال فـی شـرح تنـویرالابـصار المـسمی بمنـح الغفـار فـی مسائل شـتی فـی آخرالکتاب باع عقارا أوحيوانا او ثوبا و ابنه و امرء ته حاضر يعلم به ثم ادعی الابن انه ملکه لاتسمع دعواه بخلاف الاجنبي ولو جارا الااذا تصرف المشتری فيه زرعا و بناء فلا تسمع دعواه ..... وقد كثر افتاء الحنفية عن علماء مصر بتساوي الجار مع الاجنبي في الحکم المذکورلاشتراکهما في العلم و العلة الموجبة لعدم سماع دعوي الجار بعد تصرف المشتري فيه زرعًا و بناء علی ماعليه الفتوی قطع الاطماع الفاسدة و سدباب التزوير والتلبيس و هذا قدر مشترک بين الجار و الاجنبي و اشترط فيهما تصرف المشتری زمانا (الفتاوی الخيرية صـ۵۹ج۲) هکذافی (تنقيح الفتاوی الحامدية صـ۴ج۲) (ردالمحتار صـ۳۸۲ج۴).

د دریم سوال جواب، دا واضحه ده چه قاضی دا اختیار لري چه د یو چا اقرار قبول کی یا یی ردکی او خپل حکم صادر کړی.

د څلورم سوال جواب : په دغه وکالت خط کی چه هر څوک وکیل تاکل سوی دي د هغه وکالت صحیح او تصرفات یی صحیح دي د هغه چا په حق کی چهٔ دی ئی وکیل کړی دی کېږي د وکالت خط د صحت شروط پکښې موجود وه ، او د هغه کسانو په حصه کی تصرفات نسی کولای چه ده ته ئی وکالت ندی ورکړی.

يصح ان يوکل أحد غيره في الامورالتی يقدر علی اجراءها بالذات و بايفاء واستيفاء کل حق متعلق بالمعاملات الخ (المجلة المـ۱۴۵۹).

د پنځم سوال جواب : عرفی قباله حکم د شرعی قبالی نلري ځکه چه امکان د تزویر پکښی ډیر دی او مثنی نلری نو قاضی صاحب کولای سی چه قبوله یې کړی یا ئی رد کړی که تلبیس او تزویر یا خلاف الشرع حکم پکښی راغلی وو.

د شپږم سوال جواب : که چیری پر مُورِث باندی دعوی صحیح وه نو پر وارث ئی هم صحیح کیږي او که پر مُورِث باندی دعوی نوه صحیح نو پر وارث باندی هم نه صحیح کیږی نو که د قاضی صاحب جان ورثه ؤو پر حاجی محمد اسلم او ندامحمد دواړو حق د دعوی درلودی نو د ندامحمد پر ورثه ؤو یی هم لري کچیری یو بل شرعی مانع او عذر د صحت څه د دعوی موجود سوی نوو او که یی پر هغو حق نه درلودی پر ورثه ؤو یی هم نه لری.

ما یمنع صحة دعوی المورث یمنع صحة دعوی الوارث لقیامه مقامه کما فی الحاوی الزاهدی و غیره (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۴ج۲) هکذافی (سلیم باز صـ۹۹۴)

والله تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که په یوه هیواد کي قتل وکړي ورثه په بل هیواد کي قصاص اخیستلای سي؟

سوال : و حضور ته د علماؤ کرام ریاست دارالافتاء مقام عالی تمیز السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

محترما ! تخمین ۸ کاله د مخه زمونږ د وطن مهاجر چه په پاکستان کی ئی سکونت درلودی هلته ئی په پاکستان کی سید گل نامی د حاجی گل محمد او غمی سره جنگ کړی وو چه په نتیجه کی سید گل په قتل ورسیدی اوس د سید گل ورثی قاتلین دلته په کندهار کی تینگ کړل دوسیه ئی د محترم امیرالمؤمنین صاحب په هدایت محکمې ته رارسیدلی او د مقتول ورثې پر قاتلانو باندي شاهدان هم حاضر کړی نو ستاسو د عالیقدر محترمینو څخه دا فتوی غواړو چه د دغسی واقعاتو چه په پاکستان کی واقع شوي وي دلته په افغانستان کی قصاص کیږی که یا چه ستاسو د فتویو روسته شرعی لار خپله کړو ؟

جواب: لکه ځرنګه چه مستفتي ليکلي دي چه قتل په پاکستان کي سوي دي او قاتلان ئې اصلاً د دې ځای دي نو په دغه موضوع او همدارنګه په امثالو کي د دې موضوع قضاء د دې ځای د قاضي صحيح ده ولي که چيرې دغه قاتلان اصلاً د پاکستان وای او دلته په سفر راغلي وای او د دعوی په وجه بيا قاضي ته په لاس ورغلي وای هم قضاء د قاضي صحيح وه نو اوس چه اصلاً قاتلان د دې ځای دي نو بالکل ئې قضاء صحيح ده خو په دې شرط چه اميرالمؤمنين به د دغسي قضيو د اوريدلو څخه منع نه وي کړي.

للحاكم فى قضاء ان يسمع دعوى الاراضى التى هى فى قضاء اخر ولكن يلزم بيان حدودها الشرعية على الوجه الذى ذكر فى كتاب الدعوى (المجلة صـ١٨٠٧) و يشترط ايضًا انيكون المدعى عليه موجودا فى ولاية ذلك الحاكم ولو بطريق السفر لان الحاكم المعين لقضاء لم يقيد بالحكم بين سكانه فقط بل له حق القضاء على كل من وجد تحت ولايته ولو اتفاقا (سليم باز صـ١١٧٣ج) و اذا صح للحاكم ان يسمع دعوى عقار لاتحت ولايته فمن باب اولى دعوى الدين والمنقول كما لو ظفر حلبى بدمشقى وجد مسافرا فى حلب الخ (اتاسى صـ٧٧ج ۶) هكذافى (دررالحكام صـ۶١۴ج ۴) (واقعات المفتين صـ٢٢١) (الفتاوى الهندية صـ٣۶٨ج ٣) او كان الحاكم ماذونا باستماع بعض الدعاوى المعينة دون غيرها فله ان يسمع الدعاوى المأذون بها فقط و ان يحكم بها وليس له سماع ماعداها والحكم به الخ (المجلة المـ١٨٠١).

(تتمة): جناب محترم قاضي صاحب محکمه عدليه السلام عليکم ورحمة الله وبرکاتهُ. وبعد په دې موضوع کې چه په پاکستان کي قتل سوی وي او مدعي او قاتلان په افغانستان کي محکمې ته حاضر سي په نوموړې موضوع کي مونږ خپل کوشش او مطالعه وکړه خو

صريح جزئيه مو پيدا نه کړه او همدا رنګه ردالمحتار او طحطاوي نوموړي موضوع ذکر کړی او حکم يې نه دی کړی او خبره يې مجهوله پريښې ده چه د هغوئ عبارت په لاندې ډول دي.

سرق فی ولاية سلطان ليس لسلطان آخر قطعه (الدرالمختار) وهل كذلك بقية الحدود و القصاص ايضًا لم أره (ردالمحتار صـ۲۳۲ج ۳ ط پاکستان) وهل هذا خاص بالحدود يحرّر (طحطاوی علی الدرالمختار صـ۴۳۳ج ۲).

نو څرنګه چه موضوع ډيره اهمّه موضوع ده حکم کول په جواز د قصاص او عدم جواز دواړه ډير خطرناک دي فلهذا مونږ دا مناسبه وبلله چه موضوع ستري محکمې ته وړاندي سی چه هغوئ د علماء په شوری کی په دې هکله حکم صادر کړی پس له اطرافو او جوانبو څیړل او مصلحت په نظر کی نيولو څخه. يا دديِ وي چه ډير جزئيات مقتضی د جواز د قصاص دی لکه دا قول د صاحب د فتاوی کاملية.

(ولايشترط انيكون المتداعيان من بلدالقاضی فی غيرالعقار وكذافی العقار و انلم يكن فی ولايته علی الصحيح) (الفتاوی الكاملية صـ۱۰۶ج) هكذافی (الفتاوی الانقروية صـ۳۳۷ج ۱) و (دررالحكام صـ۴۱۴ج ۴) (الاتاسی صـ۷۷ج ۶) (واقعات المفتين صـ۲۲۱) (الفتاوی الهندية صـ۳۶۸ج ۳).

او ډير جزئيات مقتضی د عدم جواز د قصاص دی لکه دا چه په وقت کی د صدور د قتل او په محل کی د صدور د قتل ولايت د سلطان او قاضی نسته چه همدغه وجه ده په عدم قطع ديد کی چه سرقة په بل ولايت کی سوی وي او همدا رنګه نوری جزئياتی چه پر دی دلالة کوي چه سعی دي په سقوط کی د قصاص وسی.

سرق فی ولاية سلطان ليس لسلطان اخر قطعه اذ لاوية له علی منّ ليس تحت يده فليحفظ هذاالاصل (الدرالمختار بهامش الطحطاوی صـ۴۳۳ج ۲) قوله هذاالاصل وهو ان كل حاكم لايجری حكمه الافيما كان تحت ولايته وهل

هـذا خـاصٌ بـالحـدود يحـرر ﴿ طحطـاوى علـى الـدرالمختـار صـ٤٣٣ج ٢﴾ ولايقبل كتاب القاضي الى القاضي فى الحـدود و القـصاص لان فيه شبهة البدلية فـصار كالـشهادة علـى الـشهادة ولان مبنـاهمـا علـى الاسقاط وفـى قبولـه سـعى فـى اثباتهما ﴿ الهـداية صـ١٤٠ج ٣ ﴾.

نو هر كله چه دواړه جانبه ډير قوي او قابل اعتماد دى فلهذا د سترې محكمې يا د شورى و حكم صادرولو ته ضرورت ستـه.

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که دوه طلاقه ورکړي او طلاق نامه ئې نه وي ورکړي طلاق واقع کيږي کنه؟

سوال: و حضور ته دعلماؤ کرام رياست دارالافتاء مقام عالی تميز السلام عليکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

بعد: څرنګه چه مې پورته عرض وکړی مونږ خپلی لونی تبديل (مُخی) کړيدي چه د دوی لور زما زوی ته ناسته ده ولی دوی زما لورطلاقه کړی ده او طلاق نامه ئی نه ده ورکړي مونږ ته معلومات نه کيږی چه په دغه الفاظو طلاق واقع کيږی چه پرما طلاق پرما طلاق بجای خواهرم باشد شاهترين د مهربانی له مخی د شرعی لار ښوونه را وکړی چه زمونږ غاړی بندی نسی او دغه ستاسی د فتوی له مخې مونږ په ايران کی رفتار وکړو ولي چه هلته په شريعت چندانی څوک نه پوهيږی او دا څلور ورځې کيږی چه زه د همدې کار لپاره د ايران څخه راغلی يم؟

جواب: په شريعت مقدّس کی د طلاق نامي ليکل او ورکول شرط نه دی بلکه په ژبه د طلاق ويل هم کفايت کوي او طلاق په واقع کيږی نو ستا لور چه واده سوی نه ده يعنی غير مدخول بها ده او دوه ۲ واره لفظ د طلاق ورته ويل سوی دی او بيا ئی هغه دريم لفظ ورته ويلی دی نو دغه ستا لور په يوه بائن طلاق طلاقه ده او دريم ۳ طلاقه نه واقع کيږی او عدة هم نه غواړی نو که چيری دواړه طرفه يعنی زوم او ستا لور دواړه په نکاح راضی وه نو نوې نکاح دې وکړی او خپله ښځه دې واده کی خو دغه ستا لور که بالغه وه د هغې رضاء په دغه نکاح کې شرط ده که د هغې رضاء نه وه نو نکاح به نه ورنوی کوي بيا ئی بل چا ته په نکاح ورکړئ.

قال لزوجته غيرالمدخول بها انت طالق ثلاثا وقعن وان فرق بانت بالاولى (لاالى عدة ـ الدرالمختار) ولم تقع الثانية (متن الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۴۹۲ج۲) هکذافی (فتاوی دارالعلوم ديوبند صـ۳۷۳ج۹) و (مجمع الانهر صـ۳۹۹ج۱ () الفتاوی الهندية صـ۳۷۳ج۱) ورکنه ای الطلاق لفظ مخصوص خال عن الاستثناء (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۴۵۳ج۲) باب لاينکح الاب وغيره البکر والثيب الابرضاها حدثنا معاذبن فضالة .....

ان النبی ﷺ قال لاتنکح الایم حتی تستأمر ولاتنکح البکر حتی تستأذن الحدیث(بخاری شریف صـ۷۷۱ج۲) .

(**نوټ**) او که چیری دغه ښځه واده سوی وه یعنی مدخول بهاوه او دغه الفاظ ورته ویل سوی وه نو بیا دغه ښځه په دري ۳ طلاقه طلاقه ده او په دغه دریم لفظ هم طلاق واقع کیږی قضاءً ولی دغه لفظ د کنایاتو څخه دی او حالت د مذاکرې د طلاق دی او که چیری دی وو ایی چه په دغه لفظ کی زما نیت د طلاق نه وو هم به قاضی ده د دغه خبره نه منی البته که خبره په قاضی پوری اړه نه درلوده او دعوی نه وه نو دیانةً به دده او دخدای تعالی ﷻ تر مابین معامله وی که ئی واقعًا نیت د طلاق نه وو نو خبره ئی صحیح ده یوازی دی نکاح نوې کړی.نو په دغه صورت کی چه ښځه واده سوی او مدخول بهاده او په دریم لفظ کی ئی هم نیت د طلاق وو تر هغه وخته اوّل میړه ته نه روا کیږی تر څو چه بل میړه کوی او هغه دخول کوی د ټولو شرائطو مطابق.

فالکنایات لاتطلق بها قضاء الابنیة اودلالة الحال وهی حالة مذاکرة الطلاق او الغضب (الدرالمختار) قوله قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة ولووجدت دلالة الحال فوقوعه بواحد من النیة اودلالة الحال انما هو فی القضاء فقط کما هو صریح البحر و غیره قوله او دلالة الحال المراد بها الحالة الظاهرة المفیدة لمقصوده و منها تقدم ذکر الطلاق (ردالمحتار صـ۵۰۲ج۲) هکذافی (فتاوی قاضیخان بهامش الهندیة صـ۴۶۷ج۱) و (مجمع الانهر صـ۴۰۲ج۱) و انکان الطلاق ثلاثا فی الحرة و ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا و یدخل بها ثم یطلقها اویموت عنها کذافی الهدایة (الفتاوی الهندیة صـ۴۷۳ج۱)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه پلار زامنوته خپل ټول جايداد تقسيم كړي

هغوئ ئې قبض كړي بيا يوزوی ديوه مخصوص كوردعوه كولای سي؟

سوال: وحضور ته د دارالافتاء د لوړ مقام السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهٔ.

محترما: كله چه په كال (۱۳۵۳) مونږ شپږو وروڼو هر يو حاجی محمد موسیٰ حاجی عبدالاحد حاجی عبدالصمد حاجی عبدالواحد حاجی عبدالقادر او محمد يونس د حاجی عبدالحبيب خان زامنو غوښتل خپل مشترک جايداد او مال سره تقسيم كړو او په دې هكله مو د پلار څخه موافقه و غوښتله نو زمونږ پلار علاوه پر دغه چه زمونږ د ويش سره ئی موافقه وكړه بلكه ده خپلې دوې كوټې چه د هغو كوټيو شرعی قبالې د ده په نامه دې هغه ئی هم زمونږ تر ويش د مخه مونږ شپږو وروڼو ته راكړی او دائی هم مونږ ته وويل چه په خپلو منځو كښې مطابق د شرعی اصولو مساويانه او عادلانه تقسيم وكړئ مونږ هم خپل تقسيم خط په عرفی ډول سره د وخت د تقاضا مطابق ترتيب كړ، ولی زمونږ مشر ورور حاجی محمد موسیٰ زمونږ د پلار هغه كور چه هغه و خپلو شپږو زامنو ته وركړی وو د هغه په مورد داسی يو خط ترتيب كړ چه دغه كوټې زمونږ پلار تنها ده ته وركړی ده او پسله څه وخته زمونږ دغه ذكر شوی مشر ورور د خپلو وروڼو په پټه يو بل خط د خپلې كوروالا آمينه بنته محمد رسول په نامه داسی ترتيب كړ چه گواكی دغه مشتركه كوټې زمونږ پدر د هغوی په شرعی مهر كی وركړی ده او حقيقت دا دی چه په دغه وخت كی د هغې د واده څخه اضافه تر (۳۰) كاله تيرسوي وه او تر دې وروسته زمونږ مشر ورور زمونږ پلار چه عمرئی په حدود (۱۱۵) كالو دی د پاكستان څخه د كندهار و محكمې ته راوست د خپل زوی هدايت الله نامی لپاره ئی د هغه ذكرشوي مشتركی كوټې لپاره د هغه اقرار خط واخيست نو څرنگه چه زمونږ د دغه ذكر شوی ورور د عمل او سلوک څخه چه زمونږ د سپين ږيری پلار په واسطه د خپل غيری اصولی گټو لپاره تر سره كړی دی زمونږ ټوله كورنۍ ناراضی او د لوی جنجال سبب گرځيدلی او په آينده كی هم د دې امكان شته چه زمونږ د اولادو لپاره هم د شر سبب وگرځی، نو مونږ د دارالافتاء د محترم مقام څخه هيله لرو چه مونږ ته په دی هكله شرعی فتوی راكړی چه ايا

زمونږ د پلار هغه اوله هبه وخپلو شپږو زامنو ته صحت لري د و همه هبه د خپل مشر زوی لپاره یا دریمه هبه د خپلې مرور لپاره او یا څلورمه د خپل لمسي لپاره او دغه رنګه هبه د یوه جنس د متعدد و کسانو لپاره په دغه ترتیب صحت لري او که چیرې زمونږ پلار ته د شرعي معلوماتو د نه درلودلو په اساس یا زمونږ د مشر ورور د دغه رنګه غوښتنو د فشار په خاطر او یا د ده د عمر د ډیروالي په وجه و ده ته کوم شرعي مسئولیت راجع شوي وي د هغه مسئولیت دفع به څرنګه کیږي ؟ (المستفتي محمد یونس)

جواب : که چیرې واقعه دغسې پیښه وي لکه مستفتي چه لیکلي ده نو د دغه بیان مطابق شرعي حکم دادی چه دغه کوټې چه پلار و دغو شپږو ورونو ته ورکړې وه او هغوی تقسیم کړه او تصرف یې پکښې وکړی نو هغه تقسیم صحیح دی نه بل تقسیم کیدلای سي نه پلار بیرته رجوع کولای سي نه ئي یو ازې یو ورور دعوه کولای سي او که دغه ۶ ورونو تصرف نه وی پکښې کړی یعنی قبض ئي نه وی کړی نو بیا که مشر ورور دعوی د هبې کوی هغه دې شرعي اثبات وکړي په محکمه کې که چیرې اثبات ونکړي نو کوټې د پلار بلله کیږي او زامن حق نه پکښې لري او که چیرې په زامنو کې صغیران موجود وه نو په هغه صورت کې د صغیرانو لپاره قبض ضروري نه دی بلکه په اول تقسیم کې چه هر څونه حصه و صغیر ته رسیدلې وي هغه حصه د صغیر ده قبض او تصرف ته د صغیر په باره کې ضرورت نسته.

اذا وهب شيئًا لابنه الكبير البالغ العاقل يلزم التسليم ـ له وبدون قبضه لا تتم الهبة (سليم باز صـ۴۶۷) يملك الصغير المال الذى وهبه اياه وصيه او مربيه. .... بمجرد الايجاب او بمجرد قول الواهب وهبت ولايحتاج الى القبض (المجلة المـ۸۵۱) يملك الموهوب له الموهوب بالقبض (المجلة المـ۸۶۱) (الفتاوى الهندية صـ۳۷۴ج ۴) ولا يرجع فى الهبة من المحارم بالقرابة كالاباء والامهات وان علوا والاولاد وان سفلوا (الفتاوى الهندية صـ۳۸۷ج ۴) لكن ان قسم الواهب الجزء الموهوب المشاع بنفسه او بواسطة نائبه وسلمه الى الموهوب له صح العقد لزوال المانع وكذالوامر الموهوب له ان يقسم مع شريكه ردالمحتار. (سليم باز صـ۴۷۳) والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

لوټمار قمندانان چې په زور مالونه چور کړي اسلامي حکومت دامعاوضه ورکوي کنه؟

سوال : وحضور ته د جناب محترم عالیقد رئیس صاحب ته السلام علیکم.

بعد : لس کاله پخوا ما د مرتضی د منډی څخه غنم او وړه په پور رانیولی وه او په کابل کښی د دوو ۲ قومندانانو له خوا څخه لـه نصرالله او جانو نامانو پـه واسطه پـه زور او جبر یووړل سول او حتیٰ دا وړه او غنم یی په شمالی کی د خلکو د شناخت په اساس خرڅ کړل ، او زه یي د عصمت په شخصی بندیخانه کی اچولی وم او ډیر یي تهدید کړلم او وژلم ئي بیا د یوه نفر مستوولا فارسی ژبی پـه واسطه او عذر سره را خلاص سوم ، او دا کسان مـا خو واری د ولسوال او والی په امر نیولی دی مگر بیا ځانونه خلاص کړی ما یو اویا دوه گنبسته عرض کړیدی او بندیان سول او د امرثانی په امر ځان خلاص کړی او که زما عرض نه اوریدل کیږی علت څه وي غریب یم مسکین یم در بدره یم ، قرض داره یم ، اولادداره یم ، د دي خاوری یم ، او که زما د مال څوک شرعی اختیار لری نو زه تر تیریم قاضی صاحب دې زما ټوله دارایي ورته ورکړی ، د ولسوالی او ولایت د محترمو مقاماتو اسناد او نوشتی موجود دی مگر قاضی صاحب ده ته د امرثانی امر ورکوي نو د تمیز د عالیقدر او محترم مقام څخه داسی غوښتنه لرم چه زما مدعی او اوراق ټول و خپل حضورته راوغواړی اوز ما حق ور څخه راکړی.

جواب : که چیری دا ثابته سی چه واقعًا دغه غنم او وړه قوماندانانو د دغه عارض څخه په زور او جبر اخیستی دي نو عارض دا حق لري چه خپل حق د دغه قومندانانو څخه واخلی هغه وړه او غنم که موجود وه یا نور مال د هغو په طریقه د ضمان که نه وه موجود حکومت اسلامی به د دغه عارض سره معونت کوي په اخستلو کی د خپل حق.

لا یجوز لاحد ان یأخذ مال احد بلا سبب شرعی ـ ای لایحل فی کل الاحوال عمدا او خطأ او نسیانا جدا او لعبًا ان یأخذ احد مال احد بوجه لم یشرعه الله تعالى ولم یبحه لان حقوق العباد محترمة لاتسقط بعذر الخطاء والنسیان والهزل وغیره وذلک کالغصب والسرقة والقمار والربا والرشوة و

الدعاوی الباطلة و شهادة الزورالخ ..... فمن تناول مال احد باحدی هذه الطرق فهو ظالم غاصب یجب علیه رده قائما او مثله او قیمته هالکا (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۶۴ج۱) لیس لذی الحق ان یأخذ غیر جنس حقه وجوزه الشافعی رحمة الله تعالی۔ قدمنا فی کتاب الحجر ان عدم الجواز کان فی زمانهم اما الیوم فالفتوی علی الجواز وهو الاوسع لتعینه طریقا لاستیفاء حقه فینتقل حقه من الصورة الی المالیة کما فی الغصب و الاتلاف (ردالمحتار صـ۳۰۰ج۵) والفتوی الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ایّ مال کان لاسیما فی دیارنالمداومتهم العقوق (ردالمحتارصـ۱۰۵ج۵).

البتة که چیری امیر المؤمنین قاضی منع کړی د سمع څخه د دغسې دعوی د وجې څخه د خوف د فتنې او فساد نو بیا قاضی یا ولسوال حق نه لري د معونت د دغه عارض سره او همدارنګه امیرالمؤمنین کولای سی چه دغسی مسائل د یو څه وخت لپاره معطل کړی که چیری په معطلی کی مصلحت وو څکه چه وایی.

التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة (المجلة المـ۵۸) یتحمل الضررالخاصّ لدفع الضررالعام (المجلة المـ۲۶) الضررالاشدیزال بالاخف (المجلة صـ۲۷) او کان الحاکم ما ذونا باستماع بعض الدعاوی المعینة دون غیرها فله ان یسمع الدعاوی المأذون بها فقط و ان یحکم بها و لیس له سماع ما عداها و الحکم به (المجلة المـ۱۸۰۱).

نوټ: که چیری امام (امیرالمؤمنین) منع د سمع څخه د دغسې دعوی ونکړی نو ولسوال یا بل حاکم ته دا جواز نه لری چه ناحق یی معطله وي او یا نور تکلیف ورکوي.

یجب علی الامام ان یتقی الله تعالی و یصرف الی کل مستحق قدر حاجته من غیر زیادة فان قصر فی ذلک کان الله علیه حسیبا آه (شرح المجلة للاتاسی صـ۱۴۳ج۱) والله تعالیٰ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم
هغه مالونه چې شرعاً يې خريد وفروش مباح يامکروه وي خودولت دمصلحت په خاطرمنع کړي
وي ددغسي دعوو فيصله کول په کومه محکمه کي بايد وسي څارنوالي که مرافعه؟

سوال : بمقام محترم رياست دارالافتاء مرکزی ولايت قندهار السلام عليكم .

وبعد : درين اواخر دوسيه هاى زياد مربوط به منازعات وجنجالهاى ناشى از معاملات وخريد وفروش مواد مخدر، ترياک، هيروئين وغيره بمحکمه مرافعه مواصلت مى نمايد که ازيک طرف باعث سنگينى دركارهاى روزمره گرديده واز جانب ديگر فرمان (۴۴۰) ۲/۳/۷۵ ستره محکمه امارت اسلامى افغانستان مکتوب طلباء کرام وهدايت (۵۲۱) ۱۲/۱۰/۷۵ ستره محکمه امارت اسلامى افغانستان ومکتوب (۳۱) ۱۲/۲/۷۵ مقام محترم ولايت هرات واصل آمده وکشت نمودن وخريد وفروش حمل ونقل واستعمال ترياک، چرس، بنگ، هيروئين وغيره اشياء مخدر ونشه آور راکه بحال افراد جامعه وسلامت آنان مضر است بکل ممنوع ومرتکبين آنها را قابل مجازات شرعى دانسته اند وعلاوه ازينکه رسيدگى حقوق همچو منازعات باعث اختلال نظم جلسات محاکم ومانع کارهاى روزه مره مى گردد رسيدگى حقوق آن در محاکم تحت امارت اسلامى افغانستان عکس العمل منفى رانيز ببار مى آورد وبهانه براى تبليغات مخالفين تحريک اسلامى طلباء کرام خواهد شد واز محتواى فرمان وهدايات فوق الذکر مفهوم ميگردد که چنين دوسيه جات جهت تحقيق به څارنوالى مرافعه سپرده شود تا مرتکبين آنها شرعاً مجازات شوند تا بعد ازين جلو چنين معاملات گرفته شده ودرنتيجه منازعات ناشى ازآن ازبين برود بناء ازآنمقام عالى استفتاء گرديد تا فتواى شرعى خويش را اصدار وهدايت فرمائيد با احترام ؟

(مولوى احمد سعيد آخند رئيس محکمه مرافعه هرات)

جواب: درباره مواد مخدره جامده باید گفته شود که معاملات و خرید و فروش این مواد را کتب فقهیه حنفیه جائز دانسته و تقوم اینها را ثابت کرده و همچنان مالیت اینها را ثابت کرده لکن امیرالمؤمنین و حکومت اسلامیه اگر از همین معاملات منع فرماید ممانعت ایشان صحیح و جائز و واجب التعمیل است و تخلف کننده باید مجازات شود و مجازات ایشان بناء بر رأی و صواب دید قاضی و محکمه میباشد و طبق هدایات صادر شده از مقامات فوق باید اجراءات و هدایات صادر شود لکن باید از تعزیر مالی اجتناب قطعی ملحوظ شود که آن شدیداً حرام است و هیچگونه جوازی ندارد یعنی باید باموال ایشان هیچ گونه ضرری باید رسانیده نشود لکن این حکم مذکور دربارهٔ خرید و فروش این مواد است نه دربارهٔ استعمال آن زیرا که استعمال آن برای تلهّی ناجائز و برای تداوی جائز است و خرید و فروش آن اگر چه از کراهت خالی نیست لکن اباحت و جوازش مفتی به است و دلیل عمده برای جواز خرید و فروش ثبوت تقوم آنها ست یعنی تعریف مال متقوم بر ایشان صادق است زیرا که خلق آنها را ذخیره میکند و شرع شریف انتفاع بر ایشان را جائز دانسته در غیر حال مخمصه مثلاً برای تداوی که از عبارات آتیه صراحة مفهوم میشود.

والمتقوم مايمكن ادخاره مع الاباحة فالخمر مال لامتقوم (ردالمحتار ص۳ ج۴) (المجلة الم۱۲۷) (الفقه الاسلامي ص۴۴ ج۴) (وصح بيع غيرالخمر) ممامر ومفاده صحة بيع الحشيشة و الافيون قلت وقدسئل ابن نجيم عن بيع الحشيشة هل يجوز فكتب لايجوز فيحمل على ان مراده بعدم الجواز عدم الحل (الدرالمختار) قوله وصح بيع غيرالخمر اى عنده خلافا فالهما في البيع و الضمان لكن الفتوى على قوله في البيع و على قولهما في الضمان ان قصد المتلف الحسبة و ذلك يعرف بالقرائن و الاظهر قوله كما في التاتارخانية و غيرها ثم ان البيع و ان صح لكنه يكره كما في الغاية الخ قوله و مفاده اى مفاد التقييد بغير الخمر و لاشك في ذلك لانهما دون الخمر و ليسا فوق الاشربة المحرمة فصحة بيعهما يفيد صحة بيعهما فافهم (ردالمحتار ص۳۲۳ ج۵) و اعلم ان الاصل في الاشياء كلها سوى الفروج الاباحة قال الله تعالى (هوالذى خلق لكم مافى الارض جميعا) و قال تعالى (كلوا ممافى الارض حلالا طيبا) و انما تثبت

الحرمة بعارضٍ نص مطلق او خبر مروی فمالم يوجد شئ من الدلائل المحرمة فهی علی الاباحة آه (طحطاوی علی الدرالمختار صـ۲۲۱ج ۴) قوله ولایجوز بیعها ای بیع الخمر افادان بیع الباقی یجوز وان اسکرت وسیأتی (طحطاوی علی الدرالمختار صـ۲۲۳ج ۴) قوله ولایجوزبها التداوی هو داخل فی الانتقاع کما افاده فی حله (طحطاوی علی الدرالمختار صـ۲۲۳ج ۴) بل الصواب ان مراد صاحب الهداية وغیره اباحة ای البنج للتداوی ونحوه ومن صرح بحرمة ارادبه القدرالمسکرمنه یدل علیه مافی غاية البیان عن شرح شیخ الاسلام اکل قلیل السقمونیا والبنج مباح للتداوی ومازاد علی ذلک اذا کان یقتل او یذهب العقل حرام آه فهذا صریح فیما قلناه مؤید لما سابقا بحثناه من تخصیص مامر من ان ما أسکر کثیره حرم قلیله بالمائعات وهکذا یقول فی غیره من الاشیاء الجامدة المضرة فی العقل او غیره یحرم تناول القدر المضرمنها دن القلیل النافع لان حرمتها لیست لعینها بل لضررها (ردالمحتار صـ۳۲۵ج ۵) ویحل القلیل النافع من البنج وسائر المخدرات للتداوی ونحوه لان حرمته لیست لعینه وانما لضرره (الفقه الاسلامی صـ۱۶۶ج ۶).

عبارات مذکورہ بالاسے ثابت ہوا کہ شراب کی علاوہ دوسری مسکرات منجمدہ مثل بھنگ افیوں کوکیں وغیرہ کے اُن کا حکم شرعی یہ ہے کہ ان کا استعمال بقدر مسکر باتفاق علماء حرام ہے اور فروخت کرنا ان اشیاء کا مکروہ ہے لیکن جب فروخت کردی تو صحیح ہوگئی یعنی زرثمن پر قبضہ کرلینی سے بائع اس زرثمن کا ملک ہوگیا گو اس کا یہ فعل مکروہ ہو (امدادالمفتین ص۔۸۰۵) حکم کوکیں اگر نشہ نہ ہو تو فی نفسہ مباح ہے لیکن بوجہ عوارض مضرت جسمی و مضار مذکورہ سوال کی ممنوع ہے اورجہاں یہ عوارض پیش نہ آئیں مباح رہے گا (امدادالفتاوی ص۔۹۲ج ۴) سوال افیوں مال متقوم ہے یا نہیں اور اس میں عشرواجب ہے یا نہیں الجواب اقول وباللہ التوفیق اس صورت میں صحیح یہی معلوم ہوتا ہے کہ افیون مال متقوم ہے اور اس میں عشرواجب ہے فقط (فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۔۱۷۸ج ۶

)افیوں کی کاشت وبیع جائز ہے (احسن الفتاوی ص۔۴۹۴ ج ۶) افیون چرس بھنگ کوکیں یہ تمام چیزیں پاک ہیں اوران کادوامیں خارجی استعمال جائز ہے نشہ کی غرض سے ان کو استعمال کرنا ناجائز ہے مگران سب کی تجارت بوجہ فی الجملہ مباح الاستعمال ہونی کی مباح ہے تجارت توشراب اور خنزیر کی حرام ہے کہ ان کا استعمال خراجی بھی ناجائز ہے (کفایت المفتی ص۔۱۱۵ ج ۹).

صاحب البحر ذكرنا قلا عن اء متنا ان طاعة الامام فى غير معصية واجبة فلو امر بصوم يوم وجب آه (ردالمحتار صـ۳۸۳ ج ۴) مطلب ۔ مخالفة الامير حرام (ردالمحتار صـ۲۵۶ ج ۳) وحينئذ تصبح القوانين و التكاليف التى تصدرعن الحاكم واجبة التنفيذ (الفقه الاسلامى صـ۷۰۴ ج ۶) قال الزيلعى وليس فى التعزير شئ مقدر وانما هو مفوضٌ الى رءى الامام على ما تقتضى جنايتهم فان العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية فينبغى ان يبلغ غاية التعزير فى الكبيره كما اذا اصاب من الاجنبية كل محرم سوى الجماع الخ (ردالمحتار صـ۱۹۶ ج ۳) (تبيين الحقائق صـ۲۰۸ ج ۳) وليس للامام ان يخرج شيئًا من يدأحد الابحق ثابت معروف (ردالمحتار صـ۲۸۱ ج ۳) والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذالمال (ردالمحتار صـ۱۹۵ ج ۳) لايجوزالتعزير باخذالمال فى الراجح عند الائمة لما فيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيأكلونه (الفقه الاسلامى صـ۲۰۱ ج ۶)

واللہ تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که ښاروالي په خلګو دکانونه جوړکړي وخت پر تیرسي داملکیت ئې دچاګرزي دښاروالي که دخلګو؟

سوال: محترم رئیس صاحب شورای مرکزی علماء وریاست دارالافتاء مرکز السلام علیکم.

اما بعد: مونږ ۱۱۲ دکانداران د ارګ د کباړی خپل تشریحات مفصل درته لیکو امید کوو چه شرعی حکم راته معلوم کړی په ابتداء کی زمونږ خلق تقریبًا ۴۰ کاله مخکې د ښکار پور باراز څخه راوستل داغه ارګ ته محمد افضل خان شیردل ښاروال وویل تاسي پر داغه مځکه خپل دکانونه جوړ کړئ هلته مه کښینئ زمونږ دا کومک دی چه کرایه نه در څخه غواړو مونږ هم په خپل شخصی مصرف دکانونه جوړ کړه خپل کار مو کاوه ډیر وخت بعد هغه ښاروال بدل سو محمد اکبر خان ښاروال سو څو موده بعد ئی مونږ ته وویل کرایه راکړئ مونږ ورته وویل چه مونږ خو په خپل مصرف جوړ کړه ښاروال صاحب کرایه نه را څخه غوښته ده وویل حکومت ډیر مفلس دی هغه وخت د ښاروال کومک وو اوس تاسی کومک وکړی کرائې خو ډیری دی تاسی مونږ ته داعانی پر ډول ۱۲۰ افغانۍ راکوئ تر آخره پوری زمونږ کرایه تر ټوله ښار کمه وه دا اول حال وو بیا نو یو تر بله مونږ خپل دکانونه په سر قلفی خرڅول چه د سابقه مالک څخه په ښاروالی کی نوی مالک ته پر نام کړی دی تر دې وخته پوری چه پنځه میاشتې مخکې ښاروال صاحب راته وویل چه مونږ د اپلان لرو چه ستاسی سرای ۷ منزله جوړ کړو زمونږ به هم فائده سی ستاسی دوکانونه به پاخه سی تاسی ته بیرته خپل دوکانونه درکوم که خط غواړی خط درکوم او ډیر ژر ئی در جوړوم مونږ وویل چه زمونږ دوکانونه مونږ سم جوړ کړیدي مونږ مه بیځایه کوه خو ښاروال صاحب په ډیره خوږه لهجه وعدی راکړی چه یوه ئی هم نه کړه پر ځای اوس وایی چه پیسی راکړی حال دا چه زمونږ دوکانونه هر یو په څلور یا پنځه لکه کالداری قیمت خرڅیدی مقصد دا چه مونږ د پیسو حق لرو کیا؟

جواب: په دې مسئله کې دوه ۲ صورته دي:

(اول صورت) دغه ټارکیتونه او دوکانونه چه اوس حکومت نړولی دی او ښاروالی یی خپل مربوط بولی حکومت پخوا اول واری جوړ او روغ دوکانونه خلقو ته په کرایه ورکړی وي او سوئ له دغې کرایی څخه ئی نور أجرة او پیسی یا بل شی د خلقو څه نه وی اخیستی او

نه ئی نور قرار داد ورسره کړی وي ، نو په دې صورت کی ښاروالی کولای سی چه د پخوانیو خلقو څخه دوکانونه واخلی او نورو ته یی ورکړی که دغه شرطونه موجود وه (اول) دا چه د حکومت او خلقو په مابین کی به د سرقلفی یا بل عقد قرارداد نه وی سوی (دوهم) دا چه خلقو به په دغو دوکانو کی هیڅ نوعه تعمیراتی مصرف نه وی کړی او نه به دوکان د کرایه دار په پیسو جوړ سوی وي (دریم) دا چه په آینده کی که هر چا ته دغه دوکانونه ورکول کیږی د دوکانو د جوړیدو مصرف به نه ځنی اخیستل کیږی او که ځنی اخستل کیږی نو په سرقلفی به ورکول کیږی.

ان المستأجر بعد فراغ مدة اجارة یلزمه تسلیم الارض و لیس له استبقاء بنائه او غرسه بلا رضی المتکلم علی الارض (مجموعة رسائل ابن عابدین ص۱۵۵ ج۲) و قد یقال ان الدراهم التی دفعها صاحب الخلو للواقف و استعان بها علی بناء الوقف شبیهة بکبس الارض بالتراب فیصیرله حق القرار فلا یخرج من یده اذا کان یدفع اجر المثل و مثله مالوکان یرمّ دکان الوقف و یقوم بلوازمها من ماله باذن الناظر اما مجرد وضع الید علی الدکان و نحوها و کونه یستأجرها عدة سنین بدون شئ مماذکر فهو غیر معتبر فللمؤجر اخراجها من یده (ردالمحتار ص۱۸ ج۴) و ممن افتی بلزوم الخلو الذی یکون بمقابلة دراهم یدفعها للمتولی او المالک العلامة المحقق عبدالرحمٰن افندی العمادی صاحب هدیة ابن العماد و قال فلا یملک صاحب الحانوت اخراجه و لا اجارته لغیره (ردالمحتار ص۱۸ ج۴).

(**دوهم صورت**) او که چیری دغه مذکور دکانونه اول واری خلقو خپله او پخپلو پیسو جوړ کړی وي او حکومت یوازی دوی ته خالصه مځکه ورکړی وي او بیا دغه خلقو په خپل مابین کی د دغو دکانو بیع او شراء کړی وي او بیا همدغه ښاروالی په خپلو کتابو کی د بائع او مشتری نومونه ثبت کړی وي نو ددغو دکانونو ملکیت د ښاروالی بلل کیږی لکن سرقلفی ئی د خلقو ده په هیڅ وخت کی ښاروالی نسي کولای چه د دوی څخه دغه دکانونه واخلی یا ئی بل ته ورکړی که څه هم دغه مځکه د ښاروالی ده لکن د خلقو سرقلفی په صورت [illegible]

قطعي د مابين څخه نه ځی او آینده چه دغه دکانونه جوړ سی هم به د دغو پخوانیو خلقو وي بل چاته په کرایه نسی ورکول کیدای۔ اوس نو که ښاروالی دغه دوکانونه د خلقو بې اجازې او بی رضا نړولی وي نو ښاروالی به دغه دکانونه بیر ته پخپلو پیسو جوړوی نه د خلقو په پیسو او هغو خلقو ته به یی ورکوی او که یی د هغو په اجازه او رضا نړولی وه نو ښاروالی به دغه دکانونه د خلقو په پیسو جوړوی او د خلقو څخه به یوازی د دیوالونو او بام د جوړیدلو مصرف اخلی نه د سر بیره منزلونو ځکه چه هغه سر بیره منزلونه د ښاروالی دی هغوی به یی په خپلو مصارفو جوړوي۔ او که خلقو د دغه خپلو دکانو د نوی جوړیدو د پیسو ورکولو طاقت نه درلودی نو دا پیسی به د حکومت له طرفه قرض وي پر دوی او حکومت به انتظار ورته کوي چه په قسطونو یا په بله طریقه ئی خلق ورکړی او هیڅکله ښاروالی ته دا جواز نلری چه که څوک دستی او عاجل پیسی ورنکړی نو دی ئی دوکان واخلی بل چاته یی ورکړی او دا ټوله احکام ځکه ثابت دی چه سرقلفی حکم د شخصی ملکیت لري لکه په شخصی ملک کی چه خپل مالک مکمل تصرفات کولای سی بل څوک یی د ده بی اجازی نه نړولای سی او نه یی ځنی اخستلای سی همدغه حکم د سرقلفی دی.

قال فی جامع الفصولین و غیره بنی المستأجر او غرس فی ارض الوقف صارله فیها حق القرار و هو المسمی بالکردار له الاستبقاء باجر المثل و فی الخیریة و قد صرح علماء نابان لصاحب الکردار حق القرار و هو ان یحدث المزارع و المستأجر فی الارض بناء او غرسا او کبسا بالتراب باذن الواقف او الناظر فتبقی فی یده (ردالمحتار صـ۱۸ج۴) (مجموعه رسائل ابن عابدین صـ۱۴۹ج۲) (غمزعیون البصائر صـ۳۲۱ج۱) (شرح المجلة للاتاسی صـ۵۱۴ج۲) هکذافی (منحة الخالق علی بحرالرائق صـ۳۰۵ج۷) و (الفقه الاسلامی صـ۲۲۳ج۸) (مجموعه رسائل ابن عابدین صـ۱۵۴ج۲) و انت علی علم ان الشرع یابی الضرر خصوصا و الناس علی هذا وفی القلع ضرر علیهم (ای المستأجرین) و فی الحدیث الشریف عن النبی المختار لاضرر ولاضرار آه (منحة الخالق صـ۳۰۵ج۷) الاراضی السلطانیة اراضی بیت المال لاتورث . . . . . و

اما مافيها من البنـاء و الفراس فهو ملک لاربابه يقسم بين الورثـة على فريضة الله تعالى (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۲۰۶ج۲) سئل فيما اذا كان لزيد حانوت قائم فی ارضٍ وقف جارية فی احتكاره من ناظر الوقف مدة معلومة باجرة معلومة بناء بماله لنفسه بعد الاذن من الناظر بذلک و تصرف فيه عدة سنين و فی کل سنة يدفع لجهة الوقف الحكر المرتب على الارضْ و هو اجر المثل و الان تولى الوقف متول جديد يريد رفع الحانوت بدون وجه شرعی فهل يمنع من ذلک (الجواب) نعم (الفتاوى المهدية صـ۴۹۱ج۲) (و تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۷۸ج۱) و استفيد من كلام التجنيس و جامع الفصولين ان السكنى عبارة عن عين قائمة من بناء او خشب تركب فی الحانوت مثلا باذن المتولی تباع و توهب وتورث فهی من نوع الكردار المتقدم (مجموعه رسائل ابن عابدين صـ۱۵۴ج۲) و فائدة الخلو انه كالملک فتجری عليه احكامه من بيع و اجارة و هبة ورهن ووفاء دين وارث و وقف على الخلاف فی الاخير و هذه الامور تؤخذ من فتاوى الناصر اللقائی حيث جعله كالملک و منه يعلم انه لامانع من تعدد الخلوات اذا الملک يتعدد (غمز عيون البصائر صـ۳۲۲ج۱) سئل فی بناء فی ارضْ موقوفة مستحق للبقاء و القرار تهدّم ذلک البناء و صارت الارضْ خالية فهل لربه اعادته ثانيا كما كان اولاً (اجاب) للمحتكر حق الابقاء والاعادة حيث كان قائما بدفع اجرة مثل الارضْ خالية عن البناء على ماعليه العمل (الفتاوى المهدية صـ۴۸۷ج۲ صـ۴۹۵ج۲) لا يجوز لاحد ان يتصرف فی مال الغير بلا اذنه (المجلة المـ۹۶) و عدم الجواز شامل لجميع انواع التصرف من استعمال كركوب و لبس ..... و بيع ورهن و هدم وبناء (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۶۲ج۱) اذا اتلف واحد مال غيره الذی فی يده او فی يدامينه قصدًا او من غير قصد يضمن (المجلة المـ۹۱۲) و فی الحامدية عن الخيرية ان راضی بيت المال كاراضی الوقف (شرح المجلة لسليم باز صـ۲۴۷) و (للاتاسی صـ۵۱۰ج۲) (و

انکان ذوعسر فنظرة الی میسرة ..... آلآية ۲۸۰ سورة البقره) ای و انکـان ذوعسـرة لکم علیه حـق او غریمـا او من غرمائکم (روح المعـانی صـ۵۳ج ۳) و المراد به الامهال و التأخیر (روح المعانی صـ۵۴ج ۳) ای انظـر و ایاایهاالـدائنـون الی یسار المدیون ولا تعجلوا بطلبه لانه مضطر فی هـذالباب و بهـذه آلآیة تمسک صاحب الهدایة فی کثیر من المواضع (التفسیرات الاحـمدية صـ۱۷۴) .

(**نوټ**) یوه خبره یاد ساتل ډیر ضروری دي هغه دا چه په دغه دوهم صورت کی به د آینده لپاره ښاروالی د دغو پخوانیو خلقو څخه چه سرقلفی والا دی کرایه په اندازه د أجرة مثل اخلی نه به تر دې زیاته وي او نه کمه .او أجرة مثل دی ته وایی چه یو څو پوهان کسان د ښار دې راوغوښتل سی او د هغوئ څخه دی پوښتنه وسی چه دغه مارکیټ مځکه چه خالصه مځکه وي او دکانونه نه وی باندی جوړ نو دیوه دکان قدر مځکه به په څو کرایه واخستل سی نو هغونه کرایه به پر دغه جوړو دکانو مقرره کیږی .نه داسی چه نور جوړ دوکانونه په هر څو کرایه ورکول کیدل هغونه کرایه باندی واخلی چه دا سخت ظلم او د شریعت څخه مخالف حکم دی ولی ښاروالی خلقو ته اول واری خالصه مځکه ورکړی ده نه جوړ دکانونه فلهذا کرایه به هم د خالصه مځکی اخلی نه د جوړو دکانو .

و المـراد باجرالمثـل فیهـا (ای فـی الدکاکیـن الموقوفـة اذا کـان فیهـا للمستأجر سکنـی او کـردار او جـدک) هـو ماتـستأجربه اذا کانت خالیة عن البنـاء (مجموعه رسائل ابـن عابدیـن صـ ۱۵۶ج ۲) و مثل ذلک ای کالعبارة المذکورة ینـبغی ان یقال فی الجدک فتعتبر اجرة الحانوت خالیة عن جدکه القائم فیها و عما انفقه علیها حتی صارت قابلة لتمام الانـتفاع (مجموعه رسائل ابن عابدین صـ۱۵۷ج ۲) هکذافی (الفتاوی المهدية صـ۴۸۷ج ۲)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که څوک دچامځکه پر بل چاخرڅه کړي وخت تیر سي اصلي مالک دعوی وکړي وئې ګټې اورد سي مشتري خپلي پیسي له اصلي مالک څخه غوښتلای؟اواصلي مالک له ده څخه خوړلي حاصلات غوښتلای سي کنه؟

سوال: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ. اما بعد: زه سرداروالي ولد حاجی دین محمد او شیرمحمد ولد حاجی غلام رسول په لاندی ډول اقرار یو.

زه سرداروالی په دې شیر محمد د دې دعوه لرم چه زما شپږ جریبه مځکه زما قبله ګاه پرده خرڅه کړیده چه هغه مځکه زما د والدي وه په ۳۰ دیرش لکه افغانی باندي چه په مقابل کی ددغه دیرش لکه افغانی ئی یو ټکټر نورئی ۱۲ منه تاریاک من په ۰ لکه روپی جمله ۱۳۰۰۰۰۰ کیږي او دری څرواره کیږي اوس زما والده خپل د حق طلب کوي او شیرمحمد هم شریعت ته غاره اینبی ده. نو اوس دغه مځکه وخپل مالک ته ردیږي کنه که چیري ردسی خپل مالک ته بیا د دي شیرمحمد تاریاک او ټکټر حق کیږي که دغه معینی روپی چه قیمت د ټکټر او د تاریاکو دی او که چیري دغه مځکه ردسی خپل مالک ته دغه دولس کاله کیږي چه شیرمحمد ئی حصول خوری د دغه حصولو حق دغه ښځه پر لري کنه او دغه ښځه بیله اولاده چه هم اوس غټ سویدی هیڅ قریب هم نه لري.

زه شیرمحمد هم دغه ډول وایم چه په دغه شکل ئی مځکه راکړیده که چیري ددې ښځې حق وي ورکومه ئی او که ئی حق نه کیږي نو د مځکې خط دي راکړی د شاهدانو په حضور کی، او دغه ښځه هم دا اقرار کوي چه که چیری دغه مځکه زما حق نه وي زه دا خط ورکوم؟

جواب: دا چه شیرمحمد هم دا اقرار کوي چه په داغه شکل ئی دغه مځکه راکړی وه نو دغه مځکه د هغې ښځې حق بلل کیږي اوس به یی هغې ښځې ته ورسپاری که څه هم په وخت کی د بیعی هغه ښځه موجوده وي او خبره وي او سکوت یی کړی وي او بله دا خبره هم ضروری ده چه دغه شیرمحمد نسی کولای چه په زور او دعوی باندی هغه ټکټر او تاریاک یا دهغو قیمت د سرداروالی یا د هغه د وارثانو څخه واخلی که هغو پخپله رضاء ورکړه خو ډیره ښه ده او که نوی نو حق د دعوی نه د سرداروالی سره لري نه د هغه د ښځي او د هغه د وارثانو سره او

دا خبره هم یاد ساتل پکاردي چه دا واجبه ده چه سردارولی یا د هغه ورثه باید دده تکتېر او تاریاک که موجود وه یا دهغو مثل یا قیمت دده د مال څخه په خپله خوښه او رضاء شیرمحمد ته ورکړی ځکه چه دغه شیان یی ناحقه او بغیر له شرعی عقده څنی اخیستی دی او بلکه دا خبره هم ده چه هغه منافع او حصول چه څو کاله شیرمحمد د مځکی څه اخیستی دی د هغو ضمان نسته او هغه ښځه چه مالکه د مځکی ده حق نلري چه هغه حصول څنی واخلی.

فـاذا كـان ذلک الشخص من اقـارب البـائع او زوجهـا او زوجته فلاتسمع دعواه مطلقا فيما اذا لم يقر المدعى عليه ...... اما اذا أقر المدعى عليه بان المال المذكورهو مال المدعى و ادعى ان مجردوجود المدعى وقت البيع و سكوته قد اسقط حقه فى المال المذكور فلا يسمع دفع المدعي عليه هذا بل يلزم باقراره ﴿دررالحكام صـ۲۹۰ج ۴﴾ وانمـا يثبت للمشترى حق الرجوع بـالثمن اى فى الاستحقاق على بائعه بشرطين الاول ..... الثانى انيكون الاستحقاق بالبينة لانها حجة متعدية اما اذا كن الاستحقاق باقرار المشترى او بنكوله او باقرارو كيلـه بالخصومة فلارجوع (تنوير) لان الاقرارحجة قاصرة ﴿سليم باز صـ۲۲۹﴾ هكذافى ﴿شرح المجلة للاتاسى صـ۲۲۳ج ۱﴾ ﴿دررالحكام صـ۷۸ج ۱﴾ لايجوز لاحد ان يأخذ مال احد بلاسبب شرعى ﴿المجلة المـ۹۷﴾ اى لايحل فى كل الاحوال عمدا او خطأ اونسيانا ..... وذلک كالغصب والسرقة و القمارو الربا الخ ..... فمن تناول مال احدباحدى هذه الطريق فهو ظالم غاصب يجب عليه رده او مثله او قيمته هالكا ﴿اتاسى صـ۲۶۴ج ۱﴾ ﴿سليم باز صـ۶۲﴾ لايلزم ضمان المنفعة فى مال استعمل بتأويل ملک ولوكان معدالاستغلال ﴿المجلة المـ۵۹۷﴾ فلو اشترى حانوتا او خانا او طاحونة او ماشاكل ذلک من الاموال المعدة للاستغلال و تصرف فيه مدة ثم استحقه رجل منه لايلزم المشترى اجرالمدة المرقومة ﴿سليم باز صـ۳۲۰﴾.

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که زوی مسکین وي زکات واخلي بياله غني پلارسره مرسته کولای سي کنه؟

سوال : محترمو علماءُ يو سړی چه مسکين وي پلار ئی غنی وي او دواړه سره جلا سوی وي زکاة ورته روا دی کنه بيا په دغه زکاة د پلار سره کومک کولای سی کنه چه قبض يی کړی ؟

جواب : پلار چه غنی وي نو که ئی زوی بالغ او مسکين وو دغه زوی ته زکوة ورکول جائز دی هر کله چه ئی قبض کړی دغه زکوة بيا نو دخپل پلار سره کومک کولای سی لکن په طريقه د هبې او دا ځکه چه غني ته صدقه نه ورکول کيږی حتی که صدقة ورته ورکړی هم هبه گرځی نه صدقه نه په طريقه د صدقی او که زوی صغير وو بيا نو زکوة ورکول نه دی جائز.

ولايجوزدفعها الى ولد الغنى الصغير كذافى التبيين ولوكان كبيرا فقيرا جاز(الفتاوى الهندية صـ١٨٩ج١) هكذافى (الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ٧٢ج٢) (فتاوى دارالعلوم ديوبند صـ٢٥٧ج ۶) اذا دفع الزكوة الى الفقير لايتم الدفع مالم يقبضها او يقبضها للفقير من له ولاية عليه (الفتاوى الهندية صـ١٩٠ج١) لان الصدقة للغنى هبة (الدرالمختاربهامش ردالمحتارصـ۵٧۴ج۴).

(**نوټ**) پلار چی غني وي و خپل مسکين زوی ته زکوة نسي ورکولای او نه يی زوی پلار ته ورکولای سی.

ولاالى من بينهما ولاد (الدرالمختار) وقيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب (ردالمحتارصـ۶۹ج٢)هكذافى (امدادالاحكام صـ۴۹ج٢)

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

د دولتي مځکو څخه د اډې، ګنج او میله ځای استفاده، کرایه او په اجاره ورکول او دنورو ځایو خلګ دې ځای ته په راتګ مجبورل څه حکم لري؟

سوال: د افغانستان د اسلامي امارت د دارالافتاء محترم ریاست ته السلام علیکم.

محترما: هلمند ته د طالبانو د اسلامي تحریک تر راتګ د مخه د لښکرګاه د ښار د تاجائي په نامه د فلجاتو د مندوی د محصول یا تیکه او د جمعې د روځی ګنج د موټرانو اډه د قرارداد په ډول په اجاره ورکول کیده چه د محترمو طالبانو د راتګ سره سم دا محصول معطل کړل سو چه تر اوسه پوری لا دا عایداتی منبع د تعویق په حال کی پاته ده په دي ورځو کی دوو نفرو هر یوه سنګر د حاجي امرالدین زوی او عزت الله د زین الدین زوی په مشترکه توګه د هلمند د ولایت محترم مقام ته عرض وړاندي کړو چه دوی پخپل عرض پاڼه کی د هلمند په ولایت کی د لښکرګاه چاه انجیر. نادعلي. مارجي او د فقیرانو پر ځای د مواشیو ګنجونه چه په هره هفته کی په نوبت سره میلی کیږي د قرارداد په ډول په اجاره غوښتی دي چه د هلمند ولایت د مقام د هدایت په اساس د نوموړو عریضه د یو پیشنهاد په ډول د همدي ولایت د اداری مجلس ته راجع شوه چه بالاخره د هلمند ولایت د اداری مجلس په خپل (۱۱) تصویب سره داسی فیصله کړي وه ((د ښاروالی د غوښتنی په مورد مجلس داسی فیصله کوي: چه ښاروالی دې په دې مورد کی د امارت د مقام یا دارالافتاء څخه اذن وغواړی مطابق د هغه دې خپله کړنه وکړی ولی بله خبره دا ده چه ښاروالی دې د چاه انجنیر. نادعلی. مارجی او نادعلی میلی دې مرکز ته را وغواړی)).

نو اوس د لښکرګاه ښاروالی د ذکر سوو منطقو د میلو د مواشیو او نور کاروبار د خرڅولو او رانیولو پر سر چه په تیرو وختو کی دیولایحی له رویه محصول یا تاجائی اخستل کیده او د قراردادي په واسطه د دولت په حساب بانک ته تحویلیدل یو ځل بیا پیشنهاد وي هیله ده چه د اسلامی شریعت د حکم سره سم د دې ګنجو جواز او یا نه جواز په باره کی یو شرعی فتوی راته لطف کړی؟

﴿ الحاج مولوی خوشدل د هلمند ولایت مرستیال ﴾

جواب: دلته څو خبرې ډیرې مهمې دي:

(**اوله خبره داده**) دغه تاجائی او محصول اخستل جائز دي لکن لاندي شرطونه به پکښې موجود وي:
(**اول**) دغه ځکه چه ګنج باندي جوړیږي دا به د حکومت مملوکه وي دښتی او یا مرعی ځکې به نه وي

(**دوهم**) دغه تاجائی به په حقیقت کی کرایه اخستل وي د هغه کسانو څخه چه ګنج ته خپل مالونه راولی او دلی یی د روی یا موټران راولی او په اډه کی یی د روی.

(**دریيم**) داسی به نه وی چه د سودا پر سر د بائع او مشتری څخه مقرره اندازه پیسی اخلی که چیری دغه شرطونه نه وه موجود نو بیا دغه محصول اخستل ناروادی.

(**دوهمه خبره داده**) که چیری دغه ځکه چه ګنج یا اډه پر جوړیږي د حکومت مملوکه ځکه وي نو د پورته شرطونو سره سم یی په قرار داد ورکول او ټیکه کول جائز دي ولی دغه محصول په حقیقت کی اجاره ده او که چیری دغه ځکه مرعی وي یعنی هغه ځکه چه خاص د خلقو د استفادی د پاره پاتـه وي نو بیا ئی نه په اجاره ورکول جائز دي نه یی قرار داد او ټیکه جائزه ده نه په نامه د محصول او تاجائی پیسی ځنی اخستل جائز دي

(**دریيمه خبره داده**) د مارجی او نادعلی او نورو ولسوالیو څخه ګنجونه او میلی راغوښتل مرکز ته د دې لپاره چه تاجائی ځنی واخستل سی او همدارنګه په مرکز کی د نورو ځکو څخه و حکومتی ځکو ته د دغه ګنجو میلو اډو جبری انتقال ډیر سخت حرام دی او هیڅ جواز نه لري دغه قسم أوامر د حکومت هیڅکله صحت او جواز نه لري.

و اذا اتخذ الرجل مشرعة على شاطئ الفرات يسقى منهـا السقاؤون و يأخذ منه الاجر فان نبى على ملكه ان آجرها منهم للاستقاء لم يجز و ان آجر ماملكه لان الاجارة وقعت على استهلاک العين مقصودا وان آجرها ليقوم فيها السقاؤون و يضعون القرب فيها و يوقفون الدواب فيها جازوا ما اذا بنى المشرعة على ملك العامة ثم آجرها من السقائين لايجوز سواء آجر منهم للاستقاء او آجر منهم ليقوموا فيها و يضعوا القرب كذافى الذخيرة (الفتاوى الهندية صـ۴۵۳ج۴) استأجر سقفا ليجفف عليه الثياب او يبيت عليه يجوز بزازية (تنقيح الفتاوى الحامدية مع الخيرية صـ۱۲۱ج۲) و بطل ايضًا بيع المراعى وإجارتها (سليم باز صـ۱۰۱) شروط نفاذ الاجارة وهى انيكون المؤجر مالكًا لما يؤجره او متصرفا به بنيابة عن المالک کالوکيل او بإذن منه کالمستأجر الخ (سليم باز صـ۲۵۳) التصرف على الرعية منوط بالمصلحة (المجلة صـ۵۸) اتى بصيغة المصدر المحذوف فاعله ليفيد التعميم لكل من يلى امرا عامًا يتعلق بالرعية فيشمل السلطان و من قلده السلطان بذاته او بالواسطة و يشمل ايضًا الاوصياء و متولى الاوقاف فان جميعهم تناط تصرفاتهم العائدة لمن هم تحت ولايتهم بالمصلحة اى بما فيه نفع يقود اليهم و الاقتصر فهم غير صحيح ولانافذ شرعًا (شرح المجلة للاتاسى صـ۱۴۲ج۱) و فعل الامام منوط بالمصلحة والظلم ليس بمصلحة (اتاسى صـ۱۴۳ج۱)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که څوک دولتي ځمکه قبضه کړي
او دملکيت سند ئې نه لري دولت ئې ترې اخيستلای سي؟

سوال: د افغانستان اسلامی امارت د دارالافتاء عالی رياست محترم مقام ته السلام عليکم

محترما: د افغانستان اسلامی امارت اړوند اورگانونه په نظر کی لري چه د کندهار ولايت بعضی ولسواليو په مرکز کښی چارچار پيره او متصله ساحه کی د گرانو وطن والو د اقتصادی حالت د ښه کيدو او خلگو ته د کار د ښه زمينی د مساعد کولو په منظور يو شمير مارکيټونه د قانونی نقشو مطابق چه زمونږ سره موجود دي جوړ کړی خو متأسفانه د تيرو (۲۰) کلونو په گډوډ يو کښی خلگو د ولسواليو متصلی ځمکی په مختلفو نومونو د دکان کور او للمی ځمکی په نامه سره قبضه کړی او اوس يی د ملکيت دعوه کوي وايی مونږ ابادی کړی بايد وويل شی چه د خپل وخت د حکومت کوم اسناد هم په لاس نلري ويلی يی دا دي چه هغه ځمکه يادښته چه بی هرچاته نسبت کيږي هغه شرعًا د هغه حق ده مونږ له تاسو محترمينو څخه احترمانه هيله لرو چه د لاندي مادو په اړوند د شرعی مسائلو په رڼا کښی مفصل او مدلل معلومات لطف کړی. امارتی ځمکه چه للمی، دکان، او کوريی ورباندي اباد کړی وي امارتی (دولتی) اسناد ونلری ايادا راز ځمکی شرعًا د هغه ملکيت کيدای شی د يوې دښتې ځمکې يوازی په نسبت سره چه د فلانی دښته ده د هغه ملکيت کيدای شی ايا د خود سره جوړ شويو ځايونو د نړولو په وخت کښی هغوی عوضًا د څه امتياز مستحق گرځيدلی شی يا نه؟

﴿الحاج ملا محمد حسن رحمانی کندهاروالی او تنظيمه رئيس﴾

جواب: محترم مستفتی صاحب د ځو خبرو لحاظ دلته ډير ضروری دی (اول) که حکومت ته په قطعی او يقينی ډول معلومه وي چه دغه ځمکه د امارت مملوکه ده او د فلانی رياست يا فلانی اورگان مربوطه ده او دغه خلقو غصب کړی ده او د خلقو سره هم د ملکيت شرعی

ثبوتات نه وي نو حکومت کولای سي چه د خلقو ابادي و نړوي او خپلې نقشې او پلانونه عملي کړي.

(**دوهم**) که چيري دغه خلق د دغو مځکو د شخصي ملکيت دعوه کوي او حکومت يې د خپل ملکيت دعوه کوي نو د دوی سره بايد په محکمه کی د قاضي صاحب په حضور کی د عوی وچلول سي او شرعي دلائل بايد پيش کړل سي چه شاهدان قسم نکول د قسم څه او قباله شرعيه ده دا خبره چه د دي مځکي يادښتي نسبت فلاني ته کيږي يا دا چه دا مځکه په کاډسترکي موجود ده دا خبرې د شرعي دلائلو څخه نه دي په هغه صورت کی چه د مقابل لوري سره نور شرعي دلائل موجود وي: پس له دي څه چه قاضي فيصله وکړي بيا به د فيصلې مطابق اجراءات کيږي د دغسې منصفانه محکمې څخه تر مخه حکومت ته جواز نلري چه د خلقو څخه مځکی واخلي.

(**دريم**) که دا خلق قناعت ولري چه دغه مځکي واقعًا د حکومت دي او امارتي دي لکن دوی ته د وخت صحيح حکومت اجازه ورکړی وه چه ځايونه پري جوړ کړی په دې صورت کی بيا هم حکومت نسی کولای چه دغه ځايونه د دوئ دلاس څه اخراج کړي.

(**څلورم**) که دغه مځکی پخوا مرعی ګانی وي د دغې ولسوالی يعنی داسې مځکې وي چه دعامو خلقو د منفعت اخستلو لپاره پريښوول سوي وي لکه پارک يا د کوچنيانو دلوبو ميدان يا داسي نور مصالح عامه په دې صورت کی به د خلقو اباد کړی ځايونه نړول کيږي او اينده د پاره نه حکومت کولای سي نه رعيت چه دا قسم ابادي پکښي وکړي.

(**پنځم**) که دغه دښتې يا دغه مځکې موات مځکې وي او خلقو احياء کړی وي او د هغه وقت د صحيح حکومت څخه يې اجازه اخيستی وي يا اسلامی امارت د هميشه پاته کيدلو اجازه ورکړی وي نو دا ځايونه د دوی شخصي ملکيت ګرځيدلی دی حکومت ئی نسی ځنی اخستلای او که يې د موقت احياء يا موقت پاته کيدلو اجازه ورکړی وي يا قطعًا اجازه نه وي اخستل سوي نو بيا حکومت کولای سي چه د دوی ځايونه ونړوي او دوئ د دغو ځايو څه نقل کړي - يا ده دې وي چه موات مځکی دولتي يا حکومتي مځکې نه بلل کيږي فقط تولیٔ او تصرف يی حکومت کولای سي

(شپږم) په ټولو هغو صورتو کی چه حکومت ته د خلقو د بناؤو د نړولو اجازه ورکول سوی ده په هغو صورتو کی خلق پر حکومت دا حق نلري چه په عوض کی ئی پیسي یا مځکه ځنی واخلی لکن افضل او بهترینه خبره داده چه حکومت د غریبانو سره د پیسو یا د مځکي کومک وکړي چه په ډیرو احادیثو شریفو کی هم په دغسی معونت او کومک امر سوی او هم یی ډیر زیات فضائل بیان سوي دي او په حکومتی مسئولینو کي چه هر څوک دغسی وکړی البته په اجازه د مشرانو دهغوئ سره په احادیثو شریفو کی د ډیرو زیاتو اجرتونو وعدې سوي دي.

لایجوز لاحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا إذنه (المجلة المـ۹۶) لیس لاحد ان یأخذ مال غیره بلاسبب شرعی (المجلة المـ۹۷) یلزم ردالمغصوب عینًا و تسلیمه الی صاحبه الخ (المجلة المـ۸۹۰) و لیس للامام ان یخرج شیئًا من یداحد الابحق ثابت معروف (ردالمحتار صـ۲۸۱ج ۳) وضع الید والتصرف حجة قاطعة و لایکلف ذو الیدالی اظهار سند یشهد له بذلک مع وضع یده (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۲۱۶ج ۳ و صـ۱۱ج ۲) طرق الاثبات التی یعتمد علیه فی القضاء هی الشهادة و الیمین و النکول و الاقرار (الفقه الاسلامی صـ۵۱۶ج ۶) هکذافی (دررالحکام صـ۴۸۳ج ۴) حق القرار۔ بنی المستأجر او غرس فی ارضٍ الوقف صارله فیها حق القرار..... وهو ان یحدث المزارع و المستأجر فی الارضٍ بناء او غرسًا او کبسا بالتراب باذن الواقف او الناظر فتبقی فی یده (ردالمحتار صـ۱۸ج ۴) (مجموعة رسائل ابن عابدین صـ۱۴۹ج ۲) (غمزعیون البصائر صـ۳۲۱ج ۱) ولایجوزاحیاء ماقرب من العامر بل یترک مرعی لاهل قریة و مطرحًا لحصائدهم لتحقق حاجتهم الیه تحقیقًا او تقدیرًا (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۰۳ج ۴) (مجمع الانهر صـ۵۵۸ج ۲) ومن احیا ارضا میتة بغیر اذن الامام لایملکها فی قول ابی حنیفة رحمة الله تعالی علیه وقال صاحباه یملکها (الفتاوی الهندیة صـ۳۸۶ج ۵) قال فی ردالمحتار و قول الامام هو المختار (اتاسی صـ۲۰۴ج ۴) (ردالمحتار صـ۳۰۷ج ۵) اذا احیا شخص ارضًا من الاراضی الموات بالاذن السلطانی صار مالکا لها وان اذن السلطان او وکلیه لشخص باحیاء ارضٍ علی ان لایکون متملکا بل لمجرد الانتفاع..... لایکون مالکا لتلک الارضٍ (المجلة المـ۱۲۷۲). والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

په ولسوالي كه بله جامع جوړه سي ايا په هغه كي هم دجمعې لمونځ صحت لري؟

سوال : محترم رياست د دارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهٗ.
امابعد : مونږ د ترينكوټ ولايت د گزاب په ولسوالی کی یو محراب مسجد جامع په امر د اميرالمؤمنين او په مصرف د هغه جوړ کړی ده د غه جامع د مرکزی جامع څه تقريبًا ۲۰ دقيقی په پياده مزل ليری ده او په مابين کی ئی کورورنه مسلسل جوړ دي او د داغه جامع شاوخوا تقريبًا ۸۰ کورونه پراته دي او څلور نوري منطقی ورته نزدي دي که هغه خلک هم ورته راجمع سي نو تقريبًا ۱۰۰۰ نفره کيږي نو ايا په دغه نوې جامع کی د جمعی لمونځ صحت لري کنه ؟

﴿ملاسعدالله﴾

جواب : په دغه جامع كي د جمعې لمونځ بالكل صحت لري ځكه چه أمر د امام په جوړولو سره د جامع امر دی په جمعې سره او بل داچه دا جامع په ولسوالی کی ده او په ولسوالی کی قاضي او ولسوال او نور مسئولين د حکومت موجود وي نو په حکم کی د ښار گرځی نو که اميرالمؤمنين صراحةً امر وکړی په اقامة د جمعی نو بلاشکه جمعه جائزه ده.

لوصلوا فی القری لزمهم اداء الظهر وهذا اذالم يتصل به حكم فان فی فتاوی الدينارى اذابنى مسجد فی الرستاق بأمر الامام فهو امر بالجمعة اتفاقا على ما قال السرخسى اه فافهم والرستاق القرى كما فی القاموس ﴿ردالمحتار صـ۵۹۰ج۱﴾ ان مجرد امرالسلطان او القاضى ببناء المسجد و ادائها فيه حكم رافع للخلاف بلا دعوى و حادثة و فی قضاء الاشباه امرالقاضى حكم ﴿ردالمحتار صـ۵۹۱ج۱﴾ قال ابوالقاسم هذا بلا خلاف اذا أذن الوالى او القاضى ببناء المسجد الجامع و اداء

الجمعـة لان هذامجتهـد فيـه فـاذا اتـصل بـه الحكـم صـار مجمعـا عليـه (طحطـاوی علـى الـدرالمختار صـ۳۳۹ج۱) والمـصر عنـد ابـى حنـيفة كل موضع اى بلـد لـه مفتى يرجع اليه فى الحـوادث و امير ..... وقاضـى ..... فـى ظاهرالرواية قال قاضـيخان و عليه الاعتماد (مراقى الفـلاح شرح نورالايضاح) قوله عنـد ابـى حنـيفة صـرح بـه فـى التحفة عنـه ورواه الحسن عنـه فـى كتـاب الصلاة كذافى غاية البيان وبه اخذ ابويوسف وهـو ظـاهر المـذهب كما فـى الهداية و اختاره الكرخى و القدورى و فى العنـاية هـو ظاهرالرواية و عليه اكثر الفقهـاء (حـاشـية الطحطـاوى علـى مراقـى الفـلاح صـ۳۳۲) هكـذافى (شـرح الميدانى على القدورى المسمى باللّباب فى شرح الكتـاب صـ۱۰۹ج۱) ثم اختلفـوا فى تفسير المصر اختلافـا كثيرا ..... والحدالصحيح ما اختاره صـاحـب الهدايـة انـه الـذى لـه اميـر وقـاضٍ ينـفـذ الاحكـام و يقـيم الحـدود ..... وعن محمد رحمة الله تعالى عليه ان كل موضع مصره الامام فهو مصر حتى انه لوبعث الى قرية نـائبا لاقامة الحدود والقصـاصّ تصير مصرا فـاذا عزله تلحق بالقرى (غنـية المستملى شرح منـية المصلى صـ۵۱۱ طبع مجتبائى) ۱

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

كه طرفين دمدعي بها مځكې له تصرفه
دامير په امر بند سي دحاصلاتو نقصان به دچاپر ذمه وي؟

سوال: محترم رياست ته د دارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهٗ.

اما بعد: اميرالمؤمنين هدايت كړی چه هغه ځمكه چه تر دعوی لاندی وي د حكومت او رعيت تر منځ په هغه ځمكه دې تصرفات تر هغه وخته بند وی د دواړه طرفو ترڅو چه فيصله قطعيت پيدا كوي .اوس زمونږ او د رعيت تر منځ پر يوه ټوټه مځكه دعوه ده او نهايی فيصلې تر اوسه نه دی صادرې سوي او موضوع تر جريان لاندي ده او په مدعی بها ځمكه كی شنه فصلونه او شپيشتی سته اوس كه طرفين د تصرفه بند سی بيا فصلو نه او شپيشتی وچيږی او د منځه ځی اوس خواهش كوو چه د پورته مسئلې په ارتباط شرعي حكم راته راكړئ تر څو مشكل حل سی؟

(مولـــوی عبـــد الولی رئـــيس قـــضايای امـــارت)

جواب: مدعی عليه چه ذواليد او متصرف وي په مځكه كي او د قاضی لخوا يا حكومت لخوا يی تصرف بند سوی وي نو د تصرف بنديده كه په دي معنی وي چه د غه مځكه دې د يو ثالث په لاس كی وي او د دواړو د تصرفه دې و وزی نو دا جائز نه دي بلكه د مدعی عليه په لاس كی به وي تر هغه چه مدعی اثبات ده خپلې مدعی كوي.

سئلت اذا طلب المدعی من القاضی وضع المنقول فی يد عدل حتی تتم المرافعة هل يجيبه الی ذلک فالجواب ما فی البحر عن الفتاوی الصغری لو طلب المدعی من القاضی وضع المنقول علی يد عدل فانكان المدعی عليه عدلا لايجيبه و ان فاسقا اجابه و فی العقار لايجيبه الافی الشجر الذی عليه الثمر لان الثمر نقلی آه (الفتاوی الكاملية صـ١١٥) ماثبت بزمان يحكم ببقائه مالم يقم الدّليل علی خلافه فاذا ثبت بزمان ملک شئ لواحد يحكم ببقاء الملک له مالم يوجد مايزيله (الملجة المـ١٠) وليس للامام ان يخرج شيئًا من يد احد الابحق ثابت معروف (الاشباه و النظائر صـ١٢٤).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

دوکانداران که دښاروالي تاکلي نرخونو څخه سرغړاوی کوی څه سزاء باید ورکوله سي؟

سوال: د دارالافتاء د ریاست محترم مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.
امابعد: څرنگه چه د ښاروالی د پلټنې مؤظفین هره ورځ تخلف کاران د نرخ نیسی خصوصًا قصابان او نانوایان او هغه ته صرف د څو ورو ځو لپاره د دکانو تړلو جزاء ورکول کیږي او هره ورځ اعلانونه اوری او دوکیلانو لخوا هم ورته روزمره خبر ورکول کیږي هیله ده چه په دي مورد کښی شرعی فتوی موږ ته را ولیږي چه مونږ ورباندي شرعی کړنه وکړو ؟

﴿کندهار ښاروال مولوی دین محمد حقبین﴾

جواب: محترمه د تسعیر یعنی نرخ ورکولو په هکله باید ووایو چه نرخ ورکول دکاندارانو یا تجارانو ته په شریعت مقدس کی ناجائز او ممنوع دی حضرت سرورکائنات ﷺ د نرخ ورکولو څخه انکار کړیدی او فقهاء کرامو حکومت ته اجازه نه ده ورکړی چه خلقو ته نرخ مقرر کړی بلکه فقهاء کرام وايي هغه سړی چه خپل مال په مقرر سوی نرخ خرڅوي او په هغه نرخ راضی نه وي یوازي یی د حکومت له بیري خرڅوي مشتری ته دغه مبیعه حرامه گرځی ، په یوه صورت کی تسعیر ته اجازه سته هغه دا چه خلک خوراکی یو شی په غبن فاحش خرڅ کړی غبن فاحش دې ته وائی چه د اصل نرخ څخه ئی په دوه چنده قیمت ورکړی نو بیا حکومت ته د تسعیر اجازه سته او په دغه صورت کی هم تخلف کونکی ته به په اول وار وعظ دوهم وار تهدید دریم وار تعزیر ورکوی نو دغه قصابان او نانوایان چه مستفتی ذکر کړي دي مونږ یی وینو چه دوی غبن فاحش نه کوي نو دوئ ته د نرخ ورکول اجازه نسته او تخلف کونکی ته نو تعزیر بالکل حرام گرځي.

وبنـاء علیه الاصل عـدم التـسعیر و لایـسعر حـاکم علی النـاس و هـذا متفق علیه بین الفقهاء (الفقـه الاسـلامی صـ٥٨٨ج ٣) و لایـسعر حـاکم لقوله ﷺ لاتسعروا فـان اللّٰه هو المسعر القابض الباسط الرازق الخ (ردالمحتـار صـ٢٨٣ج ٥) ولاینـبغـی للسلطان ان یـسعر علی النـاس الا ان یتعـدی اربـاب الطعـام تعـدیـا فاحـشا فـی القیمـة فـلا بـأس بـذلک بمـشورة اهـل الخبـرة بـه (الاختیارلتعلیل المختـار صـ١٦١ج ٤) هـکـذافی (تبییـن الحقـائق صـ٢٨ج ٦) و (الهدایة صـ٤٦٩ج ٤) (بدائع الصنـائع صـ١٢٩ج ٥) (حـاشیة الطحطـاوی علی الـدرالمختار صـ٢٠١ج ٤) و (ردالمحتـار علی الـدرالمختار صـ٢٨٣ج ٥) (اللباب صـ١٦٧ج ٤) (البحرالرائق صـ٢٠٢ج ٨) .

قوله و یتعـدون عـن القیمة تعـدیافاحـشا بـان یبیعـوا قفیزابمائـة و هـو یـشتری بخمسین (العنـایة علی الهدایة بهـامش فـتح القـدیر صـ٤٩٢ج ٧) (الطحطـاوی صـ٢٠١ج ٤) وفـی المحـیط انکـان البـائع یخـاف اذا زاد فـی الـثمن علـی ماقـدره او نـقص فی البیع یضربه الامام او من یقوم مقامه لایحل للمشتری ذلک لانه فـی معنـی المکـره (البحرالرائـق صـ٢٠٢ج ٨) هـکـذافی (تبییـن الحقـائق صـ٢٨ج ٦) و (الـدرالمختاربهـامش ردالمحتـار صـ٢٨٣ج ٥) و ینـبغـی للقاضـی و للـسلطان ان لایعجل بعقوبة من باع فوق ماسعر بـل یعظـه و یزجـره و ان رفـع الیه ثانیًا فعـل بـه کـذلک و هـدّده و ان رفـع الیه ثالثـا حبـسه و عـزره حـتی یمتنـع عنـه و یمتنـع الـضرر عـن النـاس (البحرالرائـق صـ٢٠٢ج ٨) هـکـذافی (تبییـن الحقـائق صـ٢٨ج ٦)

واللّٰه تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

اميرالمؤمنين دبيت المال مالک دي که متصرف؟اوپه بيت المال کي څومره واک لري ؟

سوال: محترمو علماء کرامو د دارالافتاء السلام عليکم ورحمةالله وبرکاتهُ.

قدرمنو علماء ايااميرالمؤمنين د بيت المال په حصه کي خود مختار دی کنه؟ يعنی زما مطلب دا دي که چيری اميرالمؤمنين و غواړی چي يو چا ته موټر ورکړی او هغه سړی په کور کي ناست وي د تحريک کار نه کوي او يا د تحريک کار کوي وزير دی يا رئيس دی خو د موټر څخه شخصی کار اخلی مثلاً چه د ده زړه و غواړی هغه کوي خو په امر د اميرالمؤمنين ايا د اخروی ګرفت څخه خلاصيږي که يا ؟

﴿حافظ نوراحمد ﴾

جواب: اميرالمؤمنين په بيت المال کی تصرفات کولای سی لکن تصرفات يی دوه ۲ قسمه دی يو دا چه د دغه تصرف په وخت کی مصلحت او يو منفعت په نظر کی نيول سوی وي دا قسم تصرف ئي جائز او صحيح دی او بل دا چه مصلحت او منفعت په هغه تصرف کښی نه وي يا ئی ضرر تر منفعت ډير وي دا رقم تصرفات ئی ناجائز او حرام دي ولی اميرالمؤمنين خو مالک د بيت المال نه دی فقط يو متولی دی نفع به ور رسوي اما ضرر ور رسول ورته حرام دي ، او موټر چه هر څوک په شخصی کاروکي مصرفوی نو که اميرالمؤمنين اجازه د شخصي کارو ورته کړی وه نو پروا نه لري او که د هغه اجازه نه وی يا ئي منع کړی وي نو بيا ئی شخصی چلول حرام دی او اميرالمؤمنين هغه وخت بايد اجازه ورته وکړی چه مصلحت پکښی وي نه عامه اجازه: په بيت المال کی ډير زيات او انتهائی احتياط پکار دی هم اميرالمؤمنين ته هم نور خلقو ته ولی په بيت المال کی دعامو خلقو اشتراک او حقوق سته چه د دې حساب ورکول په آخرت کښی ډير ګران دي.

وکـل مارئيت (يا اميرالمؤمنين) ان الله تعالی يصلح به امرالرعية فافعله ولاتؤخره فانی ارجولک بذلک اعظم الاجروا فضل الثواب ﴿ الخراج لابی يوسف رحمة الله تعالی صـ۱۸۷ ﴾ و من الاجتهادات فصل بيت المال عن مال الحاکم الخاصْ . . . . . و اعتبار الحاکم نائبا عن الامة فی التصرف

بالاموال العامة و فق المصلحة كما يتصرف بمال اليتيم (الفقه الاسلامی صـ۱۲ج۴) و الواجب على الائمة ان يوصلوا الحقوق الى أربابها و لا يحبسونها عنهم ولا يحل للامام و اعوانه من هذه الاموال الاما يكفيهم و عائلتهم و لايجعلونها كنوزا و ما فضل من هذه الاموال قسم بين المسلمين فان قصر الائمة فى ذلك فوباله عليهم (الفتاوى الهندية صـ۱۹۱ج۱) وبعث (عمر ﷺ) عثمان بن حنيف على مساحة الارضين و جعل بينهم شاة كل يوم فى بيت المال ..... و قال انى أنزلت نفسى و اياكم من هذا المال بمنزلة ولى اليتيم فان الله تبارك و تعالى قال و من كان غنيا فليستعفف و من كان فقيرا فليأكل بالمعروف (الاشباه و النظائر مع حاشية للحموى صـ۳۷۰ج۱) فهذا يدل على ان للامام ان يعطى الارضّ من بيت المال على وجه التمليك لرقبتها كما يعطى المال حيث رأى المصلحة (الفتاوى المهدية صـ۶۴۶ج۲) لما تقرر فى كتب الفروع من ان تصرف الامام و كذا نائبه منوط بالمصلحة (الفتاوى المهدية صـ۶۴۷ج۲) اى أن تصرف الراعى فى أمور الرعية يجب انيكون مبنيا على المصلحة و مالم يكن كذلك لايكون صحيحا ..... كذلك القاضى لا تعتبر تصرفاته فى الامور العامة و احكامه مالم تكن مبنية على المصلحة مثاله لو امر القاضى شخصا بان يستهلك مالا من بيت المال او مالالشخص آخر فاذنه غير صحيح حتى ان القاضى نفسه لواستهلك ذلك المال يكون ضامنا (دررالحكام شرح مجلة الاحكام صـ۵۷ج۱) ويجب على الامام ان يتقى الله تعالى و يصرف الى كل مستحق قدر حاجته من غير زيادة فان قصر فى ذلك كان الله عليه حسيبا (شرح المجلة للاتاسي صـ۱۴۳ج۱) وفعل الامام منوط بالمصلحة (اتاسی صـ۱۴۳ج۱).

بیت المال میں امیرالمومنین اور عام مسلمانوں کے مساوات ......بیت المال سے خلیفہ اسلام کی تنخواہ صرف پیٹ بھرائے کھانا اور جاڑی گرمی میں دو جوڑے کپڑے (جواھر الفقہ ص۱۸۱ج۲)

والله تعالىٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

هغه مالونه چې انتقال ئې بهرته بند وي
که دولت ئې ونيسي دولت کولای چې په مناسب قيمت ئې وپلوري؟

سوال: د دارالافتاء عالی مقام ته السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

محترما: تيره ورځ تقريبًا ۴۰۰ څلور سوه پسونه په قاچاقی ډول خارج ته بيول کيدل د طالبانو له خوا نيول شوي او فعلاً د ښاروالی په ورکشاپ کی ولاړ دی دا چه د اختر په ورځو کی ئی قصابان نه اخلی که ستاسو اجازه وي په عامو خلګو او طالبانو باندي په مناسب قيمت و پلورل سی اُميد دی په دي باره کی لازم هدايت راکړی ؟

﴿مولوی دين محمد حقبين د کندهار ښاروال﴾

جواب: اول خو منعه کول د تجارانو يا عامو خلقو د انتقالولو څخه د خپلو مالو وخارج ته داخپله حرام دی که چيري شديد ضرورت نه وو او که چيری شديد ضرورت وو او دلته په داخل کی خلقو ته عام ضرر رسيدی بيا نو حکومت خلق راګرځولای سی لکن په دې شرط چه نه به هغه مالونه حکومت ليلاموی نه به ئی پخپله خرڅوی نه به خلقو ته وايي چه دلته يی خرڅ کړه نه به نرخ تعينوي بلکه خلق او خپل اختيار به پريږدي چه دلی په داخل کي يی هر ځای چه خرڅوی پر هر چا چه يی خرڅوي په هر څو چه يی خرڅوي نرخ ورکول په شريعت مقدس کی حرام دی هيڅ جواز فقهاؤ نه دی ورکړی يو په هغه صورت کی که په دوه ۲ چنده قيمت خلقو هغه شی خرڅوي يعنی د ۵۰ افغانيو شی ئی په ۱۰۰ افغانی خرڅاوه نو خاص هغه شی ته نرخ تعينول جائز دی او که يی د دوه ۲ چنده څه په لږ ګټه خرڅاوه مثلاً د پنځوسو افغانيو شی ئی په ۹۰ افغانی خرڅاوه نو په دې وخت کی نرخ ورکول حرام دي فقهاءُ رحمهم

الله تعالی هیڅ اجازه نه ده ورکړی او د حضرت نبی کریم ﷺ څخه خلقو مطالبه د نرخ د تعینولو وکړه هغه منعه وکړه او دې ته ئې مظلمة وویل.

عن انس ﷺ قال قال الناس یا رسول الله غلا السعر فسعّر لنا فقال ان الله هو المسعّر القابض الباسط الرازق و انی لارجوان القی الله ولیس احد منکم یطالبنی بمظلَمة فی دم ولامال و اسناده علی شرط مسلم و صححه ابن حبان و الترمذی (ردالمحتار صـ۲۸۳ج ۵) و بناء علیه الاصل عدم التسعیر ولا یسعر حاکم علی الناس (الاختیار لتعلیل المختار صـ۱۶۱ج ۴) هکذافی (تبیین الحقائق صـ۲۸ج ۶) و (الهدایة صـ۴۶۹ج ۴) و (بدائع الصنائع صـ۱۲۹ج ۵) و (ردالمحتار صـ۲۸۳ج ۵) و (اللّباب صـ۱۶۷ج ۴) و (البحرالرائق صـ۲۰۲ج ۸) فانکان ارباب الطعام یتحکمون و یتعدون عن القیمة تعدیافاحشا و عجزالقاضی عن صیانة حقوق المسلمین الا بالتسعیر فحینئذ لا بأس به بمشورة من اهل الرءی والبصیرة (الهدایة صـ۴۷۰ج ۴) قوله تعدیا فاحشا بیّنه الزیلعی و غیره بالبیع بضعف القیمة (طحطاوی علی الدرالمختار صـ۲۰۱ج ۴) قوله تعدیافاحشا بان یبیعوا قفیزا بمائة و هو یشتری بخمسین (عنایة بهامش فتح القدیر صـ۴۹۲ ج ۸) هکذافی (الکفایة مع فتح القدیر صـ۴۹۲ج ۸) الملک اختصاصٌ بالشئ یمنع الغیر منه و یمکن صاحبه من التصرف فیه ابتداء الالمانع شرعی (الفقه الاسلامی صـ۵۷ج ۴) لایجوز لاحد ان یتصرف فی مال الغیر بلا اذنه (المجلة المـ۹۶) و عدم الجواز شامل لجمیع انواع التصرف من استعمال کرکوبٍ و لبسٍ ووضع جذعٍ علی حائط و دخول دارٍ و مرورٍ بأرضٍ و من اعارةٍ و ایداعٍ و اجارةٍ و صلحٍ و هبةٍ و بیعٍ و رهنٍ و هدمٍ و بناءٍ و جمیع ما یجری به من العقود الخ (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۶۲ج ۱).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه څوک په خپله دروان موټر مخته ورغوځارسي ترموټر لاندي سي مړسي پر موټروان ديت سته كنه؟

سوال: د دارالافتاء محترم رئيس صاحب ته السلام عليكم ورحمة الله و بركاتهُ.

وبعد محترما: تخمين (۲۶) ورځې كيږي د شكاپور دروازی په سړک باندي يو هلک (۱۱) كلن پر بايسكل باندی را روان وو چه بارداره موټر را روان دی چه هلک د موټر څنگ ته په موټر پسی روان دی هلک غواړی چه بايسكل و دروی ځكه چه مخ ته لاره بنده سوه هلک د موټر وخواته غوځار سو چه د موټر اخری ټير وربانـدي تير شو هلک وفات سو چه شاهدان محل واقعه موجود دي او شاهدی اداكوی چه ډريور ملامت نه دی هلک خپله غوځار سوی دی هيله كوم معلومات راكړی ؟

﴿شاه محمد ولد سيد محمد مسكونه تيموريان ولسوالی ډنډ﴾

جواب: كه چيری واقعه داسی پيښه وي لكه مستفتی چه ليكلی دی نو ضمان او ديت پر موټروان نه لازميږي ولی په دغه واقعه كی خپله غوځاريدل د هلک سبب د دغه پيښی گرځيدلی دی تعدی او بی احتياطی د موټروان نسته پكښی او د داسی پيښو څخه ځان ساتل د انسان په قدرت كی نه دی.

أن مجلس مجمع الفقه الاسلامی المنعقد فی دورة مؤتمره الثامن..... بعد اطلاعه علی البحوث الواردة الی المجمع بخصوص موضوع حوادث السير و بعد استماعه الی المناقشات التی دارت حوله..... قررمايلی..... الحوادث التی تنتج عن تسيير المركبات تطبق عليها احكام الجنايات المقررة فی الشريعة الاسلامية و انكانت فی الغالب من قبيل الخطأ والسائق مسئول

عمايحدثه بالغير من إضرار سواء فى البدن أم فى المال اذا تحققت عناصرها من خطأ و ضرر ولا يعفى من هذه المسئولية الا فى الحالات الايتة (أ) اذا كان الحادث نيتجة لقوة قاهرة لايستطيع دفعها و تعذر عليه الاحترازمنها وفى كل أمر عارضٌ خارج عن تدخل الانسان (ب) اذا كان بسبب فعل المتضرر المؤثر تأثيرا قويا فى احداث النتيجة (ج) اذا كان الحادث بسبب خطأ الغير او تعديه فيحمل ذلك الغير المسئولية ﴿الفقه الاسلامى صـ۵۲۱۵ج۷ ط جديد﴾ ان الرجل الذى قفز أمام السيارة ان قفز بقرب منها بحيث لايمكن للسيارة فى سيرها المعتاد فى مثل ذلك المكان ان تتوقف بالفرملة و كان قفزه فجأة لا يتوقع مسبقالدى سائق متبصر محتاط فان هلاكه او ضرره فى مثل هذه الصورة لا ينسب الى سائق السيارة ولايقال انه باشر الاتلاف فلا يضمن السائق و يصير القافز مسببًا لهلاك نفسه وذلك لوجوه الخ ﴿بحوث فى قضايا فقهيه معاصرة لمولانا محمد تقى عثمانى رح صـ۳۱۶﴾ و قد يقال ان النائم الذى ينقلب على الرجل الاخر يضمن ماأصابه من ضرر و بالرغم من ان النائم لاتكليف عليه فانه حكم عليه الفقهاء بالضمان اجماعًا فتبين ان المباشر يضمن ولو صدرمنه الفعل بغير اختياره فينبغى ان يضمن السائق ايضًا ولو صدرمنه الاهلاک بدون اختياره والجواب عن ذلک ان المباشر لوكان هو السبب الوحيد فى هلاک شخص فانه يضمن الهلاک ..... ولكن اذا كان هلاک شخص آخر مختار يزاحمه فى نسبة الاهلاک اليه و تأثير فعله اقوى من تأثير المباشر فان الهلاک يضاف الى ذلک الشخص الاخر كما قدمنا فى غير واحد من الامثلة و لاسيمافى مسئلة الناخس ﴿بحوث فى قضايا فقهيه صـ۳۱۸﴾

واللہ تعالیٰ ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دهندوانو اونورو ذميانو بندسوي عبادت ځايونه

اسلامي دولت بيرته خلاصولای سي؟او دولت دلاوارثه مځکو تصرف کولای سي؟

سوال: عزتمندو: د اسلامی أمارت د اسلامی او بشری عاطفی له مخی د اهل ذمه او غائیبنو او باغی اشخاصو د ملکیت د ساتنی لپاره د قضایای امارت په ترکیب کی یو تحت تامین هیئت تاکلی چه هیئت د پورته اشخاصو جایداد ساتی او هغو ته د اجاری د جمع کولو وظیفه لري په دغه جمله کی اوس ځینی هندوان د خپل د مقدساتو اجازه او د هغه عبادت ځایونو تخلیه غواړي . مونږ ته په دي هکله معلومات راکړئ چه دوی په شریعت مقدس کی د خپل عبادت ځایونو د تخلیه کیدو حق لري که ځنګه؟.بل دا چه د هندوانو یا نورو ذمی اشخاصو ځینی ملکیتونه لکه وچ باغونه مخروبه سرایونه او دکانونه سته چه خلګ ناوړه استفاده ځنی کوي امارت اسلامی دا حق لري چه دغه ځایونه په طریقه آباد کړی او عوائد ئی د اصولو په چوکاټ کی د اهل ذمی په حساب کی جمع کړی .د پورته دوو مسئلو عملی ځیړنه او شرعی معلومات ستاسو د حضور ځخه مطلوب لرو ؟

﴿د قضایای أمارت ریاست﴾

د اول سوال جواب: د هندوانو عبادت خانی چه یواری د عبادت کولو ځخه بندی او معطله سی بیا ئی په دارالاسلام کی د عبادت لپاره اجازه نسته او دغه بندی عبادت خانی نسی خلاصیدلای د عبادت کولو لپاره ځکه چه دا معنی د نوی جوړیدلو د عبادت خانی لري ، او حال دا چه د نوی جوړیدو د عبادت خانی اجازه په دارالاسلام کی نسته ، او همدا غه هندوان په یو بل سرای او مکان کی چه پخوا ئی د عبادت خانی معنی نه درلوده عبادت نسی کولای ، ځکه چه دا هم په معنی کی د نوی عبادت خانی جوړول دی او دا خو منع دي په دارالاسلام کی

ويعادالمنهدم اى لا ماهدمه الامام بل ما انهدم اشباه.قوله اشباه حيث قال فائدة نقل السبكى الاجماع على أن الكنيسة اذا هدمت و لو بغير وجه لا يجوز اعادتها . . . . قال الخير الرملى فى حواشى البحر اقول كلام السبكى عام فيما هدمه الامام وغيره و كلام الاشباه يخص الاول و الذى يظهر ترجيحه

العموم لان العلة فیما یظهر ان فی اعادتها بعد هدم المسلمین استخفافًا بهم . . .
ومنها أن هذه الکنیسة مهجورة انقطع اهلها و تعطلت عن الکفر فیها فلا
یجوز الاعانة علی تجدید الکفر فیها و هذا اعانة علی ذلک بالقدر الممکن
حیث تعطلت عن کفر اهلها و قد نقل الشرنبلالی فی رسالة عن الامام القرافی
بانه لا یعاد ما انهدم من الکنائس و الا من ساعد علی ذلک فهو راضٍ بالکفر آه
فنعوذ بالله من سوء المنقلب (ردالمحتار صـ۲۹۷ـ۲۹۸ج ۳) .
نقل الامام السبکی الاجماع علی أن الکنیسة اذا هدمت ولو بغیر وجه لایجوز
اعادتها الخ قلت تستنبط من ذلک اذا قفلت لاتفتح ولو بغیر وجه کما وقع ذلک
فی عصرنا فی القاهرة فی کنیسة بحارة زویلة قفلها الشیخ ابن الیاس قاضٍ
القضاة فلم تفتح الی الان (ملتقی الابحر علی هامش مجمع الانهر صـ۶۷۴ج۱) لو
ارادوا ان یتخذوا بیتًا لهم معدًا للسکنی کنیسة یجتمعون فیه یمنعون منه لان
فیه معارضة للمسلمین و ازدرآء بالدین (ردالمحتار صـ۲۹۸ج ۳) .

د دوهم سوال جواب : چونکه امام او قاضی لره ولایة عامه سته او تصرف په مال کي د یتیم
او د بیت المال او د غائب کولای سي په شرط د نفع او د خیر لپاره نه دا چه ضرر او تاوان ئی
وي نو تاسو چه ئی ذکر کړیدی د هندوانو د سرایو دا تصرف د نفع پر بناء دی او دا یو جائز
تصرف دی باید تاسو ئی وکړی خو دا تصرف هغه وخت تاسو کولای سی چه هغه هندوانو
خپل مالونه نه خپلو قریبانو ته پریښی وی او نه خپل وکیل یا شریک یا اجاره داریا بل داسی
شخص ته بلکه محضًا لا وارثه پاته وي یا هغه هندو مطالبه وکړئ چه زما مال دي د دغه
شخص څخه واخیستل سی ، او د هغه شخص سره هغه هندو عقد (یعنی مبادلة د مال په مال
سره) نه وی کړی یا ئی کړی وي لکن وخت ئی تیر سوی وی خو د دوی مطالبه شرط ده باید
ووایو چه د هندوانو مالونه د مسلمانانو د مالو څخه هیڅ تفاوت نه لري لکه هغه مسلمان چه
غائب وي حکومت ئی د مذکوره صورتو څخه بغیر تصرف نسی کولای همدا راز د دوی
مالونه داغه حکم لري تر هغه وخته چه محکمی د دوی په (لحاق په دارالحرب) حکم نه وی
صادر کړی که څه هم فعلاً گذاره په هندوستان کی کوي.

التصرف على الرعية منـوط بـالمصلحة لماكـان لامـام المسلمين ولاية نظارة على عموم الرعية فى الاموالعامة كان تصرفه على الرعية منوط بالمصلحة آه و كذا تصرف القاضى فيماله فعله فى اموال اليتامى و التركات والاوقاف فانه مقيد بالمصلحة فان لم يكن مبنيا عليها لا يصح (المجلة سليم باز المـ٥٨ ـ صـ٤٣) ان لعقد الذمة احكامًا منها عصمة النفس . . .
. . ومنها عصمة المال لانها تابعة لعصمة النفس و عن سيدنا على رضى الله تعالى عنه انه قال انما قبلوا عقد الذمة تكون اموالهم كاموا لنا و دماؤهم كدمائنا (بدائع الصنائع صـ١١١ج٧) هكذافى (الفقه الاسلامى صـ٤٥٠ج٦)
لايجوز لاحد أن يتصرف فى مال الغير بلا اذنه (المجلة المـ٩٦)
وعدم الجواز شامل لجميع انواع التصرف من استعمال كركوب ولبس و وضع جذع على حائط و دخول دارو مرور بارضٍ و من اعارة وايداع و اجارة و صلح و هبة و بيع و رهن و هدم بناء و جميع ما يجريه من العقود تمليكا بعوضٍ او بغيره يتوقف على اجازته . . . . . فتصرف الغير فى مال الغير ممنوع الا ان تكون و صاية او ولاية او تدعو ضرورة (شرح المجلة للاتاسى صـ٢٦٢ج١).
ومنها انه يعتبر كالمفقود الغائب الذى منعته ظروف قاهرة من الرجوع الى مقامه و ادارة شؤونه بنفسه اوبوكيل عنه مدة اكثر من سنة (الفقه الاسلامى صـ١٤٥ج٤) الاصل بقاء ما كان على ماكان (المجلة المـ٥).
الاستصحاب يكون على هذا نوعين الاول ان الشئ اذا كان على حال فى الزمان الماضى فهو على حاله فى المستقبل مالم يوجد مايغيره الثانى الخ و من فروع النوع الاول مسئلة المفقود الذى انقطع خبره و لم يعلم موته ولاحياته وذلك لانه حين تغيبه كانت حياته محققة فما لم يوجد دليل على موته حقيقة او يحكم بموته بعد اكمال تسعين سنة من عمره او طوت اقرانه ليس لورثته اقتسام ماله ولا تؤخذ وديعته من مودعه (اتاسى صـ٢٠ج١) هكذافى (سليم باز صـ٢٠)

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

ښاروالي کولای سي چې کرايه دارانو اومالکانوترمنځ ددکانوکرايه وټاکي؟اوبل داچې کرايه دسرقلفي دعوي کوي؟ اوبل داچې کرايه دارئې بل کرايه دارته په لوړه کرايه ورکولای سي؟

سـوال : د افغانستان د دارالافتاء عالی مقام ته السلام عليکم د کندهار ښار د شخصی ملکيتو د مالکينو او کرايه نشيانو ترمنځ د کرائی په تعين کی مشکلات موجود دی چه ددوی په عريضه کی درج دي اوس سوال دا دی:

(**اول**) کرايه نشيان د دغه شخصی دکانو اکثرأ ئی د سرقلفی ادعا کوي او مالک د دوکان موافق نه دی دغه کرايه نشين و اصل مالک ته ډيره ناچيزه کرايه ورکوي او پخپله همدغه دوکان (کرايه نشين) خپله دکان نه کوی و نورو ته ئی په ډيره لوړه کرايه ورکوي شرعًا حق لري کنه ؟

(**دوهم**) د ښاروالی رياست شرعًا دا حق لري چه کما فی سابق و شخصی دکانو ته چه د مالک او کرايه نشين په کرايه جنجال وی ورته کرايه تعين کړی کنه بيا هم د اصل مالکانو کوم چه شخصی املاک ئی دی ددوی عريضه درته احترامًا وړاندی کوو تر څو ئی شرعًا حق اثبات شی ؟

﴿الحاج مولوی صدرعظم﴾

د اول سوال جواب : دلته دوه صورته دي (اول صورت دا دی) چه دغه کرايه داران خپله سرقلفی په اثبات ورسوی په دي صورت کی دغه کرايه دار کولای سی چه دغه دوکان دريم سړی ته په کرايه ورکړی په هر څو کرايه چه يی خوښه وي لکن اصلی مالک ته به اجرة مثل

ورکوي نو که دغه سرقلفي والا په دوکان کی يو څه بناء او تعمير کړی وو نو اجرة مثل به يې د هغه دوکانو څه اندازه کيږي چه دغسی بناء او تعمير نوی پکښې مثلاً د يو دکان اجرة مثل بی له دغه بناء او تعمير څه يو لک افغاني وي او پس له دغه بناء او تعمير څه پنځه لکه افغاني وي نو اجرة مثل به يو لک افغانی مقرريږي.

وفائدة الخلو انه كالملک فتجری عليه احکامه من بيع و اجارة و هبة الخ (غمز عيون البصائر صـ۳۲۲ج۱) والمراد باجر المثل فيها (ای فی الدکاکين الموقوفة اذا کان فيها للمستأجر سکنی او کرداراو جدک) هو ماتستأجر به اذا کانت خالية عن البناء (مجموع رسائل ابن عابدين صـ۱۵۶ج۲) هکذا فی (الفتاوی المهدية صـ۴۸۷ج۲).

(**دوهم صورت دا دی**): چه دغه کرايه داران خپله سرقلفي په اثبات نه ورسوی نو هغه مدة او وقت د کرايی که پوره سوی وو مالک دی خپل دکان واخلی او هر چا ته چه يی خوښه وی د خپلی خوښی د پيسو مطابق دی په کرايه ورکړی او که وقت پوره نوی نو دی انتظار وکی ترڅو چه وقت پوره کيږي لکن که مالک يتيم وو يا دکان د وقف وو بيا به د اوسنی نرخونو مطابق کرايه مالک ته ورکوی او کرايه دار هر وقت کولای سی چه دکان دريم سړی ته په کرايه ورکړی لکن که کرايه دار د خپل ځان څه يو څه تصرف پکښې وکی مثلاً برق يی ورته راوستوی يا ئی رنګ کړی يا ئی يو فرش پکښې اوار کړی يا ئی د خپل مال څه يو شی ورسره ملګری کړی يا داسی نور نو بيا ئی په هر څونه زائد قيمت په کرايه ورکولای سی او که ئی عيناً هغه دکان بغير له څه تصرف څه په کرايه ورکاوه نو بيا به ئی په دونه قيمت ورکوي چه د اصلي مالک څه ده اخيستی دی زائدی پيسی ئی حلالی او پاکی ندي.

للمستأجر ایجارالمأجورمن آخر (المجلة المـ۵۸۶) الاجارة بعدما انعقدت صحیحة لایجوزللاجر فسخها بمجرد زیادة الخارج فی الاجرة لکن لو آجر الوصی او المتولی عقار الیتیم او الوقف باقل من اجر المثل فسدت الاجارة و لزم المستأجر اجر المثل (المجلة صـ۴۴۱) سئلت عن المستأجرا ذا آجر لغیره ما استأجره هل یجوزله ذلک فالجواب..... نعم یجوزبالمثل و بالاقل و بالاکثر و لاتطیب الزیادة بل یجب التصدق بمازاد الا اذا کان بخلاف الجنس او عمل به عملاً کبناء فتطیب صّرح به فی الاشباه نقلا عن البزازی آه (الفتاوی الکاملیة صـ۱۹۵) هکذافی (الاتاسی صـ۶۸۶ج۲) (کفایة المفتی صـ۳۶۶ج۷).

د دوهم سوال جواب : په داسی مسائلو کی شریعت مقدس د اهل رءی او باخبره خلقو مشوری ته اعتبار ورکوي نه یوازی حاکم یا ښاروالی ته. یعنی د ښار د مشهوره او باخبره خلقو څه دی معلومات و سی د هغوی څه دی د اجرة مثل د اندازی معلومات وسی او د هغوی سره دی مشورة وسی او بیا چه پر کمه اندازه اتفاق وسو د دوی د جنجال د رفع کولو لپاره دی هغه اندازه تعین سی لکه څنگه چه فقهاء د تسعیر په بحث کی لیکلی دي.

فانکان ارباب الطعام یتحکمون و یتعدون عن القیمة تعدیا فاحشا (بان یبیعوا قفیزا بمائة و هو یشتری بخمسین فیمنعون منع دفعًا للضرر عن المسلمین- عنایة علی الهدایة) و عجز القاضی عن صیانة حقوق المسلمین الا بالتسعیر فحینئذ لا بأس به بمشورة من اهل الرءی و البصیرة (الهدایة مع فتح القدیر صـ۴۹۲ج۸) بمشورة اهل الخبره ای اهل الرءی و البصارة (مجمع الانهر صـ۵۴۸ج۲)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که باري اوسواري موټر ټکرسي دمړيو ديت پر کوم موټروان ده؟

سوال: د کندهار د مرکزي دارالافتاء رئيس صاحب حضور ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

وبعد: محترمه زمونږ يو موني موټر د بولدک له طرفه د کندهار پر طرف پر عام سړک پر خپل لاس را روان ؤ د کندهار له طرفه د مذکور منی پر لاس بل غټ موټر ور روان ؤ خو کله چه سره مخ سول د غټ موټر موټروان خپل لاس ته موټر اړاوه د مخ حصه يي واړوله د شاحصه چه ئې اړه وله موني د مذکور غټ موټر پر بغل و لګيدی دوه کسان په موني کی مړه سول، عرض دا دی چه دغه دوه نفره چه په منی کی مړه سول ديت لري کيا او که ئی ديت وي نو د موني پر موټروان به وی او که د غټ موټر پر موټروان به وي که د شريعت مقدس په رڼا کی جواب راکی عين لطف به مو وي؟

(المستفتی قاری فيض محمد صاحب)

جواب: په اوسني وخت کي خو د بولدک او قندهار تر مابين لاره ډيره خرابه ده ډير داسی ځايونه سته چه غټ موټر نسی کولای چه پر خپل لاس ولاړ سی او داسی ځايونه هم ډير سته چه موټر پر کوم لاس روان وي دستی بل لاس ته نسی اوښتلای خصوصًا غټ موټر، نو هر کله چه مونږ دا حالت په نظر کی وساتو نو بايد ووايو چه په دغسی لار کی بايد موني موټر داسی را روان وي چه د سرعت په وجه د موټروان د اختياره و نه وزی او هر کله چه غټ موټر د ده پر لاس را روان وي نو يا بايد لار ور ايله کړی يا هغه ته دونه موقع ورکړی چه په يو مناسب ځای کی خپل لاس ته واوړی نو که دغه موني موټر د سرعت په وجه د توقف وخت نه وی پيدا کړی، نو موني والا مباشر بلل کيږي او غټ موټر والا مسبب بلل کيږي او مباشر ضامن وي او که موني والا خپله بندګی سعيه پوره کړی وي او هيڅ نوعه بی احتياطی څنی نه وی سوی بيا نو

غټ مو ټر و الا ته د مباشرت نسبت كيږي او ضمان به هم پر هغه لازميږي او پر هر يوه چه ضمان لازم سو هغه به ديت ور كوي.

المباشر ضامن و ان لم يتعمد (المجلة المـ۹۲) المتسبب لايضمن الابالتعمد (المجلة المـ۹۳) اذا اجتمع المباشر و المتسبب يضاف الحكم الى المباشر (الفقه الاسلامی صـ۵۷۸۱ج۷ ط جديد) المتسبب هو من يفعل فعلاً يؤدى الى ضرر ما و لكن بواسطة اخرى و يضمن المتسبب اثر فعله بشرطين (۱) اذا كان متعديا و التعدى هو فعل السبب بغير حق سواء أكان متعمداً للضرر أم لايقصد الضرر (۲) و اذا كان هو العامل الاهم فى احداث الضرر بأن يغلب السبب المباشرة (الفقه الاسلامی صـ۵۷۸۵ج۷ ط جديد) المباشر هو الذى حصل الضرر بفعله بلا واسطة اى دون تدخل فعل شخص آخر مختار و يكون هو الضامن اذا كان السبب لاينفرد بالاتلاف اذا ترک وحده دون مباشرة اى انه كان هو المؤثر الاقوى فى احداث الضرر (الفقه الاسلامی صـ۵۷۸۶ج۷ ط جديد) حد المباشر ان يحصل التلف بفعله من غير ان يتخلل بين فعله و التلف فعل مختار كذا فى الولوالجية من كتاب القسمة و يفهم منه ان حد المتسبب الذى حصل التلف بفعله و تخلل بين فعله و التلف فعل مختار (غمز عيون البصائر للحموى صـ۴۶۶ج۱) اذا كان تأثير المسبب اقوى من تأثير المباشر اضيف الحكم الى المسبب (بحوث فى قضايا فقهية معاصرة لمولانا محمد تقى عثمانى صـ۳۰۴) ان مجلس مجمع الفقه الاسلامی المنعقد ..... بعدا طلاعه على البحوث الواردة الى المجمع ..... قرر مايلى ..... السائق مسئول عمايحدثه بالغير من أضرار سواء فى البدن أم فى المال اذا تحققت عناصرها من خطأ و ضرر و لايعفى من هذه المسئولية الافى الحالات الاتية (أ) اذا كان الحادث نتيجة لقوة قاهرة لا يستطيع دفعها و تعذر عليه الاحتراز منها و هى كل أمر عارض خارج عن

تدخل الانسان (ب) اذا كان بسبب فعل المتضرر المؤثر تاثيرا قويا فى احداث النتيجة (ج) اذا كان الحادث بسبب خطاء الغير أو تعديه فيتحمل ذلك الغير المسئولية الخ ﴿الفقه الاسلامى صـ٥٢١٥ج٧ ط جديد﴾ اذا اتخذ الشخص الاحتياطات و مع ذلك وقع الضرر فلا يضمنه ﴿الفقه الاسلامى صـ٢٨٧٢ج ۴ ط جديد﴾ الاصل ان سائق السيارة مسئول عن كل مايحدث بسيارته خلال تسييره اياها و ذلك لان السيارة آلة فى يده و هو يقدر على ضبطها فكل ماينشأ عن السيارة فانه مسئول عنه و الذى يظهرلى ان هناك فرقا كبيرا بين الدابة و السيارة من حيث ان الدابة متحركة بنفسها بخلاف السيارة فانها لاتتحرك الابفعل من السائق و من هذه الجهة أرى ان ماذكره الفقهاء من الفرق بين ما أصابته الدابة بفمها أويدها و بين مانفحتها برجلها او بذنبها لايتأتى فى السيارة ﴿بحوث فى قضايا فقهية معاصرة صـ٣١٠﴾.

سوال، بس وغیرہ گاڑیوں کی مصادمہ سے کوئی شخص ماراجائے تو یہ قتل خطاء شمار ہوگا یا قتل کے کوئی اور قسم ہوگی ڈرائیور پر کفارہ اور اس کی عاقلہ پر دیت واجب ہوگی یا اس کا حکم کچھ اور ہوگا عاقلہ کی تفصیل آج کل کیا ہوگی بینواتواجروا، الجواب، باسم ملہم الصواب یہ قتل خطأ ہے ڈرائیور پر کفارہ اور عاقلہ پر دیت واجب ہوگی الخ ﴿احسن الفتاوی ص۵۴۷ج۸﴾

واللہ تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که له حکومت څخه دابادئ په شرط مځکه واخلي بیاعذر پیښ سي اباده نسي بل حکومت ئې بل چاته ورکړي هغه مالک ئې خرڅه کړي دکوم مالک حق کیږي؟

سوال : د قندهار ولایت د دارالافتاء محترم رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ .وبعد : محترمه اسامی محمد رحیم ولد عبدالغفار د نادعلی د ولسوالي اوسیدونکی د ولایت مقام ته عریضه ئی کړی او ویلی دي ، چه ۲۱۵ نمبر مځکه رهایشی مځکه د کارته لګن په ساحه کښی په کال ۱۳۵۶ شـد دولت لخوا راکړه شوه ، د ملحد تره کی د حکومت په وخت کی زما پلار ئی د سیاسی بندیانو په قطار کی ونیوی او تر اوسه پوری لادرکه دي مونږ یتیمان پاته سولو ، وروسته د وخت د حکومت د ظلم په اساس پاکستان ته مو هجرت وکړ او نمره دغسی پاته شوه ، وروسته په کال ۱۳۵۹ د تره کی د حکومت په وخت کی زما نمره ئی مسترده او عبدالخالق نامی ته توزیع کړیده لکه د ریاست حقوق د موضوع په ارتباط د ریاست عمومی څخه معلومات کړیدی او ریاست عمومی ویلی دي چه ۲۱۵ نمره مځکه د کور چه د کارته لګان په ساحه کی موقعیت لري نظر په مکتوب ۱۰۵ـ۱۴ / ۱ / ۱۳۵۶ د عبدالغفار د عباس د زوی په نامه توزیع شوی او د نمري قیمت ۱۳۷۸۱ افغانی کیږي تحویل کړی نو عبدالغفار نامی د خپل تعهد مطابق چه د دولت سره کړئ وو نمره ئی جوړه نه کړه نو غیر نافذالتصرف دولت په کال ۱۳۵۹ د عبدالغفار نامی څخه وضع او ریاست عمومی په ۹۴ ـ۸ / ۶ / ۱۳۵۹ مکتوب په اساس و عبدالخالق د صفدر زوی ته توزیع کړه چه عبدالخالق بیله دی چه نمره آباده کړی پر بل شخص باندي خرڅه کړی ده ریاست قضایاء امارت جریان مکمل ستاسو مقام ته ولیکل تر څو مونږ ته د موضوع په ارتباط قاطع نظر ولیکی ځکه زمونږ په عقیده چه د عبدالغفار نامی شخص کمونستانو وړی او د دوی عذر معقول دی هیله کوو چه مونږ ته فتوا راکړئ ، تر څو موضوع خاتمه ورکړه شی او زمونږ په نظر شرعی عذر دی همدارنګه عالیقدر محترم امیرالمؤمنین هم ویلی دي چه شرعی عذر ولري نه دي مسترده کیږي ۴ ماده په رسمی جریده کی؟

(مولوی عبدالرازق (حنفی) د هلمند د امارتی قضایاوو رئیس)

جواب: دغه مځکه چه پخوا حکومت پر محمدرحیم خرڅه کړیده او دغـه شرط د أبادیدو ئی پر اینبی دی نو دغه بیعه صحیح ده او هغه شرط معتبر دی ځکه چه عرف خاص د حکومت پکښی موجود دی نو دغه مځکه د محمدرحیم شخصی مملوکه ده او هغه شرط چه پاته سوی دي هغه د شرعی عذر پر بناء پاته سوی دی چه هغـه د محمدرحیم بندی کیدل دی پـه سیاسی بندیانو کی نو اوس نـه د ترکی د حکومت استرداد صحت لري او نـه اوس حکومت تـه جواز لري چه مځکه مسترده کړي بلکه مځکه به د محمدرحیم یتیمانو ته پاته کیږي.

فـالبيع الـصحيح يفيـد الـملكية حـتى قبل القـبض ﴿درالاحـكـام صـ١٠٧ج١﴾ البيع بشـرط متعـارف يعنـى المرعى فى عرف البلـد صحيح و الـشرط معتبـر ﴿الملجة المـ١٨٨﴾ و افـادت هـذه الجمـلـة انـه يعتبـر العـرف الخـاصّ الحـادث ﴿اتاسى صـ٦٤﴾ المذهب عـدم اعـتبـار العـرف الخـاصّ لكن افـتى كـثير باعتبـاره (الـدرالمختار) فـأ فادان عدم اعتباره بمعنـى انه اذاوجد النـص بخلافه لايصلح نـاسخا للنـص ولا مقيد الـه والافـقـد اعتبـروه فـى مواضـع كـثيرة..... و تمـام الكـلام علـى هـذه المسـئلة مبسوط فـى رسـالتنـا الـمسـماة بنـشـر العـرف فـى بنـاء بعـض الاحـكـام علـى العـرف ﴿ ردالمحتار صـ١٦ج٤﴾ و حـاصل ما حققة فى تـلـك الرسـالة ان العـرف الخـاصّ معتبـر وان خالف المنصوصّ عليه فى كـتب المذهب مالم يخـالف المنـصوصّ الـشرعى يعنـى الكتـاب و الـسنـة والاجمـاع ﴿اتاسى صـ٦٤ج٢﴾ يلـزم مراعاة الـشرط بقـدر الامكـان ﴿ المجلة المـ٨٣﴾ فعلم من هـذا ان لزوم مراعاة الشرط مقيد بقدر الامكـان ولامؤاخـذة فيمـا فوق الجهدوالامكان ﴿اتاسى صـ٢٣٦ج١﴾ ويـرد علـى هـذه المـادة ان النـبـى ﷺ نهـى عن البيع و الشرط فتجويز البيع بالشرط هو ترجيح للعرف علـى النـص..... والجواب ان علة النـهى عن البيع بالشرط الوارد فى الحديث الشريف مايثيره البيع بالشرط من النـزاع بين المتبايعين الخ و الشروط التى يجرى بهـا العرف و العـادة ليست ممـا يسبب نزاعا ويثير خصاما فلا تكون مقصودة بالنـهى الوارد فى الحديث الشريف (ردالمحتـار)﴿درالحكام شرح مجلة الاحـكام صـ١٥٩ج١﴾ والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

پرجامو خامک جائزدي کنه؟اودهديرې بوټي څوک کښلای سي جوازلري کنه؟

سوال : (اول) د غاړو او پټوانو په خامک سره جوړيدل جائز دي کيا ؟

(دوهم) په هديرو کی چه شين غزيان ولاړوی د هغو کښل حکومت يا رعيت ته جائز دي کيا ؟

(حافظ مولوی عبد الستار)

د اول سوال جواب : دلته دوې خبرې دي.

(اوله خبره دا ده) چه د جامو ښايسته کول او ښايسته جامې اغوستل او زينت کول چه د شريعت مقدسه د احکامو او جزئياتو سره مخالفت و نه لري جائز دی که يې نيت د تکبر نه وو او علامة د تکبر دا ده چه د خلقو سره پخوا ده کومه وضعه او اخلاق کول د دغو جامو اغوستلو سره په هغه کی تغير راولی.

(دوهمه خبره دا ده) چه بعضی خلق دا اشتباه کوي چه په غاړه او پټو کی سوڼ کاريږي او هغه وريښم دی اصلی خبره دا ده چه که دغه سوڼ اصلی او حقيقی وريښم وي نو دا واضحه ده چه دغه غاړه او پټو مکروه تحريمی گرځی ولی وريښم چه تر څلورو گوتو اندازه بالاسی نو اغوستل يی مکروه تحريمی دی او که دغه سوڼ يا وريښم نه وی يا مصنوعی وريښم وي نو په هره اندازه چه وي اغوستل يی جائز دی او هغه سوڼ چه اوس په بازارو کی مروج دي غالبًا اصلی او حقيقی وريښم نه دی.

(قل من حرم زينة الله التى اخرج لعباده و الطيبات من الرزق) (القرآن الكريم الاعراف آية ٣٢) قال عليه الصلوة والسلام ان الله يحب ان يرى اثر نعمته على عبده (ردالمحتار ص٢٤٧ج ٥) و مباح و هو الثوب الجميل للتزين فى

الاعياد و الجمع و مجامع الناس (ردالمحتار صـ۲۴۷ج ۵) الاصل فى اللباس و الزينة الحل و الاباحة سواء فى الثوب و البدن و المكان (الفقه الاسلامى صـ۲۶۳۲ج ۴) لبس الثياب الجميلة مباح اذا لم يكن للتكبر و تفسيره انيكون معها كما كان قبلها (الفتاوى السراجية صـ۷۵ ردالمحتار صـ۲۴۷ج ۵) يحرم لبس الحرير ..... الاقدر اربع اصابع (الدرالمختار صـ۲۴۷ج ۵) لما صح عن ابن عباس ﷺ انما نهى النبى ﷺ عن الثوب المصمت من الحرير فاما العلم و سدى الثوب فلا و المصمت الخالص و لخبر مسلم نهى رسول الله ﷺ عن لبس الحرير الاموضع أصبع او اصبعين او ثلاث او اربع (ردالمحتار صـ۲۴۷ج ۵).

سلک جو سن سی یانباتاتی اجزا سے بنا ہو اس کا پہننا بلاشبہ جائز ہے البتہ جو سلک کیڑی کابنایا ہوا ہو وہ ریشم ہے اور مردوں کی لئے بشرائط معتبرہ فی الحریر جائز یا ناجائز ہوگا (کفایت المفتی ص۔۱۵۰ج۹) آج کل سلک کی مختلف ایسی کپڑے ایجاد ہو گے ہے میں خاصے چمک پائی جاتے ہے لیکن غالباً ریشم کی بجائے کوئی دوسری طرح اس میں چمک پیدا کی جاتی ہو تو پہننی میں حرام نہیں (جدید فقہی مسائل ص۔۱۸۵ج۱) آج کل عموماً مصنوعی ریشم استعمال ہوتاہے اس کا استعمال جائز ہے اگر چہ عرف میں اس کو ریشم کہتی ھیں ہاں اگر کسی کپڑی کا اصلی ریشمی ہونا تحقیق سے ثابت ہو جائی تو اس کا استعمال مردوں کی لئے جائز نہ ہوگا (احسن الفتاوی ص۶۲ج ۸).

د دوهم سوال جواب: دلته څو صورته دي (۱) که دغه درختی (شین غزیان) ددغې مځکې تر هدیره کیدو تر مخه شنه سوي وه او په هغه وخت کی مځکه د یو چا مملوکه وه نو درختي د مالک دی او که تر هدیره کیدو وروسته یو چاشنه کړی وه نو بیا هم د دغه سړی بلل کیږي او که یی اینبو ونکی د دغه درختو معلوم نه وو نو بیا اختیار قاضی لره دی هغه کولای سی چه دغه درختي خرڅي کړی او پیسی ئی په دغه مقبره خرڅي کړی.

مقبرة عليها اشجار عظيمة فهذا على وجهين اما انكانت الاشجار ثابتة قبل اتخاذالارض مقبرة او نبتت بعد اتخاذالارض مقبرة ففى الوجه الاول المسألة

على قسمين اما انكانت الارضُ مملوكة لها مالک او كانت مواتا لا مالک لها و اتخذها اهل القرية مقبرة ففى القسم الاول الاشجار باصلها على ملک رب الارضِ يصنع بالاشجار و اصلها ماشاء و فى القسم الثانى الاشجار باصلها على حالها القديم و فى الوجه الثانى المسألة على قسمين اما ان علم لها غارس او لم يعلم ففى القسم الاول كانت للغارس و فى القسم الثانى الحكم فى ذلک الى القاضى ان رأى بيعها وصرف ثمنها الى عمارة المقبرة فله ذلک كذافى الواقعات الحسامية (الفتاوى الهندية صـ٤٧٣ج ٢) هكذافى (التتارخانية صـ٨٧٣ج ٥) رجل جعل ارضه مقبرة و فيها اشجار ارادورثته ان يقطعوا الاشجار فلهم ذلک (تاتارخانية صـ٨٧٣ج ٥) .

(**نوټ**) : د مقبرې درختې كه يو چا وقف كړې وي د يوشى د پاره نو ضرور بايد هغه شى ته مصرف سي او كه يى جهة د وقف معلوم نه وو نو د مسجد په عمارة كي هم مصرفيدلاى سى او كه داغه مقبرې متولى نه درلو دى نو بغير له قاضى څه بل چا ته د تصرف اجازه نسته.

وفى مجموع النوازل سئل نجم الدين عن اشجار فى مقبرة هل يجوز صرفها الى عمارة المسجد قال انلم تكن و قفا على وجه آخر فقيل له فان تداعت حوائط المقبرة الى الخراب أيصرف اليها او الى المسجد قال الى ماهى وقف عليه ان عرف و ان لم يكن للمسجد متول و لا للمقبرة فليس للعامة التصرف فيها بدون اذن القاضى (تاتارخانية صـ٨٧٥ج ٥) (هندية صـ٤٧٦ج ٢) .

او كوچنى درختى او وښو پريكول مكروه تنزيهى دى كه شنه وه او مباح دى كه وچ سوى وه.

خورد گھاس اگر سبز ہو تو اس کا کاٹنا مکروہ تنزیہی ہے۔ یکره ایضا قطع النبات الرطب والحشيش من المقبرة دون اليابس (شامى) (كفايت المفتى ص١٢٦ج ٧)

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم اللہ الرحمن الرحیم

عشر اونصف عشر په کومو مځکو کي وي؟

سوال: مځکه چه د کاریز یا باوړی په اوبو اوبه سی عشر واجبیږي او که نصف عشر؟

جواب: مځکه چه په داسی اوبو اوبه سی په اکثره مدة کی چه هغه اوبه یا په قیمت رانیول کیږي یا په ډیر تکلیف مځکی ته برابریږي نو نصف عشر لازمیږي چه د دي جملی څه د باوړی او کاریز اوبه هم دی ولی د باوړی اوبه یقیناً په تکلیف راخیژي او مصرف غواړی او د کاریز اوبه هم په تکلیف وي ځکه وخت په وخت یی اصلاح کولو ته ضرورت وي.حاصل دا چه مدار د عشر او نصف عشر پر محنت او قیمت دی که محنت یا قیمت موجود وو نصف عشر دی او کنه نو عشر دی.

اتفق الفقهاء علی ان العشر یجب فیما سقی بغیر مؤنة (مشقة) کالذی یشرب من السماء (الامطار) ومایشرب بعروقه وهو الذی یشرب من ماء قریب منه ویجب نصف العشر فیما سقی بالمؤن کالدوالی (النواعیر) النواضح والدلیل لهم قول النبی ﷺ المتقدم (فیما سقت السماء والعیون او کان عثریا العشر وما سقی بالنضح نصف العشر) وانعقد الاجماع علی ذلک کما قال البیهقی وغیره..... وسبب التفرقة واضح وهو کثرة المؤنة فی ارض السقی وخفتها فی ارض البعل (الفقه الاسلامی صـ۱۸۹۲ج۳ ط جدید) لان العلة فی العدول عن العشر الی نصفه فی مسقی غرب ودالیة هی زیادة الکلفة کما علمت وهو موجودة فی شراء الماء (ردالمحتار صـ۵۵ج۲).

چه میفرمانید علماء دین ومفتیان شرع متین که در دیار مایان کاریز وقناتها هستند که از مزرعه تا منبع آب مثلاً دوازده هزاربغل فاصله دارد وهر سال کار وزحمت میخواهد که اگر کار کرده نشود آبش خشک میشود وخرج ومصرف کارش باندازه ای میباشد که نصف بلکه دوحصه محصول پیدا وارش بکارکنان صرف میشود درین صورت عشر واجب شود یا نصف عشر.....

الجوب باسم ملهم الصواب درین صورت نصف عشر واجب است.قیاسا علی الغرب والدالیة قال فی الشامیة تحت قوله وقواعدنا لاتأباه لان العلة فی العدول الخ (احسن الفتاوی صـ۳۳۶ج۴).

عشری زمیں اگر بارش یا دریا کی سیل یا قدرتی چشمہ کی پانی سے سیراب کی جاتے ہو تو اس کی پیداوار میں عشر (۱/۱۰) واجب ہے اور اگر پانی محنت یا قیمت سے حاصل ہوتا ہو جیسی کنواں ٹیوب ویل اور نہری پانی تو اس میں نصف عشر (۱/۲۰) واجب ہے نہری پانی کا آبیانہ اوا کر کے اسے حکومت سے خرید ا جاتا ہے (احسن الفتاوی ص۵۵ج۴) ٹیوب ویل نل کنواں جس سی زمیں کی اندر سے پانی نکالتے میں (فیروز اللغات صـ۴۳۲) واللہ تعالی ﷻ اعلم.

این حکم در مورد باوری صحیح است اما در بارۀ کاریز منظور نشد

بسم اللہ الرحمن الرحیم

که مځکه په بیع وفاورکړي، پیسي قبض کړي، بیرته بیع فسخ کړي، څه پیسي مشتري ته وصول کړي، مځکه بیرته له مشتري په اجاره واخلي داجاره صحیح ده که اوددې وخت حاصل دچادي؟

سوال: محترما یونفر تـه خپلـه مځکـه پـه مقابل کـی د څلورنیم لکـه کالدارو پـه بیـع وفـاء ورکړه وروسته له څه مدې څخه د هغو مذکورو کلدارو څخه یو لک پنځه دیرش زره کلداری ما بیرته ورکړی چه عقد سره فسخه کړو او متباقی کلداری ئی پاته دي پوښتنه داده چه مځکه اوس هم وفاءً دده په لاس کی ده مابعد د دې یوه اندازه کلدارو پـه ورکولـو سره مځکه او د مځکی حصول د چاکیږي . او دغه مذکوره مځکه مشتری بیرته ماته پـه اجاره راکړی ده ایا دغه اجاره صحیح ده کنه ؟

(حاجی محمد ابراهیم)

جواب: هغه عقد چه په لفظ د بیع الوفاء وسی حکم یی د بیعی فاسدي دي په لزوم کی د فسخه کولو او په نه جواز کی د أجاری نو ستاسی د سوال په جواب کی باید ووایو چه تر څو پوری چه د مشتری څلورنیم لکه کلداری پـه کامل ډول ورونه رسوی تـه حق نلری چه خپله مځکه ځنی وغواړی تر هغه وقتـه پوری مځکـه او د هغی حصول د مشتری دی او دا چه مشتری بیرتـه د غـه مځکـه تـا تـه پـه اجاره درکوي نو راجح قول د فقهاؤ دا دی چه دا اجاره صحیح نده.

وللمدین او الراهن الذی هو البائع تأدیة الدین قبل حلول اجله و استرداد المبیع لیس للمشتری ان یمتنع عن اعادة المبیع متی اخذ ماله کله لان الاجل حق للمدین فله ابطاله (دررالحکام صـ۴۳۳ج۱) ولو استأجره بائعه لایلزمه اجر لانه رهن حکما (الدرالمختار) قوله لایلزمه الاجر افتی به فی الحامدیة تبعًا للخیریة فانه قال فی الخیریة ولاتصح الاجارة المذکورة ولاتجب فیها الاجرة علی المفتی به سواء کانت بعد قبض المشتری الدارام قبله ...... وفی البزازیة فان آجر المبیع وفاء من البائع فمن جعله فاسدا قال لاتصح الاجارة ولایجب شئ و من جعله رهنا کذلک و من اجازه جوز الاجارة من البائع و غیره الخ قوله فهی صحیحة ای بناء علی القول بجواز البیع کما علمت فانه یملک الانتفاع به و قد علمت ترجیح القول بانه رهن و انه لاتصح اجارته من البائع (ردالمحتار صـ۲۷۶ج۴) هکذافی (شرح المجلة للاتاسی صـ۱۲ج۲) الثانی القول الجامع لبعض المحققین انه فاسد فی حق بعض الاحکام الخ قال فی البحر و ینبغی ان لایعدل فی الافتاء عن القول الجامع (ردالمحتارصـ۲۷۴ج۴) والصحیح ان العقد الذی جری بینهما انکان بلفظ البیع لایکون رهنا ثم ینظر ان ذکرا شرط الفسخ فی البیع فسد البیع و ان لم یذکرا ذلک فی البیع و تلفظا بلفظ البیع بشرط الوفاء او تلفظا بالبیع الجائز و عندهما هذا البیع عبارة عن بیع غیر لازم فکذلک الخ (الفتاوی الهندیة صـ۲۰۹ج۳) هکذافی (الفتاوی الخانیة بهامش الهندیة صـ۱۶۵ج۲ () شرح المجلة للاتاسی صـ۴۱۵ج۲) علی قول من جعل بیع الوفاء فاسدا لوقبضه و آجره من غیره فله الاجرة لانه لوغصب و آجر فله الاجرة فهذا أولی ولو آجر من مالکها لم یجز اذاالردعلی مالکه یجب علیه و قد ردعلیه (جامع الفصولین صـ۱۷۳ج۱) و قد ذکر هذالمسئلة (ای مسئلة اختلاف المتبایعان فی ان البیع الذی وقع بینهما بات ام وفاء) فی جواهر الفتاوی فی الباب الرابع والسادس من البیوع و الثالث من الدعوی و ذکر فیها

اختلافا كثيرا و اختلاف فتوى و تصحيح و لكن عليك بما فى الخانية فان قاضيخان من اهل التصحيح و الترجيح (حواشى المحقق الفاضل خير الدين الرملى على جامع الفصولين صـ۱۷۸ج۱) اذا شرط فى بيع الوفاء انيكون قدرمن منافع المبيع للمشترى صح ذلك الخ (المجلة المـ۳۹۸) ولو لم يشترط ذلك لكان للمشترى جميع منافع المبيع (شرح المجلة للاتاسى صـ۴۲۱ج۲) لوكان الثمن الاول حالا فاجله المشترى عند الاقالة فان التاجيل يبطل و تصح الاقالة و ان تقايلا ثم اجله ينبغى ان لايصح الاجل عند ابى حنيفة فان الشرط اللاحق بعدالعقد ملتحق باصل العقد عنده كذافى القنية (انقروية صـ۲۹۷ج۱) والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دنورمحمد ترکي د وخت دمځکو تقسيمات څه حکم لري چې دچاشخصي مځکې ئې بغير عوض نوروته ملکاً ورکړي؟اوکه په هغو کي دولتي مځکي ورکړي وي هغه دچاکيږي؟

سوال : د کندهار د مرکزی دارالافتاء ریاست ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٔ.

محترما د ترکی حکومت په شپږ جریبی یو شخص ته ۶ جریبه ځمکه ورکړه چه په دغه مذکوره ځمکی کی ۳ جریبه شخصی وه او هغه نوره د دولت وه بیا کله چه د ترکی حکومت رنګ سو نو حکومت د حفیظ الله امین راغلی نو د امین حکومت داسی امر وکړچه شخصی مځکې د هرچا په لاس کی وي هغه دی ایله کړی نو دغه شخص ۶ جریبی ټوله ځمکه ترک کړه او بیا نوموړی مځکه د دغه شپږ جریبی اخښی تصرف کړه د هغه وخته تر دغه وخت پوری نو اوس هغه شپږ جریبی دعوه کړیده چه دغه ځمکه زما ده نو ستاسی د محترم مقام څخه هیله کیږي په دي هکله مونږ ته شرعًا مسئلی ولیکی چه آیا هغه ذوالیدی چه د ترکی د حکومت په وخت راغلی وه اعتبار لري کیا او په دغه ترک سره هغه پخوانی ذوالیدی باطله کیږی کیا او شخص شپږ جریبی وایی چه ما بالکل ترک نه دی کړی زما مدعی ناحقه وایی نو که چیری ترک سوی وي که نه وی مونږ ته معلومات راکړی ؟

جواب: دا چه تاسو ویلی دي چه په دغه ۶ جریبه کی دري ۳ جریبه شخصی وه او دری ۳ جریبه دولتی وه نو باید ووایو چه شخصي مځکه حتمًا باید هغه شخص ته یا دهغه ورثه ته ورکول سی چه اصل مالک دی نه فاسد حکومت او نه امیر المؤمنین کولای سی چه بی له شرعی طریقی ئی بل چاته ورکړی او د دولتی مځکی څخه که مطلب دا وي چه د دولت شخصی مملوکه اباده مځکه یی ورکړیده نو دا اوس په اسلامی امارت پوری اړه لري که یی مصلحت وبولي کولای سی چه یا ئی اوسنی ذوالید یا هغه تارک یا بل اجنبی سړی ته ورکړی ولی د هغه فاسدو حکومتو تصرفات اعتبار نلري او که د دولتی مځکی څخه مطلب موات مځکه وي نو ذ مواتی مځکی لپاره اجازه د صحیح حکومت او أبادول د مځکی دواړه غواړی که دغه دواړه شرطه هغه پخوانی ذوالید ته موجود سوه د هغه ده که اوسنی ذوالید ته موجود سوه ده او که اجنبی سړی ته میسّر سوه د هغه اجنبی ده پرته له دغو شیانو څخه ذوالیدی یا ترک د هغو اعتبار نلري.

حکم الارضْ المملوکة العامرة لایجوز لاحد التصرف فیها الانتقاع بها الابرضاء صاحبها (تحفة الفقهاء صـ۳۲۱ج ۳) هکذافی (الفقه الاسلامی صـ۵۴۲ج ۵) فهذا یدل علی ان للامام ان یعطی الارضْ من بیت المال علی وجه التملیک لرقبتها کما یعطی المال حیث رأی المصلحة اذلافرق بین الارضْ و المال فی الدفع للمستحق (الفتاوی المهدیة صـ۶۴۶ج ۲) هکذافی (ردالمحتار صـ۲۹۰ج ۳) و من احیا ارضا میتة بغیر اذن الامام لایملکها فی قول ابی حنیفة رحمة الله تعالی علیه و قال صاحباه یملکها (الفتاوی الهندیة صـ۳۸۶ج ۵) قال فی ردالمحتار و قول الامام هو المختار و لذا قدمه فی الخانیة و الملتقی کعادتهما و به اخذ الطحاوی و علیه المتون (اتاسی صـ۲۰۴ج ۴) (ردالمحتار صـ۳۰۷ج ۵) (الدرالمنتقی شرح الملتقی صـ۵۵۸ج ۲) والاحیاء ان یبنی ثمه بناء او یحفر نهرًا او یجعل الارضْ مسناة و نحو ذلک اما اذا وضع احجارا حولها و جعل ذلک حدا فانه لاتصیر ملکا له (تحفة الفقهاء صـ۳۲۲ج ۳)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دهندو له ځمکې به دولت څه شئ اخلي که خراج؟نو څومره؟

سوال: ددارالافتاء محترمینو استاذانو ته السلام علیکم و علی من لدیکم و رحمة الله وبرکاته. وبعد: د هندوانو څخه چه دلته جایدادونه لري خراج اخستی شی کنه او که اخستی سی څومره اندازه چه په هغه اندازه شئ زمونږ عاشرین ځنی واخلی ؟ والسلام

(د مستوفیت مسئول)

جواب: خراج دوه قسمه دی یو خراج مؤظف دی یو خراج مقاسمة دی (خراج مقاسمة) دي ته وایی چه د ځمکی د حاصلاتو یو څه حصه لکه څلورمه یا پنځمه اخستل کیږي دغه خراج د ځمکی د حاصلاتو تر نیمایی حصی زائد اخستل جائز نه دی نور نو د ځمکي او د هغې د حاصلاتو په تناسب باندي که څلورمه وي که پنځمه وي که یی تر پنځمی هم کمه وي هغه باید حکومت واخلی په داسی طریقه چه ډیر ضرر په مالک پوری ملحق نسی بلکه یو مناسب مقدار وضعه سی او که مالک هغه ځمکه و نه کرله یا دغفلت یا د عذر په وجه نو خراج مقاسمه بیا نه اخستل کیږي او ځمکه چه هر څو واره کرل کیږي په هر واري کی به خراج مقاسمة تأدیة کوی او (خراج مؤظف) دي ته وایی چه د ځمکي د حاصلاتو څه بغیر مثلاً د نقدو د قسمه څه یو شی وضع سوی وي چه احکام یی دا دی د انګورو یا خرماؤو هغه باغ چه درختی یی متصلی وي پر هغو باندي د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کی پر هر جریب ۱۰ درهمه وضعه سوی وي (چه ۳۵ ماشی سپین زر ځنی جوړیږي) او پالیزونه لکه ختکی بانجڼ او داسی نور پر هغو ۵ درهمه وضعه سوی وي چه (۱/۲ ـ ۱۷) او ولس نیمی ماشی سپین زر کیږي او پر عامو ځمکو لکه غنم اوربشی جواری او داسی نورو یو درهم او یو صاع وضعه سوی وي چه تقریبًا (۱/۲ ـ ۳) درې نیمې ماشی سپین زر او درې نیم کیلو غنم یا اوربشی کیږي او د هغه وخت د جریبو اندازه که څه هم فقهاؤو بیان کړیده لکن د هر وخت او زمانی خپل اصطلاحی جریبو نه معتبر دی او هغه ځمکی چه نور شیان په کرل سوی وي غیر له تیرو سوو شیانو څه لکه زعفران او غیره پر هغو باندي په تناسب د ځمکی باید یو مقدار وضعه سی او که ځمکه قابل د کشت وه خو د مالک د غفلت او سستی په وجه نه وه کرل سوي هم به

خراج مؤظف تادیه کوی او که مځکه په کال کی څو واره کرل کیدله هم به خراج مؤظف په کال کی یو واری نأدیة کوي او په هغه اجناسو کی چه د حضرت عمر ﷺ په وخت کی هم مقدرا متعین سوی دی تر هغه مقدرا زیات اخستل جواز نه لري او تر هغه کم اخستل جائز دی او پر هغه مځکه چه پخوا خراج مقاسمه حواله سوی وی د هغه بدلول په خراج مؤظف سره جواز نلري او بعضی علماء وایی که د زمیندار پوره خوښه او رضاء موجوده وه نو د هغه په مشوره بیا اجازه د بدلیدو سته نو په افغانستان کی که پخوا خراج مقاسمة اخستل کیدی که مؤظف اوس هم باید هغه واخستل سی او هغه مقدار خراج چه اخستل کیږي امیرالمؤمنین کولای سی چه تر هغه کم واخلی که مځکې د هغه مقدار تحمّل نسوای کولای او خراج یوازی د کفارو په مځکو کی نه وی بلکه هغه کفار چه مسلمانان سی یا مسلمانان د دوی مځکې رانیسی نو هم هغه مځکه خراجی بلل کیږي او هغه خراج به تأدیه کوي.

خـراج الارضْ نوعـان خـراج مقاسـمة وهـو انیکـون الواجـب شـیئا مـن الخـارج نحوالخمس و الـسدس و مـا اشبه ذلک و خـراج وظیفة وهـو انیکون الواجب شیئا فی الذمة یتعلـق بـالتمکن من الانـتفاع بـالارضْ كـذافی فتاوی قاضیخان ﴿الفتـاوی الهندیـة صــ۲۳۷ج ۲﴾ ﴿ردالمحتـارصــ۲۸۴ج ۳﴾ قـال الخیـر الرملی خـراج المقاسـمة كـالموظف مـصرفا و كـالعـشر مأخـذ الافـرق فیه بیـن الرطـاب و الـزرع و الكـرم و النخل المتصل و غیـره فیقـسم الجمیـع علی حـسب مـا تطیق الارضْ من النـصف او الثلث او الربـع او الخمـس و قـد تـقرران خـراج المقاسـمة كـالعـشر لتعلقـه بالخـارج و لذاینکرربتكـرر الخـارج فـی الـسنـة ﴿ردالمحتـارصــ۲۸۴ج ۳﴾ فـان عطلهـا صـحبها و كـان خراجهـا مؤظفـا او اسـلم صـاحبها او اشـتری مـسلم من ذمی ارضْ خـراج یجب الخـراج ولـو منعـه انـسان مـن الزراعـة او كـان الخـارج خـراج مقاسـمة لایجـب شئ ﴿الـدرالمختاربهــامش ردالمحتــارصــــ۲۸۸ج ۳﴾ هكــذافی ﴿الفتــاوی الهـنـدیــة صـ۲۳۷ـ۲۳۸ج ۲﴾ قال محمد فی ارضْ الخراج علی كـل جریـب یـصلح للزراعة قفیز و درهم و علی كـل جریب الرطبة خمسة دراهـم و علـی كـل جریـب الكرم وفـی الهدایـة المتصل ـم ـ و النخیل المتصل عـشرة دراهـم و علـی كـل جریـب الزعفران و فـی الكـا

فـی و البـسـتان و القطـن .م .بقـدر مـایطیق (تاتارخانیـة صــ۴۱۹ج ۵) (ردالمحتـار صــ۲۸۵ج ۳) (الفتـاوی الهنـدیـة صــ۲۳۸ج ۲) واراد بالـقفیز الـصاع (تاتارخانیـة صـ۴۲۱ج ۵) (الفتاوی الهنـدیة صـ۲۳۸ج ۲) قال محمد رحمة الله تعـالی علیه الجریب اسم لستین ذراعا فی ستین ذراعا حکایة عـن جـریبهم ولـیس بتـقدیر لازم فـی الاراضـی کلها بل جریب الاراضـی یختلف بـاختلاف البلـدان فیعتبـر فـی کـل بلـدة متعـارف اهلها (الفتاوی الهنـدیة صـ۲۳۸ج ۲).

ایک درہم ساڑھی تین ماشہ چاندی کاہو تاہے اس حساب سے دس درھم پینتیس ماشے کی ہو ئی جو ایک ماش کم تین تولی چاندی ہو تی ہے (جواہر الفقہ ص۲۸۶ج ۲) ایک صاع یعنی ساڑھی تین سیر گندم یا جو (جواہر الفقہ ص۲۸۵ج ۲) اسی ۸۰ تولہ کی انگریزی سیر کی حساب سی تین سیر چھ چٹانگ کا پورا صاع اور ڈیڑھ سیر تین چھٹانگ کا نصف صاع ہوا.

(جواهر الفقه صـ۲۲۴ج ۱) فـلا یزاد علیه فی خراج المقاسـمة و لافـی الموظف علی مقـدار ماوظفه عمرؓ و ان اطاقت علی الـصحیح الـدرالمختار و هـذا نـص صـریح فـی حـرمة مـا احـدثـه الظلـمة علی الارضْ من الزیـادة علـی المؤظف (ردالمحتـار صــ۲۸۶ج ۳) هـکـذافی (احـسـن الفتـاوی صــ۳۵۶ج ۴) فکانـه قـال و یـنـقص و جوبامـمـا وظـف ان لـم تطـق و جـوازا ان اطاقـت و هـذا کـلام لاغبـار علیـه (ردالمحتار صـ۲۸۶ج ۳).

خراج موظف کو خراج مقاسمہ سے بدلنا اور اس کا عکس جائز نہیں البتہ اس کی تعلیل لان فیہ نقض العہد ہو حرام سے معلوم ہوتاہے کہ زمینداروں کی رضا سے تبدیل کرنا جائز ہے (احسن الفتاوی ص۳۵۷ج ۴) و (جواہر الفقہ ص۲۸۵ج ۲).

(**نوټ**) خراج او جزئیه باید د سرحدونو حفاظت دلارو حفاظت د پلانو جوړول د لویو ویـالو کارول د مساجدو جوړول د قاضیـانو مفتیـانو والیانو او نـورو مسئولینو تنخوا گانی او پـه نورو عامه مصالحو کی مصرف سی هکذافی (الفتاوی الهندیة صـ۱۹۰ج ۱)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که قرارداد دیوه شریک په نامه وسي نوراستفاده تري کولای سي، که قرارداد دولت کړي وي پرهغه مال گمرک اخیستای سي، همداسي دموټردترازوپیسي پرچادي؟

سوال: د دارالافتاء محترم رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.
لطفًا د لاندي موضوعاتو په هکله شرعی فتوی راکړی.

(**اول**) که چیری دوه یا څوکسان د امارت سره یا د یو چا سره معامله وکړی خو قرارداد د یوه نفر لخوا امضاء شی یعنی طرف د معاملي یو نفر وگرځی دغه متباقی شریکان کولای سی چه په دغه قرارداد سره په داسی حال کښی چه په تعهد کښی ئی هیڅ نوم نه وی ذکر شوي استفاده وکړی یا خیر ؟

(**دوهم**) ځینی معاملی یا قراردادونه د امارتی ادارو لخوا د تجارانو سره کیږي چه د جنس قیمت معلوم او ځینی اخستل کیږي خو کله چه همدغه جنس و گمرک ته رسیږي هغوی بیا پر دغه جنس د محصول په نامه نوری پیسی اخلی مثلاً مونږ یوټن فلورائیت دبره په ۹۰۰ - کلداری و قرار دادی ته ورکوو خو گمرک بیا په دغه دبره ۱۳٪ نور محصول تری اخلی دغه د محصول پیسی څه حکم لري لطفًا د ذکر شویو موضوعاتو په هکله شرعی فتوی راکړی ؟

(**نوټ**) او هم کوم جنس چه په گمرک کښی تر ترازو (وزن) تیریږي دغه د ترازو پیسی د چالخوا باید ورکړل سی په شریعت کښی دغه د ترازو پیسی جواز لري که څه معلومات راکړی پداسی حال کښی چه په قرارداد کښی ذکر شوي چه ټول مالیات. صکوک. امارتی تکسونه. او گمرک محصول په قراردادی اړه لري.

﴿ د کانو او صنائعو رئیس ملا اکبر جمالی ﴾

د اول سوال جواب: د اول سوال په جواب کی باید ووایو چه دغه یو نفر شریک چه قرارداد امضاء کړیدی کڅه هم یوازی د ده امضاء موجود ده لکن هغه نور شریکان هم په داغه قرارداد شریک بلل کیږی او هغه ټولـه پـه دي معامله کی دخیـل بلـل کیږي ځکـه چه پـه شرکة کی یو شریک د هغه بل وکیل هم وي لکن دغه قرارداد که داسی سوی وي چه دغـه شریک مشتری وي او أمارت بایع وي نو رءس المال د شرکة به د همدغه شریک سره وي چا چه عقد او امضاء کړیده او که رءس المال د ده سره نوو نو دا د ده شخصی معامله بلل کیږي نه د ټولـو شریکانو او بله دا خبره ده هر سړی چه عقد کړی دی حقوق د عقد به هم هغه سړی پوره کوي یعنی قبض د مال اداء د ثمن وقت ایښوول و اداء کولو ته د ثمن او داسی نور او نور شریکان چه عقد یـی نوی تر سره کړی هغه مطلب دا دی چه د هغوی څه دامطالبه نسی کیدلای چه دا أمور سر تـه ورسوی دا أمور سر ته نسی رسولای او که په وقت کی د قرارداد یعنی چه الفاظ د ایجاب او قبول ذکر کیده دواړه شریکان یا ټولـه ناست وه او ایجاب او قبول ټولـو و کړی لکن خط بیا یوه شریک امضاء کړی نو پدي صورت کی عاقد یو شریک نسو بللای بلکه ټولـو تـه نسبت د قرارداد کیږي ولی شرعًا الفاظ د ایجاب او قبول معتبر دی نه قرارداد خط.

كل قسم من شركة العقد يتضمن الوكالة فكل واحد من الشريكين فى تصرفه يعنى فى الاخذو البيع و تقبل العمل من الناس بالاجرة و كيل عن الاخر ﴿المجلة المـ١٣٣٣﴾ لايجوز لاحد الشريكين اذا لم يكن فى يده رءس مال الشركة ان يشترى مالاً للشركة فاذا اشترى يكون ذلك المال له ﴿المجلة المـ١٣٧٥﴾ حقوق العقد انما تعود الى العاقد فاذا اشترى احد الشريكين مالافقبضه مع تأديةٍ منه يكون لازما عليه وحده ولهذا يطلب ثمن المال الذى اشتراه منه فقط ولايطالب شريكه به و كذا قبض ثمن المال الخ ﴿المجلة المـ١٣٧٧﴾ حقوق العقد هى (١) قبض المال المشترى (٢) اداء ثمنه (٣) قبض ثمن المال المباع الخ ﴿دررالحكام صـ٣٩٨ج٣﴾ و اذا وجدا (اى الايجاب والقبول) لزم البيع بلا خيار الاعيب ورؤية ﴿الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ٢٢ج٤﴾.

دوهم سوال جواب: محصول اخستل د گمرک له طرفه هغه وقت روا دی که چیری عام طور شرائط د محصول اخستلو موجود وه او که هغه شرائط موجود نوه نو بیا محصول اخستل پر هیڅ شی جواز نلري او دا پروانلري چه بائع هم امارتی دائره ده او گمرک والا هم امارتی اداره ده ولی دغه ډېره چه خلقو ته تسلیم سوه او دوی قبض کړه نو د خلقو شخصی مال و گرځیدی هر کله چه دوی دغه خپل مال خارج ته انتقالوی یا بل ولایت ته نو گمرک هغه معامله ورسره کوي لکه د نورو شخصی مالو سره او که یی د دوی د قبض څه تر مخه محصول غوښتلای نو بیا یی حکم جلا کیدی او د محصول اخستلو د جواز بعضی شرائط داسی دی په بیت المال کی به شی نوی پاته ضرورة شدیدة به و دغه مالو ته موجود وي لکه د پاره د تجهیز د لښکر یا د مسلمانانو بندیان چه مخالفینو سره وي او بی پیسو یی نه ایله کوي یا د حکومت هغه مسئولین او مامورین چه ضرورة شدیدة ورته موجود وي او تنخواه نلري او دا پیسی به په داسی تعمیراتو کی یا داسی شیانو کی نه مصرفیږي چه شدید ضرورة ورته نوی او که ضرورة شدیدة موجود وي نو په داسی اندازه مصرف به په کوی چه فقط ضرورة دفعه سی او سوال له محصول اخستو څه به بله هیڅ جائز طریقه نوی پاته او د اغنیاؤ څه به اخستل کیږي نه د فقراؤ څه دا شرائط ټوله په دي وجه دی چه محصول اخستل اصلاً غیر شرعی طریقه ده بغیر له یو سخت ضرورت څه جواز نلري.

واما النوائب فقدیرادبها مایکون بحق وقدیراد بها مالیس بحق والاول ككری الانهار المشتركة واجرالحارس للمصلحة وما وظف الامام لتجهيز الجيش وفداء الاساری بان احتيج الی تجهيز الجيش لقتال المشركين او الی فداء اسری المسلمين ولم يكن فی بيت المال مال..... والثانی كالجبايات فی زماننا وهی التی ياخذها الظلمة فی زماننا ظلما (العناية بهامش فتح القدير صـ۳۳۲ج۶) (الكفاية صـ۳۳۳ج۶) (ردالمحتار صـ۲۸۲ج۴ بيروت) (الهندية صـ۲۹۱ج۳) (مجمع الانهر صـ۱۴۲ج۱) (البحرالرائق صـ۲۴۰ج۷) (تنقيح الحامدية صـ۲۸۵ج۱) قال الحافظ المنذری اما الان فانهم يأخذونه

مكسا باسم العشر و مكسا آخر ليس له اسم بل شئ يأخذونه حراما و سحتا ويأكلونه في بطونهم نارا حجتهم فيه داحضة عندربهم و عليهم ولهم عذاب شديد (ردالمحتار صـ۳۹ج۲ بيروت) (الترغيب و الترهيب صـ۵۶۷ج۱) (احكام سلطانية ابى يعلى صـ۲۳۰)

مکس باج حق گمرکی (فرھنگ عمید ص۔۱۸۴۲ج۲) انکم ٹیکس ویلتھ ٹیکس ..... محصول چونگی اور اس طرح کی دیگر ٹیکسوں کی شرعی حیثیت کیاہے الخ الجواب باسم ملھم الصواب یہ سب ٹیکس ناجائز ہیں اوران محکموں میں ملازمت بھی ناجائز ہے حکومت کو اگر ضرورت ہو تو ٹیکس عائد کرنی کی مندرجہ ذیل شرائط ہیں الخ (احسن الفتاوی صـ۹۹ج۸).

د دریم سوال جواب: که دغه بیعه په وزن سوی وي مثلاً یو ټن ډبره په دومره قیمت او د وزن کولو کار یی د گمرک و ترازو ته پرینبول سوي وي نو د ترازو پیسی په بائع پوری اړه لري نه په مشتری پوری

المصارف المتعلقة بتسليم المبيع تلزم البائع وحده مثلا اجرة الكيال للمكيلات و الوزان للموزونات المبيعة تلزم البائع وحده (المجلة المـ۲۸۹) هكذافي (مجمع الانهر صـ۲۰ج۲)

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

اسلامي دولت کولای سي چې دصليب شکل له موټرانو وغيره څخه خراب کړي؟

سوال: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

وبعد: محترمه د خارجي مؤسيساتو پر موټرانو باندي د جمع علامه ده چه نن صبا په صليب سره مشهوره ده او عبادت ئی نه کيږی اوس پر مسلمانانو خرابول د دغې علامی لازم دی کيا (**نوټ**): او د مذکورو موټرانو چلونکی مسلمانان دي. (المستفتی کاکا ملا صاحب)

جواب: مستأمن او ذمي چه صليب ورسره وي دغه صليب د دوی دپاره متقوم مال دی نه يی ماتول جائز دي نه يی څنی اخستل جائز دي نو شکل او عکس د صليب په طريق اولی نسی خرابولای که څه هم دغه شکل پر هغه موټرانو ليکلي وي چه چلوونکی يی مسلمانان دی ځکه چه موټر خو د دوئ په ملکيت کي دی او موټروان فقط أجير او مزدور دی د دوئ سره نو د هغه صليب نسبة هغه مالک ته کيږي نه چلوونکی ته او هغه چه په حديث شريف کی راغلی دي چه حضرت نبی کريم ﷺ په خپل کور تصاليب نه پريښول نو د هغه تصاليبو څخه مراد تصاوير د ذی روحه شيانو دی نه شکل صليب او که شکل صليب ته شمول و کړی نو هم دا حديث شريف د اهل ذمه او مستامنينو کورو ته نه دی شامل.

ولوا تلف صليبًا على نصراني يضمن قيمته صليبا لانه مصر على ذلک کما فی الهداية (مجمع الضمانات صـ۱۳۲) هکذافی (العناية بهامش فتح القدير صـ۲۸۷ج۸) و کذلک يضمن المسلم قيمة صليب غصبه من نصرانی فهلک فی يده لانه مقر على ذلک (الفقه الاسلامی صـ۷۱۵ج۵) الجواز الشرعی ينافی الضمان (المجلة المـ۹۱) باب کسر الصليب وقتل الخنزير ..... وليس المراد من هذه الترجمة الاشارة الى جواز کسر صليب النصاری وقتل خنازير اهل الذمة فانا امرنا بترکهم ومايدينون واما کسر صليب اهل الحرب وقتل خنازيرهم فهو جائز ولاشئ على فاعله (عمدة القاری شرح صحيح البخاری صـ۲۷ج۱۳) وحاصله ان المستأمن فی دارنا قبل ان يصير ذميا حکمه حکم الذمی الافی وجوب القصاص بقتله الخ (ردالمحتار صـ۲۷۳ج۳) وعن عايشة ان النبی ﷺ لم يکن يترک فی بيته شيئا فيه تصاليب که دروی تصاوير بود (اشعة اللمعات صـ۶۳۲ج۳) والمراد هنا

بالتصاليب الصور (المرقاة شرح المشکوة صـ۲۶۸ج ۸) لیکن یہاں حدیث میں تصالیب

سے مطلق جاندار کی تصاویر مراد ہیں (مظاهر حق جدید صـ۲۴۵ج ۴) والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

چې دجنازي لمونځ وسي دمړي په پټولوکي ځنډ ځنګه دي؟

سوال: چه لمونځ د جنازي وسي او قبر وغیره هر څه خلاص وي او بیا هنوز هم دا میت د دعا و سورة د ویلو دپاره معطل وي دا څه حکم لري ایا جنازه پورته سی او که معطله سی ؟

جواب: هر کله چه مړی و دفن ته اماده سی او قبر جوړ وي او نور ټوله کار خلاص وی یوازی د قرآن کریم د تلاوة او د دعا د پاره مړی ځنډول د سنت طریقی څه مخالف دی بلکه مړی دې دفن کړی بیا دی د قرآن کریم تلاوة و کړی هم به د تلاوة ثواب وروړسیږي هم به سنت طریقه عملی سی.

و عن عبدالله بن عمر قال سمعت رسول الله ﷺ یقول اذا مات احدکم فلا تحبسوه و اسرعوا به الی قبره و لیقرء عندرأسه فاتحة البقرة و عند رجلیه بخاتمة البقره رواه البیهقی فی شعب الایمان و قال و الصحیح انه موقوف علیه (مشکوة شریف صـ۱۴۹) قوله (فاتحة البقرة) و باید که خوانده شود نزد سروی یعنی بعد ازدفن اول سوره بقرة الخ (اشعة اللمعات صـ۷۴۳ج ۱) قوله فلا تحبسوه ای لاتؤخروا دفنه من غیر عذر قال ابن الهمام - یستحب الاسراع بتجهیزه کله من حین یموت و اسرعوا به الی قبره و هو تاکیدو اشارة الی سنة الاسراع فی الجنازة (المرقاة شرح المشکوة صـ۱۹۷ج ۴) هکذافی (مظاهر حق صـ۱۳۸ج ۲) ان طلحة بن البراء مرض فاتاه النبی ﷺ یعوده فقال انی لا اری طلحة الاوقد حدث به الموت فآذنونی به و عجلوا فانه لا ینبغی لجیفة مسلم ان تحبس بین ظهرانی اهله رواه ابوداود (عمدة القاری شرح صحیح البخاری صـ۱۱۳ج ۱) و کره تاخیر صلاته ودفنه لیصلی علیه جمع عظیم بعد صلاة الجمعة (الدرالمختار بهامش الطحطاوی صـ۳۸۰ج ۱) قوله وکره تاخیر صلاته الخ فالافضل ان یعجل بتجهیزه بتمامه من حین یموت بحر و ظاهره ان الکراهة تنزیهیة قوله و دفنه - ولو بعدالصلاة (حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار صـ۳۸۰ج ۱)

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

یوه ولسوالي چې کافي اوسیدونکي ولري دجمعې لمونځ صحت لري کنه؟

سوال : د دارالافتاء محترمو علماء کرامو ته السلام علیکم ورحمۃ اللّٰه وبرکاتهٗ.

محترما : زه د لاندی مسئلې په هکله استفتاء کوم زمونږ ځای چه ګردی باغران دی په داسي شکل موقعیت دی چه د ولسوالی د مرکز څه تقریبًا ۳ ساعته لیری دی او خپل بازار لري او په بازار کی ټول ضروریات لکه خیاطی آهنګری او داسی نور ټوله موجود دي او یو جامع هلته موجود ده چه مشرق او مغرب ته تقریبًا د ۱۵ دقیقو په اندازه او شمال او جنوب ته ۲۵ دقیقی په دی داخل کی تقریبًا ۷۰۰۰ نفوس موجود دی او په شمار او حساب سره ۴۰ مسجده موجود دي نو ایا په دغه جامع کی د جمعی لمونځ صحت لري او که څنګه ؟

جواب : محترم مستفتی صاحب تاسو چه د ګردی باغران په هکله استفتاء کړی ده او ویلی مودي چه ۴۰ مسجدونه بازار او تقریبًا ۷۰۰۰ نفوس لري نو داغتې کلی بلل کیږي نو که تاسو ته حکومت اجازه وکړي د جمعې د لمانځه نو اتفاقًا بغیر له اختلافه د جمعی لمونځ صحیح کیږي او فرض کیږي.

وفی القهستانی اذن الحاکم ببناء الجامع فی الرستاق اذن بالجمعة اتفاقا علی ماقاله السرخسی و اذا اتصل به الحکم صار مجمعا علیه فلیحفظ الدرالمختار و عبارة القهستانی تقع فرضا فی القصبات و القری الکبیرة التی فیها اسواق قال ابو القاسم هذا بلا خلاف اذا أذن الوالی او القاضی ببناء المسجد الجامع و اداء الجمعة لان هذا مجتهد فیه فاذا اتصل به الحکم صار مجمعا علیه و فیما ذکرنا اشارة الی انه لاتجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاضٍ و منبر و خطیب کما فی المضمرات..... فان فی فتاوی الدیناری اذا بنی مسجد فی الرستاق بامر الامام فهو أمر بالجمعة اتفاقا علی ماقال السرخسی فافهم و الرستاق القری کما فی القاموس الخ قوله و اذا اتصل به الحکم الخ قد علمت ان عبارة القهستانی صریحة فی ان مجرد الامر رافع للخلاف بناء علی ان مجرد امره

حکم (ردالمحتار صـ۵۹۰ج۱) قوله اذن الحاکم ای الوالی او القاضی کذافی القهستانی ..... و اذا لم یأذن بذلک لاتصح اقامتها فیها و علیه یحمل ما فی البحر لا تصح فی قریة و لامفازة لقول علیؓ لاجمعة و لا تشریق و لاصلوة فطر و لا اضحیٰ الافی مصر جامع او مدینة عظیمة ثم قال فلا تجب علی غیر اهل المصر (حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار صـ۳۳۹ج۱) و الخلاصة لابدلاقامة الجمعة عندالجمهور من کونها فی مدینة او قریة و لا بدانتکون القریة کبیرة عند الحنفیة فلا تجب علی سکان القری الصغیرة ای لابد من المصر عندهم اما عند غیرهم فلا یشترط المصر و القریة و البلد سواء (الفقه الاسلامی صـ۲۷۵ج۲) و لاشک فی جواز الجمعة فی البلاد و القصبات (کبیری صـ۵۵۲) و اذا اذن الامام لاهل القری بذلک بعد تأمیر الامر علیهم صحت الجمعة بها عندنا کمامر الخ فانقیل کیف قالت الحنفیة بحواز اقامة الجمعة فی القری اذا کان علیها امیر من الامام مأذون باقامة الجمعة بها فهل تصیر القریة بذلک مصرا ..... قلنا تصیرالقریة بذلک فی حکم المصر ..... او نقول ان امر الامام وإذنه قاطع النزاع فی المسائل المجتهد فیها عندنا و اشتراط المصر للجمعة مجتهد فیه الصحابة و الائمة (اعلاء السنن صـ۱۵ج۸).

ایک قریہ عظیمہ برا جس میں تین ہزار دو سو آدمی آباد ہیں اور چند دوکانیں بھی وہاں موجود ہیں پس موافق مذھب حنفیہ کی اور فقہ کی کتابوں کی وہاں جمعہ ہوتا ہے یا نہیں الجواب۔ ایسی قریہ میں جمعہ عند الحنفیہ صحیح ہے اور واجب واداء ہوتا ہے کیونکہ وہ قریہ کبیرہ ہے اور قریہ کبیری میں موافق تصریح شامی کی جمعہ صحیح ہوتا ہے کذافی الدرالمختار وتقع فرضافی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق الخ (فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۷۷ج۵ و ص۸۳ج۵) و (احسن الفتاوی صـ۱۲۵ج۴)

واللہ تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

دمجاهد عسکرپه هکله (۵)مهیمي پوښتنې اوځوابونه

سوال: محترم د دارالافتاء رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.

(**اول سوال**) په حکومت کښې یعنې په اسلامي امارت کې یو نفر خدمت کوي یعنې جهاد کوي طالب عسکر دی نو ایا د دغه مجاهد یعنې طالب عسکر د کور نفقه په چا پوری اړه لري په اسلامي امارت پوری اړه لري، او که ئې په قریبانو اړه لري او که شخصًا په ده پوری اړه لري نو که په ده پوری اړه و لري نو دی به جهاد کوی او که د خپل کور نفقه برابروی که په دې هکله معلومات راکړئ ډیر لوه مهرباني به وي ؟

(**دوهم سوال**) که یو نفر په تحریک کې وي یعنې طالب وي مجاهد وي نو هغه نفر ته که چیری خپل د کلی مشر یا والي صاحب یا قومندان یا وزیر بیله دعالیقدر أمیرالمؤمنین بې اجازی پیسی د کور د خرڅ لپاره ورکوي و هغه مجاهد یا و عسکر ته د هغه پیسی څنګه دی او مشر ته څومره مسئولیت دی که په دې هلکه معلومات راکړی ډیره همکاری به وي ؟

(**دریم سوال**) که یو ډلګی مشر یا قومندان په چم دلوړو مقاماتو لخوا څخه پیسی را باسی د مثال په ډول چه ډلګی مشر لس نفره انډیوالان لري او دی د پنځوسو نفرو اعاشه را باسی او یا ئې په موټر شل لکه خرڅی کړي وی او دی وائی چه ما دوه سوه لکه افغانی په خرڅی کړیدی او د هغه پیسی دی کورته وړی او یا ئې و انډیوالانو ته ورکوي نو د هغه پیسی د شریعت د نګاه څخه څنګه دی ؟

(**څلورم سوال**) که د اسلامي امارت یو مسئول که غټ وی که کوچنی یعنې مشر وی که افراد که داسی یو نفر د بنده څخه په رشوت ایله کی چه پر هغه باندی د کوم مسلمان حق نه وي صرف د حکومت له قانونه څخه ئی سره غړونه کړی وي او یا ئې چرس څکولی وي یا ئی قمار کړی او وینستان ئی غټ وي او یا ئی ډیره خرولې وي یا نور داسی کارونه ایا د هغه نفر په هکله شریعت کومه سزا ایښی ده او د غه پیسی ده ته څنګه دي ؟

(**پنځم سوال**) که د اسلامي إمارت لخوا پر خپل رعیت باندی جلب حواله کړه سی اوس که د غه رعیت ... که حیری د غه نفر چه د حکومت اسلامي لخوا

څخه جلب پر حواله سویدي دی د خپل خان په عوض کی بل ځوک په پیسو و دروی او د غه نفر چه په پیسو په جلب کی ځی د دغه نفر مرگ څنگه دی او د غه جلبی چه په پیسو ځی که مسکین وي او که خان وي څنگه حکم ئی دی ؟

﴿ملا قدرت الله د قندهار ولایت د امنیی قومندانی﴾

د اول سوال جواب : د مجاهدینو او نورو هغه کسانو نفقه چه حکومت د یو کار او یو مصلحت د پاره یو ځای مقرر کړی وي پر بیت المال ده دونه اندازه نفقه به ورکوی چه د هغوی د کور کفایت په کیږي نه به د دي څه زیاده وي ډیره نه به کمه وي.

ویعطی قضاة المسلمین وعمالهم وعلماؤهم منه ما یکفیهم ویدفع منه أرزاق المقاتلة وذراریهم) لانه مال بیت المال فانه وصل الی المسلمین من غیر قتال و هو معدّ لمصالح المسلمین وهؤلاء عملتهم ونفقة الذراری علی علی الاباء فلو لم یعطوا کفایتهم لاحتاجوا الی الاکتساب فلایتفرغون للقتال ﴿الهدایة فتح القدیر صـ۳۰۷ج ۵﴾ هکذافی ﴿ردالمحتار والدرالمختار صـ۲۸۱ج ۳ بیروت﴾ ویصرف الی کل مستحق قدر حاجته من غیر زیادة ﴿ردالمحتار صـ۲۸۲ج ۳ بیروت﴾ والواجب علی الائمة ان یوصلوا الحقوق الی أربابها ولایحبسونها عنهم ولایحل للامام واعو انه من هذه الاموال الاما یکفیهم وعائلتهم ولایجعلونها کنوزا..... فان قصر الائمة فی ذلک فوباله علیهم ﴿الفتاوی الهندیة صـ۱۹۱ج ۱﴾.

د دوهم سوال جواب : که چیری امیر المؤمنین منعه کړی وي چه د غه شخص ته پیسی مه ورکوی او بیائی والی صاحب یا قومندان یا بل څوک ورته ورکی او په دغه منعه هم خبر وي نو دا د ورکوونکی د پاره حرام کار دی او خیانة باله کیږي څو مره جزاء چه د حکومت په نزد مصلحت وو هغه جزاء دی ورکی او هغه اخیستونکی کچیری په واقعی توگه مستحق وو په بیت المال کی نو د هغه د پاره پر وانلری او که واقعی مستحق نوو د هغه د پاره بیا دغه پیسی حرامی دي او که امیر المؤمنین یا د دغه ورکوونکی څه ما فوق امیر منعه نوه کړی او دغه قومندان یا والی یا غیره دا اختیار درلودی چه خپل ماتحت افرادو ته تنخواه ورکړی نو بیا ورته جائزه ده دغه ورکړه لکن په قدر د ضرورت نه کم نه ډیر زیات.

و من له حظ فی بیت المال ظفر بما هو وجه لبیت المال فله ان یأخذه دیانة وللامام الخیار فی المنع و الاعطاء فی الحکم کذافی القنیة ﴿الفتاوی الهندیة ص۱۹۱ج۱﴾ مخالفة الامیر حرام ﴿ردالمحتار ص۲۳۴ج۳ بیروت﴾ و عزر کل مرتکب منکر ﴿الدرالمختار بهامش ردالمحتار ص۱۸۲ج۳ بیروت﴾ لیس فی التعزیر شئ مقدر بل مفوّض الی رأی الامام ﴿ردالمحتار ص۱۷۹ج۳ بیروت﴾.

د دریم سوال جواب: دا واضحه ده چه دا یو خیانة دی او دا پیسی ورته حرامی دی او که یی په ملګرو کی څوک په خبر وی د هغه دپاره هم د دغه پیسو څه استفاده کول حرامه ده.

وهکذا حرّم الاسلام کل اوجه الکسب غیرالمشروع مثل ما ذکر و نحوه من الرشوة والاختلاس وابتزازا موال الغیر بالباطل و استغلال الحاکم او الموظف لمنصبه لیقتنص اموال الناس ظلما و عدوانا ﴿الفقه الاسلامی ص۴۹۸۳ج۳ ط جدید﴾.

د څلورم سوال جواب: دغه کسان چه واقعًا ګناهکاران وي لکه قمارباز ډیره خریلی او داسی نور چه په حرامو کارونو اخته وي او حکومت د ستګیره کړی وي د دغه کسانو ایله کول بغیر له دي چه د دوی پر توبه یقین حاصل سوي وي جائز ندی ولی د دي کسانو تعزیرول واجب دي او په ایله کولو سره بغیر له توبی هغه مطلب د تعزیر نه حاصلیږي بلکه نور هم هغوی جرءت پیدا کوي پر دغه خپل فعل او هغه کسان چه پر یو ګناه او یو جرام کارنوي بندیان لکه دا چه د سر د وینتانو پر غنولو بندیان وي یا ناحقه بندیان وي او د دوی بی ګناهي قطعی سړی ته ثابته سی نو د دي کسانو ایله کول یو ډیر ښه عمل او اسلامی وظیفه ده پر هر چا واجبه ده چه وس یی رسیږي خو په دواړو صورتو کی رشوت اخستل یو حرام او ناجائز کار دی او دغه د رشوت پیسی ورته حرامی دي.

قال رسول الله ﷺ قال الله تعالی ﷻ و عزتی وجلالی لانتقمنّ من الظالم فی عاجله و آجله و لانتقمن ممن رأیٰ مظلوما فقدران ینصره فلم یفعل ..... قال رسول الله ﷺ انصر اخاک ظالما او مظلوما الحدیث ﴿الترغیب والترهیب

كما في البحر (ردالمحتار صـ۱۸۲ج ۲ بیروت) ثم الرشوة اربعة اقسام....
ثالث اخذ المال ليسوّى امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو
حرام على الآخذ (ردالمحتار صـ۲۰۲ج ۴ بیروت) تجوز الشفاعة لارباب الحوائج
المباحة كدفع الظلم و تخليص من خطأ او العفو عن ذنب ليس فيه حد اذالم
يكن المذنب مصرا فانكان مصرا فلا يجوز حتى يرتدع عن الذنب والاصرار (التعليق على الفقه السلامي صـ۲۶۴ج ۶).

د پنځم سوال جواب: پر هغه کسانو چه د حکومت لخوا جلب حواله سی پر هغو دالازمه دهٔ چه خپله به یی اطاعة کوي که شرعی عذر یی نه درلودی او که یی عذر درلودی او بل نفر یی په پیسو دراوه او نیت یی داوو چه زه که معذوریم نو ښه دا ده چه د یو بل مجاهد اکمال وکم زه به یی په ثواب شریک سم چه دی ته تجهیز د غازی وایی دا کار بالکل صحیح او موجب د ثواب دی بلکه دغه پیسی ورکوونکی د غونده مأجور دی لکه هغه په سنگر کی چه وي او که یی دا نیت نوو بلکه یوازی او یوازی ئی د ځان خلاصول مطلب وه نو دا کارنه پیسی ورکوونکی ته جائز دی نه پیسی اخستونکی ته نه أصل لري په شریعت مقدّس کی حاصل دا چه که نیت صحیح وو نو هغه عمل یی هم صحیح او مرگ یی شهادة دی او که نیت د هر یوه صحیح نوو نو د هغه دپاره دا کار خطر لري.

وحينئذ تصبح القوانين والتكاليف التى تصدر عن الحاكم واجبة التنفيذ كالالزام بالتجنيد الاجبارى وفرض الضرائب على الاغنياء الخ (الفقه الاسلامى صـ۷۰۴ج ۶) وعن زيد بن خالد ان رسول الله ﷺ قال من جهز غازيا فى سبيل الله فقد غزا ومن خلف غازيا فى اهله فقد غزا متفق عليه (مشكوة شريف صـ۳۲۹) من قاتل لتكون كلمة الله هى العليا فهو فى سبيل الله متفق عليه مشكوة شريف صـ۳۳۱)

(**نوټ**): څرنگه چه د جلب مجاهدین اکثر عوام وي نو دوی ته او همداراز ټول مجاهدینو ته د نیت د اصلاح او احتیاط باندي ډیر تاکید و سی چه نباید شهادة ته یی خطر پیښ نسی او همداراز باید دغه مجلو بینو ته په سپک نظرونه کتل سی ولی که یی نیت سم وي نو دوی هم دغسی پاک مجاهدین دی لکه دا نور.

بسم الله الرحمن الرحيم

که په قسطونو ځمکه خرڅه سي څه قسطونه وصول او څه باقي وي وخت تيرسي بیابیع فسخ کیدای سي؟که نه فسخ کیږي دکوم قیمت قسطونه به ورکوي؟

د درالافتاء ریاست عالی مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

(**اول سوال**) سید مکرم په کال ۱۳۵۴ کی پر مونږ خپله ځمکه خرڅه کړیده او ذوالید ئی مونږ ته تسلیم کړیدی روپی ئی په قسط وي څه اندازه قسطونه ئی د کمونیستی کودتاه په وجه پاته سول خپله بائع مهاجر وو مونږ ئی معلومات نه درلودل اوس چه د هغه ورثه پاته ده یو وار د نجیب په حکومت کی او یو وار هم د اسماعیل خان په حکومت کی مونږ هغه باقی پاتی روپی یا قسطونه وورثی ته وروړل هغو قبولی نه کړې او د روپو د کم ارزښت په وجه د زیاتو روپو او یا د هغه د معادل ادعاء وکړل ایا دغه ورثه دغه حق لري شرعًا کیا ؟زیاتی روپی ورکړو او که خپل باقی پاتی حق ؟

(**دوهم سوال**) ورثه بائع سید مکرم همدغه اقرار کړیدی چه زمونږ پلار خپله ځمکه خرڅه کړیده خو مشتریانو ټولی روپی پر مدة مقرره نه دی ورته رسولی نو اوس دفسخ ادعاء لرو ایا د سید مکرم ورثه د پلار خرڅه سوی ځمکه فسخه کولای سی کیا؟او پر نوموړی ځمکی باندي مونږ ۲۶ کاله ذوالید هم لرو

(**نوټ**) په حقیقت کی نوموړی ځمکه په شپږ ۶ قسط سره وه چه هر قسط ۶ لکه افغانی کیږي خو په لومړی ورځ بائع زمونږ څخه د نوموړی ځمکی د روپو د قرض حسنه سندونه اخستی دي او په قبالو کی یی ټوله بیعه رسیدلی ده ؟

(محمد یونس حقمل)

جواب: ستاسو په مابین کی چه دغه بیعه سوی ده او قیمت یی پر تاسو په قسطونو وضع کړی دي او تاسو ټوله قسطونه پر خپل وقت نه دی رسولی او تاسو هم بیعه په قطعی ډول تر سره کړیده او خیار نقد مونه دی وضعه کړی نو حکم دا دی چه تر څو تاسو دواړه جانبه د بیعی په فسخه کیدو راضی سوی نیاست هغه بیع د مابین څه نه وزی او هغه قسطونه چه یو پاته دی هغه به تاسو دوئ ته ورکوي او دوئ به یی قبلوي لکن د هغه وخت حساب به ورته

ورکوئ په کالدارو یا ډالر یا بله سکه سره او هغه به ورتسلیموئ ځکه چه افغانی اوس ډیره کم قیمته سوي ده مثلاً په کومه ورځ چه تاسو سودا کړیده په هغه ورځ دغه باقی پاته قسطونه د افغانیو څو کلداری کیدی اوس به هغونه کلداری ورکوئ.

و اذا وجدا (ای الایجاب و القبول) لزم البیع بلا خیار الالعیب ورؤیة (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۲۲ج ۴) اذا کان البیع صحیحا لازما خالیا من الخیار و اتفق المتعاقدان علی رفعه و انهائه فیتم فسخه عن طریق الاقالة (الفقه الاسلامی صـ۷۱۳ج ۴) یشترط لصحة الاقالة شروط۔ اولاً۔رضا المتقایلین (الفقه الاسلامی صـ۷۱۷ج ۴).

وفی البزازیة عن المنتقی غلت الفلوس اورخصت فعند الامام الاول و الثانی او لا لیس علیه غیرها و قال الثانی ثانیا علیه قیمتها من الدراهم یوم البیع و القبض و علیه الفتوی و هکذافی الذخیرة و الخلاصة عن المنتقی و نقله فی البحر و اقره فحیث صرح بان الفتوی علیه فی کثیر من المعتبرات فیجب ان یعول علیه افتاء و قضاء و لم أرمن جعل الفتوی علی قول الامام (ردالمحتار صـ۲۶ج ۴) هکذافی (تنبیه الرقود۔مجموعة رسائل ابن عابدین صـ۶۰ج ۲) و هذا اذاحصل الرخص او الغلاء لجمیع انواع العملة فلو بقی منها نوع علی حاله او کان فی البلدة الاخری نوع منها قیمته مساویة لقیمته فی بلدالعقد فالمشتری ملزوم بدفع ذلک الی البائع و علی البائع القبول (شرح المجلة للاتاسی صـ۱۶۲ج ۲) خیارالنقد۔ و هو ان یشترط المتبایعان فی عقد البیع ـ نسیئة ان المشتری اذا لم یدفع الثمن فی الاجل المعین و هو ثلاثة ایام فلا بیع بینهما. الفقه الاسلامی صـ۵۲۲ج ۴)

و الله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دسرقلفي په اړه مفصل بیان، احکام، اقسام اوسرقلفي اړوند ټول جزئیات

سوال: د ډیری مودي را پـه دی خوا د مختلفو ځـایو څخـه د افغانستان د اسلامی دولت مرکزی دارالافتـاء تـه د سرقلفی پـه بـاره کی استفتاء گانی راغلی دي او هـم د تمیز د عـالی ریاست د دیوان تجارت لخوا مکرره استفتاء سوي ده لهذا د مرکزی دارالافتاء د علماؤ د ډیر محنت او تـتبع څخه وروسته دغه یوه فتوی د خلوالحوانیت (سرقلفی) پـه بـاره کښی ترتیب کړي ده چه په لاندي ډول ده .

اصل د خلوالحوانیت (سرقلفی) چه بناء ده پر عرف او عادة باندي د ډیرو معتبرو کتـابونو د عباراتو څخه ثابتیږي او د خلوالحوانیت ډیر اقسام او ډیري طریقی په کتابونو کښی ذکر سوي خو مونږ به دلته شپږ قسمونه او طریقی بیان کړو .

او دا خلو (سرقلفی) خرڅیږی او هبه کیږي او په میراث وړل کیږي او هم گرو (رهن) کیږی و غیر ذلک ځکه چه د ملک حکم لري

او د سرقلفی دکان چه هدم (ونړیږي) د سرقلفی والا د پاره حق د ابقاء او د اعادی سته چه دی په ورکولو د اجرة مثل د ځکی قائم او ثابت وي ؟

تفصيل : مونږ چه دا وویل چه اصل د سرقلفی د ډیرو معتبرو کتـابونو د عبـارتو څخه ثـابتیږي د نمونی په طریقه به وو ایو چه په (ردالمحتار ص۱۸ج۵) کتاب الاجارة کی لیکلی دي:

نعم یفتی به فیما دعت الیه الحاجة و جرت بـه فی المـدة المدیـدة العـادة و تعارفه الاعیان بـلانـکیر کالخلو المتعـارف فـی الحوانیت الـخ (او بیـائی ویلی) فیفتی بجواز ذلک قیاسا علی بیع الوفـاء الـذی تعـارفه المتـاخرون احتیـالا علی الربـا الـخ (او بیـائی ویلی) و من القواعـد الکلیة اذا ضـاق الامـر اتـسع حـکمه فیندرج تحتها امثـال ذلـک ممادعـت الیه الـضرورة و الله اعلم آه ملخـصًا .او د دي ردالمحتار څخه دغه عبارت په (شرح المجلة سلیم باز ص۲۴۸) کښی هم نقل شوي ده او په (الاشباه والنظائر) د ابن نجیم کښی لیکلی دی المـذهب عـدم اعتبـار العـرف الخـاص لکن افتی کـثیر بـاعتبـاره و علیه فیفتی بجـواز النـزول عن الوظـائف بمـال و

بلزوم خلو الحوانيت الخ او د دي الاشباه و النظائر څخه دغه عبارت په ﴿الدرالمختار او ردالمحتار صـ۱۷ج۴﴾ كتاب البيوع كښې هم نقل كړى ده او په ﴿الدرالمختار على هامش ردالمحتار صـ۲۷۷ح قبيل كتاب الكفالة ۴﴾ كښې هم نقل شوى ده او په ﴿الطحطاوى على الدرالمختار صـ۱۰ج۳﴾ كښې ليكلي (قوله و بلزوم خلوالحوانيت الخ) ممايستدل به على جواز ذلک مافي واقعات الضريرى الخ او په ﴿ردالمحتار صـ۱۹ج۴﴾.

كتاب البيوع كښې ليكلى دي و ممن افتى بلزوم الخلو الذى يكون بمقابلة دراهم يدفعها للمتولى او المالک العلامة المحقق عبدالرحيم افندى العمارى صاحب هدية ابن العماد (او بيائى ويلى) فيفتى بجواز ذلک للضرورة قياسا على بيع الوفا الخ.

او دا چه مونږ وويل چه د خلوالحوانيت شپږ قسمونه او طريقى به بيان كړو نو وايو چې:

﴿اوله طريقه دا ده﴾

چه مالک د دكان يو چا ته دكان وركړى او يو مقدار پيسې ورڅخه واخلى غير د كرايې بيا كرايه په قدر د مثل د اجرة اداء كړاى سى او كه قدر د مثل اداء نسى دا عين ربا گرځى. او مالک د دكان دغه صاحب د خلونسى ايستلاى د دكان څخه او نه دا دكان بل چا ته وركولاى سى تر څو چې ئى هغه مقدار پيسى بيرته نه وى وركړى او په دي قسم كښې فرق نسته په مابين د شخصي او وقفى او دولتى مځكه كښې په ﴿ردالمحتار صـ۱۹ج۴﴾ كتاب البيوع كښې ليكلي دي:

و ممن افتى بلزوم الخلو الذى يكون بمقابلة دراهم يدفعها للمتولى او المالک العلامة المحقق عبدالرحمن افندى العمادى صاحب هدية ابن العماد وقال فلا يملک صاحب الحانوت اخراجه و لا اجارتها لغيره مالم يدفع له المبلغ المرقوم فيفتى بجواز ذلک للضرورة قياسا على بيع الوفاء الذى تعارفه المتأخرون احتيالا على الربا الخ قلت و هو مقيد ايضًا بما قلنا بما اذا كان يدفع اجر المثل و الا كانت سكناه بمقابلة مادفعه من الدراهم عين الربا كما قالوا فيمن دفع للمعترض داراً ليسكنها او حمارا ليركبه الى ان يستوفى

قرضه انه يلزمه اجرة الدار او الحمار الخ په (الطحطاوي على الدر المختار ص۱۰ ج۳) کښې ليکلي و اعلم ان الخلو يثبت في الارض المملوكة لما ذكره المؤلف في كتاب الوقف ان وقف البناء بدون الارض صحيح و اما الخلو يتحقق ولو الارض مملوكة على ما عليه الفتوى انتهى او په (رد المحتار ص۱۸ ج۵) كتاب الاجارة كښې ليکلي نعم يفتى به فيما دعت اليه الحاجة و جرت به في المدة المديدة العادة و تعارفه الاعيان بلانكير كالخلو المتعارف في الحوانيت و هو ان يجعل الواقف او المتولي او المالك على الحانوت قدرا معينا يؤخذ من الساكن و يعطيه به تمسكا شرعيا فلا يملك صاحب الحانوت بعد ذلك اخراج الساكن الذي ثبت له الخلو و لا اجارتها لغيره مالم يدفع المبلغ المرقوم فيفتى بجواز ذلك قياسا على بيع الوفا الذي تعارفه المتأخرون احتيالا على الربا حتى قال في مجموع النوازل اتفق مشايخنا في هذا الزمان على صحته بيعا لاظطرار الناس الى ذلك و من القواعد الكلية اذا ضاق الامر اتسع حكمه فيندرج تحتها امثال ذلك ممادعت اليه الضرورة.

والله اعلم آه ملخصًا او په (شرح المجلة د سليم باز ص۲۴۸) کښې هم نقل سوی.

(دوهمه طريقه دا ده)

چه مستأجر په دکان د مؤجر کښې جدک جوړ کړی لکه الماري يا نور الات د صناعة نو په دی سره د مستأجر د پاره حق د قرار ثابتيږي چه دا کار په اذن د مؤجر و کړی او هم آداء د اجرة مثل د دکان کوی غير له جدک څخه په (الفتاوى تنقيح الحامدية ص۱۹۹ ج۲) باب مشد المسكة کښې ليکلي دي و هذا الكردار يوجد في زماننا ايضًا في الحوانيت و يسمى جدكًا و هو مايبنيه المستاجر في الحانوت من ماله لنفسه و ما يصنعه فيها من الات الصناعة و نحو ذلك من الاعيان القائمة فيها باذن المتولين له بذلك او لمن باعه ذلك و يثبت له بذلك حق القرار مادام يدفع اجرة مثل الحانوت خالية

عـن جدكـه آه او پـه (الفتـاوى المهديـة فـى الوقـائع المـصرية صـ۴۳ج۵) كتاب الاجاره كښې ليكلى سئل فى رجل يملك جد كافى حانوت بحجة شرعية و الحانوت المذكور ملك لاخر و صاحب الجدك ساكن فى الحانوت المذكور و يدفع اجرة الحانوت لمالكها و هى اجرة مثلها فهل اذا اراد المالك للحانوت اخراجه منها لا يكون له و ليس له زيادتها عن اجرة المثل بدون رضاه (اجاب) ليس لمالك الحانوت التى خلوها جار فى ملك الغير و موضوع بحق القرار اخراج صاحبه منها مادام يدفع اجرة المثل اذا ثبت ماذكر بطريق شرعى. والله تعالى جلاله اعلم.

او همدارنګه په (الفتاوى المهدية صـ۴۵۷ج۲) كتاب الوقف كښې هم دغه مضمون ذكر ده په عنوان د سوال او د جواب سره.

(دریيم قسم او طريقه دا ده)

چه په مځكه مملوكه يا موقوفه او يا سلطانيه كښې مستاجر تعمير بناء كړی په اذن د مالک يا د ناظر په شرط د قرار نو بانی لره حق شته د قرار پدې شرط چه اجرة مثل د مځكې قطع نظر د بناء څخه ادا كوي . په (ردالمحتار صـ۱۸ج۴) كښې ليكلى دي قال فى جامع الفصولين و غيره بنى المستأجر او غرس فى ارض الوقف صارله حق القرار و هو المسمى بالكردار له الاستبقاء باجر المثل آه او په (الفتاوى المهدية صـ۴۹ج۵) كښې ليكلى دي سئل فى جماعة يملكون مكانا استأجره منهم رجل بازيد من اجر المثل و آذنوه بالبناء فيه ليكون له خلواً بحق البقاء و القرار فبنى وعمر حسب الاذن منهم و جعله معدّا للصباغة و وضع يده عليه مدة نحو اربع سنوات ثم باع ذلک الخلو لرجل آخر و وضع يده عليه مدة تزيد على خمس عشرة سنة و هو يدفع اجرة المثل و زيادة للمالكين ثم بعد تلک المدة قام المالكون الآن يريدون ابطال ذلک الخلو و اجارة المكان لغيره تعنتا و يزيدون عليه الاجرة تعنتا فهل اذا كان ذلک الخلو ثابتا باعترافهم و اطلاعهم و اخذهم الاجرة

تلک المدة لايجابون لما ذكر ولايؤا جرونه لغيره حيث كان يدفع صاحب الخلوا جرة المثل و زيادة(اجاب) اذا ثبت الخلو المذكور مستوفيا شرائط الصحة و واضع اليد قائم بدفع اجر مثل ذلک المكان بقطع النظر عما احدثه فيه لايكون لمالكى المكان المذكور ابطال الخلو بدون وجه شرعى ولااجارة المكان من غير صاحب الخلو والله تعالى ﷻ اعلم ، او په ﴿ الفقه الاسلامى وادلته صـ۲۲۳ج۸ ﴾ كښى هم دا مضمون ليكل شوي ده او كچيرى صاحب د خلو بعض عمارة كړى وي نو دى شريک دى پدى مكان كښى په اندازه د خپل عمارت بيا كه عمارت ته په اينده كښى حاجت وو دى بـه پـه خپلـه انـدازه مـصرف برداشـت كـوي لكـه پـه ﴿غمزعيون البصائر على الاشباه و النظائر د امام حموى كښى په صـ۳۲۱ج۱ ﴾ راغلى دي اما كن آيلة الى الخراب فيكريها ناظر الوقف لمن يعمر ها و يكون ماصرفه خلواً له ويصير شريكاً للواقف بما زادته عمارته مثلاً لوكانت الاماكن قبل العمارة بنصف كل يوم و صارت بعدها تكترى بثلاثة انصاف فيكون صاحب الخلو شريكا بالثلث و الثلثين فاذا احتاجت تلک المحلات الى عمارة كان على الواقف فى تلک الصورة مثلا الثلث و على صاحب الخلو الثلثان آه .

﴿ خلورم قسم او طريقه دا ده ﴾

چه يو شخص اراده وكړى چه دكانونه يا سرايونه جوړ كړى مخكښى د جوړولو د خلگو څخه پيسى واخلى د يو يو دكان او يا د سراى كيفيت او اندازه د دكان يا د سراى ورته بيان كړى وروسته تر جوړيدو ئى خلگو ته تسليم او كرايه پرى مقرره كړى په دى صورت كښى هم صاحب د خلو په خپله حصه كښى شريک بللى كيږي د خاوند د دكان سره په ﴿ غمز عيون البصائر صـ۳۲۱ج۱ ﴾ كښى ليكلى دي:و وجهه ان الواقف لما يريد ان يبنـى محـلا للوقف فيأتى له اناس يدفعون له دراهم على انيكون لكل شخص محل من تلک المواضع التى يريد الواقف بناء ها فاذا قبل منهم تلک الدراهم فكأنه باعهم تلک الحصة بما دفعوه له ... لكل . وغايته انه وظف ... تلک الحصة التى ...

علیهم کل شهر کذا فلیس للواقف فیه بعد ذلک تصرف الابقبض الحصة الموظفة فقط و لیس له ان یوجهه لغیره وکأن رب الخلو صار شریکاللواقف فی تلک الحصة آه.

﴿ پنځم قسم او طریقه دا ده ﴾

چه مالک د دکان وچا ته دکان په خلو ( ) باندی ورکړی او مالک واخلی د خلو والا څخه یو مقدار پیسی چه دا جزء معجّل د هغه اجرة او کرایه وي او هغه پیسی چه میاشت په میاشت یا کال په کال په کرایه کښی ورکوي هغه جزء آخر مؤجل مکمّل د اجرة وي یعنی هغه پیسی چه مالک ئی د مخه آخلی په کرایه کښی حساب شی په ﴿ الفقه الاسلامی وادلته ص۷۵ج۴ ﴾ کښی لیکلی دی .(مقابل الخلو)ان مایؤخذ الیوم مما یسمی (بالفروغ اوخلو الرجل اوالید) لامانع منه شرعا فی تقدیرنا فللمالک المؤجر ان یأخذ من المستأجر مقدارا مقطوعا من المال مقابل الخلو او الفروغ ویعد المأخوذ جزءًا معجلاً من الاجرة المشروطة فی العقد واما مایدفع فی المستقبل شهریًا او سنویًا فهو بالاضافة الی ماتم تعجیله یعد جزءً آخر مکمّلاً من الاجرة مؤجل الوفاء الخ او په ﴿ ردالمحتار ص۱۹ج۴ ﴾ کښی هم مثل د دی بیان ذکر شوی ده.

﴿شپږم قسم او طریقه دا ده ﴾

چه یوه مځکه وقفی وي او د پاره د تعمیر په اجاره ورکول سی او د اجاری وقت معین وي مستأجر چه تعمیر او بناء پرې وکړی وروسته د تیریدو د وخت د اجاری څخه دا مستأجر کولای سی چه په اجرة مثل باندی را وګرځی خو په دی شرط چه وقف ته ضرر ونه رسیږي او دا طریقه په دولتی مځکه کی هم کیدای شی ځکه د وقف او د بیت المال یو حکم دی ، اما په شخصی مملوکه مځکه کی دا طریقه نسی کیدای په ﴿مجموع الرسائل د ابن عابدین ص۱۴۸ج۲﴾ کښی په رسالة مسماة (تحریر العبارة فیمن هواحق بالاجارة) کښی لیکلی دي و قال فی متن الملتقی و صح استیجار الارض للزرع ان بین مایزرع او قال علی ان

بزرع ماشاء و للبناء و الغرس و اذا انقضت المدة لزمه ان يقلعهما و يسلمها فارغة الخ (ثم قال) و هكذا في عامة المتون و الشروح و الفتاوى فلاحاجة الى التطويل و الاطناب الخ (ثم قال) لكن ذكر في البحر عن القنية مانصه استاجر ارضاً وقفاً و غرس فيها و بنى ثم مضت مدة الاجارة فللمستاجر ان يستبقيها باجر المثل اذا لم يكن في ذلك ضرر و لو ابى الموقوف عليهم الا القلع و الملك لكن كلام القنية حيث اعتضد بماذكره الخصاف صار مخصصًا لكلام المتون و الشرح بالملك و يكون الوقف خارجا عن ذلك فللمستأجر الاستبقاء باجر المثل بشرط عدم الضرر على الوقف اصلاً آه. او همدارنګه دغه مضمون په (منحة الخالق على البحر الرائق ص۳۰۵ج۷) کښې هم ذکر شوی دی.

دا دي يو څو طريقې او اقسام د خلو

او داچې مونږ وويل چه دا خلو ( ) خرڅيږي او هبه کيږي او په ميراث ورل کيږي و غيره څکه چه په (غمزعيون البصائر على الاشباه و النظائر د حموی ص۳۲۲ج۱) کښې ليکلی دی و فائدة الخلو انه كالملك فتجرى عليه احكامه من بيع و أجارة و هبة و رهن و وفاء دين وارث و وقف على الخلاف في الاخير و هذه الامور تؤخذ من فتوى الناصر اللقاني حيث جعله كالملك و منه يعلم انه لا مانع من تعدد الخلوات اذالملك يتعدد آه.

او په (الفقه الاسلامی ص۷۵۲ج۴) کښې ليکلی دي و نقل فتوى الفاسيين بجواز بيع الخلو و قال الشيخ محمد بيرم و ما اشبه الخلو بالمفارسة غير ان الخلو لاتحصل به ملكية الرقبة لتعلقة بالمنفعة الخ
او همدارنګه د نورو ډيرو عباراتو د فقهاء څخه هم معلوميږي.

او دا چه مونږ وویل چه د دکان و نړیږي د والا د پاره حق دابقاء او دا عاده کولو شته چه اجرة مثل د مځکی ادا کوی په ﴿الفتاوی المهدیة صـ۴۸۷﴾ کښی لیکلی دي:
سئل فی بناء فی ارضٍ موقوفة مستحق للبقاء و القرار تهدم ذلک البناء و صارت الارضٌ خالية فهل لربه اعادته ثانيا كما كان اولا (اجاب) للمحتكر حق الابقاء والاعادة حيث كان قائمًا بدفع اجرة مثل الارضٌ خالية عن البناء على ما عليه العمل والله تعالىٰ اعلم او په همدی ﴿الفتاوی المهدیة صـ۴۹۵ج۲﴾ کښی لیکلی دي (سئل) فی دکان موقوفة آلت الی السقوط فجاء رجل واخذها من ناظر الوقف و بناها و اصلحها و كتب له الناظر حجة بان البانی صارله فی الدكان خلو و انتفاع و هو البناء الذی بناه و بقيت ارضٌ الدكان و حيطانها القديمة وقفا عليها الحكر كل سنة يؤخذ من البانی ثم باع الرجل ذلک الخلو لرجل آخر و صار ناظر الوقف يأخذ الحكر من المشترى ايضًا ثم هدمت تلک الدكان هی و غيرها فی طريق امر الحاكم بتوسعتها و تلف من ارضها مقدار الثلثين فی توسعة الطريق المأمور بها و اخذ ذلک الرجل المشترى للخلو بدل ماكان يملكه من الحاكم الهادم للدكان فيما كان هدمه من الدكان و امر ناظر الوقف بعدم البناء فيما بقی من ارضٌ الدكان ثم ان الناظر توجه للحج ورجع فوجده بانيا فی تلک محلا فهل يكون متعديا ببنائه لزوال معظم ما كان يملكه واخذ بدله و هل له قيمة مابناه منقوضًا لتعديه و يرجع المحل وقفًا خالصا لاشائبة ملک فيه. (اجاب) للمحتكر حق الاعادة فيما بقی من الارضٌ التی كانت بيده مادام يدفع اجرة مثل الارضٌ خالية عن بنائه و ليس لناظر الارضٌ معارضته و لا تكليفه القلع و الحال هذه.

والله تعالیٰ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که دچاپر زوی پور وي ،پټ سي، پلار ئې

پوروړي ته باغ د(۵)کلوپه اجاره وکړي، نوهرکال نوې اجاري غواړي کنه؟

اوکه په دې جريان کي زوي پيداسي، بيرته ئې په پوراداکولومجبورولای سي کنه؟

سوال: و لوړ مقام ته د دارالافتاء زه محمد ابراهیم ولد محمد عمر دا عرض لرم چه زما پر گلالی پور باندی دی د گلالی کور او عیال تړله د ورونو او پلار سره په کور کی گرده ناست دي زه چه کور ته ورسم څوک ئی نه راښیی او پلار وروڼو ئی ضمانت نه دی کړی او گلالی را څخه ورک دی د گلالی پلار د ده په پور کی و ما ته یو باغ د ۵ کلو لپاره په اجاره راکوی او وایی چه زما په زوی گلالی کار مه لره اوس چه دغه باغ زه څنی واخلم د ۵ کلو په اجاره دغه اجاره صحیح ده کیا ؟او که هر کال نوې اجاره غواړی او که د دغی اجاري باوجود گلالی زما په لاس راسی زه حق د خپل پور پر لرم کیا؟ که تاسی احترامانه و ما ته د شریعت د لاری معلومات راکړی ډیر شفقت او مهربانی به مو وي ؟

﴿ملا محمد ابراهیم﴾

جواب: ستا چه پور پر گلالی باندی دی نو ته حق نه لري چه یا پخپله یا د حکومت په واسطه د هغه پلار یا ورور یا بل قریب مکلف کړی د گلالی په حاضرولو سره او دا چه پلار یی د گلالی پور په عوض کی باغ په اجاره یعنی میوی ئی درباندی خرڅوی د پنځو کالو دپاره نو دا هر کال نوي عقد ته ضرورت لري په دا سی وقت کی چه میوی نی ښکاره سوی وي او که د اجاری باوجود گلالی په لاس درسی او په هغه اجاره سره ستا حق پوره نه وی ادا سوی نو ته کولای سی چه د گلالی څه خپل د متباقی پور مطالبه وکړی او که دغه گلالی مسکین وو ستا پور یی نسوای اداکولای نو بیا تاسو انتظار وکړی او تکلیف مه ور کوی تر هغه ساعته

چه الله تعالی ﷻ ده ته ستاسو د پور اداکولو طاقت ورکوی او د پلار یا ورور یا بل قریب په باغو او پیسو سړی نه غنی کیږي تر څو چه خپل شخصي پیسی او دنیا و نلري.

لایلزم احدا احضار أحد فلایلزم الزوج احضار زوجته لسماع دعوی علیها الافی اربع کفیل نفس و سجان قاض الخ (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۲۹۱ج ۴) اجمع العلماء علی ان بیع الثمار قبل ان تخلق لاینعقد لانه من باب النهی عن بیع ما لم یخلق و من باب بیع السنین و المعاومة و قدروی عنه ﷺ انه نهی عن بیع السنین و عن بیع المعاومة و هو بیع الشجرا عواما لانه بیع المعدم (الفقه الاسلامی صـ۴۸۵ج ۴) قال فی الفتح لاخلاف فی عدم جواز بیع الثمار قبل ان تظهر الخ (ردالمحتار صـ۴۲ج ۴) (الفتاوی الهندیة صـ۱۰۶ج ۳) الطالب مخیر فی المطالبة ان شاء طلب الاصیل بالدین وان شاء طالب الکفیل و مطالبة احدهما لاتسقط حق مطالبته الاخر و بعد مطالبته احدهما له ان یطالب الاخر و یطالبهما معًا (المجلة المـ۶۴۴).

و المعنی ان وقع غریم من غرما ئکم ذو عسرة او انکان المدیون ذا عسرة فنظرة الی میسرة ای فالحکم او الامر انتظار الی یساره ای انظروا یاایها الدائنون الی یسار المدیون ولا تعجلوا بطلبه لانه مظطر فی هذا الباب و بهذه الایة تمسک صاحب الهدایة فی کثیر من المواضع منها ما قال فی کتاب ادب القاضی انه یحبس القاضی المدیون بطلب الغریم فان لم یظهر له مال خلی سبیله یعنی بعد مضی المدة لانه استحق النظرة الی المیسرة فیکون حبسه بعد ذلک ظلما (التفسیرات الاحمدیة صـ۱۷۴) ولایجوز (ای دفع الزکاة) الی صغیر و الده غنی فان کان الابن کبیرا جاز (خانیة بهامش الهندیة صـ۲۶۶ج ۱)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که شل کاله مخکې سرای په بیع وفا

اخیستې وي بیا خرابه سي نو څه حکم لري بیع وفاده که فسخ؟

سوال: د مرکزی دارالافتاء ریاست ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

محترما: یو سړی مثلاً شل کاله د مخه د یو چا څخه سرای په پنځوس زره (۵۰۰۰۰) افغانی په بیع وفاء واخلی په وخت د روسانو کی ئی هجرت وکړ ولاړی بیرته راستون سوي دی وخپل وطن ته او سرای هم خرابه سوي دی (سوال دا دی) چه آیا دغه سړی د مالک د سرای څخه هغه معین (۵۰۰۰۰) زره افغانی اخلی او که به د هغه وخت د مذکور مبلغ معادل د بلې سکې سره پیسی اخلی؟ المستفتی عبدالله)

جواب: که څه هم د دي مسئلی حکم په معتمدو کتابونو کی صراحةً پیدا نسو لکن د بیع وفاء د احکامو څه دانبکاره کیږي چه دغه سړی د هغه خپلو پنځوس زره افغانیو حق لري نه د هغه د معادل قیمت او دا چه اوس سرای خرابه سوی دی نو د هغه پنځوس زره څه به د هغه خرابی په اندازه پیسی کموی مثلاً که د هغه وقت د عقد مطابق لس زره افغانی تاوان ور رسیدلی وو اوس به څلوېښت زره افغانی ځنی اخلی . تفصیل یی دا دی چه دغه عقد که په لفظ د بیعی سره سوی وو او پس د تمامه د عقد یی شرط د وفاء ذکر کړی وو نو په دی ځای کی بیع صحیح گرځی او پوره کول د هغه شرط هم لازم دی او که یی په لفظ د بیعی جائزی یا بیع الوفاء عقد کړی وو یا ئی په وقت کی د عقد شرط د وفاء ذکر کړی وو نو دا بیا بیع فاسده گرځی او اوس یی اقاله ضروری ده . حاصل دا چه اوس چه تاسو سرای دوی ته ورکوی او خپلې پیسې غواړی دا اقاله ده او دا اقاله ضروري هم ده پر تاسو او په اقاله کی د هغه قسم پیسو اخستل او ردّول ضروری دی چه بایع اول واری اخیستی وی که څه هم ناچله سوی وي - او که تاسو دغه عقد په لفظ درهن یا گروی کړی وو او لفظ د بیعی مو قطعًا ذکر کړی نه وو نو ستاسو پیسی د سرای والا یعنی د سرای د مالک سره قرض دی او سرای تاسو ته په گرو پروت دی په دې صورت کی تاسو ته د سرای څه استفاده کول د سکنی دپاره یا نور قسم استفاده حرامه ده او اوس به د سرای مالک تاسو ته د پنځوسو زرو افغانیو معادل قیمت د

کالدارو څه یا بلې سکې څه درکوي د هغه ورځی په قیمت چه شل کاله پخوا تاسو عقد کړی وو.

والصحیح ان العقد الذی جری بینهما انکان بلفظ البیع لایکون رهنا ثم ینظر ان ذکر اشرط الفسخ فی البیع و ان لم یذکرا ذلک فی البیع و تلفظا بلفظ البیع بشرط الوفاء أو تلفظا بالبیع الجائز و عندهماهذالبیع عبارة عن بیع غیرلازم فکذلک و ان ذکرا البیع من غیر شرط ثم ذکر الشرط علی وجه المواعدة جازالبیع و یلزم الوفاء بالوعد کذافی فتاوی قاضیخان (الفتاوی الهندیة صـ۲۰۹ج۳) هکذافی (الفتاوی الخانیة بهامش الهندیة صـ۱۶۵ج۲) (شرح المجلة للاتاسی صـ۴۱۵ج۲) و قیل ان بلفظ البیع لم یکن رهنا ثم ان ذکرا الفسخ فیه او قبله اوزعماه غیرلازم کان بیعا فاسدا و لو بعده علی وجه المیعاد جازولزم الوفاء به لان المواعید قد تکون لازمة لحاجة الناس و هوالصحیح کما فی الکافی و الخانیة و اقره خسروهنا و المصنف فی باب الاکراه و ابن الملک فی باب الاقالة بزیادة (الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۲۷۴ج۴) وفی حظر الاشباه لایلزم الوعد الا اذاکان معلقا و فی بیع الوفاء کما فی کفالة البزازیة (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۳۹ج۱) فالواجب علی کل من العاقدین فسخ البیع الفاسد لازالة الفساد لان البیع الفاسد معصیة (ردالمحتار) (دررالحکام صـ۳۹۶ج۱) رجل اشتری شیئا و تقابضا ثم کسدت الدراهم ثم تقایلا فانه یردّ تلک الدراهم الکاسدة کذافی الخلاصة (الفتاوی الهندیة صـ۱۵۹ج۳) فعلی هذا اذا تقایل المتبایعان البیع بعد قبض ثمن المبیع فیجب رد مثل الثمن او مقداره الذی اتفق علیه حین العقد ولوکان المقبوضّ أجود او أدنی من ذلک و لا فائدة فی ان یشترط حین الاقالة ان یدفع الثمن من جنس آخر اوینتقص للندامة او لاسباب اخری او ان یزاد الثمن او یرد بدل غیره اویؤجل ..... لان حقیقة الفسخ رفع الاول بحیث یکون کأن لم یکن

فعلی ذلک تثبت الحال الاولی و ثبوت هذه الحال یقتضی رجوع عین الثمن لمالکه الاول و عدم دخوله فی ملک البائع (ردالمحتار) ﴿ دررالحکام صـ۱۷۲ج۱ ﴾ ولو عقد بدراهم فکسدت ثم تقایلا ردالکاسد کذافی الفتح (نهر) . . . . . . و حقیقة الفسخ لیس الارفع الاول کأن لم یکن فیثبت الحال الاول و ثبوته برجوع عین الثمن الی مالکه کأن لم یدخل فی الوجود غیره و هذا یستلزم تعین الاول و نفی غیره من الزیادة و النقص و خلاف الجنس آه ﴿ ردالمحتار صـ۱۶۵ج۴ ﴾ نقل فی الدرعن التهذیب انه یکره للمرتهن ان ینتفع بالرهن و ان اذن له الراهن قال فی المنح لانه اذن له فی الربا لانه یستو فی دینه کاملا فتبقی له المنفعة فضلاً فیکون ربا و هذا امر عظیم . . . . . و الغالب من احوال الناس انهم انمایریدو. عند الدفع الانتفاع ولو لاه لما اعطاه الدراهم و هذا بمنزلة المشروط لان المعروف کالمشروط و هو مما یعین المنع ﴿ شرح المجلة للاتاسی صـ۱۹۶ج۳ ﴾ هکذافی ﴿ امدادالفتاوی صـ۱۰۷ج۳ ﴾ .

وفی البزازیة عن المنتقی غلت الفلوس او رخصت فعند الامام الاول و الثانی اولا لیس علیه غیرها و قال الثانی ثانیا علیه قیمتها من الدراهم یوم البیع و القبض و علیه الفتوی و هکذافی الذخیرة و الخلاصة عن المنتقی و نقله فی البحروا قره فحیث صرح بان الفتوی علیه فی کثیر من المعتبرات فیجب ان یعول علیه افتاء و قضاء و لم أرمن جعل الفتوی علی قول الامام ﴿ ردالمحتار صـ۲۶ج۴ ﴾ رساله تنبیه الرقود ۔ مجموعة رسائل ابن عابدین صـ۶۰ج۲ ﴾ ﴿ والاتاسی صـ۱۶۳ج۲ ﴾ لوکان بعض المبیع قد تلف صحت الاقالة فی الباقی ﴿ المجلة المـ۱۹۵ ﴾ لان هلاک بعضه یمنع الاقالة بقدره اعتبارا للجزء بالکل ﴿ اتاسی صـ۸۰ج۲ ﴾ اذا کانت قیمة المال المبیع بالوفاء مساویة للدین و هلک المال فی یدالمشتری سقط الدین بمقابلته ﴿ المجلة المـ۳۹۹ ﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

سيدان اوفاروقيان په بيت المال کي حق لري کنه؟

سوال: سادات کرام او حضرات فاروقی په بیت المال کی څه برخه لري او کنه ؟
(بينوا توجروا)

جواب: سادات کرام که چیری فقراء وه نو د فقر په وجه په بیت المال کی حق لري او هغه په دې طریقه سره چه غنیمت د کفارو څخه ونیول سی نو د غنیمت پنځمه حصه به ۳ ځایه سی یوه حصه به د یتیمانو وي بله حصه به د مسافرینو وي بله حصه به د عامو مساکینو وي لکن په مساکینو کی د ذوی القربی حق تر مخه دی همدارنګه په یتیمانو او مسافرینو کی دذوی القربی حق تر مخه دی او اغنیاء د ساداتو حق نلري په بیت المال کی زمونږ په مذهب کی او مراد د ذوی القربی څخه بنوهاشم او بنوطالب دی نه نور.

اما الخمس فيقسم على ثلاثة اسهم سهم لليتامى و سهم للمساكين و سهم لابن السبيل يدخل فقراء ذوى القربى فيهم ويقدمون و لايدفع الى اغنيائهم فماذكر الله تعالى فى الخمس فانه لافتتاح الكلام تبركا باسمه (الفتاوى الهندية صـ۲۱۴ج ۲) قال الحنفية تقسم (اى خمس الغنيمة) على ثلاثة اسهم سهم لليتامى و سهم للمساكين و سهم لابناء السبيل ..... و سهم ذوى القربى كانوا يستحقونه فى زمن النبى ﷺ بالنصرة له و بعدو فاته بالفقر لانقطاع النصرة (الفقه الاسلامى صـ۵۹۰۲ج ۸ ط جديد) و قدم فقراء ذوى القربى من بنى هاشم منهم اى من الاصناف الثلاثة عليهم لجواز الصدقات لغير هم لالهم و لا حق لاغنيائهم عندنا (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۲۵۸ج ۳) و حاصله انه كما سقط سهمه ﷺ بموته عندنا سقط سهم ذوى القربى بموته

ایضًا لفقد علة استحقاقهم حتی قال الطحاوی لا یستحق فقیر هم ایضًا لکن الاول و هو قول الکرخی اظهر ﴿ردالمحتار صـ۲۵۹ج ۳﴾ المراد بهم (ای بذوی القربی) هنا بنو هاشم و بنو المطلب ﴿ردالمحتار صـ۲۵۸ج ۳﴾ هکذا فی ﴿الفقه الاسلامی صـ۱۹۰۱ج ۸ط جدید﴾ اعلم ان عبدمناف وهو الاب الرابع للنبی ﷺ اعقب اربعة وهم هاشم و المطلب و نوفل و عبدشمس ثم هاشم اعقب اربعة انقطع نسل الکل الاعبدالمطلب فانه اعقب اثنی عشر تصرف الزکوة الی اولادکل اذا کانو امسلمین فقراء الا اولاد عباس و حارث و اولاد ابی طالب من علی و جعفر و عقیل قهستانی ﴿ردالمحتار صـ۷۲ج ۲﴾ (او حضرات نه بنوهاشم دي او نه بنومطلب)

دنابرآن سلسلۂ حضرت فاروق اعظم ﷺ به پشت ہشتم به جناب رسول الله ﷺ می پیوندند ﴿الفاروق ص ۲۵حصہ اول﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که دکرایي یاسرقلفي دکان نړبړي کرایه دارحاضرنه وي مالک کولای چې دمعتمدشخص په حضوردکان دجوړیدولپاره مات کړي اودهغه مال حساب کړي ؟

سوال : در ملکیت خویش یک باب دکان واقع درکنار پاتاب کوچه ملاولی محمداحد دارم که بیست سال قبل ان رابه کرایه ماه وار بوعده یک سال داده بودم که پیش روی آن بالای کنار پاتاب پل داشت وپل متذکره تخریب گردیده بود وحالا پل را دوباره اعمار کردم وهکذا نیز تخریب گردیده است برای اینکه از تخریب کلی ان جلب گیری گردیده باشد میخواهم آنرا ترمیم کنم واز طرف دیگر یک اندازه سامان امکان دارد از کرایه نشین داخل دکان باقی مانده باشد دکان متذکره فعلاً قلف است ، اُمید وارم هیئت را مؤظف فرموده ودکان را باز و

اشیاء داخل دکان دریک لیست جداگانه ثبت تا به کرایه نشین ویا اقارب نزدیک آن تسلیم داده شود از زمینه همکاری مقام محترم را خواست دارم ؟ ﴿هدایت الله﴾

پورته شخص دکان پخوا په کرایه ورکړی اوس سر قلفي والا یا کرایه نشین نسته دی غواړی دکان خلاص کړی که شرعی جواز و لری مونږ ته ئی شرعی فتوا په هکله معلومات راکړی چه څرنګه وکړو. ﴿مولوی دین محمد (حقبین) نبار روال کندهار﴾

جواب: د دکان د کرایی په صورت کی باید ووایو چه دغه د یوه کال مدة چه تاسو مقرّر کړی وه هغه پای ته رسیدلی ده نو که ضرورت وي یا نوي تا سو کولای سی چه خپل دکان خپل لاس ته راولی او د دوی سامانونه یو معتمد شخص ته ورکړی بلکه که هغه مدة پای ته نوای رسیدلی او د هغه کال ما بین وای لکن د نړیدلو خطر وای نو هم تاسی کولای سوای چه خپل دکان نوی تعمیر یا ترمیم کړی وای لکن هر څو ورځی چه تاسو کار پکښی کړی وای یا ستاسو په لاس کی وای د هغو ورځو اجرة او کرایه به مو د کرایه دار څه نه اخستلای.

لایلزم المستأجر ردالمأجور واعادته بل علی المؤجر أن یأخذه عند انقضاء الاجارة﴿المجلة المـ۵۹۴﴾ اذا انعقدت الاجارة الصحیحة علی المدة او المسافة یلزم تسلیم المأجور للمستأجر علی ان یبقی فی یده متصلا و مستمرا الی انقضاء المدة ﴿المجلة المـ۵۸۳﴾ فاذا اخذها صاحبها بلا اذن تسقط أجرتها عن المدة التی تبقی فیها فی یده کما انه لو اخذها باذن المستأجر تسقط اجرة المدة الی تبقی فیها فی یده ﴿دررالحکام صـ۶۶۷ج۱﴾.

اعمال الاشیاء التی تخل بالمنفعة المقصودة عائد علی الآجر فتطهیر الرحی علی صاحبها کذلک اصلاح الدار و طرق الماء و اصلاح منافذه و انشاء الاشیاء التی تخل بالسکنی و سائر الامور التی تتعلق بالبناء کلها لازمة علی صاحب الدار ﴿المجلة المـ۵۲۹﴾ والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که دچاپربل افغانۍ باندي وي هغه دپوروړي له اجاردارڅخه کلداري واخلي په خپل سرئې وته کړي پوروړۍ دخپلو کالدارو حق ورباندي لري کنه؟

سوال: زه عبدالاحد داسی وایمه چه ما مځکه رانیوله په ۸ زره لکه افغانی د نوراحمد څخه چه مشهور په ګل سره دی وروسته نوراحمد نامی (۶۵۰۰۰۰) شپږ لکه پنځوس زره کلداری زما د اجاره دار څخه په هغه پور کی چه افغانی ئی پرما د مځکی په واسطه باندی وي او ده خپل په خوښه سره و ته کړی ده یعنی هغه کالداری ئی په خپل سر باندی په (۶۲۹) باندی تبادله کړی وي او حساب کړی ئی وي ما په هغه وقت کی ورته وویل چه زه دغه معامله دوتبی چه تا پر خپل سر کړیده نه منمه او چه زه په خبر سومه هم می ورته وویل چه دغه نه منمه اوس زما پر دغه سړی باندی چه نوراحمد نومیږي حق د خپلو کالدارو لرمه که یا ، باید ذکر کړمه چه وته په هغه وقت دغه رنګه وه چه ده کړیده زما بیله اجازی ده دغه وته کړیده اوس زما پر ده باندی حق سته که یا ؟

(المستفتی عبدالاحد)

جواب: دا چه تاسو عقد د بیعی په افغانی کړیدی او هغه بایع بیا ستا د اجاره دار څه کالداری اخیستی او ستا بې اجازې یی تصرف پکښی کړی او په افغانی ئی تبادله کړی دي نو دا تصرف ئی صحیح نه دی بلکه تاسی ته به خپلې کالداری در تسلیموی او اوس چه افغانی ډیره کم قیمته سوی ده نو بایع بیا داحق لري چه ووایی زه د بیعی د ورځی قیمت ده مځکی په کالدارو یا په بله سکه غواړم.

لایجوز لاحد أن یتصرف فی مال الغیر بلا إذنه (المجلة المـ۹۶) فتصرف الغیر فی مال الغیر ممنوع الا انتکون وصایة او ولایة او تدعو ضرورة (اتاسی صـ۲۶۲ج۱) و فی البزازیة عن المنتقی غلت الفلوس او رخصت فعند الامام الاول والثانی او لا لیس علیه غیرها و قال الثانی ثانیا علیه قیمتها من الدراهم یوم البیع و القبض و علیه الفتوی و هکذافی الذخیرة و الخلاصة عن المنتقی و نقله فی البحر و اقره فحیث صرح بان الفتوی علیه فی کثیر من المعتبرات

فیجب ان یعول علیه افتاء و قضاء ولم أرمن جعل الفتوی علی قول الامام (ردالمحتار صـ۲۶ج۴) (شرح المجلة للاتاسی صـ۱۶۳ج۲) (مجموعة رسائل ابن عابدین فی رسالة تنبیه الرقود صـ۶۰ج۲) (المجلة للاتاسی صـ۱۶۳ج۲).

واللہ تعالیٰﷻاعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دپير اومريد ، دذكرونو حلقې ، حركات، اقسام، وغيره په اړه (۶)مهيمي لارښودني

سوال : محترم عالی قدر امیرالمؤمنیـن حفظ الله السلام علیکم ورحمـةالله وبرکاتـهُ ، و بعد قدرمنه د افغانستان د اسلامی امارت په بعضو سیمو کی په نامه د خلیفه گانو داسی خلګ پیداشویدي چه هغه عوام دي په حلقو کی ئی ډیر منکرات موجود دي لکه د لغړزونو ورتګ او رقاصی کیدل نو اوس مونږ ستاسو د عالی حضور څخه دغه هیله کوو چه تاسو و مونږ ته په دی باب خپل حکم وکړی چه څه اجرأات وکړو ؟

(د امربالمعروف و النهی عن المنکر وزیر (مولوی محمدولی صاحب)

د کندهار دارالافتـاء او شـوری علمـاء کرامـو تـه الـسلام علـیکم ورحمـةالله وبرکاتـهُ د امـر بالمعروف وزارت پیشنهاد تاسو ته راجع سوو تاسی پـه ګـډه یو داسـی شرعی طریقـه ورتـه جوړه کړئ چه په په آینده کی ئی دوی خپله لائحه هم وګرځوی ؟

﴿امیرالمؤمنین ملامحمد عمرمجاهد﴾

جواب : په دې مسئله کی څو خبرې ډیرې ضروري دي

﴿اوله خبره داده﴾ د صحیح او واقعی شیخ د پاره دغه پنځه شرطه ضروری دي

(اول) عالم به وي د عالم څخه مطلب دا نه دی چه مدرّس ملا او په ټولو فنونو به خبر وي بلکه مطلب دا دی چه هغه ضروریات د عقائدو او د دینی مسائلو به ورتـه معلوم وي کـه یـی دکتابه زده کړی وي او که یی د نورو علماؤ په صحبت کی زده کړی وي

(دوهم) پرهیزګاره به وي یعنی د خپل طاقت سره سم به کوشش کوی چه کبیره ګناه و نکړی او پر صغیره ګناه باندی اصرار او دوام ونه کړی

(دریم) کوم عبادات او سنن مؤکده چه ثابت دی په شریعت کی پر هغو به مواظبه کوی د خپل طاقت سره سم او تارک الدنیا به وي د تارک االدنیا مطلب دا نه دی چه کار او کسب به نه کوي بلکه د نفقی پیدا کول په خپل کسب لوی عبادت او د ضروریاتو څخه دی د تارک الدنیا مطلب دا دی چه داسی به نه وی چه دنیا جمع کوی د ټولو ضروریاتو څخه زائده یا دا

چه شرعي حقوق د دنيا څخه نه اداکوي لکه زکوة و غيره يا دا چه په غير جائزه طريقه دنيا جمع کوي.

(**څلورم**) خپلو مريدانو او متعلقينو ته به د شريعت د إتباع أمر کوي يعنی د واجباتو او سنن مؤکدة‌د اداکولو امر کوي او د محرّماتو څخه به يې منع کوي.

(**پنځم**) دغه شيخ به د يو بل واقعي شيخ سره وخت تير کړی وي د هغه څخه به يې باطني علم زده کړی وي او اجازه د خلافت به يې ورته کړی وي.

(**دوهمه خبره داده**) دغه څلور سره طريقې لکه (قادريه) (نقشبنديه) (چشتيه) (سهرورديه) او همدا راز نورې طريقې لکه (شاذليه) (کبرويه) (غزاليه) وغيره دا هغه طريقې دي چه په هره يوه کی ډير لوی مشايخ او مستند علماء او اکابر د دين اسلام تير سوي دي او هره طريقه ځان ته خپل اصول او أداب لري پر هغه اصولو او أداب باندي اعتراض کول په حقيقت کی پر هغه مشايخو اعتراض کول دي او يو څوک چه شيخ وي هغه به د خپلې طريقې أصول حتماً مراعت کوی مثلاً ده نقشبنديه طريقې په اصولو کی ذکر دی په خفی ډول نو که يو څوک دعوی د نقشبنديه کوي لکن ذکر جهری کوي هغه بايد اصلاح سی ځکه د اصولو په مخالفت سره د طريقې بدنامی راځی او په قادريه شريفه کی ذکر جهری ثابت دی نو که څوک پر هغه اصل او پر هغه طريقه جهری ذکر کوي پر هغه بايد قطعًا اعتراض و نسی پر هر شيخ باندی د خپلې طريقې د اصولو مراعت کول ضروری دي.

(**دريمه خبره داده**) لغړزنو ته بيعت ورکول ذکر ورکول او د مشايخو په مجالسو کی کښينستل جائز بلکه ښه کار دی او د مشايخو عظامو څخه ثابت دی بلکه بيعت ورکول ښځو ته هم جائز او ثابت دي په شرط د لحاظولو د هغه خپلو شرائطو لکه عدم خلوة عدم نظر عدم مس د لاس په وخت کی د بيعت او دا په دې سبب چه لغړزنی که بالغ وي يا مراهق وي نو هغه مجبور دی چه دين به زده کوي او خپل اخلاق به اصلاح کوي د مشايخو په مجلس کی او که د داسی ځايو څخه منعه سی نو هغه به بيا د فساقو مجلس ته رجوع و کړی چه نور به هم فاسد سی بلکه سبب د کبائرو گناهونو به و گرځی لکن که يو څوک ناجائز تعلق ورسره ساتی يا لغړزنی هلته ناجائز حرکات کوي نو هغه بالکل ناروا دی او هغه يوازی په پيرانو پوری اړه

نلري بلکه يو ملا چه سبقان وايي يا يو رياست وي يا داسی نور د دي ټولو په مجلسو کی دا کار حرام دی.

(څلورمه خبره داده) مستفتي بايد دا واضحه کړي چه ده رقاصی څخه يی څه مطلب دی او کوم کيفيت او حرکت يی مراد دی مونږ دونه ويلای سو چه وجد او جذب د مشايخو څخه بالکل ثابت دی چه دی ته سکر وايی د مشايخو په اصطلاح لکن جذب هغه ته وايی چه يو څوک يو فعل يا يو حرکت وکړی لکن دی پکښی بی اختياره وي او هغه فعل او حرکت په غير اختياری ډول څنی صادر سی لکن که په خپل اختيار يی داسی حرکتونه يا داسی افعال کول چه يا د شريعت څخه مخالف وي يا د طريقت د اصولو څخه مخالف وي يا سبب د توهين گرځی د پيرانو او مريدانو نو داسی افعال او داسی خلق بايد اصلاح سی او نفس جهری ذکر او حلقه کول د خپلی طريقی د اصولو مطابق هم جائز هم ثابت دی که يی لمونځ کوونکی يا خوب کوونکی د لمانځه او د خوب څخه نه ايستل د دي څخه دا هم معلومه سوه چه د غه حلقي او ذکرونه په گويا کی کول جواز نه لري ولی سبب د آزار گرځی د مسلمانانو او دا هم بايد ووايو چه د ټولو طريقو د أصولو بيان دلته نسی کيدلای بلکه د موقع او د پيښی په وخت کی بايد هغه جزئيه علماء کرامو ته پيش سی او د تصوفو پر کتابو عرض سی او بيا مناسب اقدام وسی.

(پنځمه خبره داده) زمونږ په عصر کی واقعًا د پيرانو په نامه خلق سته چه ډير أتباع هم لري او په هغوی کی هغه شروط نه دي برابر يا نور منکرات پکښی دی او د هغو اصلاح ضرور ده لکن د اصلاح دپاره دا ضروری ده چه پر شرعی طريقه اصلاح سی هغه داسی چه اول شرعی مسائل ورته پيش سی بيا که دفعه نسوه نو په ډير حسن خلق دی توصيه ورته وکړه سی بيا که نه وسوه يو لږ تهديد د حبس دی ورکول سی لکن بندی دی نسی بيا که نه وسوه بيا نو بندی سی د اول واری څخه بندی کول يا توهينول يا تيزی خبری ورته کول پخپله يو حرام کار دی ولی دی او د ده اتباع ټول متنفر کيږی د اسلامی امارت څه بلکه د عامو طالبانو او علماء څخه يی نفرت کيږي او نعوذبالله بد ويل کوي چه دا خبره کفر ته مفضی کيږي او هغه امر بالمعروف چه سبب د ډيری گناه گرځی هغه خپله حرام عمل دی چه دلائل به يی راسی

(شپږمه خبره داده) ډیر احتیاط باید وسی چه په دی مسائلو کی نباید بنه خلق یا واقعی خلق أزار نسی او زهیر نسی یا پر لږ معمولی خبرو یا صغائرو گناهو باندي ډیر تهدید و نسی یا دغه اصلاح او امربالمعروف په غیر شرعی طریقه و نسی چه دا د عظیمی بدبختی سبب دی او د دنیا او آخرت خطر لري.

(د اولی خبری دلائل او حوالی) مرید شدن از آن کس درست است که در آن پنج شرط محقق باشد .

(شرط اول) علم کتاب وسنت رسول داشته باشد خواه خوانده باشد خواه از عالم یاد داشته باشد.

(شرط دوم) آنکه موصوف بعدالت وتقوی باشد واجتناب از کبائر وعدم اصرار بر صغائر نماید.

(شـرط سـوم) آنکه بی رغبت از دنیا وراغب در آخرت باشد وبر طاعت موکده واذکار منقوله که در احادیث صحیح آمده اند مداومت نماید.

(شرط چهارم) انکه امر معروف و نهی از منکر کرده باشد.

(شرط پنجم) آنکه از مشائخ این امر گرفته باشد وصحبت معتد بها ایشان نموده باشد. الخ

(فتاوی عزیزی صـ۱۰۳ج۲) هکذا فی (احکام القرآن للتهانوی صـ۵۵ج۵) (خیرالفتاوی صـ۳۲۱ج۱) (فتاوی محمودیة صـ۱۳۱ج۱) (قطب الارشاد صـ۵۲۷).

اعلم ان شرط من یأخذ البیعة أمور أحـدها علم الکتاب والسنة ولا أرید المرتبة القصوی . . . . . ولا یکلف بحفظ القرآن ولا الفحص عن حال الاسانید . . . . . ولا بعلم الاصول والکلام وجزئیات الفقه والفتاوی الخ (احکام القرآن للتهانوی صـ۵۵ج۵) واختلفوا فی حد الاصرار علی الصغیره فالجمهور علی انه غلبة المعاصی علی الطاعات وهو المعتمد (قطب الارشاد صـ۱۱۷) کل ما فیه حظ عاجل ولا ثمرة له فی الاخرة اصلا کالتلذذ بالمعاصی کلها والتنعم بالمباحات الزائدة علی قدر الحاجات . . . . . فحظ العبد من هذا کله هی الدنیا المذمومة (احیاء علوم الدین صـ۲۱۹ج۳).

(د دوهمی خبری دلائل) تنبیه قال الشیخ العارف بالله ابو اسحق ابراهیم ان الطرق الی الله تعالی کثیرة (کالشاذلیة) و (السهروردیة) و (القادریة) الی غیر ذلک حتی قال بعضهم انها بعدد انفاس الخلائق..... فالاخذ عن الطرق الکثیرة حسن بلاریب لما فیه من التعلق با ذیال الاخیار و التوسل بجناب الابرار وجمیع الطرق التی حصل لی الاجازة بطرائق المشایخ الصوفیة نفعنا الله تعالی ببرکاتهم و افاضّ علینا من فتوحاتهم ثلثة و ثلثین ولله الحمد وها آنا الان اشرع فی ذکر اسانیدی الی المشایخ الصوفیة فی هذه الطرق (قطب الارشاد صـ۵۴۴).

آری بعضی از خلفائی متأخرین این طریقه علیه درین طریق نیز احداثها نموده اند وروش اصل اکابر را از دست داده جمعی از مریدان ایشان اعتقاد آن دارند که باین محدثات تکمیل این طریقه نموده اند حاشا وکلا (کبرت کلمة تخرج من افواههم) بلکه در تخریب و تضیع آن کوشیده اند افسوس هزار افسوس بعضی از بدعتها که درسلاسل دیگر اصلاً موجود نیست درین طریقۂ علیۂ احداث نموده اند (مکتوبات شریف مکتوب نمـ۱۳۱ج۱) مکتوب جهلم..... دربیان اذکار بعضی طریقها مثل (شاذلیه) و (غزالیه) و (خلوتیه) و (سهروردیه) و (طیفوریه) و (نقشبندیه) و (فردوسیه) و (رفاعیه) و (همدانیه) وغیرها وملاناسب ذلک (مکتوبات حضرت میا فقیرالله شکارپوری رحمة الله تعالی ص۱۲۳)

ذکر جهر ہر طور سے جائز ہے کسی کو کسی طور سے منع نہیں کرنا چاہیں (خیر الفتاوی صـ۳۴۹ج۱).

(د دریمی خبری دلائل او حوالی) وینظر الرجل من الرجل و من غلام بلغ حد الشهرة مجتبی ولو امرد صبیح الوجه الدرالمختار قال فی الهندیة و الغلام اذا بلغ مبلغ الرجال و لم یکن صبیحا فحکمه حکم الرجال و انکان صبیحا فحکمه حکم النساء..... فا ماالخلوة و النظر الیه لاعن شهوة فلا بأس به و لذالم یؤمر بالنقاب کذافی الملتقط (ردالمحتار صـ۲۳۳ج ۵ ط بیروت) اما

بیعة النسـاء فبأن یأخذ الشیخ طرف ثوب و التی تبایع طرفه الاخر والله اعلم (احکام القرآن التهانوی ص۵۹ ج ۵) .

وبیعت آنحضرت علیه و علی آله الصلوة والسلام بنساء بمجرد قول بوده است و هرگز دست آنحضرت علیه و علی آله الصلوة والسلام بدست نساء بایعات نرسیده است وچون ذمائم وا خلاق ردیه در نساء نسبت برجال بسیار بوده است بناء بران دروقت بیعت نساء شرائط زایده بربیعت رجال درمیان اورده است (مکتوبات شریف مکتوب نمبر۴۱ حصه ۸) حضرت مولانا قاضی ثناءالله پانی پتی هژده ساله بودند که فراغ از تحصیل علم ظاهر و خلافت طریقه یافته باشاعت علم و فیض باطن پرداختند (مقدمه ارشاد الطالبین لقاضی ثناءالله پانی پتی رحمة الله تعالی علیه ص ـ ۴) و درباره حضرت قطب الاقطاب خواجۂ قطب الدین بختیارکاکی اوشی قدس سره فرموده اند - دراندک زمانی کار حضرت خواجه بالاگرفت وازنظر تربیت پیر روشنضمیر بکمالیت مردان رسید ودران حین آن حضرت هفتده ۱۷ ساله وجوان بود هنوز محاسن برنیا ورده بود که خلافت یافت وخرقه پوشید (سـیرالاقطاب ص ـ ۱۴۴) حـضرة العـالم الفاضل و الشیخ الکامل الشیخ احمد سعید قدس سره تلقن الطریقة العلیة عن و الده فی حضور المرشد المعظم فالتفت الیه و القی اکسیر نظره العالی علیه و جعل یقربه و یجلسه فی حلقة الذکر منذکان سنه عشر ۱۰ سنین الخ (الحدائق الوردیة فی حقائق اجلاء النقشبندیة ص ۲۱۹) حضرة سیدنا امام ربانی صاحب قدس سره - اشتغل بالطرقالثلاث (القادریة) و (والچشتیة) و (السهروردیة) علی والده قدس الله سرهما حتی اذن له بالارشاد و الاستخلاف فی الطرق المنوّه بها وهو ابن سبعة عشر ۱۷ سنة الخ (الحدائق الوردیة ص ۱۷۹) و امثال هذا کثیرة جدّا لایشک فیه من له ادنی مطالعة فی کتب القوم .

(د خلورمې خبرې دلائل او حوالې) حقیقت ذکر جهر - وحق آنست که انکار آن سفاهت واضح است . . .
. . وبناء طریقة (چشتیه) و (اویسیه) و (قادریه) که همه پیران ما اند برذکر جهر است حکم بآنکه فعل حرام است موجب قرب الٰهی نمیشود باطلست بلکه ذکر جهر موجب جمعیتی است که بالاتر ازان جمعیتی نیست (فتاوی عزیزی حضرت شاه عبدالعزیز صاحب قدس سره ص ۱۷۰ ج ۱)

ذکر جہر ہر طور سے جائز ہے کسی کو کسی طور سے منع نہیں کرنا چاہیئے ذکر کسی ہیئت کی ساتھ نہیں بلکھ بوجہ اطلاق ادلہ مطلق ہیں خواہ منفرد ہویا مجمع حلقہ باندہ کریا صف باندہ۔ کریا کسی اور صورت سے کہڑی ہوکر یا بیٹھ۔ کر غرضیکہ کوئی ہیئت ہو جائز ہے۔۔۔۔۔ البتہ اس میں اس بات کا خیال ضرور ہیں کہ یہ جواز اس شرط کی ساتھ ہے کہ کسی نائم یا نمازی کو اذیت نہ ہو (خیر الفتاوی ص۳۴۹ج۱) پس ثابت ہوا کہ ذکر جہر ہر طور سے جائز ہے کسی کو کسی طور سے منع نہ کریے (امداد الفتاوی ص۔۱۵۴ج۵).

هل ندب الاجتماع للذكر و التسبيح و التحميد و التكبير و يستحب الحلقة لها ام لا اقول نعم ندب الاجتماع لها و يستحب الحلقة و يكره المفارقة عنها الخ (مكتوبات ميا فقير الله صاحب قدس سره صـ۳۴۶) و اما تحريك الرأس فقط يمنة و يسرة تحقيقا لمعنى النفى و الاثبات فى لااله الاالله فالظن الغالب جوازه بل استحبابه اذا كان مع النية الصالحة فيخرج عن حد العبث و اللعب فيكون فعلا دالاعلى التوحيد مقارنا للقول الدال عليه فيكون كلمة ككلمتين و اصله رفع المسبحة فى الصلوة فى التشهد عند اشهد ان لااله الاالله وقد روى فى الصحاح عن النبى ﷺ مع ان الصلوة موضع سكون ووقار حتى كره فيها الالتفات (طريقه محمديه صـ۲۶۸ج۲) سپیکر پر ذکر جائز نہین (خیرالفتاوی صـ۳۵۰ج۱) و اعلم ايضًا ان الوجد ينقسم الى هاجم و الى متكلف و يسمى التواجد و هذالتواجد المتكلف فمنه مذموم و هوالذى يقصد به الرياء و اظهار الاحوال الشريفة مع الافلاس منها و منه ما هو محمود و هو التوصل الى استدعاء الاحوال الشريفة و اكتسابها و اجتلابها بالحيلة.

(احياء علوم الدين صـ۲۹۵ج۲) الرخصة فيما ذكر من الاوضاع عند الذكر و السماع للعارفين الصارفين او قاتهم الى احسن الاعمال..... اذا غلب عليهم الوجد بغلباته..... فمنهم من طرقته طوارق الهيبة فخرّ و ذاب و منهم من برقت له بوارق اللطف فتحرك و طاب و منهم من طلع عليه الحب من مطلع القرب فسكر و غاب هذا ما عنّ لى فى الجواب (ردالمحتار صـ۳۰۸ج۳ ط بيروت).

(د پنځمې خبرې دلائل او حوالې) فعلى الوعاظ و المفتين معرفة احوال الناس و عاداتهم في القبول و الرد و السعي و الكسل و نحوها فيتكلمون بالاصلح و الاوفق لهم حتى لا يكون كلامهم فتنة للناس و كذا الامر بالمعروف و النهي عن المنكر اذ قد يكون سببا لزيادة المنكر او اصابة مكروه لغيره فيكون آثما (طريقه محمدية صـ۸۵ج۲) قوله او اصابة مكروه لغيره بان يغضب المامور و المنهي فيضرب او يشتم احدا من الناس غيظا من الآمر و الناهي فيكون ذلك الامر بالمعروف و النهي عن المنكر اثما اى موجبًا لاثم اى ذنب فيكون حراما على فاعله لانه يؤدي الى ارتكاب فعل حرام (حديقه بهامش طريقه محمدية صـ۸۵ج۲) الاحتساب وله درجات و اداب اما الدرجات فاولها التعرف ثم التعريف ثم النهي ثم الوعظ و النصح ثم السب و العنف ثم التغيير باليد ثم التهديد بالضرب ثم ايقاع الضرب و تحقيقة ثم شهر السلاح ثم الاستظهار فيه بالاعوان و جمع الجنود (احياء علوم الدين صـ۳۲۹ج۲) و يجب ان يكون فيه (اى فيمن يأمر و ينهى) ثلاث خصال رفق فيما يأمر به و ينهى عنه فان الغلظة لا تزيد الافسادا و حلم في ذلك عما يقال له و فقه كيلا يصير امره منكرا (متن شرح شرعة الاسلام صـ۵۰۲).

لان الحسبة ربّما كانت ايضًا منكرة لمجاوزة حد الشرع فيها و ما ذكر المصنف رح معنى قوله ﷺ لا يأمر بالمعروف و لا ينهى عن المنكر الا رفيق فيما يأمر به و رفيق فيما ينهى عنه و حليم فيما يأمر به و حليم فيما ينهى عنه و فقيه فيما يأمر به و فقيه فيما ينهى عنه (شرح شرعة الاسلام صـ۵۰۳) قال رسول الله ﷺ ان الله رفيق يحب الرفق و يعطي على الرفق ما لا يعطي على العنف و ما لا يعطي على ما سواه رواه مسلم و في رواية له قال لعائشة رضي الله عنها عليك بالرفق و اياك و العنف و الفحش ان الرفق لا يكون في شئ الازانه و لا ينزع من شئ الاشانه (مكتوبات شريف مكتوب نمـ۹۸ حصۂ دوهم).

(د شپږمې خبرې دلائل اوحوالي) خواجه عبدالله انصاری میفرمایند آلهی هر که راخواهی براندازی بامادراندازی.بیت ترسم ان قوم که بردُردکشان میخندند۔ بر سرکار خرابات کنند ایمان را حق سبحانه وتعالی کافۂ اهل اسلام را از انکار فقراء وطعن درایشان نگاهدارد(مکتوب شریف نم۔۱۱۸ج۱ حصۂ دوم) بغض این طائفه سم قاتل است وطعن ایشان موجب حرمان ابدی است (مکتوب شریف نم۔۱۰۲ج۱ حصۂ دوم)

ینبغی لکل ذی عقل و دین ان لایقع فی ورطة الانکار علی هؤلاء القوم فانه السم القاتل کما شوهد ذلک قدیما و حدیثا..... قال بعض العارفین من رأیتموه یؤذی الاولیاء و ینکر مواهب الاصفیاء فاعلموا انه محارب لله مبعد مطرود عن حقیقة قرب الله....... ویکفی فی عقوبة المنکر علی الاولیاء قوله ﷺ فی الحدیث الصحیح من آذی لی ولیا فقد آذنته بالحرب ای اعلمته انی محارب له و من حارب الله لایفلح ابدا الخ (الفتاوی الحدیثیة ص۳۳۱)

طعن و تجسس عیوب بزرگان وکبر وافساد درمیان جماعتی از مسلمانان از اقبح خصال واعمالست قال الله تعالی ﷻ(ویل لکل همزة لمزة) یعنی وای مر هر طاعن وعیب چین را (فصل الخطاب بین الخطاء و الصواب ص۲۵) کلام درآنست که شیخ صاحب است قامت وتقوی است اگردر عمری چیزی ازوی ظاهر شود که مخالف شرع باشد دران صورت بر شیخ اعتراض نکند بلکه تاویل کند اگر تواند بر عذر محمول کند واگرقول باشد حمل کند بر سکر یا بر مجاز یا برعدم دریافت معنی واگر البته معصیت باشد تا هم آن ولی را انکار نکند بلکه آن عمل راانکارکند که بزرگان گفته اند القطب قدیزنی ..... ماعز ﷺ که از اصحاب رسول الله ﷺ بود ازوی بزورتقدیرزنا واقع شده اورا حق تعالی بتوبه توفیق داد که خود رجم کنانید واگر شخصی است که شعار او فسق است پس اوالبته ولی نیست پس تأویل قول وفعل او ضرور نیست.

(ارشاد الطالبین لقاضی ثناء الله پانی پتی ص۲۷)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که دچاپه کښت اوښان ګډ سي، مالک اوښان راولي داوښانومالک نه پيداکيږي؟که داوښانودخرڅولو، مالک ته دپيسو ورکولوحکم وي نودساتنې د ورځومصرف به له مالکه اخلي کنه؟

سوال : محترما : مونږ د منصور د غنډي مقام کلي بمبلي ده رجب د کليو اوسيدنکي څومُده مخکښې د نامعلومو اشخاصو اوښان زمونږ د کليو غنمان و خوړه او زمونږ د کليو خلګو أولسوالي د ډنډ ته خبر ورکړي او د ولسوالي پخواني قاضي صاحب امر ورکړ چه ساروانان ورته ونيسي او بيا به د اوښانو د خاوندانو څخه به ئي تاوان درواخلو د هماغه اوښانو د جملي څخه اوس تقريبًا اولس ۱۷ داني اوښان پاته دي چه خاوندان ئي نه پيداکيږي مونږ اوس د ولسوالي مقام ته عارض سو چه د ذکر سوي اوښانو په باب مونږ ته فيصله راکړي د ولسوالي قاضي صاحب راته وويل چه زه به د تميز د عالي رياست سره معلومات او خبره وکړم اوس دوې ورځي کيږي چه اوښان مونږ و ښار ته راوستلي دي ساروانان او مزدوران ورته ناست دي د بل په سراي کښي موقت چوک کړيدي او مونږ ډير ورسره په عذاب يو که د فيصلې د حل په مقصد دتميز په رياست امر راکړي ډيره مهرباني به مو وي ؟

جواب : محترمه تاسي بايد خپلې محکمې ته مراجعه وکړئ ستاسو د محکمې د قاضي صاحب په امر دي دغه اوښان خرڅ کړه سي او هغه پيسي دي و ساتل سي هر وقت چه يي مالک پيدا سو هغه ته دې دغه پيسي و سپارل سي او د هغه وخته څه چه تاسو ته قاضي صاحب امر کړي چه ساروانان ورته و نيسي د هغه وروسته چه هر څه مصرف ستاسو پر دغه اوښانو سوي وي د هغه مصرف حق تاسي د اصلي مالکانو څخه اخستلای سي خو په دې مسئله کی ډير احتياط ضروري دی چه اوښان بايد په مناسب قيمت خرڅ کړه سي او پيسي بايد په ډير ښه ډول وساتل سي چه خپل مالک ته ورسيږي او د هيڅ چا حق او مال بايد ضائع نسي.

وهو في الانفاق على اللقيط واللقطة متبرع لقصور ولايته الا اذا قال له قاضٍ انفق لترجع فلو لم يذكر الرجوع لم يكن دينا في الاصح (الدرالمختار

بهامش ردالمحتار صـ۳۵۲ج ۳) و انكان لها نفع آجرها باذن الحاكم...... و ان لم يكن باعها القاضي و حفظ ثمنها و لو الانفاق أصلح امر به لان ولايته نظرية اختيار فلو لم يكن ثمة نظر لم ينفذ امره به الدرالمختار قوله و لو الانفاق اصلح الخ قالو انما يأمر بالانفاق يومين او ثلاثة على قدر مايرى رجاء ان يظهر مالكها فاذا لم يظهر يأمر ببيعها لان دارة النفقة مستأصلة فلا نظر في الانفاق مدة مديدة (ردالمحتار صـ۳۵۳ج ۳) هكذا في (الهداية صـ۵۹۲ج ۲) و ان لم تكن لها منفعة او لم يجد من يستأجرها و خاف ان تستغرق النفقة قيمتها باعها و أمر بحفظ ثمنها كذافي فتح القدير (الفتاوى الهندية صـ۲۹۰ج ۲)

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که دملک له حاکم سره دعوه وي تر درو محاکموزيات حق لري کنه؟

سوال: محترم رئيس صاحب د دارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهُ.

محترما: په دا لاندي سوال کښي د شرعي مذهبي فقه حنفي فتوی غوښتونکی يم، سوال زمونږ د اميرالمؤمنين سره پر مځکه باندی دعوی ده نو دی محترم زمونږ سره د ۳ محکمو حق لري او که اضافه هم لري ؟

(عبد السلام ولد حاجي لعل محمد)

جواب: هر هغه حکم چه د شرعی محاکمو له خوا صادر او بيا تائيد سی او خپل شرعی شرائط ټول پکښي موجود وي نو هغه حکم صحيح او نافذ گرځی او نقض يی نه دی جائز نو که بله محکمه د دغه حکم لپاره جوړيږي يا و بلې محکمې ته حواله کيږي او هغه تائيد د دغه حکم کوي نو پروا نه لري او که هغه نقض د دغه حکم کوي او حال دا چه شرعی شرائط ټول په دغه صادر شده حکم کی موجود وي نو دغه نقض جواز نه لري حال دا چه اميرالمؤمنين

کولای سی چه د خپل اطمینان لپاره بله محکمه جوړه کړی لکن نوی محکمه به پخوانی د شرعی شرائطو سره سم حکم نه نقض کوی بلکه تائید به کوي.

احکم القضاة تصان عن الالغاء و الابطال فاذا صدر الحکم مستوفیا شرائطه الشرعیة لایسوغ نقضه (الفتاوی المهدیة صـ۲۲۹ج ۳) لایجوز رؤیة و سماع الدعوی تکرارًا التی حکم و صدر اعلام بها توفیقا لاصولها المشروعة ای الحکم الذی کان موجودا فیه اسبابه و شروطه (المجلة المـ۱۸۳۷) سئلت مرارا عدیدة عن حکم القاضی المستوفی لما یطلب فیه شرعا هل ینقض فاجبت بما فی الخیریة من اول القضاء لایجوز نقضه بعدا نبرامه و استیفاء شرائطه و احکامه سواء کان متفقا علیه او مختلفا فیه اختلافا فی محل یسوغ فیه الاجتهاد (الفتاوی الکاملیة صـ۱۰۶) سئل فی حکم القاضی اذا کان بعد دعوی صحیحة شرعیة و شهادة مستقیمة و انفصل الحال علی ذلک المنوال هل یلزم ولا یجوز نقضه ولا استئناف الدعوی ام لا اجاب لایجوز نقضه بعدا نبرامه و استیفاء شرائطه و احکامه سواء کان متفقا علیه او مختلفا فیه اختلافا فی محل یسوغ فیه الاجتهاد...... وهذا مما اجتمعت علیه الامة و اتفقت علیه الائمة و مع ارتفاع الخلاف کیف یسوغ الاسئناف (الفتاوی الخیریة صـ۲ج۲) الاصل فی القضاء انیکون علی درجة واحدة...... ولکن ...... جری العمل حدیثا علی تعدد المحاکم ولا مانع فی الفقه الاسلامی من تعدد المحاکم بدلیل الخ (الفقه الاسلامی صـ۷۵۴ج ۶) و اذا رفع الی القاضی حکم حاکم امضاه الا ان یخالف الکتاب او السنة او الاجماع او یکون قولاً لا دلیل علیه (الجوهرة النیرة صـ۳۱۵ج ۲)

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که ورونه په مشترک مال کي ودونه وکړي بیاتقسیم وکړي یو وروربې واده پاته سي دولور حق پرنورو لري کنه؟

ال: محترم مقام دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

ند: زه ستاسو فتوی غوارم په دی مسئله کی مونږ څلور ورونه یو دوه د یوې مور او دوه د مور زمونږ پلار په ژوند کی دوه مشران ورونه جلا کړی وه بیا زمونږ پلارچا قتل کړی نکه مونږ دوه د عمر په لحاظ کم وو نو هغه مشران ورونه راګڼ سوه بیا په دیت د والد حب مونږ ټولو ۴۰۰ سوه میږی راوستی بیا زمونږ مشرانو ورونو په مال مشترک کي ي و کړي یعنی ولورئي د مال مشترک څخه ورکړ لیکن دغه یو ورور خپله یوه لور ورکړه یم ئې ولور ورکړ او زما مورني ورور ته ئی هم ښځه په مال مشترکه وکړه زه پاکستان ته ږم د سبق د پاره ۶ کاله بعد راغلم چه دوئ تقسیمونه سره کړی وه مال باقی مانده ئی دوه سیمه کړی وو یو تقسیم ئی زما مور او ورور ته ورکړی وو او بل تقسیم هغه دوو مشرانو نو اخستی وو بیا زما مورنی ورور ما ته ښځه وکړه او نیم ولورئی هم ورکړ د خپل مال ه نو اوس زه پر دغه دوو مشرانو ورونو حق د نیم ولور لرم کیا ؟د شریعت په رڼا کی جواب رئ ؟

ب: که چیری واقعه داسی وي لکه تاسو چه لیکلی ده نو دغه مستفتی ته باید ووایو چه غه وخت کی چه مشرانو ورونو وَدُونه کول او پیسی ئی د پلار د پاته سوی مال څخه چه یم سوی نه وی مصرفولی نو په دغه حال کی که ته بالغ وي او ستا په خوښه دوئ دغه ف کړی وي نو اوس ته شرعًا حق د ولور اخستلو نه لري لکن که دوئ په خپله رضاء او ت درکاوه نو پروانه لري او که تا اجازه نه وی ورته کړی یا ئی ستا په غیاب کی په خپل ا کار کړی وي یا ته په هغه وخت کي صغیر وي او پس له بلوغه دې هم اجازه نه وی کړی ه دې صورت کي حکم دا دی هغه ولورونه چه د مشترک مال څه ستا بې اجازې یا په ت د کوچنی والی کی اخستل سوي دي هغو ته دې حساب وسی او د مال میراث په طریقه ټولو وارثانو حصی معلومی سی هر څونه حصه چه تا ته ورسیدله د هغو نه پیسو حق ته

لري چه مشران به ئی تا ته درکوي خو دا ټول په هغه وخت کی کیدای سی چه هغه تقسیم چه دوی ستا په غیاب کی کړی دی هغه تقسیم ئی د باقیمانده پیسو کړی وي او ولورونو ته ئی حساب نه وی پکښی کړی او نه ئی د ولورونو مصارف په تقسیم کی داخل کړی وي.

کل من الشرکاء فی شرکة الملک اجنبی فی حصة سائر هم فلیس احدهم وکیلا عن الاخر ولایجوزله من ثم ان یتصرف فی حصة شریکه بدون اذنه (المجلة المـ١٠٧۵) والاذن نوعان صریح ودلالة ففی الاول یتصرف الشریک بحصة شریکه کما اذنه سواء اضرا ولم یضرفله ان یرهن ویبیع او یهب امافی الثانی فانما یتصرف بها علی ماهو معروف ومعتاد (شرح المجلة سلیم باز المـ١٠٧١ صـ٦٠٠) الخلاصة ـ للشریک ان یتصرف بجمیع انواع التصرف من التصرفات المضرة وغیر المضرة باذن شریکه الصریح (دررالحکام صـ٢٤ ج٣)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که څوک موټر واخلي اسناد ئې له مالک سره وي پیسي ئې هم پوره نه وي وکړي په دې وخت کي ئې مشتري پربل چاخرڅولای سي کنه؟

سوال: یو سړی باندی مو موټر خرڅ کړی د اوو ۷ ورځو په خیار چه که مونږ موټر خوښ سو زمونږ دی او که مو نسو خوښ بیرته ستاسی دی موټر ئی بوتلی او د دغه اوو ۷ ورځو په مابین کی ئی پر بل چا خرڅ کړی مونږ نه د موټر کاغذان او اسناد هغه سړی ته ورکړی وه نه هغه ټوله پیسی راکړی وي صرف یو لک کالداری ئی راکړی وي او دری نیم لکه پر پاته وي نو ایا دغه سړی کولای سی چه دغه موټر پر بل چا خرڅ کړی کیا ؟

(المستفتی محمد کریم)

جواب: دا چه د موټر اسناد او کاغذان تاسو راګرځولی دي یوازې موټر هغه بیولی دی نو دلته قبض د مبیعی نه دی راغلی نو هغه مشتری نسی کولای چه دا موټر پر بل چا خرڅ کړی ځکه چه خرڅول د یو شی منقول تر مخه د قبض ناجائز دی او اسناد او کاغذان د موټر موانع د تصرف دي د حکومت او ترافیکو په وړاندي.

ان القبض یحصل بقبض المبیع کله (دررالحکام شرح مجلة الاحکام ص۲۵۱ج۱) ثم التسلیم یکون بالتخلیة علی وجه یتمکن من القبض بلا مانع و لاحائل الخ (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ص۴۷ج۴) التسلیم أو القبض معناه عند الحنفیة هو التخلیة أوالتخلی وهو أن یخلی البائع بین المبیع و بین المشتری برفع الحائل بینهما علی وجه یتمکن المشتری من التصرف فیه (الفقه الاسلامی ص۳۳۸۸ج۵ ط جدید) للمشتری ان یبیع المبیع لاخر قبل قبضه ان کان عقارا و الافلا (المجلة الم۲۵۳) فقال الشافعی بعدم الجوازسواء أکان المبیع عقارا أم منقولا و قال ابوحنیفة بجوازه فی العقارو عدمه فی المنقول (دررالحکام ص۲۳۷ج۱) فاذا قبض المشتری المبیع بدون اذن البائع قبل ان یؤدی الثمن الی البائع و باعه من آخر أو آجره أورهنه أووهبه أو تصدق به و سلمه ای تصرف به تصرفا قابلا للنقض و الفسخ فللبائع ان ینقض هذه التصرفات (دررالحکام ص۲۶۰ج۱) قال محمد کل تصرف یجوزمن غیر قبض اذا فعله المشتری قبل القبض لایجوزو کل مالایجوزالا بالقبض کالهبة اذا فعله المشتری قبل القبض جازو یصیر المشتری قابضا (ردالمحتار ص۴۷ج۴)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

په تراویحوکي به بسم الله دهرسورة په سرکي په زوره وایي که دیوه سورة؟

سوال: و حضور ته د محترم د دارالافتاء رئیس صاحب السلام علیکم ورحمةالله وبرکاتهٔ.
و بعد: زما استفاء په لاندي توگه د جواب په خاطر ستاسو عالی مقام ته وړاندي کیږي څرنگه چه د روژې مبارکه میاشت رانزدي شوی ده یو طالب جامع کښی د ترایحو د لمانځه د اداء کولو لپاره مؤظف سوی دی دی دهرسورت په پای او د بل سورت په شروع کښی د لمانځه د اداء په وخت کی بسم الله په جهر سره وایي ایا په داسی وخت د بسم الله ویل په جهر سره سنت دی او جواز شته کنه هیله ده چه په دي باب د شرعی مسئلو پربنا معلومات راکړی ډیره مننه به مو وي؟

﴿الحاج مولوی خدایدا د رئیس دیوان امنیت عامه مقام عالی تمیز﴾

جواب: د فاتحة او سورة تر مابین بسم الله ویل که جهرًا وی که سرًا نه سنت دی نه مکروه بلکه یو جائز عمل دی البته که ویل ئی نه تکلیف کیده پر قوم باندي نو درجه د حسن او استحباب لري او د هر سورة په شروع کی بسم الله ویل جهرًا مکروه دی او پټ ویل ئی جائز دی او که سبب د تطویل نه وه نو مستحب ده خو کله چه په تراویحو کی یو څوک ختم د قرآن شریف کوی نو یو وار به ئی د یو سورة په سرکی په جهر سره وایی هر سورة چه وي په نورو سورتو کی د پټ ویلو او نه ویلو اختیار لري او که چا د فاتحة څخه وروسته سورة د مابین څه شروع کاوه نو بسم الله ویل اتفاقا نده سنت.

لاتسن بین الفاتحة و السورة مطلقا و لو سرية و لاتكره اتفاقا الدرالمختار قوله و لاتكره اتفاقا و لهذا صرح فی الذخيره و المجتبی بانه ان سمی بين الفاتحة و السورة المقروءة سرا او جهرا كان حسنا عند ابی حنيفة و رجحه المحقق ابن الهمام و تلميذه الحلبی لشبهة الاختلاف فی كونها آية من كل سورة بحر (ردالمحتار ص٣٦٢ج١) هكذافی (الطحطاوی علی الدرالمختار ص٢١٩ج١) قوله ولاتكره اتفاقا بل لاخلاف فی انه لوسمی لكان حسنا (طحطاوی علی الدرالمختار ص٢١٩ج١) هكذافی (السعاية شرح شرح الوقاية ص١٧٠ج٢) و فرعوا عليه ان من لم يقرء البسملة فی صلوة التراويح فی تمام القران مرة واحدة ايضًا لاتتأدی سنته و هذا هوالاصح (سعاية ص١٧٠ج٢).

پس ہر ایک سورة کی ساتھ جہر نہ کرنا چاہیئے صرف تمام قرآن شریف میں ایک دفعہ کسی سورة میں جہر سے پڑھیں (فتاوی دارالعلوم دیوبند ص٢٢٨ج۴) هكذافی (٢٢٢) (٢٢۴) (٢٧٨ج۴) و (احسن الفتاوی ص٥١٩ج٣).

(امدادالفتاوی ص٣٢٨ج١) و (امدادالاحکام ص٦٣٠ج١) باقی سب سورتوں کی اول میں بسم اللہ کو جہر سے پڑھنا امام صاحب رحمۃ اللہ تعالی کہ نزدیک مکروہ ہے اور ہر سورة کی اول میں سرًا پڑھنا جائز ہے بلکہ اگر مقتدیوں پر تطویل کا خوف نہ ہوتو مستحب ہی (امدادالاحکام ص٦٣٠ج١) وافاد بذکر السورة انه اذا قرء ايات من سورة لاتسن اتفاقا (طحطاوی علی الدرالمختار ص٢١٩ج١)

واللہ تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

ژوندی حیوان په تاله (وزن) خرڅول څنګه دي؟

سوال: ژوندی حیوان لکه چرګ خرڅول په وزن سره روا دي یا نه؟

﴿مستفتی فضل محمد اشپز﴾

جواب: د ژوندی حیوان تلل که چیری عرف او رواج ګرځیدلی وو نو بیا صحت لري او جائز دی ځکه چه که څه هم بو څه جهالة پکښې سته لکن دا جهالة فاحشة نځ دی چه مفضی و نزاع ته سی فلهذا فتوی په جواز ورکول کیږي.

قال الحنفية ..... فانكان (اى المبيع او الثمن) مجهولا جهالة يسيرة و هى التى لاتؤدى الى المنازعة لايفسد البيع لان هذه الجهالة لا تمنع من التسليم و التسلم فيحصل مقصود البيع و العرف هو المحكم فى بيان نوع الجهالة يسيرة او فاحشة (الفقه الاسلامى صـ۴۵۴ ج ۴).

سوال: آج کل زندہ مرغی تول کر بیچی جاتی ہی کیا یہ جائز ہے جبکہ ہدایہ میں تصریح ہے ولایمکن معرفۃ ثقلہ بالوزن لانہ یخفف نفسہ مرۃ ویثقل اخری اس سے معلوم ہوتا ہے کہ عدم امکان معرفت وزن کی وجہ سے یہ بیع صحیح نہیں، الجواب: باسم ملہم الصواب مرغی کی سانس کی وجہ سے اس کی وزن میں کوئی معتد بہ فرق نہیں آتا لہذا یہ جہالت یسیرۃ ہے جو مفضیۃ الی المنازعۃ نہیں نیز مرغی کی اس طرح بیع کی عرف عام ہو جانی کی وجہ سے اس میں نزاع کا احتمال نہیں اس لئے یہ بیع جائز ہے (احسن الفتاوی ص۴۹۷ ج۶)

واللہ تعالی اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

كه دولتي مځكه په اجاره ورکول سي
هم عشر ورباندي سته؟كه وي نوپردولت كه پرمستاجر؟

سوال: د بيت المال په مځکو کی عشر سته کنه؟ چه په اجاره ورکول سوي وي ؟

جواب: په امارتی مځکو کی عشر سته ولی په عشر کی ملکيت د مځکي لازم نه دی نو کـه د امارت مملوکه مځکې حکومت خلقوته په اجارة کامله ورکړی نو عشر به مؤجر ورکوی او کـه په أجرة ناقصة سره يی اجارة وکړه نو عشر به مستأجر ورکوي نو كه مؤجر وي او كـه مـستأجر عشر به خپلو مستحقينو ته ورکوی د مسجد ملا امام ته عشر ورکول جائز دی لکن پـه دوه ۲ شرطه (اول) دا چه هغـه تـه بـه شرعًا د عـشر اخـستل جائز وي مثلاً فقيربه وی (دوهم) دا چه دغه عشر بـه پـهٔ عـوض کـی د امامت نـه ورکـوی او نـه بـه يـی د امامت لحـاظ ساتی خاص او خاص به يی د هغه مستحق والی پـه نظر کـی ساتلی وي او اجرت کاملة دی تـه وايـی چه كـه دغه اجاره دار هم أجرة ورکـړی مؤجر تـه هم عـشر ورکـړی نو يا تـاوانی کـيـږي يا ډيره لږ ګټه ورپاتيږي او اجرة ناقصة دی ته وايی چه که مستأجر عشر ورکړی بيا هم قابـل اعتبـار ګټه ور پاته سی او د بيت المـال او امـارتی مځکـو کـی داسی مځکـی هم سته چـه هغـه پـه اصـل کـی خراجی وي او مالکان يی وفات سوی وي او وارثـان يـی پاتـه وی نو د بيت المـال ګرځيـدلی وي يا يو ځای د کفارو څه په زور فتح سی او بعضی ابادی مځکې د عامو مـسلمانانو د نفعې دپاره بی تـقسيمه پاته سی دي ته اراضی الحوز ويل کيږي حکم يی دا دي چه دغه مځکي کـه حکومت په اجاره ورکړی نو هغه اجرة خراج بلل کيږي د حکومت پـه حق کـی او اجرة بلـل کيـږي د مستأجر په حق کی نو د دغه اجرة څخه پرته نه عشر سته نه خراج نـه پـر مؤجر نـه پـر مـستأجر ولی هغه أجرة خراج و بلل سو د حکومت په حق کـی نـو عـشر او خراج خـو نـه جمع کـيـږي او نـه خراج تکرارًا اخستل کيږي.

و كذا ملک الارض ليس بشرط للوجوب لوجوبه فی الاراضی الموقوفة (الفتاوی الهندية صـ١٨٥ج١) هکذافی (ردالمحتار صـ٢٧٩ج٣) نعم قد تقرران اراضی بيت المال يسلک بها مسالک ارض الوقف خيرية من العشر و الخراج (تنقيح الفتاوی الحامدية صـ١٠٢ج٢).

چونکہ وجوب عشر کی لئے زمیں کا مالک ہونا ضروری نہیں ہے یہی وجہ ہے کہ غیر مملوکہ راضی میں بھی عشر واجب ہے نیز عشر پیداوار میں واجب ہے نہ کہ زمیں میں اس لئے اراضی اوقاف میں بھی عشر واجب ہوگا خواہ اوقاف عامہ کی اراضی ہوں یا وقف علی الاولاد کی۔ فقط (جدید ف۔ فقہی مباحث ص۷۵۴ج۹).

والعشر على المؤجر كخراج مؤظف و قالا على المستأجر (الدرالمختار) فان امكن اخذالاجرة كاملة يفتى بقول الامام و الافبقولهما لما يلزم عليه من الضررالواضح الذی لايقول به احد (ردالمحتار صـ٦٠ج٢) هکذافی (تنقيح الفتاوی الحامدية صـ١٠ج١).

عشر و خراج مقاسمہ میں یہ تفصیل ہے کہ اگر زمیندار اُجرت بہت زیادہ لیتا ہے اور مستأجر کی پاس بہت کم بچتا ہے تو عشر اور خراج مقاسمہ زمیندار پر ہے اور اگر اجرت کم لیتا ہے مستأجر کو بچت زیادہ ہوتی ہے تو عشر اور خراج مقاسمہ مستأجر پر ہے (احسن الفتاوی ص۳۴۷ج۴) ھکذافی (امدادالفتاوی ص۵۸ج۲) و (جواہرالفقہ ص۲۷۹ج۲).

فثبت ان بيع الاراضی المصرية و كذالشامية صحيح مطلقا اما من مالكها او من السلطان فانكان من مالكها انتقلت بخراجها و ان من السلطان فان لعجز مالكها عن زراعتها فكذلک و ان لموت مالكها فقد منا انها صارت لبيت المال و ان الخراج سقط عنها فاذا باعها الامام لايجب على المشتری خراج سواء وقفها أو أبقاها قلت وهذا نوع ثالث يعنی لاعشرية ولاخراجية من الاراضی

تسمى أرضْ المملكة و أراضي الحوز و هو مامات أربابه بلاوارث و آل لبيت المال او فتح عنوة و أبقى للمسلمين الى يوم القيامة و حكمه على مافى التتارخانية انه يجوز للامام دفعه للزراع باحد طريقين اما با قامتهم مقام الملاک فى الزراعة و اعطاء الخراج و اما باجارتها لهم بقدرالخراج فيكون المأخوذ فى حق الامام خراجا...... و امافى حق الاكرة فأجرة لاغير الخ (ردالمحتار صـ۲۸۰ج ۳) ارضْ خراج مات مالكها فللسلطان ان يؤجرها و يأخذ الخراج من أجرتها (مجموعه رسائل ابن نجيم صـ۵۱) لان العشرية تصير خراجية و الخراجية لاتصير عشرية (النتف فى الفتاوى صـ۱۱۹) فالحاصل ان ارضْ مصر خراجية فى الاصل كما صرح به فى الهداية (مجموعة رسائل ابن نجيم صـ۵۲) و يجب الخراج فى ارضْ الوقف الاالمشتراة من بيت المال اذا و قفها مشتريها فلا عشر ولاخراج الخ (الدرالمختار) قوله فلا عشر و لاخراج لم يذكر فى البحر العشر...... نعم ذكر العشر فى تلک الرسالة فقال انه لايجب ايضًا لانه لم يرفيه نقلا قلت و لايخفى مافيه لانهم قد صرحوا بان فرضية العشر ثابتة بالكتاب و السنة و الاجماع و المعقول و بانه زكاة الثمار و الزروع و بانه يجب فى الارضْ الغير الخراجية و بانه يجب فيما ليس بعشرى و لاخراجى كالمفاوز و الجبال و بان سبب و جوبه الارضْ النامية بالخارج حقيقة و بانه يجب فى اراضى الصبى و المجنون و المكاتب لانه مؤنة الارضْ و بان الملک غير شرط فيه بل الشرط ملک الخارج فيجب فى الاراضى الموقوفة الخ (ردالمحتار صـ۲۷۹ج ۳ و صـ۵۴ج ۲) و على فرضْ سقوط الخراج لايسقط العشر فان الارض المعدة للاستغلال لاتخلو من احدى الوظيفتين (ردالمحتار صـ۵۴ج ۲) .

بسم الله الرحمن الرحيم

ځيني مواد، حيوانات، اجناس چې له يوه ملکه بل ملک ته انتقاليږي دولت واک لري چې دخپل ملک دمصلحت په خاطرئې له خارجه بندکړي؟، اوځيني جايدادونه چې مالکان ئې غائب وي دولت کولای سي چې په غياب کي ئې داصلاح په خاطر ونړوي؟

سوال: د دارالافتاء د رياست محترم مقام ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاتهُ هيله لرو لاندي ذکرشويو شيانو اجناسو حيوانانو حبوباتو ارتزاقي موادو په هکله د شرعي فتوی په اساس معلومات راکړئ:

(**اول**) داهلي حيواناتو لکه غواوي پسونه ووزی آس او داسي نورو بندول د خارج څخه

(**دوهم**) د خوراکي موادو لکه غنم جوار ماش تازه ميوه لوبيا او داسي نورو بندول د خارج څخه چه په ملک کي قيمتي او قحطي جوړيږي؟

(**دريم**) ارتزاقي مواد لکه د سونگ لرگي.

(څلورم) د حيواناتو خوراکي مواد لکه پروړ شپيشتي اوربشي ايږدن او داسي نورو وړلو بندول خارج ته

(**پنځم**) سپيني با توري وړي.

(**شپږم**) پنبه چه په ملک کښي ورته ضرورت وي د خارج څخه منع کول شرعًا څه حکم دی؟

(**اووم**) د پورته شيانو منع کول د مخالفينو د مناطقو څخه څه حکم لري؟

(**اتم**) د هغه مارکيټونو په هکله چه بايد روغ او ترميم سي يا د ښاروالي د ماسټر پلان او نقشي مطابق بايد ونړيږي او استملاک شي چه فعلاً ئې مالکان نسته او په خارج کښي او سيږي د دوی په غياب کښي په نوموړو ملکيتونو کښي کارکول او د هغي څخه استفاده کول څه حکم لري د پورته اتو ۸ مادو په هکله که د شريعت په چوکاټ کښي معلومات راکړی ډيره مهرباني به مو وي؟

(الحاج مولوی صدراعظم د ښاروالي مرسنيال)

د اولينو شپږو سوالونو جواب: که چيری د دغه مالونو ته په افغانستان کي داخل شديد ضرورت وو او خارج ته په انتقالولو کي يې ضرر عام پيښيدی و دې ملت ته نو حکومت نه

اجازه سته چه تجاران د دغه انتقال څه منع کړی لکن پس د منعی څخه به تجار په دی نه مکلف کیږي چه په داخل کي د افغانستان یي په یو معین ولایت کی خرڅ کړی او نه به یی مالونو ته هیڅ قسم ضرر او نقصان رسول کیږي او نه به نرخ ورته ټاکل کیږي ځکه چه تسعیر یعنی نرخ ورکول په شریعت مقدس کی جائز نه دی بغیر له هغه یوه معین صورته څخه او که چیری خارج ته په انتقال کی ضرر عام نه وو او دلته ضرورة شدیده نه وو موجود نو بیا حکومت ته شرعًا اجازه نسته چه منع د انتقال څخه وکړی ځکه هر سړی په خپلو مالونو کی شرعًا صلاحیت او اختیار لري هرڅه چه په کوی هر ځای چه یی وړی.

اعلم ان فی جنس هذه المسائل اختلافا حاصله انه لايمنع على اصل الامام وهو ان كل من تصرف فی خالص ملكه لايمنع فی الحكم و ان لحق بالغير الضرر و افتی بهذه طائفة لكن ترك غالب المتأخرين ذلک فی موضع يتعدى ضرر تصرفه الى غيره ضررا بينًا و قالوا بالمنع و عليه الفتوى كما فی كثير من المعتبرات (غمزعيون البصائر صـ۲۸۲ج۱) الملک اختصاص بالشئ يمنع الغير منه و يمكن صاحبه من التصرف فيه ابتداء الالمانع شرعی الخ (الفقه الاسلامی صـ۵۷ج۴) لايجوز لاحد ان يتصرف فی مال الغير بلا اذنه (المجلة المـ۹۶) و لهذا يجب ان تكون او امر السلطان واولى الامر و النهی موافقة لمصالح الرعية الخ (شرح المجلة لسليم باز صـ۴۲) ولايسعر حاكم لقوله ﷺ لاتسعروا فان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق الخ (ردالمحتار صـ۲۸۳ج۵) وبناء عليه الاصل عدم التسعير ولا يسعر حاكم على الناس و هذا متفق عليه بين الفقهاء (الفقه الاسلامی صـ۵۸۸ج۳).

د اووم سوال جواب: امام کولای سی چه د مخالفینو د مناطقو څخه بوری مواد منع کړی که دا په دې کی مصلحت لیدی او سبب د کمزوری د مخالفینو کیدی او پر خلقو باندی ئی د دغه امر هم د نورو او امرو په شان واجب التعمیل دی تخلف کوونکی ته به قاضی د خپلی خوښی مصر تعزیر ورکوی او د تعزیر مالی څخه به اجتناب کوی او مالونو ته به هیڅ نوع ضرر نه رسول کیږي لکه چه حوالی او عبارتونه د اول سوال په جواب کی تیر سوه او همدارنګه وایی.

فتصرف الغير فى مال الغير ممنوع الا ان تكون وصاية او ولاية او تدعو ضرورة فيجوز..... لان الضرورات تستثنى من القواعد العمومية (شرح المجلة للاتاسى صـ۲۶۲ج۱) التصرف على الرعية منوط بالمصلحة (المجلة المـ۵۸).

او همدارنگه امام ته دا اجازه سته چه د مخالفينو شخصي اموال د هغوئ څخه واخلي او تر هغو يي ورته وساتي (حبس يي کړي) څو چه د دوی مخالفت ايسته کيږي نو دعادلانو او تجارانو په مالونو کی د منع د انتقال حق په طريق اولی لري لکه چه وايي.

و اما اموالهم فيحبسها عنهم الامام الى ان يزول بغيهم فاذا زال ردها اليهم الخ (الفقه الاسلامى صـ۱۴۴ج۶) هكذافى (بدائع الصنائع صـ۱۴۱ج۷).

د اتم سوال جواب: د دغه مارکيټو په باره کی بايد ووايو چه حکومت ته بالکل ناجائز او حرامه ده چه په يو نوعه د انواعو تصرف پکښی وکړی استملاک خويي بالکل قطعي حرام دی او حکومت لره شخصي استفاده ځنی بالکل حرامه ده پرته له هغه صورته که لار يا سړک جوړيدی او ترڅو چه دغه د غائب ملکيت ته نقصان ونه رسيږي نو دا لارنسی جوړيدلای او د دغه لار يا سړک و جوړولو ته شديد ضرورت موجود وو نو اميد سته چه جواز به ولری سره د نورو شرائطو چه فقهاؤ ذکر کړی دي او دغه د ښاروالی نقشي يا ماستر پلان يا تزيين او ترميم شرعًا په ضروراتو کی نه دی داخل او نه په ضروراتو کی حسابيږي.

لايجوز لاحد ان يتصرف فى مال الغير بلا اذنه (المجلة المـ۹۶) وعدم الجواز شامل لجميع انواع التصرف من استعمال كركوب ولبس ووضع جذع على حائط و دخول دارو مرور بارضٍ و من اعارة و ايداع و اجارة و صلح و هبة و بيع و رهن و هدم و بناء الخ (شرح المجلة للاتاسى صـ۲۶۲ج۱) لايجوز لاحد ان ياخذ مال احد بلاسب شرعى (المجلة المـ۹۷) اى لا يحل فى كل الاحوال عمدا او خطاء او نسيانًا جدا او لعبًا ان يأخذ احد مال احد بوجه لم يشرعه الله تعالى ولم يبحه لان حقوق العباد محترمة لا تسقط بعذر الخطأ و النسيان و الهزل و غيره و ذلک كالغصب و السرقة الخ (شرح المجلة للاتاسى صـ۲۶۴ج۱) فمن

تناول مال احد باحدى هذه الطرق فهو ظالم غاصب يجب عليه رده قائما او مثله او قيمته هالكاً (اتاسی صـ۲۶۵ج۱) لدى الحاجة يؤخذ ملک كائن من كان بالقيمة ويلحق بالطريق لكن لايؤخذ من يده ما لم يؤدله الثمن انظر الى مادتی (۲۵۱) (۲۶۲) (المجلة المـ۱۲۱۶) وهکذافی (شرح المجلة للاتاسی صـ۱۵۸ج۴) (سليم باز صـ۴۳) (الفتاوى الخانية بهامش الهندية صـ۲۷۹ج۱) (الفقه الاسلامی صـ۵۰۹ج۵) و (۷۶ج۴)

والله تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دزيارت اصلي طريقه څنګه ده؟اياله زيارته مرسته غوښتلاى سي؟

سوال: د دارالافتاء محترمو علماء السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهُ.

(اول) چه سړی مريض زيارت ته ولاړی اوس څه ووايی او څنګه وکړی د دغه مريض په حصه کی خواه روحی وي او که جسمی وي يا نور څه، ايا داسړی مدد او کومک غوښتلای سی کنه؟

(المستفتی عبدالجليل)

جواب: سنّت طريقه داده چه د مصائبو او امراضو په وخت کی د تيرو ګناهونو څخه عفوه وغواړی استغفار ووايی او د الله ﷻ څخه طلب د شفاء وکړی يا د اسانه کولو د مصيبت ولی چه الله تعالی ﷻ قادر مطلق او ستا په مشکل باندي پوره عالم دی او د دعا د قبلولو وعده ئی هم کړيده او دانور أسباب قطعی نه دی او د دغه دعا دپاره که وکتل سی چه په يو با بركته محل کی وسی لکه مساجد او زيارتونه د اولياء کرامو نو دا بهتره ده او که د الله تعالی ﷻ څخه طلب د دعا و کړی په وسيله د مشايخو هم جواز لري او دا چه پخپله د زيارت څخه شفا غواړی دا کار د عوامو دپاره ناجائز دي ولی احتمال د شرک يا د ګناه يا د افتراء پکښی سته

که نور نه وی نو بدعت خو به یقیني ډول دی او هغه علماء که خپل د نیت پر اصلاح نـادر وی او نیت سم کړی او دغه زیارت والا متصرف تام الاختیار مستقل و نه بولی یا طلب د دعا ځنی وکړی د الله تعالی ﷻ په دربار کښی لکه څنګه چه د ژوندو څخه چه طلب کیږي او د هغه دعا واجابت قریبه و برلی تر خپلی دعاء نو بیا جواز لري.ہہ

استمداد بارواح بزگان دوقسم است قسمی آنست که بابزرگان زنده هم مانند آن بعمل میآید یعنی دعائی ایشازا اقرب الی الاجابة فهمیده ایشانرا واسطهٔ درخواست مطالب خود سازد وایشانرا مرتبه بجز توسط وآلیت در ذهن خود نه نهد و مانند عینک پندارد و هذا جائز بلا اشتباه و قسمی آنست که توجه مقصور بر ایشان باشد و چنین پندارد که ایشان دردهانیدن مطلب یا دادن آن مستقل اند و مرتبه از قرب حق دارند که تدبیر آلهی را تابع مرضی خود توانند ساخت و همین قسم است که عوام بآن استمداد می طلبند واین قسم شرک محض است ﴿فتاوی عزیزی ص-۱۰۴ج۲﴾ و بتحقیق ثابت شده است بآیات واحادیث که روح باقی است واورا علم وشعور بزائران واحوال ایشان ثابت است وارواح کاملان را قربی ومکانتی درجناب حق ثابت است چنانکه در حیات بود یا بیشتر ازان.

﴿اشعة اللمعات ص-۷۶۲ج۱﴾ استمداد از اموات خواه نزدیک قبور باشد یا غائبانه لی شبهه بدعت است ودر زمان صحابه وتابعین نبود لیکن اختلاف ست دران که این بدعت سیئه است یا حسنه ونیز حکم مختلف میشود باختلاف طریق ستمداد ﴿فتاوی عزیزی ص۸۹ج۱﴾ جو استعانت واستمداد بالمخلوق باعتقاد علم وقدرت مستقل مستمد منه ہو شرک ہی اور جو باعتقاد علم وقدرت غیر مستقل ہو مگر وہ علم وقدرت کسی دلیل صحیح سی ثابت نہ ہو معصیت ہی اور جو باعتقاد علم وقدرت غیر مستقل ھو اور وہ علم وقدرت کی دلیل سی ثابت ہو جائز ہی ﴿امــــدادالفتاوی صـ۳۲۴ج۵﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که څوک تناب کش کړي بل سړي په ځاه کي واچوي، مړسي، ديت، ضمان سنه کنه؟

سوال: د کندهار د دارالافتاء عمومی رياست السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته
الغرض والمرام: يو سړی د ځاه پر خوله باندي پر څرخ باندي ئی ځان تکيه کړيدی او پر دغه څرخ باندی لږ تناو پيچلي دی او بل سړی ځاته ورشيوه کيږي تر يو حده پوری بي تناوه کښته کيږي بيا عام خلګ پر تناو ورشيوه کيږي نو دغه کښته هم تناو راکش کړی او خبر نه دی چه تناو پيچلي دی او يا څوک پر څرخ تکيه کړيده نو دواړه ځاته شيوه سوه لکن لاندی سړی لږ خوږ سو او سر بيره سړی مړ سو. د دي مړی ديت سته که نسته او که چيری وي نو پر چا به وي ؟

جواب: دغه سړی چه لاندي شيوه سوی دی او تناو يی کش کړی دی او دغه فعل د تناب کشيدو سبب د رالويدلو او مړکيدلو د دې بل سړی ګرځيدلی دی نو دی مباشر بلل کيږي او پر مباشر باندی ضمان او ديت سته که څه هم د ده په قصد او اراده هغه فعل نه وی صادر سوی.

حد المباشر ان يحصل التلف بفعله من غير ان يتخلل بين فعله و التلف فعل مختار كذا فى الو لوالجية من كتاب القسمة (غمر عيون البصائر صـ۴۶۶ج۱) المباشر ضامن و ان لم يتعمد (المجلة المـ۹۲) فيضمن و انكان مخطئا سواء كان الخطاء فى نفس الفعل نحو ان يقصد صيدا فاصاب شاة لانسان او فى ظن الفاعل نحو ان يظن الشاة حجرا فاصابها بسهمه او لم يكن هذا ولا هذا كما لو انقلب و هو نائم على مال فاتلفه قال و ان لم يتعمد لانه مع التعمد من باب اولى و عليه الاثم و بدونه ضمان و لا اثم (شرح المجلة للاتاسی

صـ۲۵۵ج۱) و اماما اجری مجری الخطأ كنائم انقلب علی آخر فقتله فحكمه حكم الخطأ ..... و موجبهما ای الخطأ مطلقا و ما اجری مجراه الكفارة و الدية علی العاقلة (مجمع الانهر صـ۶۱۷ج۲).

د دوهم سوال په هكله بايد ووايو چه ديت اولاً پر عاقلة دی او كه عاقلة موجود نه وی نو بيا پر بيت المال دی كه ښه منظم بيت المال موجود وو او كه هغه هم نه وی نو د قاتل د خپل مال ځخه به په درې كاله كی اخستل كيږي او عاقلة د دفتر يا تنظيم ملگرو ته ويل كيږي يا نور د ده هم كسبه يا اقرباء يا قوم او قبيلة دی يعنی هر هغه څوک چه د دوی تر مابين تناصر موجود وی او يو دبل په مشكلاتو كی سره حاضريږي هغه معتبر دی.

قال فی البزازية و عاقلة كل انسان من يتناصر هو به ان من اهل الديوان فعاقلته اهل ديوانه و الصناع بعضهم لبعض انكانوا يتناصرون بالديوان و الصناعة ..... و ان لم تكن له عشيرة و لا ديوان فعاقلته بيت المال فی ظاهر الرواية و عليه الفتوی ..... ثم ان وجوبها فی بيت المال انما هو حيث كان منتظما و الافی مال الجانی قال فی المجتبی مانصه قلت وفی زماننا بخوارزم لايكون الا فی مال الجانی الا اذا كان من اهل قرية او محلة يتناصرون لان العشائر فيها قدوهت ..... و قد مر ان الدية حيث و جبت علی العاقلة تؤخذ فی ثلاث سنين و انه لايؤخذ من كل واحد منهم اكثر من ثلاثة دراهم ..... و اذا فقد بيت المال و وجبت الدية علی المسلم فی ماله صار كالذمی فتجب عليه فی ثلاث سنين ابتداء ها من يوم القضاء لامن يوم الجناية (تنقيح الحامدية صـ۲۵۰ج۲) هكذا فی (الفتاوی الهندية صـ۸۳ج۶) و (احسن الفتاوی صـ۵۴۱ج۸)

والله تعالٰی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که انګور دګل پر وخت خرڅ کې اوله دې وروسته دباوړئ اوبه پر لګوي عشرکه نصف عشر ورکړي؟ که هريو وي پر بائع ده که پر مشتري؟

سوال: محترمو د شورئ علماء کرامو چه د يوه باغ انګور په هغه وخت کې خرڅ کړې چه ګل وی او هغه وخت ئی د ولی اوبه پر لګولی وي او تر هغه وروسته مشتری د باوړی او به پر لګولی وي بائع به لسمه حصه زکوة ورکوي که شلمه او پر مشتری باندي عشر سته کنه او که وی را ته بيان ئی کړئ؟

جواب: خرڅول د انګورو يا د نورو ميوو په هغه وخت کی چه په ګل کی وي او دانو يی ظهور نه وی کړی دا بيعه جواز نه لري او ملکيت ئی مشتری ته نه انتقاليږي او عشر يی پر داغه بائع لازم دی هر کله چه ئی دانی ښکاره سوی بيا يی بيعه جائزه ده او پس له خرڅيدو څخه عشر پر مشتری دی که يی په داسی حالت کی خرڅه کړی وه چه دانی ئې پخی سوی نه وي. او بل دا خبره ده که دا باغ ډير وخت د باوړی په اوبو اوبه سوی وو نو نصف عشر دی او که ډير وخت د باران په اوبو اوبه سوی وي نو پوره عشر به ورکوی دا اعتبار نه لري چه يا بائع اوبه کړی دی يا مشتری او هر کله چه عشر پر مشتری لازم سو نو بائع خلاص دی د عشر څخه د هغه څه عشر نه اخستل کيږي.

(ومن باع ثمرة بارزة) اما قبل الظهور فلا يصح اتفاقا (ظهر صلاحها أو لاصح) في الاصح (الدرالمختار) قوله اما قبل الظهور اشار الى ان البروز بمعنى الظهور والمراد به انفراك الزهر عنها وانعقادها ثمرة وان صغرت الخ (ردالمحتار صـ۴۲ج۴) اجمع العلماء على ان بيع الثمار قبل ان تخلق لاينعقد لانه من باب النهى عن بيع مالم يخلق الخ (الفقه الاسلامى صـ۴۸۵ج۴) ولو باع الارض العشرية وفيها زرع قد ادرک مع زرعها او باع الزرع خاصة فعشره على البائع دون المشترى لانه باعه بعد وجوب العشر وتقرره بالادراک ولو باعها والزرع بقل فان قصله المشترى للحال فعشره على البائع. ....وان ترکه حتى أدرک فعشره على المشترى الخ (بدائع الصنائع صـ۵۶ج۲) هکذافى (احسن الفتاوى مع تحقيق کثير صـ۳۳۸ج۴) ولو سقى سيحا وبآلة اعتبر الغالب (الدرالمختار) قوله اعتبر الغالب أى اکثر السنة (ردالمحتار صـ۵۵ج۲)

بسم الله الرحمن الرحیم

که یودلګۍ مشر دجهاد لپاره موټر واخلي اوپوره پیسي نه لري محاذمشرئې نه ورکوي هغه نیمي هم پور وي بیرته ئې خرڅولای سي چې پورپه اداکړي؟ اوکه یومجاهد خپل موټر خرڅ کړي پیسي دده دي که دبیت المال؟

(**اول سوال**) یو شخص مسئول د محاذ او د خط وی د یو مشر څخه چه هغه عمومی د ټول ولایت د نظامی چارو مسئولیت په لاس کی لري د موټر د اخستلو غوښتنه وسی بیا یو څه پیسی ورکړی او نوری پیسی یو بل مسئول د ولایت وعده وکړی بیا هغه دغه موعوده پیسی ورنکړی نو اوس هغه مالک دغه پیسی غواړی نو یو څه د جوړیدلو مصرف وی اوس چه مشر نوری پیسی ورنکړی که دغه موټر خرڅ کړه سی څنګه چه هغه قرض والا ته ورکړل سی متباقی بیرته په جامعه او د مجاهدو په کار کی مصرف سی شریعت او فقه حنفی څه حکم کوي؟

(**دوهم**) زمونږ له طرفه د یو مسئلې په باره کی د پوره فتوی غوښتنه کیږي هغه دا چه د جهاد په دوران کی مولوی محمد نبی صاحب یو موټر راکړی وو د اسلحی د حمل او نقل لپاره بیا دغه موټر یوه پلا د پاکستان حکومت و نیوی تقریبًا یونیم کال د پاکستان د حکومت په لاس کي پاته وو چه بالاخره یی ضبط کړی بیا مونږ د ډیرو پیسو په واسطه بیرته لاس ته راوستی دوهم پلا بیا دغه موټر هزاره وو ونیوی تقریبًا اووه ۷ میاشتی د هزاره وو په لاس کنبی وو بیا د ډیرو روپو په واسطه مونږ د هزاره وؤ څخه راخلاص کړی بیا دغه موټر په شپږ لکه کالدارو مونږ خرڅ کړی اوس د دغه خرڅ سوی موټر پیسی د شریعت د نظره د بیت المال بللې کیږی او که زما بللې کیږی د دغې مسئلې په باره کی مونږ جزمی او قاطع فیصله د کتابو په حواله د علماء کرامو څخه غواړو او د جوړیدلو هم زما سره صلاحیت عام ؤ تام وؤ ځکه چه اکمال می هم کوی (بینواتو جروا)

د اول سوال جواب: تاسی کولای سی چه د مسئولینو او مشرانو په اجازه دغه موټر خرڅ کړی او قرض په ادا کړئ خو د مشرانو اجازه پکښی شرط ده.

د دوهم سوال جواب: په جواب کی باید ووایو که دغه موټر د تنظیم د طرفه تاسو ته په طریقه د ملکیت درکول سوی وو چه تاسو یی شخصی مالکان یاست نو موټر او د هغه پیسی ستاسو شخصی دی او که یی فقط تولی او تصرف تاسو ته سپارلی وو او د مصارفو اجازه یی درته کړی وه نو حسابِ شخصی مصارف څنی وباسی باقی پاته پیسی بیت المال ته وسپاری.

وفی فتاوی الحانوتی الذی وقفت علیه فی کلام اصحابنا ان الناظر اذا انفق من مال نفسه علی عمارة الوقف لیرجع فی غلته له الرجوع دیانة لکن لوادعی ذلک لایقبل منه بل لابد ان یشهد انه انفق من مال نفسه لیرجع ..... اعلم ان عمارة الوقف باذن متولیه لیرجع بما انفق یوجب الرجوع باتفاق اصحابنا الخ (ردالمحتار صـ۴۶۰ج۳) قد تقرر ان راضی بیت المال یسلک بها مسالک ارض الوقف خیریة من العشر و الخراج و فیها و الحاصل انه یجب مراعاة مصلحة بیت المال کما تجب مراعاة مال الیتیم و ما وردفیه غیر خاف علی الفقیه (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۱۰۲ج۲) و فی البحر و کثیر من الکتب للقیم صرف شئ من مال الوقف الی کتب الفتوی و محاضر الدعوی لاستخلاص الوقف من ایدی ذوی الشوکة خیریة من الوقف (تنقیح الحامدیة صـ۲۰۶ج۱).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

داجاري دعشرپه هکله څلورمهيمي

پوښتني، په اسپيکرکي بې ضرورته لمونځ کول، دسيپاروختم څه حکم لري؟

سوال : د کندهار د ولايت د دارالافتاء د رياست و محترم مقام ته السلام عليکم ورحمةالله وبرکاتهُ

محترما : هيله ده چه يو تعداد مسئلې چه مونږ سره ئی حل مبهم دی د شرعی امورو مطابق په مستند ډول معلومات راکړی.

(**اول**) کوم مځکه چه د مځکې د مالک له طرفه په اجاره ورکول سوی وي د هغی مځکی د اجاری عشر پر اجاره دار کيږي که پر مالک ؟؟

(**دوهم**) که چيری اجاره دار د مځکې په اجاره کی تاوان و کړی او خپله اجاره پوره نه کړی عشر د اجاره دار لخوا ورکول کيږي او که د مځکې د خاوند لخوا ؟

(**دريـيم**) که چيری عشر پر مالک د ځمکی سي او مځکه تر خپلې اجاری اضافه حاصلات وکړی د اضافه حاصلاتو عشر به مالک ورکوی او که اجاره دار ؟

(**څلورم**) د باوړی په حاصلاتو کی عشر شلم من دی او که لسم من دی ؟

(**پنځم**) که چيری بيله ضرورته په لوړو لوډسفيکرونو کی ملا امام د جماعت لمونځ ادا کوي جواز ئی څنگه دی ؟

(**شپږم**) د قرآن شريف ختم د سيپارو د ويشلو په طريقه د شريعت د نگاه څخه څنگه دی ؟

پورتنی شپږ واړه سوالونه ستاسو حضور ته عرض سو هيله ده چه ځوابونه په مستند ډول واضح کړی.

د اولی پوښتنی جواب : که چيری دغه اجاره په أجرة کاملة سره وه نو عشر پر مؤجر دی او که په أجرة ناقصة سره وه نو عشر پر مستأجر دی اجرة کاملة دی ته وايی چه که دغه اجاره دار هم اجرة ورکړی مالک ته او هم عشر ورکړی نو تاوانی کيږي او هيڅ وقت گټه نه ورته پاتيږي او اجرة ناقصة هغه دی چه که عشر ورکړی اجاره دارته بيا هم معتد به گټه ورته پاته سی.

والعشر على المؤجر كخراج موظف و قالا على المستأجر (الدرالمختار)فان امكن اخذالاجرة كاملة يفتى بقول الامام والافبقو لهما لما يلزم عليه من الضررالواضح الذى لايقول به احد (ردالمحتار صـ۶۰ج۲) هكذافي (فتاوى تنقيح الحامدية صـ۱۰ج۱).

عشر وخراج مقاسمة میں یہ تفصیل ہے کہ اگر زمیندار اُجرت بہت زیادہ لیتا ہے اور مستأجر کو بچت زیادہ ہوتی ہے تو عشر اور خراج مقاسمہ مستأجر پر ہے (احسن الفتاوی صـ۳۴۷ج۴) (امدادالفتاوی صـ۵۸ج۲).

د دوهم او دریم سوال جواب : د امام صاحب رحمۃاللہ تعالی علیه په نزد عشر د مځکي پر خاوند دی مطلق که اجاره دارتاواني وي او کنه او د صاحبانو رحمهم اللہ تعالی په نزد عشر پر اجاره دار دی مطلقًا که گټه وی که تاوان فتوی پر دي ده که چیری عقد د اجاری په اجرة کاملة سوی وو نو عشر پر مالک د مځکي دی او که عقد پر اجرة ناقصة سوی وو نو عشر پر اجاره دار دی او علماؤ فرق نه دی ذکر کړی د تاوان او د گټي د صورت لکه د اول سوال په جواب کی ئی چه حوالی ذکر سوی.

د خلورم سوال جواب: د باوړی په حاصلاتو کی شلم من نصف عشر لازم دی.

ويجب نصفه في مسقى غرب اى دلوكبير و دالية اى دولاب لكثرة المؤنة (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۵۵ج۲) هكذافي (الفتاوى الهندية صـ۱۸۶ج۱) ولو سقى سيحاو بآلة اعتبر الغالب (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۵۵ج۲).

د پنځم سوال جواب: لمونځ ورکول په لوډ سپیکر کی بغیر له ضرورته د لاندی اسبابو په وجه باید منعه سی:

(**اول**) مخالفت راځی د دي آية كريمة څخه (ولاتجهر بصلاتک و لاتخافت بها و ابتغ بين ذلک سبيلا).

(**دوهم**) فقهاء وايی چه جهر کول زائد ترحاجت د جماعة اساءة دی او اساءة تر مکروه تنزيهی پورته او تر مکروه تحريمی کښته درجه ده.

(**درېيم**) نور خلق چه په نورو مساجدو يا كورونو كی په لمونځ يا ذكر يا خوب يا نورو اشغالو مصروف وي د هغو د ضرر باعث گرځی.

(**څلورم**) دا هم يو نوعه توهين دی چه ډير خلق قرآن كريم اوری او سمع ئی نسی كولای يا ئی نه كوي.

(**پنځم**) په لوډ سپيكر كی د علماء اختلاف دی بعضی علماء لمونځ پكښی ناجائز بولی نو لمونځ بايد په داسی طريقه وسی چه د اختلاف څخه خارج وی. نو لمونځ بايد په گويا كی ونسی او كه په بعضی مساجدو كی ضرورت وی او خلق ډير وی او مكبّرين انتظام نه كيږي نو بيا دي د داخلی لوډ سپيكرو څخه استفاده وكړی چه اوازيی تر صفوفو ډير نه خارجيږي.

فصل ويجهر الامام وجوبا بحسب الجماعة فان زاد عليه اساء (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۳۹۳ج۱) لايقرء جهرا عند المشتغلين بالاعمال ومن حرمة القران ان لايقرء فی الاسواق وفی موضع اللغو (الفتاوی الهندية صـ۳۱۶ج۵) رجل يكتب الفقه وبجنبه رجل يقرء القرآن ولايمكنه استماع القرآن كان الاثم علی القاری ولاشئ علی الكاتب وعلی هذا لوقرء علی السطح فی الليل جهرًا يأثم (الفتاوی الهندية صـ۳۱۸ج۵). لكن قدمنا فی اول بحث سنن الصلاة اختلاف عباراتهم فی ان الاساءة دون الكراهة او افحش منها ووفقنا بينها بانها دون كراهة التحريم وافحش من كراهة التنزيه فراجعه (ردالمحتار صـ۲۸۱ج۱ط بيروت).

البتہ جہر میں تکلیف کرنا یا اتنا جہر کہ نماز میں تشویش کا باعث بنی یا کسی کیلئے باعث ایذاء ہونا جائز ہے (احسن الفتاوی ص۸۷ج۳) (فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۱۷۹ج۲) نماز میں آلۂ مکبرالصوت کی استعمال میں بہت سے مفاسد ہیں اس لئے اس سے اجتناب کیاجائے اور سنت کی سادی طریقی پر آواز کو دور تک پہنچانی کیلئے مکبرین کا انتظام کیاجائے لیکن اگر کسی جگہ الۂ مکبرالصوت پر نماز ادا کرلی گے تو نماز فاسد واجب الاعادہ نہیں ہے اور استعمال کرنیوالوں کو کم از کم یہ لازم ہے کہ مکبرین کا پورہ انتظام رکھیں کیونکہ علماء کی ایک جماعت اس کو مفسد قرار دیتی ہیں اُن کی خلاف سے خروج کی فکر کرنا چاہئے (آلات جدیدۃ ص۳۳).

د شپږم سوال جواب: د قران كريم د سيپارو د ويشلو په طريقه كی د فقهاء كرامو څخه منعه نه ده ذكر سوی نه ئی كراهية چا ذكر كړی دی. والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که په ابتدائیه محکمه کي دشاهدانو
شاهدي رد اوپه مرافعه کي قبوله سي په کومه عمل کيږي؟

ســوال: در موضوع قتل یکنفر در مربوطات ولایت هرات جریان تحقیق در محکمه ابتدائیه مدعی حق العبدی بعد از ترتیب دعوی قصاص اقامه شهود نموده که شهادت شهود مذکور مورد قبول قضات محکمه ابتدائیه واقع نشده - که در نتیجه فیصله شرعی خودرا بترک خصومت وعدم سمع در حق العبدی صادر نموده ودر حصه حق الله تعالی متهم مذکوررا بمدت شش ماه حبس محکوم بجزا نموده است که فیصله مذکور باثر مرافعه طلبی مدعی به محکمه مرافعه آمده که محکمه مرافعه فیصله مذکوررا باطل غرض فیصله مجدد بمحکمه ابتدائیه مربوط فرستاده که محکمه مذکور بهمان صورت دعوی قبلی فیصله وشهود فیصله قبلی که شهادت شهود مذکور باتفاوت دراداء شهادت درفیصله مجدد محکمه ابتدائیه مذکور بقبول شهادت همان شهود مذکور که قبلاً رد شده بوده حکم قصاص مدعی علیه را صادر نموده چون موضوع مذکور نهایت پیچیده ومرموز است که ایا شهادت بینه در موضوع معین دریک محکمه ردگردیده باشد ایا دوباره همان محکمه به عین شهادت که قبول نکرده بوده حکم کرده میتواند یا خیر؟ (مولوی احمد سعید رئیس محکمه مرافعه هرات)

جواب: شهادة شهودی که یکبار در محکمه ردشده باشد دوباره در مجلس همان قاضی دران موضوع پذیرفته نمیشود اگر چه ردکردن آن بسبب یک علتی باشد که آن علت در دفعه ثانیه رفع شده باشد باستثناء شاهدی که یا طفل باشد یا نابینا.

الساقط لايعود كما ان المعدوم لايعود (المجلة المـ٥١) ومنها لوردت شهادة رجل لعلة ثم زالت العلة فاعاد الشهادة في تلك الحادثة لاتقبل الافي الصبي والاعمى اذاردت شهادتهما بسبب القصر والعمى فبلغ الصبي وابصر الاعمى قبلت (اشباه) (سليم باز صـ٤٠) هكذافي (دررالحكام صـ٥٤ج١) في الجامع الصغير رجل شهدو لم يبرح عن مكانه حتى يقول أوهمت بعض شهادتي انكان عدلا تقبل شهادته فقوله لم يبرح دليل على انه اذا برح ثم عادلا تقبل جواهر الفتاوى..... اقول ماذكره من عبارة الجامع الصغير جزم به اصحاب المتون قال في البحر وقيد بقوله ولم يبرح اى لم يفارق مكانه لانه لوقام لم يقبل منه ذلك الخ (تنقيح الحامدية صـ٣١٧ج١). والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که دوه ورونه تقسیم ونه کړي مړه سي

دیوه لور دبل په کړوسیانو، لمسیانو(۵۰) کاله وروسته دعوی کولای سي؟

سوال : و محترمو حضراتو علماء کرامو ته په ډیر احترام سره دا لیکم دوه ورونه وه یو حبیب الله نومیدی دوهم محمد علی حبیب الله مړ سو دري لوڼی ئی پاته سوی د حبیب الله د مرگ ۵۰ کاله کیږی تقریبًا په دغه درو لوڼو کښي یوه ژوندی پاته ده دوی مړي سوي دي او اوس ئی زامن او لوڼی پاته دي حبیب الله او محمد علی چه ورونه وه د مځکي تقسیم ئی نه دی سوی او محمد علی هم مړسوی دی دغه مشترکه مځکه اوس پاته ده ولمسی او کړوسیانو ته نو اوس د حبیب الله د لور دعوی قاضی اوریدلای سی که یا ؟او هغه دوي لوڼي چه مړی دی زامنان ئی دعوی کولای سي که یا ؟که دا حق ما ته معلوم سی زه طالب العلم عصمت الله به ډیر خوشحاله سم ؟

(المستفتی طالب عصمت الله)

جواب : دغه د حبیب الله دلور او د لمسیانو جانب مقابل که دا اقرار کوی چه د دوی زمونږ سره حق سته نو بیا به قاضی د دوي تقسیم ورکوي او که جانب مقابل د دوی د حق څخه منکر وو نو که دغه د حبیب الله لور او یا لمسیانو خپله دعوه دا پنځوس کاله د یو شرعی عذر په خاطر پري ئیښی وه لکه کوچنی والی لیونتوب سفر یا دا چه جانب مقابل ئی متغلب او جابر وو نو ئی دعوی په محکمه کی اوریدل کیږي او که ئی بغیر له عذره پري ئیښی وه نو بیا نه اوریدل کیږي او د ښځی په باره کی دا هم یو عذر دی چه د خپلو اقرباؤ د خوف له وجي محکمې ته نسی تلای البته دا عذر به دا په محکمه کی ثابتوی.

لایسقط الحق بتقادم الزمان فاذا اقر المدعی علیه و اعترف صراحة فی حضور الحاکم بان حق المدعی عنده فی الحال علی الوجه الذی یدعیه و کان قد مر الزمان علی الدعوی فلا یعتبر مرور الزمان و یحکم بموجب اقرار المدعی علیه (المجلة المـ۱۶۷۴) المعتبر فی هذا الباب ای باب مرور الزمان المانع لسماع الدعاوی انما هو مرور الزمان الواقع بلاعذر اما الزمان الذی مر لعذر

شرعی کما لو کان المدعی صغیرا او مجنونا او معتوها سواء کان له وصی اولم یکن او کان فی دیار بعیدة مدة سفر او کان خصمه من المتغلبة فلا یعتبر بل یعتبر بدء مرورالزمان من تاریخ زوال العذر واندفاعه ﴿المجلة صـ۱۶۶۳﴾ قیل فی المجلة ککون المدعی صغیر الخ لانه یوجد عذررابع حیث اذا منع الزوج زوجته صاحبة الحق من اقامة الدعوی منعًا اکیدا اولم تدع من اجل ذلک فهذا العذر معدود عذرا شرعیا و لها اقامة الدعوی بعدزوال المنع و لاتعتبر المدة التی مرت اثناء المنع الا انه یجب ان یثبت منع الزوج لها (علی افندی) ﴿دررالحکام شرح مجلة الاحکام صـ۳۰۸ج۴﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که خورخپل ملک کشر وورورته وبخښي

اوبیاکشر، مشراوخورمړه سي دمشر وروړ ورثه دعمه په حق دعوی کولای سي کنه؟

سوال: د پلار شخه و دوو ورونو او یوې خور ته باغ پاته دی دوئ په خپل منځ کي ویش کړي دی خور خپل حق و کشر وورور ته وربخښلی دی دوئ دري سره مړه سوي دی کشر وورور خپل حق او د خور حق و خپلو اولادو ته په وصیت نامه کی په میراث ورپری ایښی دی دغه باغ داسی تقسیم سوی وو چه یو ه حصه یوه او بله حصه د کشر وورور او خور دواړو ته پاته وه د کشر وورور حصه د خور دحصې شخه جلا سوی نه وه اوس د مشر وورور ورثه وایی چه مونږ د خپلي عمه په حصه کی حق غواړو او هغه عمه خپل اولادونه نه لري او خور د دواړو ورونو شخه وروسته مړه ده ؟

جواب: د مشر ورور د وارثانو خبره ښه خبره او پر ځای خبره ده ولی دغه عَمّه چه خپل اولادونه نلري مال ئې د دوارو ورونو وارثانو ته پاتیږی ولی د کشر ورور او خور حصه په داسی حال کې چه تقسیم سوی نه وه د دوئ په خپل مابین کي او جلا جلا سوی نه وه نو دغه خور تر خپلې حصې نه تیرېدای سی نه یې بخښلای سي بلکه هغه حصه د هغه خور ملک بلل کیږي او اوس به د دوارو ورونو وارثانو ته په شرعی طریقه وروېشل کیږي.

صرح علماؤنا بان الارث لایصح اسقاطه اذهو جبری...... وفی الاشباه و النظائر لو قال وارث ترکت حقی لم یبطل حقه (الفتاوی الخیریة صـ۹۹ج۲) الارث جبری لا یسقط بالاسقاط (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۲۶ج۲) هکذافی (دررالحکام صـ۶۹ج۴) کذلک لو وهب احد حصته فی ترکة قبل ان یعلم ما یصیبه منها من المال لاحد الورثة لاتصح الهبة کما لاتصح الهبة فیما لوقال احد وهبت مقدارا من الاشیاء التی املکها لابنی الصغیر ولم یعین الاشیاء التی و هبها ولم یعلم بها (التنقیح وعلی افندی) (دررالحکام صـ۴۳۹ج۲) لاتصح القسمة الابافرازالحصص و تمییزها (المجلة المـ۱۱۲۴) وبما ان التمییز والافراز هما بمعنی التفریق فعطف الافرازعلی التمییز هو عطف تفسیری (دررالحکام صـ۱۱۲ج۳) بقی من شرائط صحة الهبة انیکون الموهوب مقسوما و مفرزا وقت القبض لاوقت الهبة (اتاسی صـ۳۷۸ج۳) (الفقه الاسلامی صـ۱۴ج۵)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که مضارب تاوان وکړي، یادروغ وو ایي، رب المال دحساب اوقسم حق ورباندي لري کنه؟

سوال: ما حاجی محمد نسیم مشهور په حاجی لالک و یوه نفر ته ۱۲ لکه پاکستانی کالداری په طور مضاربت ورکړی وي هم دغه نوموړی شخص په هغه کالدارو د صرافی کار او بار په کندهار کی شروع کړی وو او په چمن کی ئی خپل زوی کاراوبار د پاره کښینولی وو تخمینًا د ۲ میاشتو په شاوخوا کی چه ئی کار وکړ زه دده په خرید او فروش او نورو اجراءاتو اشتباهی سوم نو ما و دغه نفر ته خبر ورکړ چه کاراوبار دی پر رونق برابر نه دی بند ئی کړه او حساب راوړه هغه پسله دغه زما د ویلو څخه بیا په خپل سر تخمینًا ۴ میاشتي زما د اجازې پرته خپل کار اوبار ته ادامه ورکړه وروسته تر شپږنیمو میاشتو چه راغی او حساب ئی راوړی ویل ئی چه ما پورته سرمایه ټوله تاوان کړی ما ورته وویل چه زه دغه حساب نه منم زه بیا یو صحی حساب در څخه غوارم هغه وو چه اوس ئی حساب اختصاصی محکمې ته راوړی هغه حساب چه زما میرزا ملاحظه کړ د ۱۸۳ - ۱۴ ورکی په میزان کی شپږ لکه دیرش زره کالداری تفاوت وو او په ۱۹۲ - ۲۳ ورکی په میزان کی بیا دوه لکه پنځه ویشت زره کالداری تفاوت وو چه دغه ۲ ورکی ستاسو محترم علماء کرامو په حضور هم په مشاهده رسوم چه تاسی محترم علماء پر هغه غلطی او تفاوتو خپل علم آوری راولی د اختصاصی محکمی هیئت هم و فرمایله چه دغه موضوع دارالافتاء ته ورورئ چه مسئله درکړی نو زه حاجی محمد نسیم پر دغه خپل مضارب د یو صحی حساب حق لرم کنه؟ په دغه هکله لطفًا فتوی را کړی؟ (حاجی محمد نسیم)

جواب: رب المال دا حق نه لري چه د مضارب څخه مکمّل او مفصل حساب وغواړی بلکه د مضارب قول معتبر دی په مقدار کی د گټې او تاوان یوازی رب المال دا حق لري چه مضارب ته قسم ورکړي لکن که رب المال دا ثابته کړه چه څلور میاشتي تر مخه ما دغه مضارب عزل کړی وو نو بیا د دغو څلور میاشتو گټه او تاوان پر مضارب ده نه پر رب المال خو ۳ شرطه لري:

(**اول**) دا چه مضارب ته به خبر د عزل رسیدلی وی.

(**دوهم**) دا چه د مضارب سره به رأس المال یعنی سرمایه په نقدی ډول موجوده وی.

(**دریيم**) دا چه رب المال به دغه عزل پس له دوو میاشتو ثابتوی یا په اقرار د مضارب یا په بله طریقه سره هر وخت چه دغه ۳ شرطه موجود سوه نو پس له عزل او پس له نقدولو څخه د سرمایی د طرفه د مضارب هر څه گټه او تاوان چه وو هغه په مضارب پوری اړه لری نه په رب المال پوری.

سئلت عن مضارب طلب منه رب المال المحاسبة تفصيلا هل يجبر على ذلك فالجواب ان قارئ الهداية سئل عن شريك طلب من شريكه او من العامل فى المضاربة حساب ماباعه او ماصرفه فقال لا اعلم حسابا و انما بعت و تصرفت و بقى هذالقدر هل يلزم بعمل محاسبته اجاب القول قول الشريك و المضارب فى مقدار الربح و الخسران مع يمينه و لايلزم ان يذكر الامر مفصّلا و القول قوله فى الضياع و الرد لرب المال (كاملية صـ١٦٩) هكذافى (الانقروية صـ٢٦٢ج٢) (سليم بازصـ٧٥٧) تبطل المضاربة بالفسخ و بالنهى عن التصرف او العزل اذا وجد شرط الفسخ و النهى و هو علم صاحبه بالفسخ و النهى و انيكون رأس المال ناضًا اى نقدا وقت الفسخ ..... فانكان متاعا لم يصح العزل ..... و هذا متفق عليه بين علماء المذاهب الاربعة (الفقه الاسلامى صـ٨٧٢ج ٤) اذا تجاوز المضارب حد ما ذونيته و خالف الشرط كان غاصبا (المجلة المـ١٤٢١) و لايخرج عن كونه غاصبا و لواجاز رب المال بعده حتى لو اشترى المضارب مانهى عنه ثم باعَه و تصرف فيه ثم اجاز رب المال لم يجز (مخ) (سليم باز صـ٧٥٤).

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که ترتقسیم مخکي داسي مځکه هبه سي چې دخویندوحقوق هم پکښې وي خوبخښلي يې وي داهبه دمشاع ده کنه؟که هبه دمشاع سي حکم ئې څنګه دي؟

سوال: محترم مقام د دارالافتاء رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.

محترما: څرنګه چه یو سړی احمد جان نامی راولاړ سو خپل کوچنی ورارهٔ ئی وواهه د هغه دا مقصد نه وو چه هغه عیبی شی مګر نوموړی کوچنی محمد نسیم نامی عیبی سود هغه د ملا د هډوکی اپریشن ئی ډاکټرانو وکړی مګر اپریشن ئی هم ناکامه سو اوس هلک ته اعصابی تکلیف پیدا سوي دی وروسته د هغه اکا ئی راولاړ سو مځکه ئی وروبخښله خو مده چه تیره سوه هلک ته ئی وویل چه ما خو مځکه و تاته دروبخښله زه شی نه لرم و ما ته واده را وکړه وروسته دده د وقفې مځکي څخه یو څه مځکه او خپله مځکه ئی خرڅه کړه و ده ته ئی واده وکړ هغو خلګو د دواړو څخه قباله واخیسته بیا وروسته تر واده د دغه هلک پلار ته وویل چه زه شی نلرم ما ته باغ را رانیسه د هلک پلار محمد حسین نامی خپل ورور احمد جان ته باغ رانیوی اوس نوموړی احمد جان ورته وایي چه په دغه مځکي چه تاته می درکړی ده زما د خور حق هم پکښې دی دا مځکه مشاع ده دا مځکه بیرته را ایله کړه د خوندو د واده ۶۰ کاله کیږی چه واده سوی دی د هغه د پلار د مرګ څخه ۴۲ کاله کیږي چه دوی حقداره سوي دي د نوموړی احمد جان خوندی وایي چه زمونږ څخه چه هر وخت پوښتنه کړیده مونږ ورته ویلی دي چه مونږ حق نه غواړو په وخت کی د تقسیم زمونږ څخه چه ۲۸ کاله کیږي دوی مونږ ته نه دی راغلی په دغه وخت مونږ څخه پوښتنه نه ده کړی چه حق غواړی که یا . دا ورونه ئی وایي چه مونږ په دغه سبب سره پوښتنه نه ده کړی چه دوی ویلی وه چه حق نه غواړو نو مونږ هم د دوی بې حضوره تقسیم وکړ یوه خور ئی چه حقداره سوی وه ۳۵ کاله ژوندی وه اوس ئی ۷ کاله د وفات کیږی د غه وفات سوی خور ئی په خپل ژوند کی ویلی وه چه زما حق زما د ټولو ورونو دی زه حق نه غواړم زامن ئی هم وایي چه مونږ حق نه غواړو هغه بله خور ئی هم وایي چه زه حق نه غواړم خط ئی هم ورکړی دی چه زما حق زما د ورونو دی په دغه ۴۲ کاله کی هیڅ څوک نه وایي چه زه حق لرم اوس ستاسو د محترم مقام څخه دا هیله لرم چه معلومات و ما ته راکړئ چه یوې خور ئې وصیت کړی دی چه زه حق نه

غواړم او بلې خور ئې هم ویلی دي چه زه حق نه غواړم ایا دا مشاع ده که یا؟ ۔ ایا دغه هلک چه خپل اکا په لاس وهل سویدي او اکا ئی هم خپل جایداد په خپل رضائیت وربخښلی دي آیا دغه مخکه مشاع سی یا نسی مشاع ځینی گرځولی سی که یا؟ (المستفتی حاجی محمد حسین)

جواب: محترم مستفتی صاحب دغه هبه هبهٔ د مشاع ده ولی تاسو او واهب او موهوب له ټولـه دا اقرار کوئ چه په دغه ځای کی د خویندو حق سته او تقسیم سوی نه دی نو نه په دې ځای کی مرورالزمان راتلای سی ولی د طرفینو اقرار موجود دي او نه د خویندو حق ساقطیږی په دې خبره چه مونږ حق نه غواړو زمونږ حق د ورونو دي نو ستاسی د مسئلې علاج دا دي چه تاسو به د هغه یوې ژوندۍ خور او د هغې بلې وفات سوې خور د ټولو وارثانو په موجودگی کي دغه مځکه په شرعی ډول سره تقسیموئ د هغه وارثانو په مابین کی چه د احمد جان د پلار د وفات په وخت کی موجود وه او د میراث حقداره وه او بیا به د وفات سوی خور حصه د هغې د وارثانو په مابین کی تقسیموئ او د هر یوه حصې به معلوموئ پس له غه چه حصې معلومې سوی هر وارث او هر حق داره که په خپله رضاء او رغبت سره خپله خصه یوه معلوم شخص ته ور وبخښله نو هم صحیح ده او که یی نه ور بخښله هم یی خپله خوښه ده حاصل دا چه شرعًا نوی تقسیم ضروری دي که څه هم ډیره مده تیره سویده او د مخه تر تقسیم هبه د مشاع ده.

لایسقط الحق بتقادم الزمان فاذا اقر المدعی علیه و اعترف صراحة فی حضور الحاکم بان حق المدعی عنده فی الحال علی الوجه الذی یدعیه و کان قدمر الزمان علی الدعوی فلا یعتبر مرورالزمان و یحکم بموجب اقرار المدعی علیه (المجلة المـ۱۶۷۴) هکذافی (ردالمحتار صـ۳۸۱ج ۴) الارث جبری لا یسقط بالاسقاط و قد افتی به العلامة الرملی کماهو محرر فی فتاواه (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۲۶ج ۲) هکذافی (الفقه الاسلامی صـ۳۴۱ج ۵) لکن ان قسم الواهب الجزء الموهوب المشاع بنفسه او بواسطة نائبه و سلمه الی الموهوب له صح العقد لزوال المانع و کذا لو امر الموهوب له ان یقسم مع شریکه (ردمحتار) اما لو سلمه شائعا فلا یملکه الموهوب له ولاینفذ تصرفه فیه (سلیم باز صـ۴۷۳) والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

له مصنوعي غاښ سره غسل څنګه دي؟

سوال : د مرکزي دارالافتاء علماء کرامو حضور ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.
وبعد : په موجوده وخت کې د مصنوعي غاښو يو طريقه داسې راوتلي ده چه د کوم چا غاښ نه وي نو ډاکټر د غاښ پر اندازه ورويوږي کړي او لاندي يا لوړ هډوکي برمه کړي بيا نوي مصنوعي غاښ په هغه ځای د پيچ يا دوا په واسطه پيټ کړي نو په دغه مذکور صورت کې بيا غسل صحت لري کيا ؟ (المستفتی الحاج مولوي عبدالودود صاحب)

جواب : د غسې غاښ ايښوول لکه په استفتاء کې چه ذکر سوي دي مانع د غسل نګرځي.

مصنوعی دانت دوطرح کی ہوتی ھیں ایک وہ جو مستقل طور پر لگادی جائے اور پھران کو آسانی سے نکالا نہ جا سکی دوسری وہ جوبنائی ہے اس طرح جاتی ہیں کہ حسب ضرورت انکا استعمال کیا جائے اور حسب ضرورت نکال لیا جائی پہلی صورت میں یہ مصنوعی دانت اصل دانت کا درجہ رکہتی ھیں اسی لئے ان کا حکم اصل دانتوں ہے کا ہوگا وضو میں ان دانتوں تک پانی پہنچانا مسنون ہوگا اور غسل میں فرض دانت نکالنے اور تہ تک پانی پہچانی کی ضرورت نہیں اسکا واضح قرینہ یہ ہے کہ بعض فقہاء نے اس طرح کی دانت لگانی یا دانتوں کی سونے چاندی کی تاروں سے کسی کی اجازت دی ہے اب ظاہر ہے اس اجازت کا مطلب یہی ہوگا کہ ان کی اندرونی حصول میں پانی پہنچانا ضروری نہیں ہے ورنہ یا اجازت بڑی پریشان کن بھی ہوگی اور بی معنی بھی الخ (جدید فقهی سائل صـ۲۳ج۱) هکذا فی (احسن الفتاوی صـ۳۲ج۲) (فتاوی دارالعلوم دیوبند صـ۱۴۵ج۱) (فتاوی رحیمیه صـ۹ج۳) (امداد الفتاوی صـ۱۸ج۱).

والتراب والطين في الظفر لايمنع والصرام والصباغ ما في ظفر هما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلک يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع كذا في الظهيرية (الفتاوى الهندية صـ۱۳ج۱).

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

دانجلۍ دبلوغ سن به څوکاله شمېرل کېږي؟

سوال: د کندهار د دارالافتاء ریاست ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.
که چیري یو سړي خپل نابالغه زوی ته یوه نابالغه انجلۍ و غواړي او عقد وسي پر یو اندازه مهر باندي او د دغه هلک پلار هغه مهر ورکړی بیا دا هلک ځوان سی او طلب د واده وکړی نو ددې هلک پلار د انجلۍ پلار ته ووایي چې واده راکړه او د انجلۍ پلار وایي چه کوچنۍ ده نو د دواړو اختلاف دی د هلک پلار وایي غټه ده او د انجلۍ پلار وایي کوچنۍ ده ـ آیا شرعًا د انجلۍ د څو کالو په عمر کی غټه شمارل کیږی او پلار ئی په واده ورکولو مجبور کیږي؟

جواب: د ډیرو فقهاؤ په نزد سن اعتبار نه لری په دغه مسئله کښی بلکه طاقت ته کتل کیږی که ئی طاقت د واده درلودی نو واده دي کړی که څه هم د نه ۹ کاله څخه کمه وي او که یی طاقت نه درلودی نو بیا دي نه و دوی که څه هم تر ۹ کاله بالاوی او که صورت د اختلاف سو لکه مستفتی چه پوښتنه کړی ده نو که هغه انجلۍ د کوره څخه د باندي وتله نو قاضی دي خپله ووینی او فیصله دي وکړی چه طاقت لري کنه او که انجلۍ نه راوتله د کوره نو بیا دې قاضی دا سی ښځې ورواستوي چه دده په هغه ښځو باور وي هغه ښځې به قاضی ته حال ووایی قاضي به د هغه مطابق فیصله وکړي. واکثر المشایخ علی انه لاعبرة للسن فی هذا الباب وانما العبرة للطاقة انکانت ضخمة سمینة تطیق الرجال ولایخاف علیها المرض من ذلک کان للزوج أن یدخل بها وان لم تبلغ سنین وانکانت نحیفة مهزولة لا تطیق الجماع ویخاف علیها المرض لایحل للزوج ان یدخل بها وان کبر سنها وهو الصحیح واذا نقد الزوج المهر وطلب من القاضی أن یأمر أبا المرأة بتسلیم المرأة فقال ابوها انها صغیرة لاتصلح للرجال ولاتطیق الجماع وقال الزوج بل هی تصلح وتطیق ینظر انکانت ممن تخرج أخرجها وأحضرها وینظر الیها فان صلحت للرجال امر بدفعها الی الزوج وان لم تصلح لم یأمر وانکانت ممن لاتخرج امر من یثق بهن من النساء ان ینظرن الیها الخ (الفتاوی الهندیة صـ۲۸۷ج۱) فان زعم الزوج انها تحتمل الرجال و انکر الاب فالقاضی یریها النساء ولایعتبر السن (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۲۸ج۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

که دخورپه غیاب کي تقسیم وسي حصه ئې معلومه سي ،خودې ته ورمعلومه اوتسلیم نسي، خورابراء خط ورکړي صحت لري کنه؟

سوال: د مرکزی دارالافتاء رئیس صاحب حضور ته السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہٗ.
عرض دادی چه زما خورجان نامی پلار وفات سو د هغه څلور ښځې نه ۹ لونې شپږ ۶ زامن پاته سوه مور مي هم مړه سوه پسله څه وخته ورونو پخپله خوښه زما په غیاب کی تقسیم سره کړیوو زما د مور او زمونږ د دوو خوندو حصه یوه ورور د خپلې حصې سره ځان ته گرزولی ده بیا دغه ورور تر دغه مخکی چه زمونږ حصه را معلومه کړی یا ئی را تسلیم کړی زما څخه ابراءتر لاسه کړی ده اوس زما عرض دا دی چه تر مخه تر تسلیم وماته چه زما حصه نه ده را تسلیم سوي زما ابراء یا هبه قابل د اعتبار ده کنه ده ؟ ﴿ خورجان بنت حاجی عبدالله ﴾

جواب: حق د میراث یو جبری حق دی یعنی که وارث وغواړی چه خپل حق ساقط کړی او وایی چه زه خپل حق نه غواړم نو حق یی نه ساقطیږی نو دغه ابراء یا هبة چه د خپلې حصې د معلومولو تر مخه سوی ده نه صحیح کیږي او اوس خپل حق غوښتلای سی او حق یی ثابت دی.

صرح علماؤنا بان الارث لایصح اسقاطه اذهو جبری لاسیمافی الاعیان فقولها لااستحق ارثا معارضٌ بقوله تعالی ولابویه لکل واحد منهما السدس فبطل به قولها لااستحق ارثا وفی الاشباه والنظائر لو قال وارث ترکت حقی لم یبطل حقه ﴿ الفتاوی الخیریة ص۹۹ج ۲ ﴾ الارث جبری لایسقط بالاسقاط ﴿ تنقیح الفتاوی الحامدیة ص۲۶ج ۲ ﴾ هکذافی ﴿ دررالحکام ص۶۹ج ۴ ﴾ وعلیه یکون کل ابراء اسقاطا ولیس کل اسقاط ابراء ﴿ الفقه الاسلامی ص۳۲۶ج ۵ ﴾ کذلک لو وهب احد حصته فی ترکة قبل ان یعلم مایصیبه منها من المال لاحد الورثة لاتصح الهبة کما لاتصح الهبة فیما لو قال احد وهبت مقدارا من الاشیاء التی املکها لابنی الصغیر ولم یعین الاشیاء التی وهبها ولم یعلم بها (التنقیح وعلی الفندی) ﴿ دررالحکام ص۴۳۹ج ۲ ﴾ والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که سرای واخیستل سي ، په مسجدګړ سي بیرته ئې مالک غوښتلای سي که؟

سوال: د کندهار د دارالافتاء رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.

د سلام مسنون څخه وروسته د علی احمد نامی د اقرار او د شواهدو په حضور کښې د والي علومی صاحب له طرفه خریداری سوی سرای او بیا په زړه جامع ګډ سوی دی په ۱۸ / ۵ ۱۳۷۰ هجری شمسی کښې اوس بیا نوموړی علی احمد غواړی چه سرای د جامع څخه جلا کړی د عارض د اطمنان د پاره مدلل شریعی حیثیت ولیکی مهربانی به مو وي . والسلام او وروسته زمونږ سره ثبتنام سوی هم دی جلد نمبر ۲ صفحه ۱۴ باندی ؟

(مولوی صبغت الله رئیس حج و اوقاف کندهار)

جواب: یو څوک چه په خپله رضاء او رغبت سره خپل شخصی سرای یا ځمکه یو مسجد ته ورکړی که په مقابل کی د پیسو وی یا نه وی او هغه ځای په مسجد کی خلط سی او خلق لمونځ پکښې شروع کړی نو دا ځای د أبد دپاره مسجد ګرځی هیڅ وخت حکم د مسجدیت نه ځنی زائلیږي او نه د شخصی کور استفاده ځنی کیدلای سی.

اما علی قول ابی یوسف رحمة الله تعالی علیه فلان المسجد و ان خرب و استغنی عنه اهله لایعود الی ملک البانی ..... و الفتوی علی قول ابی یوسف رحمة الله تعالی علیه انه لایعود الی ملک مالک ابدا (الفتاوی الهندیة صـ۴۵۸ج۲) و اتفق العلماء فی وقف المساجد انها من باب الاسقاط و العتق لاملک لاحد فیها و ان المساجد لله تعالی (الفقه الاسلامی صـ۱۵۶ج۸) قال فی شرح التنویر و لو خرب ما حوله و استغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام و الثانی ابدًا الی قیام الساعة و به یفتی (احسن الفتاوی صـ۴۳۶ج۶) قلت و فی الذخیرة و بالصلاة بجماعة یقع التسلیم بلا خلاف حتی انه اذا بنی مسجدًا و أذن للناس بالصلاة فیه جماعة فانه یصیر مسجدا (ردالمحتار صـ۳۶۹ج۳ بیروت) هکذا فی (امدادالفتاوی صـ۷۲۵ج۲) والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه صلح وسي ديوه حق پربل كښېښودل سي، او بيا ثابته سي چې حق ئې نسته صلح باطلېږي؟ كه باطلېږي كوم شرائط لري؟

سوال: د مركزی دارالافتاء رئيس صاحب ته السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهٗ.
عرض دا دی: چه پرما حاجی احمد باندي حاجی نعمت الله الزام لگولی دی چه ته زمونږ دواړو شراكت په حساب كی باقی ئی بيا مونږ صلح كونكو ته وكالت تحريری شكل وركړی صلح كونكو پر ما حاجی احمد څه مبلغ كښېښوی او ما ومنی اوس كه دا ثابته سی چه د حاجی نعمت الله پر ما پيسی نسته ايا هغه صلح چه سوي وه هغه بيرته ماتيږي كه يا؟ او ما حاجی احمد يوار دا اقرار كړي دی چه د حسابو كتابونه د صلح څخه وروسته اعتبار نه لري اوس زه بيرته مطالبه د حساب كولای سم؟

د اول سـوال جـواب: كـه چيـری شـرعًا دا ثابتـه سی چـه د حـاجی نعمت الله پـر تـا پيـسی نسته (يعنی حاجی نعمت الله اقرار وكړی چه ماناحقه دعوی كړی وه.
(ددوهم سوال جواب وگوره) نو هغه صلحه باطله ده او حاجی نعمت الله حق نلري چه هغه مبلغ د صلحی ستاسو څه واخلي

وفی آخر صلح الاشباه ايضًا ادعى مالا فأنكر فصالحه ثم ظهر بعده ان لاشئ عليه بطل الصلح كما فى العمادية من العاشر...... و اذا جرى الصلح بين المتداعيين و كتب الصك و فيه ابراء كل واحد منهما صاحبه عن الدعوى ثم ظهر ان الصلح وقع باطلا بفتوى الائمة فارا د المدعى ان يدعى ما ادعى لانه صح دعواه لان هذا ابراء فى ضمن المختار ان تسمع لان هذا ابراء فى ضمن

صلح فاسد فلا یعمل (مجمع الفتاوی) ﴿ تنـقیح الفتاوی الحامدیة صـ۶۵ج۲)
لو ادعی انسان علی انسان مالا او حقافی شئ ثم صالحه علی مال فتبین انه لم یکن علیه ذلک المال و ذلک الحق لم یکن ثابتا کان للمدعی علیه حق استرداد ذلک المال هکذافی خزانة الفتاوی ﴿ الفتاوی الهندیة صـ۲۸۴ج ۴ ﴾ .

د دوهم سوال جواب: اوس حق د مطالبی د حساب نه لري ځکه په صحیح صلحه سره رفع د نزاع راځي او په حساب سره بیرته نزاع مابین ته کیږي او بل دا چه که یو مدعی د مدعی علیه سره د دي وجې صلحه وکړی چه د مدعی سره شاهدان نه وی موجود او پس د صلحی شاهدان موجود سی یا دا چه مدعی علیه اقرار وکړی په حق سره د مدعی نو هم صلحه نه ماتیږي او د دوئ دعوی غیر مسموع ده نو حساب او کتاب چه حجة ضعیفة دی نسبة و اقرار او شاهدانو ته هغه په طریق اولی غیر معتبر دی لکن که مدعی پس له صلحې اقرار وکړی چه ما ناحقه دعوی کړی وه نو صلحه ماتیږي که دغه اقرار په شاهدانو مثلاً ثابت سو (لکه چه تر مخه په لیکلی سوی عربی عبارتونو کی چه لفظ ده ثم ظهران الصلح الخ فتبین انه الخ راغلی دی هغه هم دغه محمل لري چه مدعی خپله اقرار وکړی مثلاً نه دا چه اوس حق د بیرته دعوی کولو او حساب کولو موجود دی).

الصلح هو عقد یرفع النزاع بالتراضی ﴿ المجلة المـ۱۵۳۱ ﴾ المسألة الاولی اذا ادعی احد علی آخر بان الدار التی تحت یده هو داره و لعدم اثبات دعواه تصالح مع المدعی علیه علی الف درهم ثم وجد شهودا یشهدون بأن الدار ملکه فلا تسمع دعواه ولاشهوده المسألة الثانیة اذا ادعی احد علی آخر بحق وحصل الصلح بینهما عن انکار ثم اقرالمدعی علیه بالمدعی به فلا یخل ذلک الصلح الواقع ﴿ دررالحکام صـ۵۷ج ۴ ﴾ اذا أقر المدعی بعدالصلح بأن لم یکن له قبل المدعی علیه ای حق یبطل الصلح (ردالمحتار و التکملة) ﴿ دررالحکام صـ۵۸ج ۴ ﴾ هکذافی ﴿ شرح المجلة للاتاسی صـ۵۷۰ج ۴ ﴾

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

صرف ذوليدي حجت ده كنه؟ د ذوليدي احداث يابطلان پرمدعي لازم ده كنه؟

سوال: یو شخص په بل شخص دعوه کړیده چه تا زما پدری موروثی ملک را څخه غصب کړیدی هغه مدعی علیه ثبوت د ملکیت په شاهدانو نه وی کړی بلکه وائی چه زه ذوالید یم ماته د پلار او نیکه څخه را پاته دي اوس عرض دا دی چه ایا زما د غصب په دعوه وده ته ذوالیدی حقیقی ثابتیږي کیا ؟

(المستفتی مولوی عبدالغفار)

جواب: یوازی د غصب کولو په دعوی سره د مدعی ذوالیدی حقیقی مدعی علیه ته نه ثابتیږي بلکه که مدعی د مدعی علیه غصب ثابت کړی او احداث دید د مدعی علیه ثابت کړی نو ذوالیدی حقیقی د مدعی علیه څخه منتفی کیږی او مدعی علیه خارج بلل کیږي.

ذوالید هو الواضع اليد على عين بالفعل او الذی يثبت تصرفه تصرف الملاک (المجلة المـ١٦٧٩) ولو غصب ارضًا وزرعها فادعى رجل انهاله و غصبها منه فلو برهن على غصبه و احداث يده يكون هو ذايد والزارع خارجا ولو لم يثبت احداث يده فالزارع ذويد و المدعی هو الخارج ولو كان بيده عقار فاحدث الاخر عليه يده لا يصير به ذايد فلو ادعى عليه انک احدثت اليدوكان بيدی فانكر يحلف و به علم ان اليد الظاهرة لااعتبارلها (سليم باز صـ١٠٠٠) قال فی جامع الفصولين لابد من معرفة القاضی كون العقار فی يدالمدعی عليه فيذكر المدعی انه بيده اليوم بغير حق آه (كاملية صـ١١٥) غصب أرضا و زرعها فادعى رجل انها لی و غصبها منی فلو برهن على غصبه واحداث يده يكون هو ذايد والزارع خارجا و لو لم يثبت احداث يده فالزارع ذواليد و المدعی هو الخارج آه (جامع الفصولين صـ٨٥ج١)

والله تعالى ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که دلاري په خاطر دچادکان له ښاروالي سره استملاک سي، اوقيمت ئې ترلاسه نکړي، لارجوړه نسي، موقت دکانونه ورباندي جوړسي نو ښاروالي مالک ته قيمت ورکړي ښاروالي کرايه واخلي که مالک ته کرايه ورکول سي؟

سوال: محترما: څرنګه چه د ټيکچن هندو درې بابه دکانونه په سړک کښې استملاک سوي دي او د دکانو قيمت ئې په هغه وخت کښې نه دي ترلاسه کړې د موقت وخت لپاره ئې پر همدغه ځای چه سړک په شل متري کښې واقع دي دکانونه جوړ کړې دي څرنګه چه سړک د ښاروالي ملکيت دی اوس مونږ ته مطابق د شريعت معلومات راکړئ چه د نوموړي ځای کرايه هندو ته ورکول سي يا هندو د هغه وخت د قيمت مستحق او کرايه ښاروالي ته ورکول سي د پورته موضوع په ارتباط طالب د هدايت يو ؟ (حقبين صاحب)

جواب: دلاری د ضرورة په اساس حکومت کولای سی چه يو څوک د خپل ملک و خرڅولو ته مجبور کړی لکن د ټيک چن هندو د دکانو په هکله بايد ووايو چه د يوې خوا ده خپل قيمت نه دی ترلاسه کړی او د بلې خوا دده دکانونه بی له ضرورته تخريب سوی دی په پخوانی حکومت کی ولی که ضرورت موجود وای نو په لار به ګډ سوی وای او بيرته به نوای دکانونه سوی. نو د ټيکچن ملکيت پر خپل حال پاته دي ملکيت يی ښاروالی ته نه دی انتقال سوی کرايه به داغه ټيکچن ته ورکوي نه و ښاروالی ته. بايد ووايو چه حکومت هغه وخت يو څوک د خپل ملک و خرڅولو ته مجبور کولای سی چه دغه شرطونه موجود وي:

(اول) د لاری ضرورت به فعلاً موجود وي.

(دوهم) د استملاک د وخت مناسب او معادل قيمت به بائع ته ورکوي.

(دريیم) اول به قيمت بائع ته تسليموی بيا به هغه ځای حکومت په لار ګډوي.

لدى الحاجة يؤخذ ملك كائن من كان بالقيمة بامر السلطان ويلحق بالطريق لكن لايؤخذ من يده مالم يؤدله الثمن انظر الى مادتی (۲۵۱) - (۲۶۲) (المجلة المـ۱۲۱۶) و (شرحها سليم باز صـ۴۳) و (الاتاسی صـ۱۵۸ج ۴) و (الفتاوی الخانية بهامش الهندية صـ۲۷۹ج ۱) و (الفقه الاسلامی صـ۵۰۹ج ۵ صـ۷۶ج ۴) و

کذلک یحق للدولة التدخل فی الملکیات الخاصة المشروعة لتحقیق العدل و المصلحة العامة (الفقه الاسلامی ص۵۱۸ج۵) لیس کل من ادعی الضروره یسلم له ادعاءه او یباح له فعل الحرام و انما لابد من توافر شروط او ضوابط للضرورة و هی مایأتی -۱- ان تکون الضرورة قائمة لامنتظرة فی المستقبل الخ (الفقه الاسلامی ص۵۱۶ج۳)

والله تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که درې واره داسي ووايي: (پرماباندي خپله مانینه خور وموردہ) (دابنځه والله که زمابه کوربیارانبوزي) اوبنځه په دغه کورکي وي اوبیاداهم ووايي چې ثلاثه اوکلما هم یادکړي اونیت ئې هم دطلاق وي نوځه حکم دي؟

سوال: مونږ یو اندیوال داسی ویلی دي چه پرما باندي خپله مانینه خور و مور ده او دا خبره ئی درې کرته تکرار کړیده او بل ګنبت یو اندیوال تری پوښتنه کړي ده چه تا څنګه دا خبره کړیده ده بیا داسی ورته ویلي دي چه ما کلما سره او ثلاثه سره دا خبره کړي ده مګر طلاق ئی نه دی یاد کړی او د خور و مور کلمه کښې د دې نفر د طلاق ثلاثه نیت ؤ مونږ په احترام هیله کورچه مونږ ته مسئله راکړئ چه دده د نکاح تړلو لار را ته وښئی چه دده نکاح څنګه تړل کیږي دا نفر حلاله یا دا چه څوک ورسره شپه تیره کړی نه مني که بله لاره وي مونږ ته ددې کاغذ پر شا معلومات او مسئله راکړی مونږ ډیر سودائی یو چه څه وکړو او دایي هم ویلی دي چه دا ښځه زما په کور والله که راننوزی حالانکه ښځه هم په دغه کور کی ده او په مذکور لفظ کی ئی هم نیت د ثلاثه طلاق ؤ ؟

(ملاّعبدالرحیم اخند نقشبندی)

جواب: پر دغه مستفتی صاحب باندي هیڅ شی نه لازمیږي نه ئی ښځه طلاقیږي نه باندی حرامیږي هغه اول لفظ چه ده ویلی دي چه پر ما خپله مانینه خور او مور ده په هغه کی خویی لفظ د تشبیه نه دی ذکر کړی نو هغه لفظ لغو دی که څه هم نیت یی د طلاق وو او دوهم لفظ

یی دا ویلی دي چه دا ښځه زما په کور والله که راننوزي او ښځه حالاً په کور کی ده په دې جمله کی داسی لفظ نسته چه دلالة وکړي پر طلاق او بل دا چه مراد ځنی استقبال دی او طلاق په لفظ د استقبال نه واقع کیږي.

بخلاف مالو حذف الکاف منها فانه یلغو کما مر ویأتی (الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر صـ۴۴۹ج۱) هکذافی (الدرالمختار و ردالمحتار صـ۶۲۶ج۲)

اگر کسی زوجۂ خود را خواهر یا مادر بگوید برزوجہ اش طلاق واقع نمیشود ونیز ظهار نمیشود البتہ چنان گفتن یعنی زوجۂ خود را خواهر گفتن مکروہ است (فتـاوی دارالعلـوم دیوبنـد صـ۲۱۲ج۱۰صـ۲۰۴ج۱۰) و (امدادالمفتیـن صـ۲۸۷) و (عزیـز الفتـاوی صـ۴۹۳) و (امـدادالفتاوی صـ۴۸۰ج۲) و (فتاوی محمودیة صـ۱۲۲ج۸).

زید نے اپنی منکوحہ کو مارپیٹ کر گھر سے نکال دیا اور یہ الفاظ کہی مجھ کو خدا کی قسم اس عورت کو میں کبھی نہیں رکھو گا چنانچہ عرصہ چار سال کا ہوگا کہ نان ونفقہ نہیں دیا توزید کی ایسی صاف الفاظ ہوتی ہوئی بھی کیا اس کی نیت بابت طلاق دریافت کی جاوی گی یا کیا، الجواب: اس صورت میں زید کی زوجہ پر طلاق واقع نہیں ہوئی اورنیت کی دریافت کرنی کی کبھی ضرورت نہیں ہے کیونکہ صیغہ استقبال میں اگر صریح الفاظ طلاق کی ساتھ بھی تکلم کرے تو اس سے طلاق واقع نہیں ہوتی کذافی العالمگیریۃ (فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۷۴ج۹) اس میں کوئی لفظ طلاق کی معنی کا نہیں دوسری صیغہ مستقبل کا ہی اس سے طلاق واقع نہیں ہوتی (ظفیر حاشیہ فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۷۶ج۹).

بخلاف قوله (کنـم) لانه استقبال فلم یکن تحقیقا بالتشکیک و فی المحیط لو قال بالعربیة اطلق لایکون طلاقا الا اذا غلب استعماله للحال فیکون طلاقا (عالمگیری مصری صـ۲۱۰ج۱) (ظفیر فتاوی دارالعلوم دیوبنـد صـ۴۷ج۹)

والله تعالی اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دوصيت ، له جنازي پس دعاء، په روژه کي

پيچکارئ، دپيرصاحب په نوم نذرپه دې اړه څلور مهيمي پوښتني اوجوابونه

سوال: و محتـرم رئـيس صـاحب د شـوری علمـاء او دارالافتـاء مرکـزی تـه الـسلام علـيکم ورحمةالله وبرکاتهُ !

محترمو مونږ علمـاء د خاک افغـان د ولـسوالی د يو څو مسائلو استفتاء کوو که مطابق د فقهی حنفی جواب راکړئ لويه مهربانی به مو وي.

(**اول**) که يو مرده وصيت کړی وي چه زما د مال له ثلثه څخه دونه مقدار اسقاط او خيرات وکړی وصی او قريبان هغه مقدار خيرات وکړی ثلث د مال ئی نور لا هم پاته وي او يا مرده وصيت نه وی کړی يا مسکيـن وي قريبان ئی له خپله طرفه يعنی له خپله مال څخه په اسقاط او خيرات پسی وکړی دا قسم خيرات او اسقاط جائز دی کنه ؟

(**دوهم**) پس لـه لمانځـه د جنازي دعـا پـه هيئت اجتماعی لـه مخه ترکسر د صفوفو او دغـه رنگه پس له فرضی لمانځه او سنت څخه دعا کول جائز ده کنه ؟

(**دريم**) که چيری يو څوک د پيرصاحب يا حضرت صاحب يا اوليـاؤ د رضا لپاره يو حيوان نذر بيا ئی حلال کړی په بسم الله سره دغه حيوان حلال دی اوکه مردار؟ او دغـه ناذر کافر دی که مسلمان دی ؟

(**څلورم**) پـه روژه د رمـضان کـړی چه نيت ئـې د روژې کـړی وي پيچکـارئ او يا سيروم پـه غوښه يا په رگ کی لگول جائز دی که نه ؟ ﴿المستفتيون علماء زابل﴾

د اول سوال جواب: دلته بايد څو خبري ښه واضحي سي.

﴿اوله خبره داده﴾ خيرات کول په مړی پسی جائز دی بلکه موجب د ثواب دی هغـه د مړی په حق کي هم او د خيرات کوونکی په حق کی هم او دغه خيرات کول ډيره زياته نفعه رسوی و مړی ته چه دا خبره هم پـه احاديثو ثابتـه ده هم د اهل الـسنة والجماعـة د علماؤ پـه اقوالو او کتابونو سره چه يو نمونه ئی دلته ذکر کوو.

روی الدارقطنی قال رجل یا رسول الله کیف ابرّ ابوی بعدموتهما فقال ان من البر بعدالموت ان تصلی لهما مع صلاتک و ان تصوم لهما مع صیامک وان تصدق عنهما مع صدقتک ..... عن انس ﷺ انه سأل رسول ﷺ فقال یا رسول الله اذا نتصدق عن موتانا و نحج عنهم و ندعولهم فهل یصل ذلک الیهم قال نعم و یفرحون به کما یفرح احدکم بالطبق اذا أهدی الیه (عمدة القاری شرح صحیح البخاری صـ۱۱۹ج۳) الافضل لمن یتصدق نفلا ان ینوی لجمیع المؤمنین و المؤمنات لانها تصل الیهم ولاینقص من اجره شیٔ آه هو مذهب اهل السنة و الجماعة (ردالمحتار صـ۶۶۶ج۱)

بدانکه دعا وصدقۀ زندگان برای مردگان نافع است.

قال التفتازانی فی شرح العقائد النسفیة و فی دعاء الاحیاء للاموات و صدقتهم ای صدقة الاحیاء عنهم ای عن الاموات نفع لهم ای للاموات خلافا للمعتزلة ..... شیخ عبدالحق محدّث دهلوی قدس سره درجامع البرکات منتخب شرح مشکوٰة نوشته و برحصول ثواب ووصول نفع اموات را بعبادات مالیه اتفاق است ودربدنیه مثل نمازگزاردن وقرآن خواندن اختلاف واصح وصول است کذا قال الشیخ ابن الهمام رحمة الله علیه ..... بلکه منقول از امام احمد رحمة الله تعالی علیه آنست که میرسد بمیت هرچیز از صدقه وصلوٰة وحج الخ ..... وامام ربانی در مکتوب صدوچهارم جلد اول میفرماید مصیبت برفتن نیست برحال رونده است تا با اوچه معامله کنند بدعا واستغفار وتصدق امداد باید نمود ..... عجب تماشا است که بعضی مردمان همچو معتزله از ثواب رسانی موتی انکار میکنند مع هذا از دعوی سنیت دست نمی بردارند وگاهی بربطلان ایصال ثواب بعبادات بدنیه حکم مینمایند وباوجود این اجتهاد و ابطال دعوی تقلید وحفیت نمی گزارند (فصل الخطاب بین الخطاء والصواب صـ۵۷).

(دوهمه خبره داده) د اسقاط گرځولو په هکله متأخرینو علماؤ فتوی دا ده چه دغه اسقاط گرځول جائز بلکه خدای تعالی ﷻ نه ډیر امید دی چه د میت په حق کی ډیر انفع

وګرځی البته څه شرائط لري چه د هغو لحاظ باید وسی چه هغه شرائط په نورو کتابونو کی مفصل ذکر سوی دی او دلائل د جوازیی هم په نورو کتابو کی په تفصیل راغلی دی خو بعضی یی دا دي.

فی الدرالمنتقی انهم اذا ارادوا الاخراج عنه یحسب عمره بحسب غلبة الظن و یخرج منه مدة الصباوهی اثنا عشر فی الغلام و تسعة فی الجاریة و یخرج عنه بقدرها انکان عندهم مایکفی والاتدفع مرارا آه.

ودر نورالایضاح میگوید و ان لم یف ما اوصی به عما علیه یدفع ذلک للفقیر فیسقط عن المیت بقدره ثم یهبه الفقیر للولی و یقبضه ثم یدفعه للفقیر فیسقط بقدره ثم یهبه الفقیر للولی و یقبضه ثم یدفعه الولی للفقیر و هکذا ..... ودر مراقی الفلاح ص۱۸۵ ضمن قول ماتن ..... میگوید..... فحیلته لابراء ذمة المیت عن جمیع ما علیه ان یدفع ذلک المقدار الیسیر بعد تقریره بشئ من صیام او صلوات او نحوهما و یعطیه للفقیر بقصد اسقاط مایرید من المیت بقدره ثم بعد قبضه یهبه الفقیر للولی او للاجنبی و یقبضه لتتم الهبة و تملک ثم یدفعه الموهوب له للفقیر بجهة الاسقاط متبرعا به عن المیت آه و همچنان در (جامع الرموز ص۱۶۱ج۱) و فتاوی زاهدی نقلا عن التحقیق حیلهٔ مذکوره ذکر نموده و قرارداده (جرءة الائمة ص۴۸).

و فی (البصائر لمنکری التوسل باهل المقابر لمولانا حمد الله داجوی ص۱۳۰) ولو لم یترک مالا یستقرض وارثه نصف صاع مثلا و یدفعه لفقیر ثم یدفعه الفقیر للوارث ثم و ثم حتی یتم (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ص۵۴۲ج۱).

(**دربیمه خبره**) که چیری پر ذمه د میت باندی قضایی لمونځونه یا روژی یا نور قابل اسقاط فرائض وی او د غه میت و صیة په خیرات یا اسقاط سره کوی او هغه خپل واجبات پریږدي او په هغو سره وصیت نکوی په دي صورت کی میت ګنهګار دي او که میت وصیت په خپلو فرائضو کړی وي هغه په مقدار د ثلث مال نو پر ولی باندي د هغه عملی کول واجب

دی او که یې په خیرات یا دور اسقاط باندي وصیت کړی وو نو د هغه عملی کول پر ولی باندي لازم ندی ځکه چه دا وصیة دی په تبرع سره یعنی ولی ئی عملی کولای سی لکن باندي لازمیږي نه.

ونص علیه فی تبیین المحارم فقال لایجب علی الولی فعل الدورو ان اوصی به المیت لانها وصیة بالتبرع والواجب علی المیت ان یوصی بما یفی بما علیه ان لم یضق الثلث عنه فان اوصی باقل و أمر بالدورو ترک بقیة الثلث للورثة او تبرع به لغیر هم فقدا ثم بترک ما وجب علیه آه و به ظهر حال و صایا اهل زماننا فان الواحد منهم یکون فی ذمته صلوات کثیرة و غیرها من زکوة و أضاح و ایمان ویوصی لذلک بدراهم یسیرة و یجعل معظم وصیته لقراءة الختمات و التهالیل التی نص علماء ناعلی عدم صحة الوصیة بها (ردالمحتار صـ۵۴۲ج۱) (مجموعة رسائل ابن عابدین صـ۱۹۷ج۱)

د دوهم سوال جواب: دجنازې د لمانځه وروسته تر مخه تر کسر د صفوفو دعا کول مکروه دی او په پنځو لمونځو کی د هغه لمونځو وروسته چه سنة نه وی دعا کول سنة دی او که وروسته سنة وه نو بیا د سنتو وروسته دعا کول جائز دی اما التزام د دغه دعا (یعنی چه څوک ترک د دغه دعا کوی هغه ته نسبة د اساءة کول) بدعت دی په شریعت کی اصل نه لري نو که څوک دغه دعا کوی هم صحیح او جائز دی او کی نه کوی هم جائز دی.

و قید بقوله بعد الثالثة لانه لایدعو بعد التسلیم کما فی الخلاصة (البحر الرائق صـ۱۸۳ج۲) اذا فرغ من الصلوة لایقوم بالدعاء (فتاوی سراجیة بهامش قاضیخان صـ۱۴۱ج۱) وفی خلاصة الفتاوی لایقوم بالدعاء بعد صلوة الجنازة وفی البزازیة لایقوم بالدعاء بعد صلوة الجنازة وفی شرح المشکوة ولا یدعو للمیت بعد صلوة الجنازة لانه یشبه الزیادة فی صلوة الجنازة (فتاوی دارالعلوم دیوبند صـ۳۰۸ج۵) هکذافی (احسن الفتاوی صـ۲۳۶ج۱) (امدادالاحکام صـ۱۹۴ج۱).

و الاحـاديـث الـتى يـستدل بهـا عليهـا (اى على الـدعـاء بعـد المكتوبـات) الاولى ماروا ه ابوداؤد و النـسـائى عن معاذبن جبل ان النـبـى ﷺ قـال له يـا معـاذ انـى والله لاحبـک فـلا تـدع د برکـل صـلوة ان تـقـول اللّهـم اعنـى علـى ذکـر ک و شکر ک الحديث و الثانية عن ابى بکرة ﷺ قال کان النـبـى ﷺ يـدعوا بهـن (اللهـم انـى اعـوذ بـک مـن الـكفـر و الفقـر و عـذاب القبـر) دبرکـل صـلوة آه (احـمـد والترمـذى و النــسـائى) الثـالثـة عـن الـفـضل بـن عبـاس ﷺ الـصلوة مثنـى مثنـى تشهد فى رکعتين و تخشع و تـضرع و تمسکن و تـقـنـع يـديک يقـول ترفعهمـا الى ربک مستقبلا ببطونهـما و جهک و تـقول يا رب يا رب و من لم يفعـل فهـو کـذا وکذا وفى رواية فهو خداج اخرجه الترمذى و الروايـات فى هـذا البـاب کـثيـرة فالدعاء بعد الصلوات من الـسنـن الثـابـتـه فـلا تـكن فى مرية والله اعلم (محـمـد عبدالله غفرله)الدعـاء بعـد المکتوبات برفـع الايدى ثابت بالاحـاديـث المـرفـوعـة جمعهـا المفتـى العـلامة کفـايـت الله الـدهلوى فـى رسـالـة مستقلة فى هـذا البـاب تسمى بالنـفـائـس المرغوبـة فـارجـع اليهـا و اغـتـنـمهـا خـيـر مـحـمـد الجـالنـدهرى (خيرالفتاوى صـ۲۵۸ج۱) عن الاسودالعـامرى عن ابيه قال صـليت مع رسول الله ﷺ الفجـر فلمـا سـلم انحـرف ورفـع يديـه و دعـا (الحـديث اخرجه ابـن ابـى شيبة فـى مصنفه (خيرالفـتاوى صـ۳۵۲ج۱) قيل يـا رسول الله اى الـدعـاء اسمع فقـال رسـول الله ﷺ جـوف الليـل الاخـر و دبر الـصلوات المکتوبـات رواه الترمـذى (خيرالفـتـاوى صـ۳۵۴ج۱) و يـکره تـاخير السنـة الابقـدر اللهـم انـت الـسلام الخ الـدرالمختارقولـه الابقدر اللهم الخ لما رواه مسلم و الترمذى عـن عـائـشة رضى الله تعـالى عنـهـا قالت کـان رسـول الله ﷺ لايقعـد الابمقـدار مـايقول اللهـم انـت الـسلام و منـک الـسـلام تبارکت يـا ذالجـلال و الاکـرام و امّا مـا ورد من الاحـاديث فى الاذکـار عقيب الصلوة فـلا دلالة فيه على الاتيان بها قبل السنـة بل يحمل على الاتيان بهـا بعـدهـا (ردالمحتار صـ۳۹۱ج۱) لاتفـاق کلمة المشـايخ على ان الافضل فى الـسنـن حـتى

سنة المغرب المنزل ای فلا یکره الفصل بمسافة الطریق (ردالمحتار ص۲۹۲ج۱).

(تتمة) په دغه مروجه اصطلاحی دعاء کی څو شیان جمعه دي رفع الیدین توجه د امام قوم ته په سر او پای کی حمد او صلوة ویل په پای کی لاس تیرول پر مخ باندي کول د دعا پس له لمانځه څه او هیئة اجتماعی د امام او قوم او غیر د دغه آخری أمره څه دا نور ټوله امور شرعیه دی او په احادیثو شریفو کی ثابت دی نو په جمع کی دا مور شرعیة هم څه ممنوع نه پیښیږی او هیئة اجتماعی چه خلق را جمع کول وي د پاره د نفل عبادت او اصل ئی په حدیث کی ثابت نوی هغه مکروه دی لکن دلته خو دغه اجتماع اصلاً د لمانځه د پاره ده نه د دعا د پاره او هغه فرض چه وروسته ئی سنة وی د هغه څه وروسته هم دعا جائز ده لکن څرنگه چه هلته سنة کول په کور کی افضل دی او خلق هم د لمانځه یعنی د سنتو څه په یو وقت او یو وار نه فارغه کیږي نو که امام دعا کوی احتمال د دي سته چه د بعضی کسانو په لمانځه کی خلل واقع سی فلهذا دا دعا ته سنت نه ویل کیږي فقط جائزه ده هغه هم سره د دي شرطه چه دعا کوونکی به پوره سعیه کوی چه د خلقو په لمونځو کی خلل واقع نسی خو د دي موضوع د پوره تفصیل د پاره جرءة الائمة او البصائر او همدا راز نور داسی رسائل او کتابونه چه دا راز مسائلی پکښی ذکر سوی دي باید و کتل سی.

د دریم سوال جواب: نذر یو عبادة دی او عبادة یوازی د الله تعالی ﷻ د پاره وی او دغه کسان چه یو حیوان د پیرصاحب یا یو زیارت د پاره نذر کوي که د هغه مطلب او حقیقت دا وي چه زه به د خپل دغه نذر ثوابونه حضرت صاحب یا فلان زیارت ته وربخښم یا دا چه دغه حیوان به هلته حلالوم چه د هغه ځای فقراء یا میلمانه ئی غوښی وُوخری او له همدی وجهی ذکر د بسم الله شریفی او الله اکبر کوی په وقت د ذبح نو دا ناذر مسلمان دی بلکه مأجور دی څرنگه او ولی د کفر نسبت ورته کیږي لکن هغه څوک چه عقیدة ئی دا وی چه دا نذر د خدایتعالی ﷻ د پاره نه بلکه د فلانی زیارت د پاره کوم او د هغه عبادت کوم نو په وقت د

ذبحی که د هغه نوم ذکر کوی او که د خدایتعالی ﷻ (نعوذبالله تعالی) دا سړی مشرک بلل کیږي نو دغه عوام خلق چه نذرونه کوی د دوی مطلب غالبًا هغه اول قسم وی که څه هم نفصیل ئی ورته معلوم نوی ولی یو خبره یا یو فعل د مسلمان چه ښه محمل او احتمال و لري نو پر بد محمل به نه حمل کیږی او بل دا چه د دغه نذر کوونکی څه که پوښتنه وسی چه آیا ته عبادت د پیر یا د دغه زیارت کوي ایا په خوشحاله یی نو د هغه حواب به منفی وي او دا ډیره بده بولی نو څنګه به په دي فعل دوی ته د کفر نسبت کیږي (ومن ههنا علم ان البقرة المنذورة للاولیاء کما هو الرسم فی زماننا حلال طیب) ﴿ التفسیرات الاحمدیة صـ۴۵ ﴾.

حاصل دا چه مدار د حلّ او حرمت په دي ځای کی پُر دی خبره دی چه که تـقرّب الی الله په نذر کښی مقصود وي او بیا ئی ثوابونه بخښل و زیارت ته یا صدقـة کول پر فقراء د هغه ځای یا عامو فقراء باندی مطلب وي نو دا جائز بلکه یو فعل حسن دی هر چا چه حکم د جواز ده دغه نذر کړی دی مقصود ئی دغه صورت دی که څه هم دغه ناذر مکان یا یو ځای یا یو زیارت د ذبحی متعین کړی وي یعنی دائی ویلی وي چه زه به په فلانی ځای یا فلانی زیارت کی دا ذبح کوم او که مقصود پکښی تـقرب الی الغیر وو نو دا نذر بالکل حرام او نا جائز دی او هغه عبارتونه د فقهاؤ چه شدیده منع پکښی کی دده مقصود پکښی دا دوهم صورت دی (خو پر علماؤ دا لازمه ده چه دا مسئله عوامو ته په ښه ډول تشریح کړی).

وعن ابن عباس ان سعدبن عبادة استفتی النبی ﷺ فی نذر کان علی امه فتوفیت قبل ان تقضیه فافتاه ان یقضیه عنها متفق علیه ﴿مشکوة شریف صـ۲۹۷﴾ قالت و نذرت ان اذبح بمکان کذا و کذامکان یذبح فیه اهل الجاهلیة فقال (ای ﷺ) هل کان بذلک المکان وثن من اوثان الجاهلیة یعبد قالت لا قال هل کان فیه عید من اعیاد هم قالت لا قال اوفی بنذرک ﴿مشکوة شریف صـ۲۹۸﴾ اختلفوا فی نذرام سعد هذا ..... و الاظهر انه کان نذرا فی المال او نذرا مبهما و

يعضده ماروا ه الدارقطنی من حديث مالک فقال له يعنی النبی ﷺ اسق عنها الماء (مرقاة شرح مشكوة صـ۶۰۴ ج ۶).

از ینجا معلوم میشود که کسی که نذر کند ذبح را در مکانی لازمست وفا بدان اگرآن موضع معبد اوثان و مجمع شعار کفار نبود (اشعة اللمعات صـ۲۲۱ ج ۳).

و اعلم ان النذر الذی يقع للاموات من اكثر العوام و مايؤخذ من الدراهم و الشمع والزيت و نحوها الی ضرائح الاولياء الكرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل و حرام مالم يقصد واصر فها لفقراء الانام (الدرالمختار) قوله مالم يقصدوا ای بان تكون صيغة النذر لله تعالی للتقرب اليه و يكون ذكر الشيخ مرادا به فقراءه كما مر (ردالمحتار صـ۱۳۹ ج ۲).

از عبارة ردمحتار ودرمختار اینچنین مستفاد میشود که اگر غرض ازین نذر وذبح تقرب لغیرالله باشد ذبیحه اش حرام باشد ترجمۂ عبارة (امدادالفتاوی صـ۵۵۵ ج ۲).

فتاوی ابی الليث مين هی ـ الناذر لغير الله ان قصد بالنذر التقرب الی غير الله و ظن انه يتصرف فی الامور كلها دون الله فنذره حرام باطل و ارتداده ثابت و ان قصد بالنذر التقرب الی الله و ايصال الثواب للاولياء و يعلم انه لايتحرک ذرة الاباذن الله و يجعل الاولياء وسائل بينه و بين الله فی حصول مقاصده فلا حرج فيه و ذبيحته حلال طيب (خيرالفتاوی صـ۵۵۸ ج ۱) و نذر الزيت و الشمع للاولياء يوقد عند قبورهم تعظيما لهم و محبة فيهم جائز ايضًا لاينبغی النهی عنه (تقريرات الرافعی صـ۱۲۳ ج ۱) و من ههنا علم ان البقرة المنذورة للاولياء كما هوالرسم فی زمننا حلال طيب (تفسيرات احمدية صـ۴۵) و اما الذبح و النذر انكان باسم غيرالله تعالی فلاشک ان النذر لغيرالله حرام باجماع العلماء مالم يقصد صرفه الی الفقراء و كذا الذبح و اما انكان المراد ان

يصل ثوابه الى المقبور الفلانى فاى حرج فيه كيف و النبى ﷺ كان يضحى عن امته ممن لم يضح و كذا على ؓ كان يضحى عن النبى ﷺ بعد وصاله ﷺ و ماذلک الالوصول الثواب و الافالا ضحية الواحدة كيف تصح عن جميع الامة و هذا هو محمل الحديث والافالرجل يذبح الدجاج للضيف و كذا الشاة (البصائر صـ١٦٠).

ازین قول فقهاء ہویدا است کہ نذر اگر بالاستقلال برای آن ولی است باطلست واگر برای خدا است وذکر ولی برای بیان مصرفست صحیحست ولیکن درین مقام سند العلماء

(مولاناشاه عبدالعزیز دهلوی) فائده عظیمه بقلم آورده است ..... حقیقت این نذرآنست که اهداء ثواب اطعام و انفاق وبذل مال بروح میّت که امریست مسنون وازروی احادیث صحیحة مثل ما وردفی الصحیحین من حال ام سعد و غیرها این نذر مستلزم میشودپس حاصل این نذرآنست ان شئت قلت مثلاً اهدی ثواب هذالقدر الی روح فلان وذکر ولی برائی تعین عمل منذوراست نه برای مصرف ..... وهمین است مقصور نذرکنندگان بلاشبه (و حكمه انه صحيح يجب الوفاء لانه قربة معتبرة فى الشرع) آری اگرآن ولی راحلاّل مشکلات بالاستقلال یا شفیع غالب اعتقاد میکنند این عقیده منجر بشرک وفساد میگردد لیکن این عقیده چیزی دیگراست ونذرچیزی دیگر انتهی. (فصل الخطاب صـ٢٢).

وفى الفتاوى الصغرى الكفر شئ عظيم فلا أجعل المؤمن كافرا متى وجدت رواية انه لا يكفر آه و فى الخلاصة وغيرها اذا كان فى المسئلة وجوه توجب التكفير و وجه واحد يمنعه فعلى المفتى ان يميل الى الوجه الذى يمنع التكفير تحسينا للظن بالمسلم ..... والذى تحرر انه لايفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن او كان فى كفره اختلاف و لو رواية ضعيفة (ردالمحتار صـ٣١٢ ج٣).

د خلورم سوال جواب: د پیچکاری په مسئله کی اختلاف دی بعضی علماء روژه ما ته بولی بعضی ئی ما ته نه بولی لکن څنګه چه د متقدمینو څه په دي هکله نقل نسته ولی په هغه

وقت کی پیچکاری نوه نو د متأخرینو علماء دلائلو او نظرونو ته به اعتبار ورکول کیږي خو د دارالافتاء د علماؤ نظر دا دی چه په دي مسئله کی دي احتیاط وسی او هغه څوک چه شدید مریض وی او پیچکاری لگولو ته مجبوره وي نو دی په دي وجه روژه نه نیسی چه وای زه پیچکاری لگوم یا یو چا ته ضرورت عاجل پیښ سی او پیچکاری ولگوی او وروسته نو دی بیغمه سی او خپله روژه خوری په دي دلیل چه ما پیچکاری ولگول او روژه می ولاړه په دي صورتو کی فتوی دا ده چه په پیچکاری روژه نه ماتیږي او همدغه قول د ډیرو متأخرینو علماؤ مختاره دی او احتیاط هم په روژه نیولو کی دی سره د پیچکاری لگولو او که دغسی ضرورت نوی نو هغه سړی دي پیچکاری د روژه مات وروسته ولگوی او ځان دی د اختلاف او شبهاتو څه وساتی هغه علماء چه په پیچکاری سره د روژی نه ماتیدلو حکم کوي د هغوی و بعضی کتابونو ته حوالی دا دی.

مالایفسدالصوم عندالحنفیة ..... الحقن فی العضل او تحت الجلد او فی الورید و الاولی عند الامکان تخیرها الی المساء (الفقه الاسلامی صـ۶۵۸ج۲) والمفطرهو الدخول من المنافذ دون المسامات کما صرح به فی البحروشرح المجمع و غیره و لذالایفطر الادهان والغسل و هذا یدل علی ان الدواء الداخل فی الباطن بتوسط الحقن والابرة لاینطر سواء ادخلت الابرة فی اللحم او العرق لان هذا الدواء و ان وصل الی اللحم والعرق بالمنفذ لکنه یدخل الباطن بواسطة المسامات (منهاج السنن لمولانا محمد فرید صاحب اکوړه ختیک صـ۳۴ج۴) هکذافی (فتاوی دارالعلوم دیوبند صـ۴۰۸ج۶) و (امدادالفتاوی صـ۱۴۵ج۲) و (احسن الفتاوی صـ۴۳۲ج۴) (الات جدیدة صـ۱۵۳) (جواهرالفقه صـ۳۷۹ج۱) و (بوادرالنوادر صـ۳۸۹) (جدید فقهی مسائل صـ۹۵) (امدادالمفتین صـ۴۸۹) و (کفایت المفتی صـ۲۳۸ج۴)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

ددولتي محکوپه اړه څومهمي پوښتني اوجوابونه

ومحترم رئيس صاحب د شوری علماء او دارالافتاء مرکزی ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاتهُ!

(**اول سوال**)دولتی املاک په داخل د ښار کی که چا يعنی رعيت خو دسرانه بدون د اذن د سلطان تصرف کړی دکانونه سرايونه و غيره تصرفات يی پکښی کړی او آباد کړی وي او پخپلو شخصي مصارفو يی آباد کړي وی شرعی حکم څه دی پر دا ډول املاکو باندی اوس بايد حکومت د طرفه څه کړنه وسی ؟

(**دوهم**) دولتی املاک بيا هم په ښار کی که د طالبانو د تحريک د مخه بيا د داؤد خان تر دورې پورې پر خلگو خرڅ سوی وي او يا اجازه ورکړل سوی وي او څه ناڅه اسناد په لاس کی لري په دا ډول املاکو کی شرعی حکم څه دی؟ او دولت بايد څه و کړی د دوی سره او د هغه حکومتو تصرفات په بيت المال کی جايز او شرعی دی کنه ؟

(**دريم**) ښاروالی يا دولت چه پر چا باندی يو ځای خرڅوي او يا يی ورکوی اول دا شرط ورسره وضع کوی چه په درې کاله دننه کی به دا ځای ابادوی او که دی نکړی جوړ بيا مځکه بيرته در څخه اخلو او د دولت ته اوس داسی مسئلی ډيری پيښې دي چه د درې کاله څخه زيات وخت تير سوی دی او ځای نه دی جوړ سوی او ښاروالی بيرته دا ډول املاک په تصرف کی راوستلی دي او دا شرط بالکل عرف او رواج گرزيدلی دي شرعی حکم څه دی پر دا ډول املاکو باندي ؟

(څلورم) مطلق دښت او نا آباده مځکه د چا په ملک کی بدون د بیت المال دا خلیدای سی او کنه ؟

(پنځم) دغه دښت او ناابادہ ملک شخصي خلک پر بل شخصي باندی خرڅولای سی او کنه ؟

(شپږم) دښت او نا آباده مځکه دولت پر بل شخصي سړي باندی خرڅولای سی کنه وروسته د خرڅیدا د غه دښت که هغه سړی جوړ او اباد کړی د چاملک بلل کیږي او که یی هغه سړی چه رانیولی یی دي ابادیی هم نکړی د رانیولو وروسته د حکومت ملک دی او که د هغه سړی شرعی حکم غواړو ؟

(مولوی عبدالولی رئیس قضایائ امارت

د اول سوال جواب: هغه دولتی املاک چه ده بیت المال ملکیت وي که په داخل کی دښار وي او که خارج د ښار څه ده رعیت خو دسرانه تصرفات پکښی جائز ندی بلکه دا غصب دی حکومت ته دا جائزه ده چه ځنی وایی خلی أمیرالمؤمنین باید هغه کړنه وکی چه د عامو خلقو مصلحت پکښی کی وی که مصلحة عامة په دي کی وو چه وس نوی اجازه ورته ورکی او دوی پر خپلو مځکو پاته سی نو اجازة دی ورکی او که مصلحة عامة په دي کی وي چه اوس یی هغو خلقو ته په اجارة یا بیع ورکی یا دا چه گر سره یی ځنی واخلی هغسی دی وکی ، هر هغه تصرف چه أمیرالمؤمنین یی په بیت المال کی کوي او مصلحة عامة پکښی کی وي هغه تصرف یی جائز دی او دا چه خلقو په شخصي مصارفو دا ځایونه جوړ کړی دي او حکومت دا مصلحة و بولی چه ځنی وایی خلی نو و دی کتل سی که قیمة ده مځکی ډیر وو او قیمة دبناء لږ وو نو بناء دی و نړول سی او خالی مځکه دی حکومت ته تسلیمیږي او که قیمت د بناء ډیروو نوهم دی دغه غاصب بناء و نړوی مځکه دي و حکومت ته ورکی بناء پر مختار قول باندي.

المغصوب انكان عقارا يلزم الغاصب رده الى صاحبه من دون ان يغيره و ينقصه (المجلة المـ۹۰۵) فهذا يدل على ان للامام ان يعطى الارض من بيت المال على وجه التمليک لرقبتها كما يعطى المال حيث رأى المصلحة اذلا فرق بين الارض و المال فى الدفع للمستحق فاغتنم هذه الفائدة فانى لم أرمن صرح بها (ردالمحتار صـ۲۹۰ ج ۳) لما كان لامام المسلمين ولاية نظارة على عموم الرعية فى الامور العامة كان تصرفه على الرعية منوطا بالمصلحة (شرح المجلة سليم باز صـ۴۳) التصرف على الرعية منوط بالمصلحة (المجلة المـ۴۲) (سئل) فيمن غصب ارضا وبنى فيها أو غرس و قيمة البناء اوالغراس اكثر من قيمة الارض هل يملک لارض بقيمتها أم يؤمر بالقلع (الجواب) أجاب شيخ الاسلام على أفندى مفتى الروم انه يؤمر بقلع ذلک ولايلتفت لقوله ونعم هذالجواب فان فيه سدّ باب الظلم والغصب..... وقال الكرخى انه لايؤمر به حينئذ (اى اذا كانت قيمة البناء اكثر) ويضمن القيمة..... ولكن نحن نفتى بجواب الكتاب اتباعا لاشياخنا الخ (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۶۰ ج ۲) و (شرح المجلة سليم باز صـ۵۰۲) ثم اعلم ان هذا الاختلاف فيما اذا كانت الارض ملكًا اما اذا كانت وقفًا فيؤمر الغاصب بالقلع و الرد مطلقا (مجمع الانهر) (شرح المجلة سليم باز صـ۵۰۳) وقال من كتاب الدعوى ان اراضى بيت المال جرت على رقبتها احكام الوقوف المؤبدة (ردالمحتار صـ۴۳۵ ج ۳) (وكذا) يفتى (بكل ماهو أنفع للوقف فيما اختلف العلماء فيه) (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۴۴۰ ج ۳) و (الفقه الاسلامى صـ۲۳۴ ج ۸).

د دوهم سوال جواب: څرنگه چه د داؤدخان ده حکومت څه وروسته بیا د طالبانو تر واکمنۍ پورې اسلامي قانوني او شرعي حکومت ندی راغلی فلهذا د هغوی تصرفات په مځکو د بیت المال کې غیر جائز او غیر نافذ دي مطلقا په استثناء د هغه ولایت یا ولایتونو چه هیڅ

يو بل مخالف قدرت نوو چه د هغو حکم د متغلبينو دي يعنی کم احکام چه موافق د شرع شريف سره وي هغه نافذ دی او که نوه موافق ندی نافذ امير المؤمنين به دلته هم مصلحة عامة په نظر کی ونيسی او د هغه موافق به عمل تر سره کی که اذن ورته کوی که نوی عقد کوی که يی ځنی اخلی.

(ويشترط کونه ای الامام مسلما) ای لان الکافر لايلی علی المسلم . . . . . وقوله قادرا ای علی تنفيذ الاحکام و انصاف المظلوم من الظالم و سد الثغور و حماية البيضة و حفظ حدود الاسلام و جر العساکر (ردالمحتار صـ۴۰۵ج۱) قال القاضی عياض أجمع العلماء علی ان الامامة لا تنعقد لکافر و علی أنه لو طرء عليه الکفر انعزل قال و کذا لو ترک اقامة الصلوة والدعاء اليها (اعلاء السنن صـ۶۵۷ج۱۲) ثم ان الظاهر ان البلاد التی ليست تحت حکم السلطان بل لهم امير منهم مستقل بالحکم عليهم بالتغلب او باتفاقهم عليه يکون ذلک الامير فی حکم السلطان (ردالمحتار صـ۳۴۲ج۴) .

د درېيم سوال جواب: څرنګه چه دغه شرط يو شرط متعارف دی د ښاروالیو په مابين کی نو دا شرط معتبر دي او بيع سره د دغه شرطه صحيح او نافذ ده که چيری مشتری دغه شرط اجراء نکی بايع حق د مسترد دی لري.

البيع بشرط متعارف و هو الشرط المرعی فی عرف البلدة صحيح و الشرط معتبر . . . . . ويلزم علی البائع الوفاء بهذه الشروط (المجلة المـ۱۸۸) فالحاصل ان المذهب عدم اعتبار العرف الخاص و لکن افتی کثير من المشايخ باعتباره آه (مجموعة رسائل ابن عابدين رسالة نشر العرف صـ۱۱۶ج۲) اما العرف الخاص فلا يثبت به الاحکم خاص مثلاً سيأتی فی المادة (۱۸۸) من المجلة ان البيع بشرط متعارف فی عرف البلدة صحيح و الشرط معتبر (شرح المجلة سليم باز صـ۳۵)

دڅلورم او پنځم سوال جواب: که چیری امام یو چا ته دښتې او ناابادي مځکې د اباد ولو اجازه ورکړی او د ملکیت اجازه هم ورته وکړی نو دغه سړی پس د احیاء څه د دغه مځکې مالک ګرځی داسی مالک چه امام یی هم بیا ترې نسي ځنی اخستلای او خپله هر قسم تصرف پکښې کولای سی لکه بیع اجاره و غیره او بغیر له اجازې څه د امام یی په شخصی ډول هیڅ څوک نسی خرڅولای.

اذا احیا شخص ارضا من الاراضی الموات بالاذن السلطانی صار مالکالها (المجلة المـ۱۲۷۲) ثم ان ما ذکر من الحکم هو قول الامام رحمه الله تعالی و قالا یملکها بلا اذن . . . . . قال فی ردالمحتار و قول الامام هو المختار و لذا قدمه فی الخانیة و الملتقی کعادتها و به اخذالطحاوی و علیه المتون (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۰۴ج ۴) هکذافی (ردالمحتار صـ۳۰۷ج ۵) اما الموات فلیس للامام اخراجه عنه لانه تملکه بالاحیاء فلیحفظ (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۲۹۱ج ۳).

د شپږم سوال جواب: امام لره دا جائزه ده چه موات مځکه پر خلګو خرڅه کړی که ضرورة وو او پس ده خرڅیدو د مشتری شخصی ملک ګرځی که یی اباده کی که ئی نوی اباده کړی ولی په دي وقت کی دا مځکه د مباحاتو څه نده ځکه چه عقد باندی وسو.

ورأینا د ای الامام لو ملّک رجلا أرضا میتة جاز و کذلک لو احتاج الامام الی بیعها فی نائبة للمسلمین جاز بیعه لها . . . . . فلما کان ذلک الی الامام فی الارضین دل ذلک ان حکمها الیه و انها فی یده کسائر الاموال التی فی یده للمسلمین (اعلاء السنن صـ۶ج ۱۸)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم اللہ الرحمن الرحیم

که دولت دبل هیواد دجاسوسي اداري، اوصلاح توزیع کونکي، همدارنگه په داخل کي چې دبل هیواد لپاره جاسوسي کوي موټران ونیسي څه حکم ئې دي؟

امارت اسلامی افغانستان ریاست استخبارات هرات مدیریت تحقیق بریاست محترم شوری علماء کرام ولات کندها

السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہ!

(**اول**) یک عراده موتر سراچه از نزد اسامی محمد خراسانی ولد خان محمد تبعه ایران بدست امده که کیفیت آن ازین قرار است محمد خراسانی یکی از اتباع ایرانی بوده که غرض جاسوسی و بدستور اداره استخبارات ایران از طرف احمد نام وحسین که اعضای استخبارات ایران هستند برای افغانستان توظیف شده بود ویکی از افراد خیلی مهم وخطرناک اطلاعات ایران است از نام برده یک عراده موتر سراچه هم بدست امده که به پول اداره اطلاعات ایران خریداری شده وبه غرض فعالیت های جاسوسی به اختیار محمد خراسانی گذاشته شده است ؟

(**دوم**) یکعراده موتر سراچه از نزد اسامی سنگین ولدحاجی عبدالحق بدست امده که کیفیت ان قرار ذیل است، تعداد ۳۵ میل سلاح مخالفین که از طریق اطلاعات ایران توسط شخص ایرانی بنام انزلی معاون استخبارات تایباد ایران برای سنگین توزیع گردیده بود وتوسط سراچه متذکره سلاح ها به افغانستان انتقال گردیده چون سلاح ها در مرز ایران دریک جایسازی که درزیر فرش سراچه ساخته شده بود از ایران به افغانستان انتقال داده شده وبه دسترس مخالفین قرارگرفته همچنین اسامیان هریک سنگین قومندان گلو که فعلاً قومندان مخالفین است باتعدادی افراد مسلح دیگر توسط همین سراچه از ایران به افغانستان امده اند ؟

(**سوم**) یک عراده موتر کرولا از نزد اسامی حاجی کاظم بدست امده که حاجی کاظم یکی از افراد برجسته کودتای ناکام د شورش هزاره ها در هرات بوده درپلان شورشیان حاجی کاظم بصفت رئیس استخبارات هرات تعین شده بود حاجی

کاظم از ساز ماند هندگان شورش بود ودرشکست شورش از هرات فرار نمود بعد از چند وقت که ذریعه کرولای متذکره بطرف هرات می امد در عرض راه همرای موترش یکجا دستگیر شده است ؟

به مطلب فوق غرض صدور فتوی شرعی به شما تحریر شد که موترهای متذکره به بیت المال ضبط شود ویا به ورثه شان تسلیم داده شود.

﴿ ریاست استخبارات هرات مدیریت تحقیق ﴾

جـــواب: محترما دین مقدس اسلام دربارهٔ أموال مردم وملکیتها ایشان توجّهی زیاد داده وبسیارأوامرجدّی درباب حفظ وتحفّظ آنها کرده وهیچ کس را اجازه نداده تابنوعی ازأنواع بأموال مردم ناحق تعرض نماید مال زیاده باشد یا اندک وآن مردم مخالفین وباغیان باشد یا مجرمین وعصاة باشد یا دیگر افراد درعیت باشد، دربارهٔ اموال بغاة ومخالفین حکم اینست که اموال شخصیه ومملوکه ایشان از طرف حکومت بطور امانت ودیعت وحفظ شود هر وقت که مخالفین وبغاة ازبغاوت ومخالفت دست بکشد یا بزور تسلیم شود اموال ایشان بایشان تسلیم شود هیچ نوع تغییر ونقصان باموال ایشان باید رسیده نشود واگر اموال از قسم حیوانات بود که محتاج بنفقات ومصارف بود آن اموال باید فروخته شود وقیمت اش برای ایشان نگهداری شود وهمچنان دربارهٔ دیگر مجرمین باید گفته شود که تعرض باموال شخصی ایشان وموترهای شخصی ایشان واستفاده ازان بغیر اجازهٔ ایشان حرام قطعی است وتعزیر بالمال جائز نیست جدًا باید ازان احتراز شود. البته این حکم دربارهٔ اموال شخصی ایشان است.

ولایسبی لهم ذریة ولا یقسم لهم مال لقول علی ﷺ یوم الجمل ولایقتل اسیر ولایکشف ستر ولایوخذ مال وهو القدوة فی هذالباب..... لانهم مسلمون والاسلام یعصم النفس والمال.... ویحبس الامام اموالهم ولایردها علیهم ولایقسمها حتی یتوبوا فیردها علیهم..... اماالرد بعد التوبة فلاندفاع الضرورة ولا استغنام فیها ﴿الهدایة صـ۵۸۶ج۲﴾ وتحبس اموالهم الی ظهور توبتهم (فترد علیهم وبیع الکراع اولی لانه انفع فتح ویقاس علیه العبید نهر) و

نقاتل بسلاحهم و خيلهم عند الحاجة و لاينتفع بغيرهما من اموالهم مطلقا و لو عندالحاجة سراج (الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۳۴۱ج ۳) هكذافى (الفتاوى الهندية صـ۲۸۴ج ۲) ولنا ان عليًا قسم السلاح فيما بين اصحابه بالبصرة و كانت قسمته للحاجة قال المحقق فى الفتح و لو لا ان فيه اجماعًا الخ ..... وفيه و ماكان من دابة او سلاح فهو لكم .... و قد اشرت الى طريق الجمع بينه و بين مايخالفه بانه اعطاهم ماكان عليه سمة السلطان و علامة بيت المال و ردماسواه الى اهله (اعلاء السنن صـ۶۷۲ج ۱۲) وفى شرح الاثار التعزير بالمال كان فى ابتداء الاسلام ثم نسخ و الحاصل ان المذهب عدم التعزير بأخذ المال (البحرالرائق صـ۴۱ج ۵) والحاصل ان المذهب عدم التعزير بأخذالمال (ردالمحتار صـ۱۹۶ج ۳).

(تنبیـــه) بایدگفته شودکه اگراین موترهاازطرف حکومت ایران به ایشان هبه شده باشد یاتملیکا بایشان داده شده باشدبطورملکیت شخصی پس اخذآن غیراز صورت ودیعت جائزنباشدچنانکه مذکورشدواگرتملیکاداده شده نباشدبلکه ایران فقط برای استفاده برای ایشان داده باشدکه پس ازاستفاده این موترهارابرای حکومت ایران یامخالفین امارت اسلامی تحویل دهنددرین صورت اخذاین موترهابرای امارت اسلامی وبیت المال افغانستان جائزاست چنانکه ازحوالهای سابق فهمیده میشود.

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دكفاروپه لاس اوپه برقي اله حلال سوي حيوانان څه حکم لري؟

سوال: د دارالافتاء ریاست محترم مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.

وبعد: بعضی مسلمانان چه په خارج کښی لکه په امریکا جرمنی او نورو مملکتو کښی دی داسی پوښتنه کوي چه د غه حیوانات چه عبارت د چرګ پوسونه غوایی د کفارو په لاس او یا د ماشین په ذریعه حلالیږي یعنی د ماشین په ذریعه ئی سرونه پریکوی د دغه حیواناتو غوښی د مسلمانانو لپاره او زمونږ پر مذهب څنګه دي هیله ده چه د خوراک د جواز او نه جواز په هکله فتوی را کړی ؟

﴿رئیس مخابرات﴾

د اول سوال جواب: ذبیحة د کفارو چه یو کتاب سماوی ته عقیده نلري اتفاقا ناروا ده او هغه کفار چه یو کتاب سماوی ته عقیده و لري لکه یهود او نصاری د هغو ذبیحه حلاله ده که څه هم هغوی په خپل کتاب او دین کی زیات تحریف کړی وي یا ئی عقیده د ۳ خدایانو وی لکن أولی داده چه د دوی ذبیحة بی ضرورته ونه خوړل سی.

(سئل) فی ذبیحة الذمی الکتابی هل تحل مطلقا أولا (الجواب) تحل ذبیحة الکتابی لان من شرطها کون الذابح صاحب ملة التوحید حقیقة کالمسلم او دعوی کالکتابی ولانه مؤمن بکتاب من کتب الله تعالی و تحل مناکحته فصار کالمسلم فی ذلک و لافرق فی الکتابی بین انیکون ذمیا یهودیا او نصرانیا حربیا او عربیا او تغلبیا لاطلاق قوله تعالی و طعام الذین او توالکتاب حل لکم و المراد بطعامهم مذکاهم..... وهل یشترط فی الیهودی انیکون اسرائیلیا و فی النصرانی ان لایعتقد المسیح اله مقتضی اطلاق الهدایة وغیرها عدم الاشتراط و به افتی الجد فی الاسرائیلی..... فی مبسوط شمس الائمة و تحل ذبیحة النصرانی مطلقا سواء قال ثالث ثلاثة أولا و مقتضی الدلائل و اطلاق الایة الجواز کما ذکره التمرتاشی فی فتاواه والاولی ان لا

يأكـل ذبيحـتهم ولايتـزوج مـنهم الاالـضرورة (تنـقيح الفتـاوى الحامدية صـ۲۱۱ج۲) هكـذافي (ردالمحتـار صـ۲۰۸ج۵) وفيـه وفـى المعـراج ان اشتراط مـاذكر فـي النـصارى مخـالف لعامـة الروايـات وهكـذافي (الفتاوى الهندية صـ۲۸۵ج۵) هكذافي (بدائع الصنـائع صـ۴۵ج۵) .

لكن كه دا معلومه سوه چه دغه اهل كتابو په وقت كى د ذبح نوم د غيرالله ذكريدي نو اتفاقا حرامه ده ذبيحة ئى او كه حال نوو معلوم لكن عادت د اهل كتابو وو چه اسم الله په وقت كى د ذبح ذكر كا وه نو بناء بر حسن ظن يى ذبيحة جائز ده.

ولواهل نصراني على ذبيحة بغير اسم الله تعالى فيسمع كلامه لم تؤكل ومن لم يشاهد ذبحه منهم حل اكل ذبيحتهم (مجمع الانهر صـ۵۰۸ج۲) هكذافي (ردالمحتار صـ۲۰۹ج۵ () عزيزالفتاوى صـ۶۹۷) ان ذبائحهم حلال للمسلمين لانهم يعتقدون تحريم الذبح لغير الله ولايذكرون على ذبائحهم الا اسم الله وان اعتقدوا فيه تعالى ما هو منزه عنه (تفسير ابن كثير صـ۲۹ج۲) لانه اذا لم يسمع منه شيئا يحمل على انه قدسمى الله تبارك و تعالى وجرد التسمية تحسينا للظن به كما فى المسلم (بدائع الصنائع صـ۴۶ج۵).

لكن په نن عصر كى اكثر هغه كسان چه په مملكتو كى د اهل كتابو ژوند كوى يوازى په نامه يهودى او نصرانى پاته دى او په حقيقت كى د هريان دى نو بايد بى له سخته ضرور ته اجتناب ځنى وسى.

ان تفصیلات پر غور کیجیے تو معلوم ہوگا کہ یورپ میں جو لوگ اہل کتاب کہلاتی ھیں عموما ان کی ذبیحی حلال نہیں ہوتی اول تو ان کی اکثریت الحاد اور دہریت کا شکار ہے اور مذھب الھام ووحی وغیرہ کی سخت منکر ہے (جدید فـقھی مسائل ص۱۴۱ج۱) .

(**نوټ**): دا خبر ضرورى ده چه د اهل كتابو د ذبيحى ذبح كه پر اسلامى طريقه سوى ده نو مذكور بيان سته كه پر اسلامى طريقه نوه نو حرمت قطعى دى.

د دوهم سوال جواب: مشینی ذبیحه یعنی هغه ذبیحه چه د هغه نحر یا ذبح د برقی ماشین په واسطه سوی وي نه په لاس سره په دي صورت کی څو احتماله دي (اول) دا چه ذابح مسلمان یا نصرانی یا یهودی وي یعنی اهل کتاب وي مراد د ذابح څه چالا نوونکی د ماشین دی (دوهم) دا چه ذابح دهری یا بل کافر وي (دریم) دا چه په وقت کی د ذبح اسم الله باندي ذکر سوی وي یوازی (څلورم) دا چه اسم د غیرالله باندي ذکر سوی وي (پنځم) دا چه بسم الله شریفه پر هغه آلة د ذبح لیکل سوی وي او په خوله نوی ویل سوی نو که اول او دریم احتمال سره جمع سوی وه نو ذبیحه جائزه ده او په نورو ټولو صورتو کی ناجائزه ده او حرامه ده او باید وویل سی چه دغه طریقه د ذبح خلاف د سنتو طریقه ده رواجول یې حرام کار دی په اسلامی مملکتو کی.

اتنی بات متعین ہے کہ اگر جانور کی عروق ذبح نہیں کاٹی گئیں یا ذبح کرنی والا مسلمان یا کتابی نہیں ہے یا سب کچھ ہے مگر ذبح کی وقت اللہ کا نام لینا قصداً چھوڑ دیا ہے یا کسی غیراللہ کا نام اس پر ذکر کیا ہے تو وہ ذبحہ حلال نہیں کسی مشین میں شرائط مذکورہ کی خلاف ورزی نہ ہو تو اس کا ذبح کیا ہوا جانور حلال ہے اوران میں سے ایک شرط بھی فوت ہو جائی تو ذبحہ حرام ہو جائیگا اور جب تک صحیح صورت حال معلوم نہ ہو اس وقت تک مشینی ذبحہ کی گوشت سی احتیاط کرنا واجب ہے (جواہرالفقہ مفتی محمد شفیع رحمۃاللہ تعالی ص۴۲۲ج۲) خلاصہ اس کا یہ ہے کہ یورپ کی شہرون کا مروجہ طریقہ ذبح خلاف شرع اور موجب گناہ ہے مسلمانوں کو جہاں تک قدرت ہو اس سے بچیں اور اپنی ملکون میں اس کی رواج کو بند کریں اور یورپ کی علاقون میں رہنی والی مسلمان جو اس طریقہ کی بدلنی پر قادر نہیں اور گوشت کی ضرورت بہر حال ہیں ان کی لئے مندرجہ ذیل شرائط کی ساتھ اس گوشت کا استعمال کرنا جائز ہوگا ان میں سے ایک شرط بھی نہ پائی گئی تو حرام ہوگا (۱) مشین کی ذریعہ ذبح کرنی والا آدمی مسلمان یا نصرانی یا یھودي ہو (۲) مشین کی چھری جانوروں کی گردن تک پہنچانی کی وقت اس نے خالص اللہ کا نام بسم اللہ اللہ اکبر کہا ہو......بندہ محمد شفیع عفااللہ عنہ الخ (احسن الفتاوی ص۴۶۹ج۷) حضرت مفتی محمد شفیع صاحب ظلہم کا جواب صحیح ہے یعنی مشین سے ذبح کرنا جائز نہین مگر ذبحہ حلال ہوگا (احسن الفتاوی ص۴۷۳ج۷) (جدید فقھی مسائل ص۳۸۱ج۱).

واللہ تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که دوه ورونه په شراکت مځکه رانیسي بیائي تقسیم کړي نور ورونه حق پکښي لري!

سوال: زه فضل محمد د خیر محمد زوی خپل عرض په لاندي ډول وړاندي کوم ما او زما ورور چه پلار مو وفات کړی وو په مشوره سره یو اندازه ځمکه چه دوې حصې پیسی ئې زما شخصي د معاش پیسی او یوه حصه ئی زما ورور وایي چه زما د مزدوری پیسی وې واخیستله شرعی تقسیم مو د ورونو سره نه دی کړی هیله کوم چه رهنمائی راته وکړی چه زما ورونه په دغه ځمکه کی حق لري او کنه او زما دغه ورور ئی دریمه برخه پیسی پکښی ورکړیدي څومره حق لري ؟

(فضل محمد)

جواب: دلته دوه شیان دي یو ستا او ستاد هغه نورو ورونو تر مابین حساب دی چه پیسی ئی ندي درکړی بل ستا او ستا د هغه ورور تر مابین معامله ده چه یوه حصه پیسی ئی درکړی دي د اولی خبره په هکله باید ووایو که چیری تا د رانیولو تر مخه د دوی څه اجازه اخیستی وه چه په مشترک مال زه مځکه رانیسم او هغه به هم مشترکه وي نو ستا دغه فعل صحیح دی او مځکه د ټولو تر مابین مشترکه ده او که دی تر مخه اجازه نه وه اخیستی نو بیا که دي سودا په وخت کی ویلی وه چه زه د خپلو ورونو دپاره دغه مځکه رانیسم او بایع ویل چه هغو دپاره یی درباندي خرڅوم نو بیا د ورونو پر اجازه موقوفه ده او که یی وویل چه زه یی رانیسم یا بایع وویل چه پر تا یی خرڅوم یعنی بایع او مشتری دواړو نسبة و ورونو ته ونه کی نو بیا مځکه یوازی ستا ده او هغه نور ورونه حصه نه پکښی لري ، د دوهمی خبری په هکله باید ووایو که ستا ورور دغه پیسی تاته په قرض درکړی وي نو ته باید ده ته خپل قرض ورکړي او که یی د دي دپاره درکړی وي چه د مځکی په رانیولو کی درسره شریک سی نو بیا دی درسره شریک دي په مځکه کی که یی دریمه حصه پیسی د مځکي د دریمي حصې

زانیولو د پاره د زکړی وي نو د مځکی دریمه حصه د ده د ده او که مو په بل شکل خبر سره کړی وي نو بیا هغه اعتبار لري.

کل واحد من الشريكين كانه اجنبى فى نصيب صاحبه فلا يجوز له التصرف فيه بغير اذنه اذ لا ولاية لاحدهما فى نصيب الاخر (الفقه الاسلامى صـ۷۹۴ج۴) هكذا فى (بدائع الصنائع صـ۶۵ج۶) وكلٌ اجنبى فى قسط صاحبه (تبيين الحقائق صـ۳۱۳ج۳) و اما حكم شراء الفضولى فجملة الكلام فيه..... فان اضافه الى نفسه كان المشترى له سواء وجدت الاضافة من الذى اشترى له او لم توجد و ان اضاف العقد الى الذى اشترى له بان قال الفضولى للبائع.. ... او قال البائع بعت هذا العبد من فلان بكذا و قبل المشترى الشراء منه لاجل فلان فانه يتوقف على اجازة المشترى له (بدائع الصنائع صـ۱۵۰ج۵)

او قال البائع للفضولى بعت منك هذا العبد بكذا الفلان فقال اشتريت لايتوقف و ينفذ الشراء عليه لانه لم توجد الاضافة الى فلان فى الايجاب و القبول و انما وجدت فى احدهما واحدهما شطر العقد فلايتوقف لما ذكرنا (بدائع الصنائع صـ۱۵۰ج۵) وما اشتراه احدهم لنفسه يكون له و يضمن حصة شركائه من ثمنه اذا دفعه من المال المشترك (الفتاوى الكاملية صـ۵۰) صرح فى البدائع ان افعل كذا و أذنت لك ان تفعل كذا توكيل يؤيده مافى الو لوالجية دفع له الفا و قال اشترلى بها اوبع او قال اشتربها او بع و لم يقل لى كان توكيلا الخ (ردالمحتار صـ۴۴۴ج۴).

والله تعالى اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که څوک له خور څخه خپل حق

په بیع واخلي او بیا خور څه دعوی ورباندي وکړي حق لري که نه؟

سوال: د حضور ته کندهار د دارالافتاء مقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.

اما بعد: زما خور په دغه نیټه ۱۶ /۳/ ۱۳۳۸ کال کی په خپل ژوند کی خپله حصه مځکه د پلار مورثه پر ما په مقابل کی / ۱۴۰۰۰ څورلس زره افغانی خرڅه کړه د ۳ شاهدانو په حضور کی چی هغه شاهدانو هم وفات کړیدی، نو څرنګه چی زما خور ۲ کاله مخکی وفات کړیدی تر اوسه پوری د ظاهرشاهی د وخت څخه بیا د اسلامی تحریک تر اوسه پوری نه زما وفات شوی خور او نه ئی لور دعوه کړي وه، اوس ئی لور پر ما عارضه شویده، ستاسو څخه په دي باره کی شرعی فتوی غوارم؟

جواب: که دغه ستا خور څه پر تا داسی دعوه کړی وي چه زما مور ته یی حق نه دی ورکړی او تاسو هم واقعًا تقسیم نه وی کړی او نه مو هم بیعه کړي وي نو اوس شرعًا او دیانةً ته مکلف یی چه حق به ئی ورکوي او که دي یعنی ستا خور خپله حصه درباندي خرڅه کړي وي په صحیح بیعه سره او اوس یی لور دعوی کوي چه زما مور دغه بیعه نه ده کړی نو که یی په تیرو وختو کی د یو عذر شرعی په وجه دعوی پري ئیښبی وه نو اوس یی دعوی اوریدله کیږي او که بی عذره یی دعوه پریښبی وه او مرورالزمان راغلی وو نو یی دعوی نه اوریدله کیږي او مدة د مرورالزمان ۳۶ کاله ده که منع سلطانی نه وه او که منع سلطانی صادره سوی وه نو بیا ۱۵ کاله مدة ده.

قال الصاحبان و جمهورالفقهاء تجوز اجارة المشاع مطلقا من الشريک و غيره...... كما يجوز ذلک في البيع و الاجارة احد نوعي البيع (الفقه الاسلامي صـ۷۴۲ج ۴) قال المتأخرون من اهل الفتوى لاتسمع الدعوى بعدست و ثلاثين سنة الا انيكون المدعى غائبا او صبيا او مجنونا و ليس لهما ولي او المدعى عليه اميرا جائرًا (ردالمحتار صـ۳۸۲ج ۴) سئلت عمن ترک دعواه خمس عشر سنة ثم مات عن ورثة فهل لاتسمع دعواهم لقيامهم مقام مورثهم فالجواب نعم (الفتاوى الكاملية صـ۱۱۹) اذا ترک المورث الدعوى مدة و تركهما الوارث ايضًا مدة اخرى و بلغ مجموع المدتين حد مرورالزمان فلا تسمع تلک الدعوى (سليم باز صـ۹۹۴).

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دګروئ دکان په دحکومت په نقشه کي راسي اونړېږي څه حکم ئې دي؟

سوال: دغه یو دکان په ګروی اخیستی دی که چیری دغه نوموړی دکان ددولت لخوا څخه چه په نقشه کی راسی او ویی نړوی نو پـه دی اساس دا پوښتنه درڅخه کوم چه ددغـه دکان دګروی پیسی دګروی دارحق کیږی او که ئی نه کیږی؟

جواب: پـه دغه صورت کـی چه پـه استفتاء کـی ذکر سوی دی ۲ دوه شکله دی ۱ اول داچه اصلی مالـک ګـروی دار تـه دااجازه نوی ورکړی چه ددکان څه استفاده وکړی فقط او فقط دپیسو دضمانت پـه شکل دکـان دګـروی دار پلاس کی وی چه داهغه اصلی او جائز شکل دګروی دی پدی صورت کی داصلی مالک دکان ولاړی او دګروی دار پور مالک دذمی څه ساقط سو که هغه پور او ددکان قیمت سره مساوی وه او کـه چیری دپور اندازه ډیره وه نو ددکان دقیمت قدر بـه دپـور څه ساقط سی هغـه نوری باقی پیسی بـه مالک وګروی دارتـه ورکوی او که ددکان قیمت ډیر ؤو نو دګروی دار پور ساقط سو او دمالک دکان ولاړی یو پر بل حق نلری ۲ دوهم داچه اصلی مالک ګروی دار تـه اجازه داستفادی ورکړی وی چه دغه ګروی دار پخپلـه دکـان وکړی یائی بـل چاتـه پـه کرایه ورکړی یا داسی نور چه داهغه ناروا صورت دی دګروی نو پـه دی شکل کی کـه پـه داسی حالت کی چه ګروی دار ددکان څه استفاده کول او حکومت دکـان ونړوی دمالک دکـان ولاړی او دګروی دار ټوله پور دمالک پر ذمه باقی دی یعنی مالک مکلف دی چه دګروی دار ټوله پور بـه ورکوی کځه هم دکان یی هلاک سوی دی

مایساوی الدین من مالیۃ الرهن تعتبر ید المرتهن علیه ید ضمان او استیفاء فاذا امتنع ردالمرهون لصاحبه بسبب هلاکا و غیره کان المرتهن مستوفیا من دینه هذاالمقدار واحتسب من ضمانه واماما زادمن قیمت الرهن علی الدین فهو امانۃ یهلک هلاک الامانۃ فلایضمن الابالتعدی او التقصیر (الفقه الاسلامی صـ۲۶۷ج۵) فلو هلک وقیمته مثل دینه صارمستو فیا دینه وانکانت اکثر من دینه فالفضل امانۃ وبقدرالدین صارمستو فیا وانکانت اقل صارمستو فیا بقدره ورجع المرتهن بالفضل (تبیین الحقائق صـ۶۳ج۶ بدائع الصنائع صـ۱۵۴ج۶) واذا اذن الراهن المرتهن فی الانتقاع بالرهن فهلک حال انتقاعه به بناء علی الاذن فانه ایضا یهلک هلاک الامانۃ ولایسقط بهلاکه شئ من الدین لانه لم یهلک فی قبض الرهن وانما هلک فی قبض العاریۃ (الفقه الاسلامی صـ۲۶۹ج۵) هکذافی (بدائع الصنائع صـ۱۵۶ج۶).

فاذا انتقع المرتهن باذن الراهن وهلک الرهن حالۃ استعماله یهلک امانۃ بلاخلاف اماقبل الاستعمال او بعده یهلک بالدین (ردالمحتار صـ۳۴۳ج۵) سئلت عن الرهن هل یجوز للمرتهن الانتقاع به فالجواب انه لایجوز الانتقاع به مطلقا ..... الاباذن کل الاخر ..... قال سیدی احمد الطهطاوی رحمه الله تعالی والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتقاع ولولاه لما اعطی الدراهم وهذا بمنزلۃ الشرط لان المعروف کالمشروط وهو ممایعین المنع آه وهوفی غایۃ الحسن ..... وفی الجامع ..... انه لایحل له ان ینتقع بشئی منه و ان اذن له الراهن لانه اذن فی الربا (الفتاوی الکاملیۃ صـ۲۴۴ هکذافی ردالمحتار صـ۳۴۳ج۵ هکذافی الفقه الاسلامی صـ۲۵۶ج۵).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

په حيله چې کومې پيسې اخيستلي کيږي سود ده کنه؟ هغه پيسې چې دپيسو ماتول ورته وايي

سوال: زماعبدالله او عبدالاحد ترمينځ چه کومه سودا شويده به لاندي ډول ده لومړي ځل چه ما له عبدالاحد څخه روپۍ په ګټه اخيستی دی يولک روپی په ديرش زره ګټه مود دوؤلسو مياشتو په وعده سره ماتي کړی دی حيله مو ورته ديو بل چا دوکان کښيښود په دوکان تنواتو چه په هغه دوکان کی يو نا معلوم تعداد داوړو ګوني پرتی وی. ماور څخه په يولک او ديرش زره روپی قبول کړو او هيڅ تصرف مي نه دی پکښی کړی له دوکان څخه سره راوه وتلو عبدالاحد ماته يولک روپی راکړی دوکان خو هغه خپل خاوند ته پاته سو زه پرخپله مخه ولاړم چه کله وعده پوره شوه ماله هغه ۳۰۰۰۰ ګټې څخه اوولس نيم زره ۱۷۵۰۰ روپی ورکړی او دوولس نيم زره ۱۲۵۰۰ پاته سوی هغه مو دشپږو مياشتو په وعده په دوه نيم زره ۲۵۰۰ ګټه سره فيصله کړی حيله مو ورته زماتوپک کښيښود چه پنځلس زره ۱۵۰۰۰ سوی او هغه يولک روپی مو بياد ۱۲ مياشتو په وعده په ۳۷۰۰۰ ګټه سره ماتي کړی حيله مو بيا ورته ديو بل چا دوکان کښيښود پر لومړی طريقه. دريم ځل چه په ماروپی نه جوړيدی هغه ګټه ئی راقرض کړه او يولک روپی چه سرو وهغه مو بيا په ۳۳۰۰۰ روپی ګټه سره ماتی کړی او حيله مو ورته زما موټر کښيښود چه زما دموټر اصلی قيمت ۲۰۰۰۰۰ دوه لکه روپی ؤو او ده ته ما په ۱۰۰۰۰۰ يولک روپی ورکړ ددې دپاره چه حيله پر جوړه کړو دموټر کيلي مي ورکړي څوګامه زه او عبدالاحد سره ولاړو او کيلی ئی بيرته ماته راکړی په ۱۳۳۰۰۰ يولک او درې ديرش زره زما موټر پر هغه ځای ولاړ ؤو ده نور تصرف نه دی پکښی کړی؟

جواب : ستاسو دغه معامله او دغه جریان چه تاسو لیکلی داتوله دسود او ربوا معاملی دی او دغه حیلې چه تاسو ورته ایښي دی اول خو داحیلې په خپل ځان کي صحت نه لری او بیا داچه داحیله ده وحرام ته او حیله وحرام ته حرامه ده هغه حیله جائزه ده چه په هغه سره سړی دحرامو خلاص سی یا یو حلال ته ځان وصل کړی او داچه حیله وحراموته کوي قطعاً حرامه ده هغه دسود پیسی چه داصلی رأس المال څخه بالابود دی او پر دغه معامله کوونکی ئی ایښی دی او ده هم ورګټلي دی هغه داصلی مالک حق نه کیږی هغه ته به فقط خپل رأس المال ورکوي او که ئی پخوا ورکړی وی دغه ګټه نو هغه اصلی مالک به بیرته هغه ګټه دغه ګټونکی ته ورمسترد کوی او که دا امکان نه وی چه هغه ته یی مسترد کړی بیا به ئی خیرات کوی خپله استفاده کول ورته حرامه ده.

(یاایها الذین امنوا اتقو الله وذروا مابقی من الربوآن کنتم مؤمنین فان لم تفعلو افا ذنوا بحرب من الله ورسوله وان تبتم فلکم رؤوس اموالکم لاتظلمون ولاتظلمون)﴿ القرآن الکریم آیت نمبــ۲۷۸–۲۷۹ پاره۳﴾ قال فی التاتارخانیة مذهب علمائنا ان کل حیلة یحتال بها الرجل لابطال حق الغیر اولادخال شبهة فیه فهی مکروهة یعنی تحریماوفی العیون وجامع الفتاوی لایسعه ذلک وکل حیلة یحتال بها الرجل لیتخلص بها عن حرام اولیتوصل بها الی حلال فهی حسنة وهو معنی مانقل عن الشعبی لاباس بالحیلة فیما یحل﴿ غمزعیون البصائر صـ۲۱۹ج۴﴾ وسبیل التوبة ممابید الانسان من الاموال الحرام انکانت من ربا فلیردها علی من اربی علیه ویطلبه ان لم یکن حاضراً فان ایس من وجوده فلیتصدق بذلک عنه وان اخذه بظلم فلیفعل کذلک فی امرمن ظلمه ﴿التفسیر المنیر صـ۱۰۰ج۳﴾

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دسرقلفي دکان که دمالک په اجازه ترميم سي څه حکم ئې دي؟

سوال : زه داسی عرض لرم چه پر ما باندی یوباب دوکان چه په هرات دروازه کی په اوله ناحیه کی موقعیت لری نو ددوکان مالک حاجی عبدالودود مرحوم وماته په سر قلفی راکړی دی او عرفی خط او اقرار ئی لرم او دغه شخص پر ما ایښی وو چی دغه دوکان درزی دی نو ته به ئی جوړوی نو ما هغه جوړ کړ نو شرایط دانقلاب راغلل نو دمرمیو او راکټو په وجه ذکر سوی دوکان تخریب سو نو بیا می هم دمالک دزامنو په حضور کی جوړ کی دلسو کالو څخه زیات کیږی او خلګ خبردی نو په هغه وخت کی ئی وماته نه ویل چه ته دوکان مه جوړوه اوس ناحقه وماته وایي چه دوکان را ایله کړه او دا دوکان نړیدلی ؤو نو ما دغه دوکان جوړکړیدی بیا هم تکلیف راکوی نو هیله کوم چه وماته شرعی فتوا راکړی ؟

جواب : دوکان چه وی او په اجازه دمالک ترمیم سوی وی او بیا ونړیږی نو والا بیرته حق لری چه خپل دکان جوړکړی او مالک نسی کولای چه په دی بهانه دکان څنی وګرځوی خو شرط دادی چه سرقلفی والا به هم مناسبه کرایه(اجرة مثل) پر خپل مقرره تاریخ مالک ته ورکوی.

وممن افتى بلزوم الخلو الذى يكون بمقابلة دراهم يد فعها للمتولى او المالك العلامة المحقق عبدالرحمن افندى العمادى صاحب هدية ابن العماد . .... فيفتى بجواز ذلک للضرورة قياسا على بيع الوفاء ﴿ ردالمحتار صـ١٩ج ٤ ﴾ واعلم ان الخلو يثبت فى الارض المملوكة لماذكره المؤلف فى كتاب الوقف ان وقف البناء بدون الارض صحيح وان الخلو يتحقق ولو الارض مملوكة على ماعليه الفتوى ﴿طحطاوى على الدرالختار صـ١٠ج ٣﴾ سئل فى جماعة يملكون

مكانا استاجره منهم رجل بازيد من اجر المثل وآذنوه بالبناء فيه ليكون له خلو ابحق البقاء والقرار فبنى وعمر حسب الاذن منهم ...... وهو يدفع اجرة المثل وزيادة للمالكين ثم بعد تلك المدة قام المالكون الآن يريدون ابطال ذلك الخلو الخ اجاب اذا ثبت الخلو المذكور مستوفيا شرائط الصحة وواضع اليد قائم بدفع اجر مثل ذلك المكان بقطع النظر عما احدثه فيه لايكون لمالكي المكان المذكور ابطال الخلو بدون وجه شرعي ولااجارة المكان من غير صاحب الخلو ﴿الفتاوى المهدية صـ۴۹ج۵﴾ وفائدة الخلو انه كالملك فتجرى عليه احكامه من بيع واجارة وهبة ورهن ووفاء دين وارث الخ ..... ومنه يعلم انه لامانع من تعدد الخلوات اذالملك يتعدد ﴿غمز عيون البصائر للحموى صـ۳۲۲ج۱﴾ سئل فى بناء فى ارض موقوفة مستحق للبقاء والقرار تهدم ذلك البناء وصارت الارض خالية فهل لربه اعادته ثانيا كما كان اولا اجاب للمحتكر حق الابقاء والاعادة حيث كان قائما بدفع اجرة مثل الارض خالية عن البناء على ماعليه العمل ﴿الفتاوى المهدية صـ۴۸۷ج۲ وصـ۴۹۵ج۲﴾.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه شاهد ددرواغو شاهدي ووايي فيصله صادره سي
او شاهدان خپله شاهدي بيرته واخلي اقراوكړي چې مور درواغ ويل څه حكم دي؟

سوال :ځرنگه چې درو کسانو غیر حق شاهدی ادا کړی وه په ثلاثه طلاقو او بیرته ئی خپله شاهدی واخیسته او وئی ویل چه مونږ په درواغو شاهدی ویلی وه نوستاسی عالی مقام څخه هیله کوم چه شرعی حکم او معلومات راکول سی چی یو قاضی دابتدائیه یا مرافعه حکم په طلاق صادر کړی او داحکم ئی بناءوي پر شهادة الزور ایا دغه طلاق واقع کیږی او که نه ؟

﴿حافظ محمدادريس﴾

جواب : کله چه ددروغجنو شاهدانو دشاهدی په وجه قاضی حکم په طلاق وکړی نو مفتٰی به قول دادی چه دغه قضاء ظاهر انافذه ده باطناً نده نافذه معنی یی داده چه کڅه هم ظاهراً خود قاضی په امربه ښځه دمیړه څه جلاکیږی لکن که په حقیقت او واقع کی میړه طلاق نوو ورکړی او دهغه وروسته میړه غوښتل چه دغه ښځی ته نزدی سی نو داجائز دی دالله تعالی په نزد عاصی نه گرځی او دښځی دپاره هم نده جائزه چه دبل چاسره پر نکاح باندی اقدام وکړی.

(ويفنــذ القـضـاء بـشـهادة الـزور ظـاهـرا و بـاطـنــا)حـيـث كـان المحـل قـابـلا والقـاضـى غيـر عـالم بـزورهم(فـى العقـود) كبيـع ونكـاح (والفـسوخ) كـاقالـة وطـلاق ..... وقـا لاوزفـر والثلاثـة ظـاهرافقط وعليـه الفتـوى (الدرالختار) نـقـله ايضا فـى القهـستانى عـن الحقـائق وفـى البحـر عـن ابـى الليث الـخ﴿ ردالمحتـار صـ۲۷۰ ج ۴ ﴾ لو اثبتـت امـرءة بـشـهودزور ان زوجهـا طلقهـا ثـلاث طلقات بـائنـة وبعـد ان اسـتحصلت على الحكم بـالطـلاق تزوجت بـعـد العـدة بـزوج آخـر فـيحـل لـه الاسـتمتاع بهـا ولـو عـلـم بحقيقـة الحـال..... ودليـل نفـاذ القـضـاء علـى هـذالوجـه ظـاهـرا و بـاطنــا هـوان رجـلاً ادعـى الـخ﴿ دررالحكـام صـ۶۵۹ ج ۴ ﴾

وفی جمیع الامثلة التی سبق بیانها بانه یحل فیها علی رأی الامام الاعظم هی حرام علی رأی الامامین والفتوی علی قول الامامین (دررالحکام صـ۶۶۱ج۴) والمراد بالنفاذ (ای فی صورة النکاح) ظاهرا ان یسلم القاضی المرأة نفسها الی الرجل ویقول سلمی نفسک الیه فانه زوجک وبالنفاذ باطنا ان یحل له وطؤها ویحل لها التمکین فیما بینها وبین الله تعالی (دررالحکام شرح غررالاحکام صـ۴۰۹ج۲) وانما کانت الفتوی علی قولها لظهورادلتهما بالنسبة الی دلیله (شرنبلالی بهامش دررالحکام شرح غررالاحکام صـ۴۰۹ج۲) والخلاصة ان القاضی فی قول ابی حنیفة ینفذ قضاءه ظاهرا وباطنا حیث کان المحل قابلاً لذلک کالعقود والفسوخ والقاضی غیر عالم بزورالشهود وهذا القول وانکان هو الاوجه فی مذهب الحنفیة الاان المفتی به عند هم هو قول الصاحبین الموافق لبقیة الائمة وهوان قضاء القاضی ینفذ ظاهر افقط لاباطنا ای لیس الحلال عند الله هو ما قضی به القاضی بل ماوافق الحق (الفقه الاسلامی صـ۵۹۴۶ج۸ ط جدید)

نوټ: کله چه قاضی دشاهدانو دشاهدی په وجه حکم صادر کړی او بیا شاهدان دقاضی په حضور کی رجوع وکړی نو هم قاضی مکلف دی چه خپل حکم به عملی کوی او نقض کوی به ئی نه یعنی دغه ښځه به دمیړه څه جلاکوی نور نو که په حقیقت کی طلاق صادر سوی وو نو دیانةً او قضاءً دواړه به مقاربت ددغه ښځی حرام دی او که په حقیقت کی طلاق نه ؤو صادر سوی نو قضاءً به دغه نزدیکت وښځی ته حرام وی او دیانةً به جائز وی چه دغه معنی دنفاذ دحکم ده ظاهر او باطناً یا یوازی ظاهر افقط خلاصه دا چه دقاضی صادر کړی حکم به دنقض څه ساتل کیږی کڅه هم دشهادة زور پر بناء وی.

اذا رجع الشهود عن شهادتهم بعد الحکم فی حضور القاضی فلا ینقض حکم القاضی (المجلة المـ۱۷۲۹)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

حکومت کولای سي چې خارج ته تلونکي مالونه په خپل هیواد کي تم کړي؟

سوال: محترما هغه جنس چه دافغانستان دملک تولید بلل کیږی دمثال په ډول لکه پسونه، وړی، غنم، واښه، کچالو، پیاز یانور اجناس چه دافغانستان تجاران خارج ته انتقالوی او حکومت ئی جبراً بندوی او په خپل ملک کی ورڅخه کار اخلی شرعاً څه حکم لری ایا جواز لری کنه ستا سو دشرعی تحریری حکم په انتظار ؟ (ملامحمدحسن رحمانی والی قندهار ورئیس تنظیمه)

جواب: که چیری ودغه مالونو ته په افغانستان کی داخل شدید ضرورت ؤو او په انتقالولو کی ضرر عام ؤو ددی ملت نو حکومت ته اجازه سته چه ددغه انتقال څه تجاران منع کی لکن پس دمنع څه به تجار په دی نه مکلف کیږی چه په دی نرخ یعنی په یو معین قیمت به خپل مالونه خرڅوی یا به یی په داخل کی دافغانستان په یو معین ولایت کی پلوری او نه به یی مالونو ته هیڅ قسم ضرر او نقصان رسول کیږی او که چیری ضرر عام نوو پکښی نو بیا حکومت ته اجازه نسته چه دانتقال څه یی منع وکی ځکه چه هر سړی په خپل مالونو کی شرعاً اختیار داره دی هر څه چه بیا کوی.

اعلم ان فی جنس هذه المسائل اختلافا حاصله انه لایمنع علی اصل الامام وهو ان کل من تصرف فی خالص ملکه لایمنع منه فی الحکم و ان لحق بالغیر الضرر وافتی بهذه طائفة لکن ترک غالب المتاخرین ذلک فی موضع

يتعدى ضرر تصرفه الى غيره ضرراً بينا و قالوا بالمنع وعليه الفتوى كما في كثير من المعتبرات ﴿غمز عيون البصائر صـ۲۸۲ج۱﴾ الضرر يزال..... ويبتنى على هذه القاعدة كثير من ابواب الفقه فمن ذلك الخ ومنها منع اتخاذ حانوت للطبخ بين البزازين وكذا كل ضرر عام كذا في الكافي وغيره الخ ﴿متن غمز عيون البصائر للحموى صـ۲۷۴ج۱ و صـ۲۸۲ج۱﴾ الملك اختصاص بالشيء يمنع الغير منه ويمكن صاحبه من التصرف فيه ابتداء الالمانع شرعى الخ ﴿الفقه الاسلامى صـ۵۷ج۴﴾ لايجوز لاحدان يتصرف في مال الغير بلااذنه ﴿المـ۹۶﴾ فتصرف الغير فى مال الغير ممنوع الاانتكون وصابة او ولايةً اوتدعو ضرورة فيجوز..... لان الضرورات تستثنى من القواعد العمومية ﴿شرح المجلة الاتاسى صـ۲۶۲ج۱﴾ التصرف على الرعية منوط بالمصلحة ﴿المـ۵۸﴾ ولهذا يجب انتكون اوامر السلطان و اولى الامر والنهى موافقة لمصالح الرعية الخ ﴿شرح المجلة سليم باز صـ۴۲﴾ ولايسعر حاكم لقوله صلى الله عليه وسلم لاتسعروا فان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق الخ ﴿ردالمحتار صـ۲۸۳ج۵﴾ وبناء عليه الاصل عدم التسعير ولايسعر حاكم على الناس وهذا متفق عليه بين الفقهاء ﴿الفقه الاسلامى صـ۵۸۸ج۳﴾

والله تعالى ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که څوک په خپله کوزده خبرسي ووايي(زه دانبځه نه کوم) بیاووهل سي ووايي(په ثلاثه اوکلماپرماطلاقه ده) طلاق واقع کيږي کنه؟ که طلاق نوکوم طلاق؟

سوال: محترما زه خپل یو سوال وتاسو محترم ته وړاندې کوم هیله ده چه شرعی حل ددې سوال راته وکې دوه ورونه دي یو مشردي یو کشر کشر ورور پر کور نسته مشر ورور کوزده وروکړه نکاح ئې وتړل لس یا پنځلس ورځې بعد کشر ورور راغې خبر سو کشر ورور وویل ولې مو زمابې مصلحته داکار کړی دی دازه نه کوم داخبره داکشر په ماښام کې وکړل ایا په دې خبره دانبځه دده دنکاح څخه ووتل که نه په سهار ئې بیا داخبرې کولې دامشر ورور وواهه نو په داو هلوکې د درده وویل چه په ثلاثه او کلما پر ماطلاقه ده ایا دا ښځه واپس وده ته رواکیږی که یا چه نکاح وتړی ایا دده وه اولی خبری ته اعتبار دی که دوهمی خبری ته؟

جواب: که چیری موضوع دغسې وی لکه تاسو چه لیکلی دی او کشر ورور چه په خپله نکاح خبر سوی وی او دغه کشر ورور بالغ هم وی نو دستې ئې انکار کړی وی نو دانکاح صحیح نده او همدارنګه یې طلاق ندی واقع سوی ولی طلاق وخپلی ښځی ته ورکول کیږی او دانبځه دده خپله سوی نده نو دآینده دپاره که ښځه او میره دواړه په نکاح راضی وه او اجازه یې وکړه او نوی نکاح یې وتړل نکاح یې صحیح کیږی او کچیری آینده هم میره ناراضه وو یا ښځه(بالغه)ناراضه وه نو نوی نکاح هم نه صحیح کیږی.

كل تصرف صدرمنه اى من الفضولى تمليكا كان كبيع وتزويج او اسقاطا كطلاق واعتاق وله مجيز ..... انعقد موقوفا (الدر المختار بهامش ردالمحتار صـ۱۵۱ج ۴) هكذافى (الفتاوى الهندية صـ۲۹۹ج۱) الزواج الموقوف مع كونه صحيحا لايترتب عليه اى اثر من اثار الزواج قبل اجازته ممن له حق الاجازة (الفقه الاسلامى صـ۱۰۸ج ۷ هكذافى فتاوى دارالعلوم ديوبند صـ۱۳۷ج ۷) واماشرطه اى الطلاق على الخصوص فشيئان احدهما قيام القيد فى المرءة نكاح اوعدة الخ (الفتاوى الهندية صـ۳۴۸ج۱ هكذافى الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۴۵۲ج۲). والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

ددکان تړه ،اودمسجدداودس تازه کولوځای اودمسجد دائره (صحن) څه حکم لري؟

(اول سوال) یو سړی چه یو خپله شخصی مځکه باندی دوکان جوړ کړی او دروازه پکښی کښیږدی دی تردروازی او چارچوب د باندی یو څه مځکه پاته سی چه دد غه سړی شخصی ملکیت دی خو اوس ددوکان مخی ته تردروازی او چارچوب دباندی خو اته پاته سوه عامی لاری ته یا په اصطلاح راستی او دری ګزی ته نو اوس دغه سړی چه دغه مځکه خو دده شخصی ملکیت ؤو خو دوکان تر چارچوب دباندی پاته سو .ایا دی پردغه مځکه خپل تصرف کولای سی چه یا خپل سامان پر کښیږدی یا ئی په کرایه بل چاته ورکړی او یابل څوک استفاده څنی کوی او دی ئی منع کړی او که دغه مځکه اوس عامه لار بلل کیږی او وقف ده حکم ئی څنګه دی ؟

(دوهم سوال) دیوه مسجد د اودس تازه کولو په ځای کی یعنی چه دتوله دائری دمسجد په احاطه محاط وی دوکان جوړ کړی وقف ګرځیږی یا نه ؟

(دریم سوال) او یو څوک چه په خپله شخصی مځکه کی مسجد جامع جوړکړی چه دجماعت دځای نه ماورا هغه مځکه ده چه په اصطلاح زائده ورته ویل کیږی چه په احاطه کی محاط دی بلا اختیاره دهغه مسجد جوړوونکی هم په تبعه کی دمسجد وقف کیږی یا نه ؟

د اول سوال جواب : دغه شخصی مځکه چه ددوکان څه دباندی پاته ده هغه وقت لار کیدلای سی چه مالک یی لاری ته وقف کی او یو سړی پکښی تیر سی پر قول دامام محمد رحمة الله تعالی او بغیر دده دوقفولو څه لار نسی کیدلای فلهذا دغه مالک ته ترمخه دلارکیدو دهر قسم تصرفاتو جواز سته په شرط دعدم ضرر فاحش و نورو خلقوته.

واذا كان الملک یزول عندهما یزول بالقول عند ابی یوسف رحمه الله تعالی وهو قول الائمة الثلاثة وهو قول اكثر اهل العلم وعلی هذا مشایخ بلخ وفی المنیة وعلیه الفتوی كذافی فتح القدیر وعلیه الفتوی كذافی السراج الوهاج وقال محمد رحمة الله تعالی لایزول حتی یجعل للوقف ولیا ویسلم الیه ﴿الفتاوی الهندیة صـ۳۵۱ج۲﴾ فامارکنه فالالفاظ الخاصة الدالة علیه كذافی البحرالرائق ﴿الفتاوی الهندیة صـ۳۵۲ج۲﴾ واذا اشتری الرجل موضعا وجعله طریقا للمسلمین واشهد علیه فانه یصح ویشترط لتمامه مرور احد من المسلمین علی قول من یشترط التسلیم فی الاوقاف كذافی الظهیریة ﴿الفتاوی الهندیة صـ۴۶۸ج۲﴾ . لایمنع احد من التصرف فی ملکه ابدا الا اذا اضر بغیره ضررا فاحشا كما یاتی تفصیله ﴿المجلة المـ۱۱۹۷﴾ .

د دوهم سوال جواب : که دغه دکان په اول وقت کی دتعمیرو لو ددغه مسجد او داودسو دځای بناء سوی وی نو پروانلری جائزدی او که هغه ځای تړوله یوه پلا دمسجد یا اودسو تازه کولو دپاره وقف سوی وی او وس یو څوک دکان پکښی جوړوی نو داجواز نلري.

لو بنی فوقه بیتا للامام لایضر لانه من المصالح امالو تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع ولو قال عنیت ذلک لم یصدق تاتارخانیة ﴿الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۴۰۶ج۳﴾ والفناء تبع المسجد فیکون حکمه حکم المسجد كذافی محیط السرخسی ﴿الفتاوی الهندیة صـ۴۶۲ج۲﴾ قیم المسجد لایجوزله ان یبنی حوانیت فی حدالمسجد او فنائه ﴿تاتارخانیة صـ۸۶۰ج۵﴾ هکذافی ﴿الفتاوی الهندیة صـ۴۶۲ج۲﴾ ﴿امدادالمفتین صـ۷۹۴﴾ وفی البحر الرائق فی المجتبی لایجوز لقیم المسجد ان یبنی حوانیت فی حد المسجد او فنائه (

صـ۲۶۹ج ۵) وفی فتح القدیر عن المصنف من کتاب التجنیس قیم المسجد اذا اراد ان یبنی حوانیت فی المسجد او فی فنائه لایجوز له ان یفعل لانه اذا جعل المسجد مسکنا تسقط حرمة المسجد واما الفناء فلانه تبع المسجد ﴿ صـ۴۴۶ج ۵ ﴾.

ان روایات سے ثابت ہوا کہ مسجد میں بھی اور فناء مسجد (یعنی حصی متعلقہ مسجد مثل وضوخانہ وغیرہ) میں بھی دکانیں بنانا جائز نہیں..... البتہ ابتداء میں مسجد کی تعمیر کی ساتھ۔ قبل مسجد ہونے کے اوپر یا نیچ عمارات متعلقہ مصالح مسجد بنانی کا فقہاء نی ذکر کیا ہے ﴿ امدادالفتاوی ص۔۶۸۸ج ۲ ﴾.

(**نوټ**) او داخبره چه دغه دکان وقف گرځی یا نه داپه نیت پوری دواقف تعلق لری لکه داول او دریيم سوال په جوابونو کی چه واضح سوی ده.

د دریيم سوال جواب: تبعاً او ضمناً بلااختیاره مځکه نه وقف کیږی نه دچا دملکیت څه خارجیږی ولی په وقف کی قضاء دقاضی په وقفیت ضروری ده په نزد دامام صاحب رحمة الله تعالی او الفاظ دوقف ضروری دی په نزد دامام ابویوسف صاحب او الفاظ دوقف او تسلیمول ومتولی ته ضروری دی په نزد دامام محمد صاحب رحمة الله تعالی فتوی پر قول دامام ابویوسف ده رحمة الله تعالی خو په ۳ درو سره قولو کی الفاظ دوقف رکن دوقف بلل کیږی.

وانما یزول ملک الواقف عن الوقف عند ابی حنیفة رحمة الله تعالی بالقضاء..... واذا کان الملک یزول عندهما یزول بالقول عند ابی یوسف رحمة الله تعالی وهو قول الائمة الثلاثة وهو قول اکثر اهل العلم وعلی هذا مشایخ بلخ وفی المنیة وعلیه الفتوی کذافی فتح القدیر وعلیه الفتوی کذافی السراج الوهاج وقال محمد رحمة الله تعالی لایزول حتی یجعل للوقف ولیا ویسلم الیه ﴿ الفتاوی الهندیة صـ۳۵۱ج ۲ ﴾ هکذافی ﴿ الدرالمختار وردالمحتار صـ۳۹۵ ﴾ فامارکنه فالالفاظ الخاصة الدالة علیه ﴿ الفتاوی الهندیة صـ۳۵۲ج ۲ ﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که میریزي ورور دمیراث ناتقسیم سوي مځکه خرڅه کړي دمړي لمسیان حق پکښي لري کنه؟که خپله حصه وګټي په نوره دشفع دعوی کولای سي کنه؟

(**اول سوال**) مسئله په باب کی د میراث. مثلاً محمد دین اکا مځکه درلوده یوه لورئی درلوده یو سړی ته چه میراجان نومیده ورکړی وه محمد دین اکا وفات سو مځکه و میراجان او دمیراجان ۲ زامنو ته پاته سوله میراجان بل واده وکړی چه یو زوی او دوې لوڼې ئې د دوهم واده څخه دی میراجان او لومړی کور والا دواړه وفات سوه دمیراث څخه مشر زوی دمیراجان نیمی مځکه خرڅه کړه هغه یو هلک او درې خوندې او مورئې چه میراجان دوهم واده کړی ؤو په دغه خرڅ ملک کی حق لری کنه؟

(**دوهم سوال**): دمیراجان خپله بدری مځکه هم ب ـه د: ′و س د میراجان مشر زوی چه مځکه خرڅه کړه نیمی د میراجان د یدری ملکه څخه ده نسی د محمد دین اکا د میراث څخه ده یعنی او به د محمد دین اکا د ملک دی او مځکه د دواړو ملکو څخه ده دغه یتیم او ۳ خوندې او مور په کوم ملک کی حق لری؟

(**دریم سوال**): او بل که چیری دغه یتیم او ۳ خوندې او مور چه میریزی ورور محمد نبی ئی ملک خرڅ کړی دی حق پیدا کړی د نیمایی یا دریمې دهغه نور ملک د شفعې دعوه کولای سی یا حق لری کیا؟

د اول سوال جواب: د محمد دین اکا ټوله مځکه دده وزوم میراجان او د هغه وزامنو ته دد شریعت مقدس د نگاه څخه نسی پاتیدلای بلکه لور به هغه خپله حصه یوسی نور نو که د محمد دین اکا په ورثه ؤوکی ذوی الفروض وه هغه به خپلی حصی یوسی او که نه وه نو مال به

د عصبه ؤو کیږی زوم او د لور د خوالمسیان که چیری لور ژوندی وی هیڅ حق نلری وروسته به وګورو که د میراجان لومړی کور والا تر مخه وفات سوی وه او میراجان وروسته وفات سوی ؤو نو دغی وفات سوی کور والا چه هر څو حصه د پلار د میراث څه اخیستی وه هغه به څلور ځایه سی یوه څلورمه یی د میره یعنی د میراجان کیږی او باقی ۳ حصی به د ښځی پر خپلو اولادو او ورثه ؤو یعنی ذوی الفروضو او عصبه ویشل کیږی هغه یوه حصه چه میراجان ته ورسیده هغه حصه به دده د وفات وروسته دهغه پر ټولو ورثه اولادونو تقسیمیږی دغه یوه تقسیم سوی حصه که یو زوی خرڅه کی نو هغه نور ورثه بیرته خپل حق راګرځولای سی او هم یی پریښوولای سی که بالغان وه او که صغیران وه نو د دوی په حق کی د سره بیع باطله ده خپل حق به راګرځوی او که میراجان تر مخه وفات سوی ؤو او لومړی کور والا یی وروسته وفات سوی وه نو بیا میراجان او د ده دوهمه کور والا او دهغی اولادونه هیڅ حق د اولی کور والا په مځکه کی نلری نه په خرڅه سوی کی نه په پاته کی.

فیبدء باصحاب الفرائض ..... ثم بالعصبات من جهت النسب ..... ثم بالعصبة من جهة السبب الخ ﴿ سراجی صـ۴ ﴾ کل من یدلی الی المیت بشخص لایرث مع وجود ذلک الشخص سوی اولاد الام ﴿ سراجی صـ۱۷ ﴾ واما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولدو ولد الابن وان سفل والربع مع الولد او ولد الابن وان سفل ﴿ سراجی صـ۷ ﴾ وقف بیع مال الغیر ای علی الاجازة ﴿ ردالمحتار صـ۱۵۲ج۴ هکذافی الفتاوی الهندیة صـ۱۵۲ج۳ والفقه الاسلامی صـ۳۷۱ـــ۳۷۲ج۴﴾ والتصرف فی المال(ای مال الصغیر)لیس الاللاب او الجد او القاضی اواو صیائهم﴿ الفقه الاسلامی صـ۷۴۹ج۷ والدرالمنتقی صـ۴۵۴ج۲ والدرالمختار صـ۲۰۳ج۲ ﴾.

دوهم سوال جواب که چیرې د ده میراجان اولاد کور والا تر مخه او دې وروسته وفات شوي وي نو د ملو، دلو کور والا ته چه د محمد دین اکا د مخکې هر څونه حصه رسیدلې ده د هغه حصې څلورمه برخه د ده میراجان کیږي د ده د مرګ وروسته په یوازې دغه څلورمه برخه د ده د پوتو ورثه وو ترمنځ تقسیمیږي او په دې طریقه هغه یتیم او ورې خوندې او مور ته حصه به کښې رسیږي او که چیرې میراجان تر مخه او له کور والا یې وروسته وفات سوي وي نو بیا د محمد دین اکا په مخکه کې یتیم ۳ خوندې او د دوی مور ته هیڅ حق نه رسیږي او په نه چه د میراجان په برخې مخکه شول هغه په دواړه صورتو کې د ده میراجان دواړو کور والا وو ته او د هغوی اولادو نو ته خپلې حصې رسیږي که په دغه اولادو کې یو راولاړ سي او د نورو ورثه وو حق هم خرڅ کړي نو هغوی کولای سي چه خپل حق راوګرځوي لکه د اول سوال جواب د عبارتونو څخه چه واضح معلومه ده.

دریم سوال جواب: که د اولی ورځې څخه چه یتیم یا د هغه ولی په دغه بیع خبر سو طلب د خپل حق او د شفع د دواړو کاوه چه زه په دې مځکه کې حق لرم او د نورې مځکې شفیع یم نو حق د شفعې لري او که یوازې د خپل حق دعوه ئې کړې وي یا ئې یوازې د خپل حق غوښتنه کړې وي او کله چه هغه تر لاسه کې بیا د شفعې دعوه کوي نو هیڅ حق نلري.

یلزم الشفیع ان یقول کلاما یدل علی طلب الشفعة فی المجلس الذی سمع فیه عقد البیع فی الحال (المجلة المـ۱۰۲۹) ولو بیعت دار بجنب دار رجل هو شفیعها وهو یزعم ان رقبة الدار المبیعة له وهو یخاف انه اذا ادعی رقبتها تبطل شفعته وان ادعی فیها تبطل دعواه فی الرقبة فیقول هذه الدار داری وانا ادعی رقبتها فان وصلت الیها والا انا علی شفعتی لان الجملة کلام واحد فلا یتحقق السکوت عن طلب الشفعة (غمز عیون البصائر صـ۱۹۱ج ۳) والطحطاوی شرح الدرالمختار صـ۱۳۱ج ۴)

واللّٰہ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که دڅا دمځکې په څنګ کې پخوانی لاره وي او خلګ نه وي لاره جوړه کړې له درو کلو وروسته دمځکې مالکان کولای سي چې نوې لاره بنده کړي؟

سوال: ستاسو څخه دلاندي مسئلې په هکله شرعي معلومات غواړو بوه واله چه په څنګ کې يې د ولي په استقامت لاره هم ستره وروسته دغه واله ۲ ځايه سوې ده او ۲ ولي ځني جوړې سوي دي او د ۲ ولو ما بين کي زراعتي مځکه ستره چه هغه هم د خلقو ملکيت دي او د ۳ کالو راهيسي خلق دغه مابين په مځکه کي تيريږي د دغه ۲ ولو ونورو اطرافوته او پخواني لاره ده دغه ۲ ولو پر غاړه تيره سوي ده چه هغه خلقو پريښې ده اوس پو ښتنه داده چه دغه د مابين دمځکي مالکان کولای سي چه دغه نوې لار بنده کړي او خلق مجبوره کي چه پر پخواني لاره تير سي کنه؟

جواب: د مابين دمځکي مالکان کولای سي چه خلق ده دغه نوې لاري څخه منع کې او پخواني لاري ته يې مجبوره کړي ځکه چه په دې مځکه کي دوي لره حق المرور نه دی ثابت سوی او قديم بايد پر خيل قدم پاته سي تر څو چه ضرر بين يا خلاف الشرع شی نوی پکښې ظاهر سوی.

فمرور الرجل في ارض غيره عشرين سنة لايكسبه حق المرور فيها ولو كانت هذه المدة اكثر من المدة المعينة لمرور الزمان..... عللت له بان ذلك التصرف ربما كان عن عارية او اجارة او تغلب والحق الصريح لايثبت بامر مبهم ومشكوك فيه(شرح المجلة سليم باز صـ۶۷۱) العبرة للقدم في حق المرور وحق المجرى وحق المسيل يعني تترك هذه الاشياء وتبقى على حالها القديم الذى كانت عليه لان القديم يبقى على حاله بمقتضى حكم مادة ۶ ولايتغير الاان يقوم الدليل على خلافه اما القديم المخالف للشرع الشريف فلا اعتبار له (المجلة المـ۱۲۲۴) والمراد بالقديم هنا مالا يوجد من يعرف اوله كما مرفى المادة ۱۶۶(شرح المجلة المـ۱۲۲۴) (سليم باز اللبناني صـ۶۷۱).

والله تعالى اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

كه مور په خپل ژوند كي خپله حصه يوه زوى اود دوولمسيانو ته وبخښي څه حكم دي؟

سوال : زما قبله گاه صاحب محمد رحیم تقریباً ۸ کاله مخکی وفات وکړی او بیا ما خپله مځکه او نور سامان ځنې جلا کړی او بیا زما مهربانی مور خپله اتمه ځان ته اخیستی وه خو زما په نورو وروڼو کښې گډه وه خو زما مور په خپل ژوند کښی وصیت وکړی چه ما اتمه حصه وتور جان ته او ۲ یتیمانو ته بخښلی ده چه هغه یتیمان زما وریرونه کیږی چه پلرونه یې مړه دی او هغه زما وروڼه دی خو زموږ مور دباغ مځکی تکتمر ژرنده او نور سامان په مشترک ملکیت کی حصه نه وه معلومه کړی فلهذا ستاسی د محترم حضور څخه امید کوم چه په دی حصه کښی معلومات راکړی چه د مشترک شیانو بخښنه کیږی یا نه؟ یتیمان یو ۴ کلن او بل ۱۲ کلن دی ؟

جواب : محترم مستفتی ته باید وویل سی چه ستا د مور وصیت ستا د پاره جواز او صحت نه لری مگر په هغه صورت کی که د ټولو وارثانو خوښه وه او که د بعضی وارثانو خوښه وه او د بعضو نه وه خوښه نو په مال موصی به کی چه څونه حصه وراضی سوو وارثانو ته رسیږی یوازی هغه حصه دی موصی له ته ورکول سی او ستا د مور وصیة ستا دوریرو د پاره بالکل صحت لری ولی هغه ذوی الفروض ندی لکن شرط دادی که ستا مور د دغه اتمی حصی څخه سوا نور مال نه درلودی نو ستا د مور د وفات وروسته به د هغې د مال ۲ حصې وارثان تقسیموی او ۳ حصه به یې هغه ۲ وریرونه سره تقسیموی یا به یې ۲ وریرونه او تورجان سره تقسیموی که نور وارثان هم وتورجان ته په وصیة خوشحاله وه خو یوه خبره ډیره ضروری ده هغه دا چه د وصیة او بخښې فرق باید وسی که ستا مور داسی ویلی وه چه زما اتمه حصه زما د مرگ وروسته د تورجان او یتیمانو ده نو دا وصیة دی حکم یې هغه دی چه تیر سو او که یې مرگ نوی ویلی بلکه بخښنه یا یو بل د هبې لفظ ئې ویلی وی نو دی ته هبه ویل کیږی حکم

یی دادی که دمور په ژوند کی دغه دمور مال تورجان او وریرو قبض کړی ؤو هبه یی صحیح ده او که یی نوی قبض کړی نو هبه یی نده صحیح بلکه دا مال به وارثان په خپل مابین کی تقسیموی اَو مشترک شیان که قابل دتقسیم وه لکه مځکه ، باغ ، یا داسی نور که چاته وبخښل سی او بیا تقسیم وسی او دبخښونکی حصه موهوب له ته تسلیم سی او هغه یی قبض کی نو بخښنه ئی صحیح ده او تر دی دمخه نده صحیح او که قابل دتقسیم نوه لکه ټکټر او نور سامان او آلات نو دهغه بخښنه مطلقا صحیح ده که څه هم مشترک وی که حصه معلومه وه.

یشترط لنفاذ الوصیة انلایکون الموصی له وارثا للموصی . . . . . فان اجازبقیة الورثة الوصیة لوارث نفذت الوصیة الخ ﴿الفقه الاسلامی صـ۴۱ج۸ هکذافی تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۲۸۶ج ﴾ اذا اجازبعض الورثة جازعلیه بقدرحصته لو اجازت کل الورثة حتی لو اوصی لرجل بالنصف واجازاحد وارثین مستویین کان للمجیز الربع ولر فیقه الثلث وللموصی له الثلث الاصلی ونصف السدس من قبل المجیز ﴿ردالمحتار صـ۴۶۰ج۵ ﴾ یملک الموهوب له الموهوب بالقبض ﴿ المجلة المـ۸۶۱ ﴾ فالقبض شرط لثبوت الملک لالصحة الهبة طحطاوی ﴿شرح المجلة سلیم باز صـ۴۷۲ ﴾ ثم اعلم ان الشیوع المقارن انما یفسد الهبة فیما یحتمل القسمة لافیما لایحتملها فتصح هبة مشاع لایحتمل القسمة بمعنی انه لایبقی منتفعا به بعد القسمة اصلا کالدابة ﴿شرح المجلة سلیم باز صـ۴۷۳ ﴾ والخلاصة ان الشیوع حالة القبض یمنع صحة الهبة اما حالة العقد فلایمنع صحتها وکذا الشیوع الطارئ لایفسد الهبة وهو کان یرجع الواهب فی نصف الموهوب شائعا ﴿الفقه الاسلامی صـ۱۶ج۵ ﴾ هکذافی ﴿بدائع الصنائع صـ۱۲۱ج۶ ﴾ .

(**نوټ**): په صورت کی دوصیة که وارثان اجازه وکړی چه ټول مال دمور دی وریرونه ورکول سی یا دئ وریرو او تورجان ته ورکول سی نو دا اجازه صحیح ده او داغسی بایَد وسی او که اجازه ونکی نو وریروته به دمال د دریمی څه خپلی حصی دوصیة ورکول سی نور مال به سره تقسیم سی خو وارث چه اجازه کوی شرط یی دادی چه عاقل او بالغ به وی یعنی داصحاب التبرع څه به وی او دا اجازه به یی پس دمرګه دوصیت کوونکی وی.

(ولاتجوز بما زاد علی الثلث) یقول النبی علیه السلام فی حدیث سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه الثلث والثلث کثیر بعد مانفی وصیته بالکل والنصف .... (الا ان یجیزه الورثة بعد موته وهم کبار) لان الامتناع لحقهم و هم اسقطوه (ولامعتبر باجازتهم فی حال حیاته) الهدایة (فتح القدیر صـ۳۴۵ج۹) ویشترط لصحة الاجازة شرطان الاول ان یکون المجیز من اهل التبرع ..... الثانی ان تکون الاجازة بعد موت الموصی الخ (الفقه الاسلامی صـ۴۲ج۸).

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دزور طلاق څنګه ده؟ او ديتيمي وريږ سرپرستي به څوک کوي؟

(**اول سوال**): ديو سړی خپل اخښيان چه په زوراو ظلم بيله کوم شرعی عذر څخه خپله زوجه په طلاقه کړی ايا په شريعت کی ئی جزاء سته کنه ؟

(**دوهم سوال**): خپله سکه وريره چه يتيمه وی او بيا عاقله بالغه سی او په خپل رضائيت او اقرار سره د اکا سره ژوند کوی او ورسره وی او خپل ورور يا ما ماګان ئی په زوره څنيی بوزی ددې حکم څه دی ؟

(**دريم سوال**): دپاکستان په عدالت ځای کی چه يو سړی ووهل سی او زوجه په طلاقه کړی پيسی او روپی ئی لوټ او کورئی چورسی ايا دشريعت دنګاه څخه پر دوی باندی تاوان او جزاء سته کنه ؟

(**څلورم سوال**): ما دخپل ورور کوندہ کړی وه وريره مې دپلار څخه د ۳ مياشتو يتيمه پاته سوله اوس بالغه ده وښځې ته دطلاق وروسته محکمې ماته وسپارل اوس ئی ورور او ماماګان په زور راڅخه بوتله نجلی په ما راضی ده شريعت څه حکم کوی ؟

د اول سوال جواب: دغه سړی چه په زور او ظلم(بی له يو واقعی عذره) په بل سړی خپله شرعی منکوحه جبراً طلاقه وی دغه سړی ګنهکار دی او دا ډيره لويه ګناه ده حکومت ته دی حواله سی قاضی به داسی تعزير ورکوی څنګه چه يی قاضی مناسب بولی.

قال الزيلعی وليس فی التعزير شئی مقدر وانما هو مفوضٌ الی رأی الامام علی ما تقتضی جنايتهم فان العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية فينبغی ان يبلغ غاية التعزير فی الكبيرة كما اذا اصاب من الاجنبية كل محرم سوی الجماع الخ(ردالمحتار صـ۱۹۶ج ۳ تبيين الحقائق صـ۲۰۸ج ۳) .

ددوهم اوڅلورم سوال جواب يو انجلی چه بالغه او عاقله سی بيا دخپل ژوند په حق کی دا اختيار داره ده څرنګه تصميم چه دانيسی دځان په حق کی سوی له يوازی ژوند کولو څخه او دخپل ژوند او دسکنی په حق کی که د ورور سره ژوند کوی او که د اکا سره لکن که ئی پلار او نيکه ژوندی وه نو هغه به ئی دځان سره ساتی که ښځه بکره وه يا داسی ثيبة وه چه

دخپل نفس څه په امان نه وه او که ئی پلار او نیکه نه وه نو بیا په ورور او اکا او نورو محرمو اقاربو کی کتل کیږی هر څوک چه ښه امین او صالح او ددې په حق کی راستؤ و دهغه سره به ژوند کوی.

فلاتثبت الحضانة الا علی الطفل اوالمعتوه اما البالغ الرشید فلا حضانة علیه وهو الذی یختار الاقامة عند من شاء من ابویه فانکان الشخص رجلا فله الا نفراد بنفسه . . . . . وانکان انثی لم یکن لها الانفراد ولا بیها منعها منه (الفقه الاسلامی صـ۷۲۵ج ۷) (وان لم یکن لها اب ولاجدو) لکن(لها اخ وعم فله ضمها ان لم یکن مفسداً وانکان) مفسدا (لا) یمکن من ذلک (الدرالمختار) فیتعین الافتاء بولایة ضمه لکل من یؤ تمن علیه من اقاربه ویقدر علی حفظه فان دفع المنکر واجب علی کل من قدر علیه لاسیما من یلحقه عاره وذلک ایضا من اعظم صلة الرحم (ردالمحتار صـ۶۹۷ج ۲).

ددریم سوال جواب : یو سړی چه دیو ظالم سلطان یا ظالم حکومت په واسطه دیو چا مال لوټ او چور کی نو دغه ساعی دهغه مال ضامن ګرځی په شرط ددی چه دغه مال اخستل او ضرر رسول ټول غیر شرعی او محضاً په ناحقه سره وی او سلطان یا حکومت هم په نه تحقیق او ظلم سره مشهوره وی.

قال فی الو قایة لوسعی بغیر حق یضمن عند محمد زجراله وبه یفتی آه ذکر البز دوی انه لوسعی الی السلطان فغرمه روی عن بعض علمائنا انهم افتوا بضمان الساعی وبعضهم فرقوا بین سلطان وسلطان بانه اذا کان معروفا بتغریم من سعی الیه ضمن والافلا قال ونحن لانفتی به فانه خلاف اصول اصحابنا اذالسعی سبب محض الاهلاک اذالسلطان یغرمه اختیاراالاطبعا ولکن نکل الرأی الی القاضی اذا الموضع مجتهد فیه (مجمع الضمانات صـ۱۵۵)

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

که پلار په خپل ژوند کي يو زوی په پته وصي کړي نوځه حکم لري؟

سوال: ديو سړی دري زامـن او پنځه لوڼي وی او دا پـلار راولاړ سی پـه ژونـد کـی د دانورو زامنو په پته دايو زوی پسله مرګه دخپلی دريمی وصی کړی چه دغه مـال ستـادی نـو دا وصی توب ددايوه زوی صحی کيږی کنـه؟ چه دانور زامـن ئـی نـه وی پـه خبر نـو پـدغـه کـی ستاسی علماؤکرامو څخه معلومات غواړو چه زموږ دقناعت سبب سی ؟

جواب: وصيت وخپل وارث ته صحت نلری که چيری نورو ورثةؤو اجازه نه کولـه او کـه نورو ورثةؤو هم اجازه وکړل او ده هغو خوښه سول بيا نـو دغـه وصيت صـحيح کيـږی خو اجازه ده نورو ورثةؤو دوه شرطه غـواړی يو دا چی اجازه کـوونکی وارث بـه عـاقـل بـالغ غيـر محجور عليه او عالم په موصی به سره وی بل دا چه دا اجازة به پس دمرګه دوصيت کونکی وی.

يشترط لنفاذ الوصية الايكون الموصی له وارثا للموصی ..... فان اجاز بقية الورثة الوصية لوارث نفذت الوصية الخ ﴿الفقه الاسلامی صـ۴۱ج ۸ هکذافی تنقيح الفتاوی الحامدية صـ۲۸۶ج ۲﴾ ويشترط لصحة الاجازة شرطان الاول انيکون المجيز من اهل التبرع..... الثانی انتکون الاجازة بعد موت الموصی الخ ﴿الفقه الاسلامی صـ۴۲ج ۸﴾.

او که بعض ورثةؤو اجازة وکړه او بعضو نه کول نو دهغه بعضو په حصة کی چه اجازه يی کړی ده صحيح دی او دهغو بعضو په حصه کی چه اجازه يی نده کړی نه دی صحيح.

اذا اجاز بعض الورثة جاز عليه بقدر حصته لو اجازت کل الورثة حتی لوا وصی لرجل بالنصف واجاز احد وارثين مستويين کان للمجيز الربع ولم فيقه الثلث وللموصی له الثلث الاصلی ونصف السدس من قبل المجيز ﴿ردالمحتار صـ۴۶۰ج ۵﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه ورور دخور حق نه وي وركړي اوله مورثې څخه سراى خپلې ښځې ته په مهر كي وركړي دا ښځه ئې له يوڅه عوضه سره بيا بل چاته هبه كولاى سي كنه؟

سوال : عرض دادى چه يو شخص چه دپلار ميراث ورته پاته دى او يوه خور لرى وهغى تـه ئى حق ندى ورجلا كړى دغه شخص دپلار دمال متروكه څخه ويوى ښځى ته په مهر كى يو سراى چه حدود يى هم معلوم كړى دى سره ده پنځوس زره كالدارى وركړى سوال دادى چه دغه مشتركه سراى ملكيت يى وهغى ښځى ته ثابتيږى كيا او دغه ښځه دغه مذكور سراى وچاته هبه كولاى سى كيا او كه ئى هبه كى او موهوب لـه څه شى په عوض كى واهب تـه وركى څه حكم دى ؟

جواب : مسئله داده چه په مشترك مال كى چه هرڅوك تـصرف كوى دهغـه بل شريك څه بـه حتماً اجازه اخلى يـوازى پـه خپلـه حصه كى تـصرف كـولاى سى پـه شرط ددى چه دهغـه بل شريك حصى ته به ضرر نه رسوى او يو شريك د بل شريك پـه حصه كى بيگانـه دى كه يى دشريك اجازه وه نو وكالةً دهغه په حصه كى تصرف كولاى سى او كه يى اجازه نوه نـو تـصرف كول ورته حرام دى او دغه سراى او نقدى كالدارى چه دمشترك مال څه يـوه شريك پـه مهر كى ښځى تـه وركړى دى دده دخپـل حصى پـه اندازه يى وركړه صحيح ده او ښځه هم دهغـه حصى مالكه گرځيدلاى سى او كه يى دخور حصه هم پكښى وركړى وه دخور بى اجازى نو دخور دحصى په اندازه يى وركړه نده صحيح او نه هغه ښځه دخور دحصى مالكه گرځيدلاى سى فلهذا دهغه حصى بيع او هبه هغى ښځى ته حرامه گرځي او كه فرضاً دخور حصه دخور بى اجازى دغه سړى په مهر كى وركړى وى او دهغـه ښځى څه هلاكه سوى وى نو دغـه ورور دهغونه مقدار ضامن دى خپلى خور تـه بـه يى قيمت وركوى.

كيفمـا يـتصرف صـاحـب الملـك المـستقل بـملكـه يـتصرف ايـضاً فـى الملـك المـشترك اصـحابه بالاتفـاق كـذلك (المــ١٠٦٩) التقييـد باتفـاق الشركـاء لافادة انه ليس لاحـد هم التصرف فى المال المشترك بـلا اذن البـاقين لان

شرکة الملک لاتتضمن الوکالة فکان کل واحد منهم اجنبیا فی حصة غیره (شرح المجلة الاتاسی صـ۱۱ج ۴) لاحد اصحاب الحصص التصرف مستقلا فی الملک المشترک باذن الاخر لکن لایجوزله ان یتصرف تصرفا مضرا بالشریک (المجلة المـ۱۰۷۱) کل من الشرکاء فی شرکة الملک اجنبی فی حصة سائرهم فلیس احدهم وکیلا عن الاخر ولایجوزله من ثم ان یتصرف فی حصة شریکه بدون اذنه (المجلة المـ۱۰۷۵ هکذافی الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۳۶۵ج ۳).

حصة احد الشریکین فی حکم الودیعة فی ید الاخر فاذا اودع احدهما مال الشترک عند آخر بدون اذن فتلف کان ضامنا حصة شریکه راجع مادة ۷۹۰ (المجلة المـ۱۰۸۷).

او دهبی په هکله باید ووایو هغه حصه چه دغه ښځی ته په مهر کی رسیدلی ده دهغه حصی هبه کولای سی بل چاته پدی شرط چه تقسیم به کوی په موهوب له کی یعنی که دغه واهبه ښځه په دغه سرای کی خپله تقسیم وکړی یا موهوب له ته اجازه وکړی دتقسیم او هغوی هم تقسیم وکړی نو هبة صحیح ده او که نه واهب تقسیم وکړی او نه موهوب له ته دتقسیم اجازه ورکړی نو دغه هبه یی صحت نلری که موهوب له تقسیم کړی وی که نوی او که موهوب له ځه شی په عوض کی واهب ته ورکړی نو که دغه عوض په هبة کی شرط سوی ؤو او هبة صحیح سوی وه په وجه دتقسیم او موهوب له موهوب شی قبض کی او واهب عوض قبض کړی نو هبة تامه سوه نه واهب حق درجوع لری نه موهوب له او که هبة نوه صحیح سوی نو واهب ته باید خپل موهوب ورسیږی او موهوب له ته خپل عوض تسلیم سی او که دغه عوض په هبة کی نوو شرط سوی بلکه دهبة دتمام وروسته یی ورکی او په دی یی تصریح کړی وه چه دا ستا دهبی عوض دی نو دغه عوض حکم دنوی هبی لری ټول هغه شروط دهبی پکښی معتبر دی لکن داولی هبی صاحب یعنی واهب ته حق درجوع سته او ددوهمی هبی واهب ته حق درجوع نسته.

(و) شرائط صحتها (في الموهوب ان يكون مقبوضا غير مشاع) الدرالمختار قوله مشاع اى فيما يقسم كما ياتى (ردالمحتار صـ۵۶۷ج ۴) هكذافى (الفتاوى الهندية صـ۳۷۴ج ۴) و(بدائع الصنائع صـ۱۱۹ج ۶) ويشترط ان يكون الموهوب مقسوما ومفرزا وقت القبض لاوقت الهبة (الفتاوى الهندية صـ۳۷۷ج ۴) لكن ان قسم الواهب الجزء الموهوب المشاع بنفسه اوبواسطة نائبه وسلمه الى الموهوب له صح العقد لزوال المانع وكذا لو امر الموهوب له ان يقسم مع شريكه (ردالمحتار) امالو سلمه شائعا فلا يملكه الموهوب له ولاينفذ تصرفه فيه بل يكون مضمونا عليه وينفذ فيه تصرف الواهب درر (شرح المجلة سليم باز صـ۴۷۳) فانكانت الهبة بشرط العوض شرط لها شرائط الهبة فى الابتداء..... وبعد التقابض يثبت لها حكم البيع فلايكون لاحدهما ان يرجع فيما كان له (الفتاوى الهندية صـ۳۹۴ج ۴) وفى الخانية بعث الى امرء ته هدايا وعوضته المرأة وزفت اليه ثم فارقها فادعى الزوج ان مابعثه عارية واراد ان يسترد وارادت المرءة ان تسترد العوض فالقول للزوج فى متاعه لانه انكر التمليك وللمرءة ان تسترد ما بعثته اذ تزعم انه عوض للهبة فاذا لم يكن ذلك هبة لم يكن هذا عوضاً فلكل منهما استرداد متاعه (ردالمحتار صـ۵۷۶ج ۴).

اما العوض المتاخر عن العقد..... فله شرائط ثلاثة الاول مقابلة العوض بالهبة وهو انيكون التعويض بلفظ يدل على المقابلة نحوان يقول هذا عوض عن هبتك الخ (الفتاوى الهندية صـ۳۹۳ج ۴) فالتعويض المتاخر عن الهبة هبة مبتدءة بلاخلاف بين اصحابنا يصح بما تصح به الهبة ويبطل بما تبطل به الهبة لايخالفها الافى اسقاط الرجوع على معنى انه يثبت حق الرجوع فى الاولى ولايثبت فى الثانية فاما فيما وراء ذلك فهو فى حكم هبة مبتدءة (الفتاوى الهندية صـ۳۹۴ج ۴).

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

ژوندي تازان په اور کبابول او دهغوئ خوړل مباح دي که حرام؟

سوال: وبعده مسئله داده چه دسختی گرمی په موسم کی زموږ په منطقه کی یو نوع حیوانات له مځکی څخه راوزی چه ودغو حیوانات ته غیز ویل کیږی نو دغه حیوانات چه له مځکی څخه راووزی په یو بوټی پوری ونښلی چه له دغی غیز څخه بیا حیوان پیدا سی په داسی کیفیت سره چه هر اندام ئی دغیز له اندام څخه راجدا سی بالاخر دغه غیز خالی پوستوکی بی حسه پاته شی چه ودغه متولد حیوان ته تاز ویل کیږی دغه تاز بیا نوری عموماً پر درختو ناسته کوی ظاهرا داسی معلومیږی چه دکوم شی خوراک نه کوی دغه تاز دومره په کثرت سره وی چه ددرختو ښاخونه ئی پټ کړی وی د سهار په وخت کی چه لوټی نسی کولای نو خلگ ئی له درختو څخه څنډی بیا هم دغسی ژوندی په اور کبابه وی او خوری ئی نو اوس پوښتنه داده چه دغه سوزل جائز دی یا نه او خوړل ئی حلال دی یا حرام بینوا بالدلائل الشريعة تو جروا ؟

(مولوی محمد هاشم داعلی جرگی دکلی دمعروف ولسوالی دقندهار ولایت)

جواب دغه غیز او تاز که چیری دجراد (مَلَخ) دانو اعو څخه یو نوعه وی نو بیی خوراک جائز او مباح دی او که دحشرات الارض دقسمه څخه وی نو بیا یی خوراک مباح نه دی پر هر تقدیر ژوندی سوځل دحیوان مباح نه دی لکن دعلاماتو څخه ددغه حیوان چه په عربی کی زِیز ورته وایی داسی معلومیږی چه دا دجراد دانواعو څه نه دی ډیری علاماتی ئی ورسره فرق لری د همدارنگه دبعضی علماؤ نظر هم دادی چه دا حیوان دحشرات الارض یو قسم دی نو ځکه باید فتوی پر حرمت ورکول سی علامات فارقة د زِیز او جراد په مابین کی دادی [1] ونیز ډیر پزوره اواز کوی خلاف له جراد څخه [2] دوهم زِیز دهگی څه دچینجی په شکل راوزی وروسته بیا په خپل عادی شکل کیږی او مَلَخ اول واری په خپل عادی شکل راوزی [3] دریم د

زيز خوراک دزيبنلو په طريقه وی او دجراد ده دخوړلو په طريقه ۴ څلورم دجراد وزر دهغه دبدن په استقامة سره راشروع سوی وی چه په عربی کی ورته مستقيمة الاجنحة ويل کيږی او د زيز وزر دهغه دبدن دنيمايی څخه وی چه ورته نصفية الاجنحة ويل کيږی.

ولايحل ذوناب يصيد..... ولاالحشرات هی صغاردواب الارض واحد حشرة (الدرالختار) كالفارة والوزغة وسام ابرص والقنفذ والحية والضفدع والزنبور الخ ﴿ردالمحتار صـ۲۱۴ج ۵﴾ وكل مالادم له فهو مكروه اكله الا الجراد كالزنبور والذباب ﴿ردالمحتار صـ۲۱۵ج ۵﴾ وحل الجراد وان مات حتف انفه ﴿الدرالمختار صـ۲۱۶ج ۵﴾.

لغت میں زیز اور جراد کی تعریف اور جراد کی اقسام دیکھنی سے معلوم ہوتا ہیں کہ زیز جراد سے علیحدہ جنس کا کیڑا ہیں لہذا یہ حلال نہیں.

ولاباس بقتل الجراد لانه صيد..... ويكره حرقها كذافی السراجية.. ... واحراق القمل والعقرب بالنار مكروه ﴿الفتاوی الهندية صـ۳۶۱ج ۵﴾ كل مكروه ای كراهة تحريم حرام ای كالحرام فی العقوبة بالنار (الدرالمختار) قوله ای كراهة تحريم وهی المرادة عند الاطلاق كما فی الشرع وقيده بما اذا كان في باب الحظر والاباحة ﴿ردالمحتار صـ۲۳۷ج ۵﴾.

او همدارنگه دعلم لغة علماء جراد سره دبونو نوعو په مستقيمات الاجنحة کی ذکر کوی او زيز په نصفيات الاجنحه کی ذکر کوی چه دا هم دليل ددی دی چه جراد او زيز سره مخالف حيوانات دی.

جراد ج جراد (ح) دويبة من مستقيمات الاجنحة انواعها عديدة تختلف باختلاف الشكل والحجم الخ ﴿المنجد حيم وراء صـ۸۶﴾ الزيز ج زيزان (ح) حشرة من فصيلة الزيزيات ورتبة نصفيات الاجنحة الخ ﴿المنجد زاء وياء صـ۳۱۴﴾

والله تعالى اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

په اسپيکر کي لمونځ کول جائزدي کنه؟

سوال : ايا په گويا کی لمونځ ورکول شرعاً جواز لری کنه ؟ (بينوا توجروا)

جواب : لمونځ ورکول په گويا کی پداسی طريقه سره لکه نن چه مروجه ده چه دامام اواز په توله محله يا ښار کی اوريدل کيږی ناجائز او بد عمل دی او مفضی دی وحرام ته کڅه هم دلمانځه اعاده ضروری نده په لاندی وجوهو سره:

(**اول**) جهر کول زايد تر حاجة دجماعة اساءة دی او اساءة ترمکروه تنزيهی پورته او تر مکروه تحريمی لاندی درجة ده.

(**دوهم**)لمونځ په گويا کی کڅه هم دبعضی علماء په نزد جائز دی لکن ډير علماء يی ناجائز بولی.

(**درېيم**) نور خلق چه په نورو مساجدو يا کورونو کی په لمونځ يا ذکر يا نورو اشغالو مصروف وی دهغو دتشويش او ايذاء باعث گرځی.

(**څلورم**) په دی کی يو نوعه دتوهين دقرآن کريم ده ځکه چه ډير خلق يی اوری او سمع يی نکوی يائی نسی کولای.

(**پنځم**) مخالفت دی ددی آية کريمة سره ولاتجهربصلاتك ولاتخافت بها وابتغ بين ذلك سبيلاً .

فـصل ويجهـر الامـام وجوبابحـسب الجماعـة فـان زاد عليـه اساء (الدرالمختار) وفی الزاهدی عن ابی جعفر لوزادعلی الحاجة فهو افضل الا اذا اجهد نفسه اوآذی غيره قهستانی (ردالمحتار صـ۳۵۷ج۱) البته جهر مين تكليف كرانا يا اتنا جهر كه نمازمين تشويش كا باعث بنى يا كسى كى لئى باعث ايذاء هونا جائز هى(احسن الفتاوى صـ۷۸ج ۳ هكذافى فتاوى دارالعلوم ديوبند صـ۱۷۹ج ۲) .

نماز میں آلہ مکبر الصوت کی استعمال مین بہت سے مفاسد ہیں اس لئے اس سے اجتناب کیا جائے اور سنت سیدھی سادی طریقی پر آواز کو دور تک پھنچانی کیلئے مکبرین کا انتظام کیا جائے لیکن اگر کسی جگہ آلہ مکبر الصوت پر نماز ادا کرلی تو نماز فاسد واجب الاعادہ نہیں ہے اور استعمال کرنیوالوں کو کم از کم یہ لازم ہے کہ مکبرین کا پورا انتظام رکھیں کیونکہ علماء کی ایک جماعت اس کو مفسد قرار دیتی ہے ان کی خلاف سے خروج کی فکر کرنا چاھئے (آلات جدیدة ص۔۳۳).

لایقرء جهرا عند المشتغلین بالاعمال ومن حرمة القران ان لایقرء فی الاسواق وفی موضع اللغو (الفتاوی الهندیة صـ۳۱۶ج۵) رجل یکتب الفقه وبجنبه رجل یقرء القرآن ولایمکنه استماع القرآن كان الاثم علی القاری ولاشیء علی الكاتب وعلی هذا لوقرء علی السطح فی اللیل جهراً یاثم كذا فی الغرائب (الفتاوی الهندیة صـ۳۱۸ج۵).

لكن قد منافی اول بحث سنن الصلاة اختلاف عباراتهم فی ان الاساءة دون الكراهة او افحش منها وو فقنا بینها بانها دون كراهة التحریم وافحش من كراهة التنزیه فراجعه (ردالمحتار صـ۳۸۱ج۱ط بیروت وصـ۳۱۹ج۱).

البته که پورتنی وجوه او موانع نوه او ده گویا اوازیوازی دجماعة په اندازه وودمسجد څه دباندی نه اوریده کیدی او ضرورة و دغه گویا ته موجود ؤ نو بیا څه پروا نلری په لمانځه کی ډیر زیات احتیاط ضروری دی زیات کوشش باید وسی چه پر طریقه مسنونه ادا سی او داخبره خوډیره واضحه ده چه بی ضرورت شدیده په گویا کی لمونځ کول دذکر سوی دلائلو سره سره غالباً پر ریاء او نفسانی خواهشاتو بناء وی او هغه تضرّع او خلوص ددین خاص الله تعالی لره پکښی فوت سوی وی فلهذا اجتناب ځنی لازم دی او پر مسئولینو دا لازمه ده چه دد غسی ښکاره او واضح منکراتو او بد عتونو دمخنیوی لپاره مؤثر اقدامات وکړی.

والله تعالیٰ ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

زما دپلار په منقول اوغيرمنقول جايداد زماعمه دعوه کولای سي کنه؟

(**اول سوال**): زما عمه وايي چه زه ستا دپلار سره حق لرم دا وايي چه زما دپلار څخه چه ستا نيکه کيږي يو باغ يوه سراچه او جايداد منقوله نقدي پيسي پاته سويدي چه پيسي خوړل سويدي باغ او سراچه زما په اذن او اجازه حاجي دادمحمد خرڅ کړيدي چه ستا پلار او زما ورور دی دجايداد غير منقول چه خرڅ سويدي پيسي په تجارت کی ډيری سويدي پوښتنه داسی ده چه اوس د دی حق د جايداد ، باغ، او سراچه په دريمه حصه حق کيږي او که د اوس په پيسو کی ؟

(**دوهم سوال**): که بالفرض ددی حق داوس په پيسو کی سی زما پلار حاجی دادمحمد مذکور تخمين ۱۹ کال کيږي چه فوت سويدی او دباغ او سراچی مذکور دخرڅ تخمين ۴۵ کاله کيږي مونږ دحاجی دادمحمد مرحوم اولاده ۱۲ تنه حصص حقدرای لرو دپورته تجارت مال چه زما مرحوم پلار په چلاؤ او گردش باندی اچولی دی او هم ۱۹ کاله مونږ دخپل پلار تر وفات وروسته په گردش او چلاو اچولی دی ددی په دريمه کښی زمونږ د ۱۲ تنو وارثانو حق څنگه دی آيا سته او که نه ؟ که چيری سته نو په کوم حصص باندی حقداری زمونږ دورثه وو کيږي هيله ده چه محترم مقام پورته معلومات دمسئلی په خط راته وليکی ؟

داول سوال جواب : دغه تجارت کچيری پلار بی اجازی دعمه کړی وو نو هر څه گټه چه پلار کړی ده عمه په هغه کی اشتراک نلری بلکه هر څه چه دپلار څه پاته دی که نقدی دی که خرڅ سوی شيان دی يوازی په هغه کی دخپلی حصی حقداره ده لکن دغه گټه چه پلار کړيده پلار ته ښه نده بلکه خيراتوی به ئی په مذهب دحضرت امام صاحب مبارک رحمة الله تعالی او که ئی دعمه په اجازه کړی وی او پلار دغه تجارت يعنی بيع او شراء يوازی دځان دپاره کړی وی نو بيا گټه وده ته ښه ده.

سئلت عن ورثة لهم مال ورثوه من مورثهم فعمل فيه احد هم بدون اذن الباقين فربح فهل لايكون الربح بينه وبين سائر الورثة فالجواب نعم لايكون لهم فيه حظ ولايطيب له الربح ويتصدق به عندهما وعند ابی یوسف رحمه الله تعالی يطيب له الربح (الفتاوی الکاملیة صـ۵۳) وکل اجنبی فی قسط صاحبه_ ای کلواحد منهما اجنبی فی نصیب صاحبه حتی لایجوزله ان يتصرف فيه الاباذنه (تبيين الحقائق صـ۳۱۲ج ۳).

ددوهم سوال جواب: داول سوال څه دا معلومه سوه چه عمه د اوس په پیسو کی حق نلری نو څکه نور تفصيل ته ضرورت نسته.

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه دحيلي په ډول لږمځكه چاته وبخښي شفع بنديږي كنه؟ كه شفع ثابته سي كوم نرخ معتبردی؟ دخرڅ دورځې كه دنن؟

(**اول سوال**): محترما زما او داكا زوی مځكې سره موښتې دي يعني زه ئی شفيع يم او دعوی دشفعي مې هم كړی ده اوس زما داكا زوی غواړی چه دا خپله مځكه پر بيگانه سړی باندی خرڅه كړی اول ئی زما او دخپلی مځكې تر مابين يوه ټوټه مځكه ودی بيگانه ته ورهبه كړه دپارِه ديو حيلی چه ماد شفعي د دعوی څخه وباسی بيائی باندی خرڅه كړی اوس سوال دادی داهبه وبيگانه ته زما دشفع دباطلولو دپاره اعتبار لری كنه؟

(**دوهم سوال**) داچه كه ئی زد دشفعي دعوه گير سم نو دغه بائع پر ما دنن ورځی دنرخ حق لری او كه هغه قيمت چه بيگانه خريدارئی په خوله ادعاء كوی؟

داول سوال جواب: كه چيری دغه هبه بيگانه ته بلاعوضه سوی وی او دغه هبه شرعی ثبوت ولری نو دشفيع حق دشفعي باطليږی ځكه چه موهوب لهٔ شريک په حقوقو كي دمځكي گرځي داصلي مالک سره او شفيع يوازی همسايه توب لری دمالک سره او شريک دحقوقو مقدم وی په شفعه كی تر همسايه

وان باعها ای الدار الاذراعا ای مقدار ذراع من طول الجدار الذی يلی جانب الشفيع فلا شفعة له لان الاستحقاق بالجوار ولم يوجد الاتصال بالمبيع وكذ الو وهب هذالقدر للمشتری لعدم الالتزاق ﴿مجمع الانهر صـ۴۸۵ج۲﴾ هكذافی ﴿الفتاوی الهنديه صـ۱۸۹ج۵﴾ وفيها. واذا قامت البينة علی الهبة قبل الشراء فان صاحبها اولی بالشفعة من الجار كذافی المحيط الخ ﴿الهندية صـ۱۸۹ج۵﴾.

ددوهم سوال جواب: كله چه دشفيع او مشتری په مابين كی اختلاف په قيمت كی راسی او مشتری پر ډير قيمت اصرار كوی او شفيع دلږ قيمت ادعاء ولری نو وبه گورو كه چيری مشتری بائع ته قيمت ورتسليم كړی ؤو او مبيعه ئی تسليم كړی وه نو كچيری شفيع پر خپله ادعاء شاهدان نه درلوده دمشتری قول معتبر دی پس له قسم اخستلو څخه او شفيع حق دقسم اخستلو نلری او كچيری قيمت بائع ته نؤو تسليم سوی نو قول دبائع معتبر دی.

وان اختلف الشفيع والمشتری فی الثمن والدار مقبوضة والثمن منقود صدق المشتری بیمینه لانه منکر ولایتحالفان وان برهنا فالشفیع احق لان بینته ملزمة (الدرالمختار) وقال ط وقد یقال ان الثمن انکان غیر منقود یرجع الی البائع فیؤخذ بقوله انکان اقل ممایدعیه المشتری ویکون حطا (ردالمحتار ص۱۴۶ج۵ بیروت) هکذافی (الهندیة ص۱۸۵ج۵ الهدایة ص۳۹۵ج۴) و(مجمع الانهر ص۴۷۶ج۲) و(الفقه الاسلامی ص۸۱۵ج۵) الشریک فی المبیع اولاثم الشریک فی حق المبیع (حق الارتفاق) ثم الجار (الفقه السلامی ص۸۰۵ج۵ المجلة المـ۱۰۰۹).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که پلار دمځکې قباله دځلورو زامنو په نوم جوړه کړې پنځم له حقه وباسي له وفات وروسته پنځم حق پکښي لري کنه؟

سوال: یو سړی ۵ زامن لری دخپل سرای قباله ئی ده ۴ زامنو پر نامه کړیده پنځم زوی ئی دحقه ایستلی دی نور ۴ زامن ئی اسناد او شاهدان لری یا نلری اوس دغه پنځم زوی دپلار په جایداد کی پس له مرګه دپلار حق لری کنه؟

جواب: دلته ۲ خبری دی اوله خبر داده چه قباله ده یو چاپر نامه جوړول بغیر له قبضه دلیل دهبی نه ګرځی یعنی که یو څوک ده خپل زوی یا زوجی یا بل چا پرنامه قباله جوړه کی او بیا هغه هبه سوی سرای یا مځکه ورته تسلیم کی او هغه یی قبض کی او مالکانه تصرف پکښی وکی نو هبه تامه سوی او ده هغه چا ملکیت ګرځی چه قباله یی پرنامه جوړه سوی ده او که هغه موهوب له دغه مذکور مال نوی قبض کړی نو دا ملکیت نه ثابتیږی حاصل داچه دغه ۴ زامن چه مستفتی ویلی دی که یی خپل سرای دپلار په ژوند کی قبض کړی وُو او تصرف

مالکانه یې پکښې کړې ؤو نو دوی ده دغه سرای مالکان ګرځي او که نوی نو سرای به د میراث په ډول د ټولو ورثه ؤو تر مابین تقسیمیږي بله خبره داده چه ده یوه زوی محرومه کول کچیری دغه زوی فاسق او ظالم وی نو رواکار دی ځکه چه اعانت پر معصیت رانسي او که دغه زوی صالح سړی وی نو بیا د پلار د پاره دا یو لو یه ګناه ده چه محرومه کوی یې او سره ددې چه ګناه ده بیا هم دی حق په سرای کی نلري که هغه نورو زامنو مالکانه تصرف د پلار په ژوند کی په سرای کی کړی ؤو

دفع لابنه مالایتصرف فیه ففعل وکثر ذلک فمات الاب ان اعطاه هبة فالکل له والافمیراث (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ص ۵۸۲ ج ۴) یملک الموهوب له الموهوب بالقبض فالقبض شرط لثبوت الملک (شرح المجلة سلیم باز ص ۴۷۳) رجل وهب فی صحته کل المال للولد جاز فی القضاء ویکون آثما فیما صنع کذا فی فتاوی قاضیخان وان کان فی ولده فاسق لاینبغی ان یعطیه اکثر من قوته کیلا یصیر معینا فی المعصیة کذافی خزانة المفتین ولو کان ولده فاسقا واراد ان یصرف ماله الی وجوه الخیر و یحرمه عن المیراث هذا خیر من ترکه کذافی الخلاصة (عالمګیری نولکشوری ص ۱۰۶۴ - ۱۰۶۵ ج ۳ امداد الفتاوی ص ۴۷۱ ج ۳)

والله تعالی اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

كه قاتل دچاپه قتل له محكمې دباندې اقرار وكړي ،په محكمه كې منكرسي، دده داقرار شاهدان په محكمه كې شاهدي اداء كړي بيانورشاهدان شاهدي وركړي چې دمقتول وارثانو دعفوې اقرار كړي كوم شاهدان منظوردي؟

سوال : يكنفر نفر ديگرى بقتل رسانده ودرحضور چند نفر خارج محكمه اقرار نموده كه فلان مقتول من بقتل رساندم ودر محكمه منكر ميشود شاهدان اقرار او در محكمه براقرار او شاهدى ادا ميكند كه اين قاتل درحضور مايان اقرار نمود كه فلان مقتول من به قتل رساندم بعداً قاتل مذكور چند نفر شاهدان حاضر محكمه ميكند وشاهدان اداى شهادت ميكند كه ورثۀ مقتول درحضور مايان شاهدان بقاتل مذكور از دعوى قتل قتيل مذكور عفوى نموده وابراء داده اكنون كدام شاهدان احق بالترجح مياشند وقاتل مذكور قصاص ميشود يانه ؟ خواهان فتوى مياشم ؟ بينوا توجروا ﴿محكمۀ ابتدائيه ولايت قندهار﴾

جــواب : بايد گفته شود كه درانجا بترجح بعضى شاهدان بر بعض ديگر هيچ ضرورت نيست زيراكه بترجح آنجا ضرورت مياشد كه بين آنها تعارض آمده باشد وانجا تعارض نيست بلكه بينـۀ عفومؤيـد بينـۀ اقرار است زيراكه اگر جنايت واقع شده نباشد پس بعفو ضرورت نمياشد ـ محصول هردو از بينۀ اقرار وبينۀ عفو ثبوت جنايت مياشد پس بترجح هيچ ضرورت نيست واينكه قاتل قصاص ميشود يانه بايد بگوئيم كه اگر عفو نزد قاضى ثابت شده باشد وقاضى شهود عفورا قبول كرده باشد قصاص نميشود زيراكه عفو از مسقطات قصاص مياشد واقرار در خارج از محكمه اگر در حقوق العباد مياشد قبول ميشود واگر درحقوق الله تعالى مياشد قبول نميشود. واما حـق العبـد فهـو المـال من العـين والـدين والنـسـب والقـصـاص والطـلاق والعتاق ونحوها ولايشترط لصحة الاقرار بها مايشترط لصحة الاقرار بحقوق الله تعالى وهي ماذكرنا من العدد ومجلس القضاء والعبادة الخ ﴿بدائع الصنائع صـ۲۲۳ج۷﴾ واما حقوق العباد فانواع منها حق طلب واستيفاء القصاص او الدية ...... ولايشترط لصحة الاقرار بهذه الحقوق الفردية مايشترط للاقرار بحقوق الله تعالى من التعدد وكونه في مجلس القضاء والنطق بعبارة صريحة الخ ﴿الفقه الاسلامي صـ۶۱۹ج۶﴾ يترتب على العفو عن القاتل عنه الحنفية والمالكية اسقاط القصاص مجاناً..... فانكان العفو مطلقاً ترتب عليه عصمة دم القاتل فلو رجع عن عفوه وقتل القاتل اعتبر الولي قاتلاً عمداً ﴿الفقه الاسلامي صـ۲۹۰ج۶﴾

والله تعالى اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دميراث مځکه مي وګټله نيم ملک ئې

راتسليم کړ نيم پاته دپاته ملک دتيروکلونوحاصل زماحق کيږي کنه؟

سوال : فضيلت مآب زما او د محمد ايوب چه دالله داد زوی دی دبل اکا پر ميراث باندی مو دعوه وه چه هغه اکامو وفات سو . او ميراث ئی ما اختر محمد او محمد ايوب نامی ته پاته سوه . ماد محمد ايوب سره ټولې محکمې تر ثلاثه محمکی تر نهائی پريکړی پوری کړيدی هغه زما په ګټه صادري سوي دي نيم ملک ماته سپارل سوی دی زه دخپل ملک دتيرو کلو دحاصلاتو غو ښتونکي يم نو مي موضوع عرض کړه هيله ده چه وماته شرعي فتوی راکړی چه زه حق لرم که يا ؟

جواب : که دغه مځکه واقعاً مستفتی ته پاته سوی وی په ميراث او بيا محمد ايوب په ناحقه ددة ځخه ګرځولی وی او اوس محکمې مستفتي ته ور کړی وی نو د تيرو کلو دحصول حق پر محمد ايوب شرعاً نه لري لکن که دغه مځکه د اکا د وفات په وخت کی اجاري ته اماده وه نو دتيرو وختو اجرة مثل به دمحمد ايوب څه اخلی او که يی خپله وکرلو ته اماده کړی وي نو يې حکم دمزارعة دی(يعنی چه څوک چاته خپله مځکه په کښت ورکړی په نيمی يا دريمه يا څلورمه)نو به اصطلاح ته کتل کيږی چه عرف په نيمی ده او که په دريمه هغه اندازه به ځنی اخلی او که هسی بيکاره وه په هغه وقت کی نو که يی مځکی ته تاوان رسولی ؤو دهغه ضمان به ځنی اخلی او که نه وی نو دهيڅ شی حق نه لری لکن که په دې باره کی صلح ورسره وکړی نو دا ښه لاره ده ځکه چه په آية کريمة کی راځی(والصلح خير) .والحاصل انها ان كانت الارضْ ملكا فان اعدها ربها للزراعة اعتبر العرف فی الحصة والافان اعدها للايجار فالخارج للزارع وعليه اجر المثل والا فعليه النقصان ان انتقصت(ردالمحتار صـ١٣٨ج ٥) هكذافی (الفقه الاسلامی صـ٧٣٢ج ٥) من بذرلنفسه فانواع الحاصلات من البذرله لايعترضْ له من طرف احد(المجلة المـ١٢٤٦) سواء كان البذرملكه او مغصوبا وسواء كانت الارضْ ملكه اومغصوبة . . . . . وقد صرحوا بان الخراج نماء البذرلانماء الارضْ (شرح المجلة الاتاسی صـ١٨٤ج ۴)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه يوحكومت مځكه توزيع كړي نيم قسطونه اداسي نيم په بل حكومت كي اداسي اسناد وركول سي بياحكومت دابيع فسخه كولای سي كنه؟

سوال: دكندهار ښاروالی د (۱۳۵۷) كال يعنی دانقلاب څخه دمخه دخپلو اصولو مطابق دجوړيدو په منظور نمری (مځكی)وخلكوته توزيع كړی وی چه اكثراً ئی په هغه وخت دحكومت كاركونكی او معلمين وه چه ددوی دتنخواه(معاش)څخه په اقساطو باندی د مځكي دقيمت يو حصه په بانک كی جمع كيدله چه په همدا جريان كی كمونيستی انقلاب مينځ ته راغی اكثراً خلک مهاجراو يا ديوه ځای څخه بل ځای ته نقل سوی وه چه ددغو خلكو دوركړه سوی مځكو يوه حصه ئی تحويل او ډيره ئی پاته ده چه د طالبانو د اسلامی تحريک تربرياليتوب ورروسته ئی يو څو نفره حاضر سول او په هغه بيعه چه په لومړی ځل ورته تعين سوی وه پاته پيسی ځينی تحويل سوی او سند ورته وركړل سو چه په دی ورستيو وختو كی دامارت د عالی مقام يو فرمان په دې شرحه رارسيدلی دی دطالبانو داسلامی تحريک دكاميابی څخه ورروسته دقندهار په ښار كی دښاروالی لخوا دفابريكی فارم يا بل نامه سره چه په قطعی شكل سره ځايونه خرڅ سوی او اسناد دملكيت ئی اجرا يا نه دی اجرا سوی په شمول دهغو نمرو چه په كارته معلمين (گچ خانو) دتحريک دكاميابی څخه ورروسته ئی اسناد دملكيت دباقی پاتی مبلغ دتحويلی څخه ورروسته اجرا سوی دا ډول معاملی باطلی او شرعی بڼه نه لری ددې لپاره زمونږ د طرفه يو خاص هيئت هر يو د ښاروالی اود قضايای امارت او زراعت مسؤلينو ته وظيفه وركول كيږی چه پورته ټوله املاک په صحيح شكل قيمت گزاری كړی او مشتريانو څخه باقی پاته مبلغ تحويل كړی او داملاكود مقرراتو مطابق ورته تسليمی او نوي اسناد دملكيت وركړی او كه څوک قناعت نه لری شريعت دې ورسره وسي كله چه مونږ نو موړی خلگ راجلب كړه هغوئ وايي چه زمونږ سره شريعت وكړئ اوس سوال دادی چه شرعاً مونږ دا حق لرو چه په دوئ دوهم ځل قيمت او په بل عبارت دنن ورځی قيمت تحويل كړو او يا دغه مځكه ددوئ څخه واخلو ونورو خلكوته ئی دنن ورځی په قيمت وركړو كنه؟ ستاسو دلار ښووني په اساس به خپل اجرا ات تنظيم كړو ؟

﴿مولوی دين محمد حق بين كندهاړ ښاروال﴾

جواب: د دغه کسانو سره چه حکومت عقد دبيعې کړی دی دانقلاب څه تر مخه نو دابيع که پرخپلو شروطو برابره سوی وی نو بيعه ئی صحيح او نافذه ده يعنی هغه مځکه د هغه خلقو دی هيڅکله حکومت نسی کولای او نه شرعاً داحق لری چه دهغو څخه مځکه بيرته واخلی يا نوی عقد ورسره وکړی يائی بل چاته ورکړئ او که يی پر خپلو شروطو برابره نه وی کړی نو به حکومت اثبات دمخالفت دشروطو کوی بيا به ځان ته حق دفسخ دپخوانی بيعې ثابتوی کله چه پخوانی بيع فسخه سوه بيا دنوي عقد اجازه سته. لکن څرنګه چه نن ورځ افغانی ډير کم قيمته سوی ده او په هغه وخت کی دبيعی ډيره بيش قيمته وه نو حکومت کولای سی چه دهغې ورځې څخه چه دغه پوروړو خپل قسطونه نه دی تاويل کړی هغه پورو ته حساب وکړی او جمع يی کړی او بيايی دهغه وخت په کالدارو يا ډالر يا سرو زرو يا سپينو زرو حساب کړی او دهغه مطابق حساب ځنی تاويل کړی په شرط ددې چه تجاوز او ظلم پکښې ونسی او نه و غريبانو ته تکليف ورکول سی بلکه ښه داده که يو څوک غريب وی چه نور مهلت او وخت هم ورکول سی.

حکم البيع المنعقد الملکية يعنی صيرورة المشتری مالکا للمبيع والبائع مالکا للثمن (المجلة المـ۳۶۹) لکن علی التفصيل الاتی بيانه وهو ان الملکية تثبت بمجرد العقد اذا استجمع البيع شرايط الانعقاد والصحة واللزوم و النفاذ (شرح المجلة الاتاسی صـ۳۵۷ج۲) البيع النافذ يفيد الحکم فی الحال (المجلة المـ۳۷۴) ای ثبوت الملک فی البدلين لکل منهما فی بدل (اتاسی صـ۳۷۳ج۲) اذا کان البيع لازما نافذاً فليس لاحد المتبايعين الرجوع عنه (المجلة المـ۳۷۳) هکذافی (الفقه الاسلامی صـ۱۶۲ج۴) بخلاف النقود النحاسية والغالبة الغش کالبشلک فی زماننا فانها اذا انقطعت عن ايدی الناس فی السوق او کسدت بنهی السلطان عن التعامل بها او رخصت کما وقع فی زماننا فی البشلک او الزهراوی فمذهب ابی يوسف المفتی به ان البيع بها يبقی صحيحا ويجب علی المشتری ان يدفع قيمتها من الذهب او الفضة يوم وقع البيع والقرض فاذا کان کل عشرين بشلکا قيمتها يوم البيع ذهب مجيدی

مثلا وقد رخص البشلک او کسد او انقطع فعلی المشتری ان یدفع عن کل عشرین بشلکا ذهبا مجیدیا لانه قیمتها یوم البیع افاده فی ردالمحتار (شرح المجلة الاتاسی صـ۱۶۳ج۲) وفی البزازیة عن المنتقی غلت الفلوس او رخصت فعند الامام الاول والثانی اولا لیس علیه غیرها وقال الثانی ثانیا علیه قیمتها من الدراهم یوم البیع والقبض وعلیه الفتوی وهکذا فی الذخیرة والخلاصة عن المنتقی ونقله فی البحر واخره فحیث صرح بان الفتوی علیه فی کثیر من المعتبرات فیجب ان یعول علیه افتاء وقضاء ولم ارمن جعل الفتوی علی قول الامام (ردالمحتار صـ۲۶ج۴) هکذافی (تنبیه الرقود-مجموعة رسائل ابن عابدین صـ۶۰ج۲) فلوبقی منها (ای من انواع العملة) نوع علی حاله او کان فی البلدة الاخری نوع منها قیمته مساویة لقیمته فی بلد العقد فالمشتری ملزوم بدفع ذلک الی البایع وعلی البایع القبول.

واللہ تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

په هبه کي داشرط راتلای سي چې خرڅوي به ئې نه؟

سوال: ما حاجی عبيدالله يوه ټوټه مځکه د سرای دجوړيدو لپاره خاص د الله ﷻ د رضا په خاطر و ملاعبدالرزاق او دهغه وروڼو ته هبه کړه چه نور اختيارات ئی په دوئ پوری اړه لری ليکن دفروش حق په هيڅ وخت او هيڅ طريقه نه لری ځکه چه دوئ ته هبه سوی ده په ګروی او کرايه ئی ورکولای سی؟ ﴿فقط حاجی عبيدالله﴾

جواب: دغه ملاعبدالرزاق او دهغه وروڼه که چيری فقيران وی يعنی دنصاب مالکان نه وی نو دغه هبه صحيح ده ولی هبه دلته صدقه ګرځی او دوی کولای سی چه دغه مځکه خرڅه کړی او نور تصرفات هم پکښی وکړی او دغه شرط دنه خرڅولو چه دوی په مابين کی ايښی دی شرط فاسد دی اعتبار نلری او که چيری دوئ مالکان دنصاب وه يعنی هر يو مالک دنصاب ؤ نو بيا دغه هبه نه صحيح کيږی ولی هبه دمشاع ده او هبه دمشاع په قابل التقسيم شی کی صحت نلری که څه هم قبض کړی ئی وی ولی دا قبض ملکيت نه فائده کوی بناء پر راجح قول او که ملکيت پکښی ثابت هم سی نو ملک خبيث به وی و اهب او همدارنګه دده ورثه حق درجوع لری که څه هم قريب وی نو ښه به داوی چه دغه عقد دهبی نوی کړی او ملاعبدلرزاق او دهغه وروڼو ته هر يوه ته جلا جلا خپله حصه ورکړئ او پس له تقسيم څه يی هغوئ هر يو خپله خپله حصه قبض کړی.

ولو سلمه شائعا لايملكه حتى لاينفذ تصرفه فيه فيكون مضمونا عليه وينفذ فيه تصرف الواهب(تكمله ردالمحتار صـ۳۴۳ج۲) وكما يكون للواهب الرجوع فيها يكون لوارثه بعد موته لكونها مستحقة الرد ..... قوله بالقبض لكن ملكا خبيثا وبه يفتى(تكملة ردالمحتار صـ۳۴۴ج۲) وان وهبها واحد من اثنين لاتجوز عند ابى حنيفة رحمة الله تعالى وقالا تصح ..... ثم نقل عن تصحيح القدورى مانصه وقد اتفقوا على ترجيح دليل الامام واختار قوله ابو الفضل الموصلى وبرهان الائمة المحبوبى وابوالبركات النسفى (الفتاوى الكاملية صـ۱۸۵) هكذافى(الفتاوى الانقروية صـ۲۸۳ج۲) هكذافى (احسن

الفتاوی صـ۲۶۱ج ۷ ﴾ ومع افادتها للملک عند هذا البعض اجمع الکل علی ان للواهب استردادها من الموهوب له ولوکان ذارحم محرم من الواهب ﴿ ردالمحتار صـ۵۷۰ج ۴ ﴾ (وهب امة الاحملها وعلی ان یردها علیه او یعتقها او یستولدها او) وهب (دارا علی ان یرد علیه شیئا منها) ولو معینا کثلث الدار أو ربعها (اوعلی ان یعوضّ في الهبة والصدقة شیئا منها صحت) الهبة (وبطل الاستثناء) فی الصورة الاولی (و) بطل (الشرط) فی الصور الباقیة لانه بعض او مجهول والهبة لا تبطل بالشروط ولاتنس مامر من اشتراط معلومیة العوضّ ۔ ﴿ الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۵۷۹ج ۴ ﴾ واذاتصدق بعشرة دراهم او وهبها لفقیرین صح لان الهبة للفقیر صدقة والصدقة یرا دبها وجه الله تعالی وهو واحد فلا شیوع لالغنیین لان الصدقة علی الغنی هبة فلاتصح للشیوع ﴿ الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۵۷۴ج ۴ ﴾

والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه دپلار له مرګ وروسته زوی په شخصي كاروبار ملک پيداكړي اكا حق پكښي لري كنه؟

سوال : زما خپل مرحوم پلار او اكا محمدنعيم په ويش سره ګډ وه كله چه زما دپلار دمرګ څه وروسته ما خپل ځانته خپله خواری كښله. او پخپله شخصي ګټه مي يوه اندازه ملک او سرای رانيولی دی چه فعلاً زه سند عرفی په لاس كي لرم اوس زه خپل اكا ته په هغه شراكت مال كي چه زما دپلار او دده په مابين كي شريک ووحصه وركوم لكن زما اكا وايي چه ته به خپل رانيولی ملک كی هم حق راكوی. نو زه ستاسو دمقام څه هيله كوم چه له رويه دشريعت وماته فتوی راكړئ چه زما پخپل شخصي ملک كي چه قباله ئې هم زما په نامه ده حق لري او كنيا ؟چه ستاسي دمعلومات په زريعه زه هغه كاروكړم. او تاسي زمونږ مشكل دشرعي فتوی په واسطه راحل كړئ. دابه ستاسي لويه وسيله وی ؟

جواب : كه چيری موضوع واقعاً داسی پيښه وی لكه تاسو چه ليكلی ده او دغه سرای او ملک ستاسو شخصی وی د اكا شراكت پكښی نه وی نو ستا اكا نسی كولای چه په زور باندی ستاسره ځان شريک كړی او نه په رانيولی ملک او سرای ستا كی حق لری.

لايجوزلاحد ان ياخذ مال احد بلا سبب شرعی (المجلة المـ۹۷) وذلک كالغصب والسرقة والقماروالر باوالرشوة والدعاوی الباطلة وشهادة الزورالخ (شرح المجلة الاتاسی صـ۲۶۴ج۱) وبناء عليه يحرم التعدی علی ملكيات الافراد مادامت مشروعة قال ﷺ من ظلم شبرامن الارض طوقه الله من سبع ارضين (الفقه الاسلامی صـ۴۵۸۱ج۶ ط جديد) الملک اختصاص بالشئی يمنع الغير منه ويمكن صاحبه التصرف فيه ابتداء الالمانع شرعی (الفقه الاسلامی صـ۵۷ج۴).

والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که ددوو سرایوپه منځ کي دمسجد اوکاريز لپاره لاره وقف سي دسرايو مالکان کولای سي چې دکوځې ته ابرو اودروازه راخلاصه کړي؟

سوال : څرنگه چه يولاره دمسجد لپاره وقف سوی وي دعامو خلگو لپاره يعنی هر څوک پر دغه لاره تيريدلای سی ومسجد او کاريز ته ځی هيڅوک ئی ممناعت نسی کولای او دغه لار د دوو سرايو په مابين کښی ده چه دغه لاره هم ددغو دوو سرايو مالکانو وقف کړيده اوس دغه ذکر سوی لاري ته د دغو دووسرايو څخه ديو سرای مالک کولای سی(حق لری)چه ودغه کوځی ته خپل دسرای دروازه او دباران آبرو راوباسی. او نور خلق کولای سی چه په دغه کوڅه کی تيرسی که نسی کولای ؟

داول سوال جواب : که چيری دغه لار وتلي وي او عام خلق پکښی تيريږي نو هر سړی کولای سي چه ودغه لاري ته خپل دسرای دروازه راخلاصه کړي هيڅ څوک يی نسی منع کولای او دباران آبرو هم دغه لاري ته را ايستلای سی. په دې شرط چه خلقو ته ضرر نه وی پکښی لکن بيا هم نور خلق داحق لری چه دئ ددغه آبرو را ايستلو څخه منع کړی که څه هم ضرر نه وی پکښی.

اخرج الی طريق العامة كنيفا او ميزابا او جرصنا او دكانا جازاذا لم يضر بالعامة ولكل واحد من اهل الخصومة منعه ومطالبته بنقضه بعده هذااذابنى لنفسه بغير اذن الامام ..... وانكان يضر بالعامة لايجوزاحداثه«

تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۲۶۲ج۲) قال فی التنویر والملتقی اخرج الی طریق العامة کنیفا او میزابا..... فلکل من اهل الخصومة ولو ذمیا منعه ابتداء ومطالبته بنقضه بعد البناء سواء اضر ام لم یضر (سلیم باز صـ۶۶۶) لکل واحد ان یحدث با باعلی الطریق العام (المجلة المـ۲۱۸).

ددوهم سوال جواب: لاره چه دعامو خلقو دتیریدو لپاره وی هیڅ څوک نسی کولای چه بعضی خلق دتیریدو څه پر ذغه لار منع کړی که چیری دحکومت له طرفه اجازه دتیریدو وه پر دغه لار او همدارنګه په دغه تیریدو کی ضرر نه وؤ نورو خلقو ته.

فانکان الطریق عاما فلکل انسان حق الانتفاع به لانه من المباحات سواء بالمرور او بفتح نافذة او طریق فرعی علیه..... ولایتقید الابشر طین الاول السلامة وعدم الاضرار بالاخرین اذ لاضرر ولاضرار الثانی الاذن فیه من الحاکم (الفقه السلامی صـ۶۰۷ج۵) هکذافی (تبیین الحقائق صـ۱۴۲ج۶).

(**نوټ**): دا احکام دهغه لاری دی چه وتلی وی یعنی عامه لار وی لکه مستفتی چه ئی پوښتنه کړی ده او هغه لاره چه خاصه وی یعنی وتلی نه وی دهغه احکام ددی څه جلادی او همدارنګه باید ووایو هغه آبرو او ناوه چه یو څوک یی دحکومت یا محکمی په اجازه وعامی لاری ته راوباسی او دغه آبرو یا ناوه پرداسی طریقه جوړ کړی چه دخلقو دآزار او ضرر او کالو خرابیدلو باعث او سبب نوی نو بیا څوک نسی کولای چه منع وکړی لکه دترمخه حوالو څخه چه معلومه سوه.

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

كه بالغه انجلۍ په خپله كوزده راضي نه وي نكاح صحت لري كنه؟

سوال: زما ورېره چه دحاجى محمد زى لور ده بې ددې له مشورى او رضاء ئې دشهباز زوى ته وركړى او فعلاً هم دغه انجلۍ په دې خطبه راضى نه ده. د افسوس خبره داده چه دمذكور شهباز زامن وايى چه تاسى ماته دا انجلۍ راكړي اوس به ماته خامخا راكوئ ولى مو په اوله ورځ راكوله ددغه مذكور شهباز زامنو زور نيولى حتى تر دى چه وايي كه شريعت هم ماته دغه انجلۍ نه راكوى نو ماته به ئې راكوئ او كه پر ماخور هم سى لابه ئې راكوئ دوه كسه دغې انجلۍ ته ورغلي وكالت ئې نه دى وركړى دغه انجلۍ بالغه ده دخپل نفس مالكه ده ؟

جواب: كچيرى صورت حال داسى وى لكه تاسو چه ليكلى دى او دغه انجلۍ چه بالغه هم ده په وخت كى دنكاح تړلو په دغه نكاح نه وى راضى نو دغه نكاح نه صحيح كيږى او ترڅو چه دغه انجلى پخپله راضى سوى نه وى او اجازه يى نه وى كړى نو هيڅكله ددې نكاح نه صحيح كيږى ددې انجلى خوښه او رضاء حتمى او ضرورى ده او په دى هكله دا ميرالمؤ منين فرمان هم صادر سوى دى او كه څوک زور او جبر كوى نو تاسو محكمو يا نورو حكومتى ادارو ته رجوع وكړى هغه مكلف دى چه ددغسى ناحقه زور او جبر مخنيوى به كوى.

باب لاينكح الاب وغيره البكر والثيب الابرضاها الخ (بخارى شريف صـ۷۷۱ ج ۲)هكذافى (مشكوة المصابيح صـ۲۷۰) نفاذ التزويج كان موقوفا على الاجازة وقد بطل بالرد الخ (ردالمحتار صـ۳۲۵ ج ۲) هكذافى (امداد الفتاوى صـ۱۷۴ ج ۲) (وعزيزالفتاوى صـ۴۱۹ صـ۴۳۰ وصـ۴۳۴) و (فتاوى دارالعلوم ديوبند صـ۸۳ ج ۸ صـ۵۸ ج ۸ ۶۲ صـ ج ۸)

بسم الله الرحمن الرحیم

یوشریک بې له اجازې دنورو مشترکه مځکه خرڅولای یابخښلای سي کنه؟

سوال: یک قطعه زمین یا باغ یا سرائیکه بین چند برادر وخواهر مشترک باشد ایا یکی از مشترکین میتواند اراضی فوق الذکر رابدون اجازه بالای کسی بفروشد یا بخش نماید درین باره لطف فرموده از روی شریعت اسلامی معلومات کافی هدایت فرمائید؟

﴿ باحترام حاجی محمد هاشم ﴾

جواب: درین مسئله چند صوراست صورة اولی اینست که یکی از مشترکین این قطعه زمین یا باغ بفروش برساند در حالیکه درین زمین وباغ حصص دیگر مشترکین موجود وشامل میباشد ودرین مشترکین اطفال یا مجانین میباشد واین فروشنده نه وصی آنها باشد نه اجازه وصی گرفته باشد درین صورت بیع درحق اطفال ومجانین باطل میباشد ودرحق دیگر بالغان وعاقلان موقوف میباشد باجازه آنها ودرحق خود فروشنده بیع صحیح میباشد درصورتیکه حصه او مثل نصف یا ثلث بمشتری معلوم باشد اگرچه تقسیم شده نباشد واگر حصه او هم معلوم نبود بمشتری بیعش فاسد میباشد صورة ثانیة اینست که درین قطعه دیگر مشترکین میباشد لکن اطفال ومجانین وامثال آن نباشد وحصص آنها معلوم میباشد اگرچه تقسیم شده نباشد پس بیعش درحق خود بیع صحیح است ودرحق دیگران موقوف صورة ثالثة اینست که حصص هریک نه تقسیم شده باشد ونه معلوم میباشد حصه او بمشتری درین صورت بیع فاسد میباشد اولی وافضل بلکه واجب فسخ آنست.

قوله وقف بیع مال الغیر ای علی الاجازة علی مابیناه ﴿ ردالمحتار صـ۱۵۲ج ۴ ﴾ هکذافی ﴿ الفتاوی الهندیة صـ۱۵۲ج ۳ ﴾ ﴿ الفقه الاسلامی صـ۲۷۱ج ۴ ﴾ الشریک مخیران شاء باع حصته من شریکه وان شاء باعها من اجنبی بدون اذن شریکه ﴿ المجلة المـ۱۰۸۸ والمـ۲۱۵ ﴾ والتصرف فی المال لیس الاللاب او الجدا والقاضی او اوصیائهم ﴿ هکذافی الفقه السلامی صـ۷۴۹ج ۷ ﴾ و﴿ الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر صـ۴۵۴ج ۲ ﴾ یصح بیع حصه شائعة معلومة کالنصف والثلث والعشر من عقار مملوک قبل الافراز لانه لایشترط فی صحة البیع الافراز عند التسلیم وقید الحصة بکونها معلومة لانها لو کانت غیر معلومة یفسد البیع لجهالة المبیع ﴿ شرح المجلة الاتاسی صـ۱۰۸ج ۲ ﴾ فلو قال لرجل بعتک نصیبی من هذه الدار بکذا او قبل المشتری ولم یکن عالما بنصیبه لایجوز هذا لبیع وان علم جاز (خانیة) ﴿ سلیم باز صـ۱۰۳ ﴾ والثانی بیان ان ذلک (ای فسح البیع الفاسد) واجب علیهما رفعا للفساد ﴿ اتاسی صـ۳۶۳ج ۲ ﴾ .

حکم هبه و بخششی درزمین مشترک اینست که قبل از تقسیم هبۂ حصه خود اگرچه معلوم باشد صحیح نیست مگرآن وقت که بعد از هبه تقسیم بکند یا موهوب له را امر بقسمت بکند و همچنان درهبه حصه غیر هم اذن غیر ضروری است هم تقسیم و بدون تقسیم یا امر بتقسیم هبه نه درحصه خودش صحیح است نه درحصه غیر باقی احکام مثل ماتقدم است .

لکن ان قسم الواهب الجزء الموهوب المشاع بنفسه او بواسطة نائبه وسلمه الی الموهوب له صح العقد لزوال المانع وکذالو امر الموهوب له ان یقسم مع شریکه (ردمحتار) ﴿ سلیم باز صـ۴۷۳ ﴾ .

والله تعالیٰ اعلم .

بسم الله الرحمن الرحيم

که په لږقیمت له چاڅخه په زور مځکه واخلي اوقباله په زور په جوړه کړي ابادي پکښي وکړي بیا مظلوم داسلامي حکومت په مټ بیرته خپله مځکه خپلولای سي ؟که ئې خپله کړي د ابادي څه حکم دي؟

سوال : چه یو سړی ډیر ظالم او صاحب دلوی قدرت وی ټوله کارونه ئی دشریعت څخه خلاف وی دغه ظالم دیو مظلوم سړی څخه په اکراه او غصب یو سرای او دوکان دتوفک په زورځنی واخلی او په مقابل کی لږ روپی ورکړي چه هغه دیوه دوکان قیمت هم نه وی هغه ظالم چی په زور ئی قاضی ته دوه شاهدان وروستلی وی دهغه مظلوم کورته روپی وروغورځوی او په هغه مظلوم په زوره گوته ولگوی او کی لگولی نه وای وژنی ئې او بیا په دغه سرای کی نوی ابادی وکړي چه هغه دخپل قیمت څخه هم ډیره لوړه سی وروسته له ډیر وخت څخه په هغه علاقه کی شریعت نافذ شی مالک بیرته غوښتونکی دخپل سرای او دوکان وگرزی او همدغه شاهدان او اهل خبره دقاضی په حضور کی شاهدی ادا کړی چه دا قباله په جبر او اکراه باندی اجر اشویده نو اوس شریعت مقدس په دې باره کي څه حکم کوي چه ایا دغه قباله جبری او غصبی دهغه ظالم سند گرځی او کنه؟ او دقیمت دساختمان دغه ظالم مستحق کیدلی سی کنه ؟

جواب : په دغسی مسئله او واقعه کی لکه مستفتی چه لیکلی ده شرعی حکم دادی چه دغه مشتری که څه هم ددغه سرای او دکان مالک گرځیدلی دی لکن دغه ملک یی فاسد دی هر وقت که چیری بائع خپل رضائیت ښکاره کړی او دا رضائیت یی په داسی وخت کی ښکاره

کی چه جبر او اکراه پر ده نه وی نو په دې صورت کی دهغه مشتری ملک صحیح ګرځی او که یی رضائیت نه کی ښکاره بلکه دفسخی غوښتنه یی وکړه نو هم دغه بائع حق لری او هغه سندونه چه ئی ستا څه په زور اخیستی دی ددی مانع نسی کیدای چه تاسو سودا فسخ کړی او هغه بناء چه ئی ستا څه په مغصوبه سرای کی کړیده هغه دی ونړول سی او که نړول سرای ته ضرر ولری بیا دی قیمت دنړول سوی ورکړه سی.

فصريح العبارات ان المشترى بالاكراه يملكه ملكا فاسدا عند القبض وبذلك صرح فى كتب الاصول عن بحث العوارض المكتسبة (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۴۵ج۲) فلو اكره بقتل او ضرب شديد ..... حتى باع او اشترى او اقرا وآجر فسخ ..... او امضى لان الاكراه الملجئى وغير الملجئى يعد مان الرضا والرضا شرط لصحة هذه العقود وكذ الصحة الاقرار فلذا صارله حق الفسخ والامضاء (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۸۹ج۵) لكل من المتعاقدين فسخ البيع الفاسد (المجلة المـ۳۷۲).

وانما عدل عن قول التنوير ويجب على كل منهما الى اللام بمعنى على لافادة شيئين الاول بيان ان لكل منهما ولاية الفسخ دفعالتوهم انه اذا ملك بالقبض لزم والثانى بيان ان ذلك واجب عليهما رفعا للفساد ..... لكن الوجوب فى غير بيع المكره فانهم صرحوا بانه فاسد وبانه مخير بين الفسخ والامضاء (اتاسى صـ۳۶۳ج۲) ومن بنى او غرس فى ارض غير بغير اذنه امر بالقلع والردوللمالك ان يضمن له قيمة بناء او شجر امر بقلعه ان نقصت الارض به (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۵۴ج۲)

والله ﷻ تعالى اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه شئ په پور واخلي بيائې بيرته په هغه پور كي داخيستو ترقيمت په كم وركړي جواز لري كنه؟

سوال : پرما غلام سرور دعبدالرحمن نامی (۶۰۰) شپږ سوه لكه افغانئ باندی وی چه مانقدې رو پی نه درلودی بیامی (۸) اته منه تارياک دیوه کال په پور فی من (۲۴۰) لكه افغانی دده څخه واخیسته کله چه مده پوره سوه دغه ذکر سوی تارياک بیرته دده ته مي من په (۹۰) لكه افغانی بیرته ورکړ کله چه ددغه (۸) منو تاریاکو دکال مده پوره سوه بیا مي دغه (۲۸) اته ويشت منه تارياک فی من (۱۶۰) يو سل وشپیته لكه افغاني ځینی واخیسته دکال په مده کله چه ددغه تاریاکو مده پوره سوه دکال ـ بیرته مي په دغه مده کی ذکر سوی عینی تارياک دده څه واخیسته بیرته دده ته مي من (۷۰) او يالكه افغاني ورکړه نو ستاسو محترمو حضور څخه هیله کوم چه په دغه باره کی شرعی فتویٰ راکړی ؟

جواب : دا چه یوه پلادی تارياک په (۲۴۰) لكه څنی رانیولی دی او دپیسی ورکولو تر مخه دی بیرته هغه تارياک په (۹۰) لكه ورکړی دی او بیا دی (۲۸) منه تارياک په (۱۶۰) لكه من څنی رانیول او دپیسو ورکولو ترمخه دی بیرته په (۷۰) اويالكه ورکړی دغه دواړه بیعی په شریعت مطهره کی ناجائزی دی.

وفی الفتاوی العتابية ولو باعه بدنانير ثم اشتراه بدراهم باقل لايجوز. . . . ولورخص السعر فانتقص من حيث السعر فاشتراه باقل مماباع لم يجزو لاعبرة للسعر كذافی الخلاصة ﴿ الفتاوی الهندية صـ۱۳۲ج ۳ ﴾ ومن اشترى جارية بالف درهم حالة او نسية فقبضها ثم باعها من البائع بخمسمائة قبل ان ينقد الثمن لايجوز البيع الثاني ﴿ هداية صـ۶۰ج ۳ ﴾

والله ﷻ تعالی اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

كه شريك په مشترک ملک کي په يوه سراى شخصي مصرف وكړي بياپه تقسيم كي دبل سي مصرف به څه په كوي ؟كه قيمت ئې كيږي نودكوم وخت ؟

سوال : مثلاً زيد او عمر د شراکت په مځکه کی تقریباً شل کاله پخوا د اوبو دوه څاهان سره وکښه زید پر دا یوه سرای شخصی سرای جوړ کړی اوس چه ئی تقسیم سره وکړی په تقسیم کی عمر ته دزید مځکه ورسیدله حال دا چه زید پر دي مځکه باندي مصرف کړی دی ایا ددغه مصرف تاوان پر عمر دی او که پر زید او مصرف دهغه وخت اعتبار لری که د اوس؟

(نوټ) په تقسیم کی دواړه راضی دی؟ ﴿المستفتی محمد اسمعیل﴾

جواب : دغه سرای که زید یوازی او یوازی دخپل ځان او شخصی استفادی دپاره جوړ کړی وی نو که دعمر په اجازه وی او که بې اجازی وی دتاوان حق پر عمر باندی نلری بلکه عمر ورته ویلای سی چه خپله بناء دی ونړوه او ایسته یی کړه او داهم کولای سی چه دیوازی بناء بغیر له مځکې قیمت ورکړی وزید ته او که یی دغه سرای دهغه بل شریک بې له اجازی دشرکة دمال لپاره جوړ کړی وو یعنی ددی لپاره ئی جوړ کړی وو چه مشترکه استفاده ځنی کیږی نو دا دجوړوونکی یو احسان بلل کیږی هغه بل شریک باندی ئی تاوان نه دی لازم لکن که ئی اجازه ورته کړی وه بیا به ئی خپله حصه تاوان ورکوی.

اذا بنى احد الشركاء لنفسه فى الملک المشترک القابل للقسمة بدون اذن الاخرين ثم طلب الاخرون القسمة تقسم فان خرج ذلک البنا فى نصيب بانيه فبها وان خرج فى نصيب الاخر فله ان يكلف بانيه هدمه ورفعه (المجلة المـ١١٧٣) وكذا الحكم لو بنى باذن شركائه لنفسه لانه مستعير لحصتهم وللمعير الرجوع متى شاء امالو بنى باذنهم للشركة فانه يرجع بحصة عليهم بلاشبهه (سليم باز صـ٦٤٧) هكذافى (دررالحكام صـ١٨١ج ٣) و (الاتاسى صـ١١٨ج ٤) و (ردالمحتار صـ١٨٨ج ٥) اما اذا بنى للشركة بدون اذن شريكه فيكون البناء مشتركا والبانى متبرعا بمصرفه على البناء وليس له الرجوع على شريكه حصة من المصرف (دررالحكام صـ١٨١ج ٣). والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که یو زوی دپلار په ژوند او وفات کي خپل کسب کوي دانور ورګډ دي کنه؟

سوال : مونږ دوه وروڼه اعنی غلام نبی او محمد غنی دحاجی عبدالقادر زامن یو. زموږ دپلار مورثه مال پاته وه او زه غلام نبی دپلار دحیات څخه بیا تر اوسه پوری پخپل شخصی کسب اعنی دموټرانو په مستری خانه اخته یم. او دپلار مال هیڅ نه دی پکښې مصرف کړی. او زما دپلار کسب باغوانی وه او دپلار په حیات دپلار سره پر کاسه یو ځای وو. آیا زما کسب یعنی دکسب حاصل هم په ترکه یعنی مال میراث کښی حسابیږی اعنی مشترک بلل کیږی او که یا؟ ـ دپلار دوفات څخه وروسته تقریباً دوه نیم کاله پر یوه کاسه وو او ما مشر ورور غلام نبی و خپل کشر ورور محد غنی ته هفتګی ورکوله دواړو خپله ګټه ودغه ځای ته راوړله اوس دوه کاله کیږی کاسه موسره جلا کړی ده حالانکه کسب مویو دی؟

جواب : دپلار متروکه مال چه هر څونه وی په هغه کی تاسی ۲ وروڼه شریکان یاست لکن دغه یو ورور چه په مستری خانه یې خپلې شخصي پیسی پیدا کړی دی که چیری دغه شرطونه موجود وه.

(**اول**): داچه ددغه بل ورور مکمله نفقه دده دغاړی وی.

(**دوهم**): دا چه دهغه ورور دټولو امورو اختیارات به دده سره وی او هغوی دده بی امره او اجازی دنیاوی کسب نسی کولای.

(**دریم**): دا چه په مستری خانه کی به دغه کشر ورور یوازی دیو کومکی به صفت کار کړی وی نه مستقل کار.

(**خلورم**) : دغه مشر ورور به دکشر ورور مال په دغه مستری خانه کی نه وی مصرف کړی نو که دغه خلور شرطه موجود وه دغه مال یوازی دمشر ورور دی په ترکه نه گڼل کیږی او دغه مشر ورور ته به په دې هکله قسم ایښوول کیږی.

سئل فی رجل مات عن ابن کبیر وابنین صغیرین لاعن ترکة فرباهما الکبیر ونشا فی خدمته من جملة عائلته مع ابنه المقارب لهما فی السن وحصلو اجمیعا بالکسب والعمل مالاولم یکن لهم مال واختلفو افیه فالکبیر یدعیه کله لنفسه ..... فما الحکم فی ذلک اجاب ان ثبت کون ابنه واخویه عائلة علیه وامر هم فی کل ما یفعلونه الیه وهم معینون له فالمال کله له والقول قوله فیما لدیه بیمینه ولیتق الله فالجزاء امامه وبین یدیه (الفتاوی الخیریة صـ۵۸ج۲) ان زیداً یسکن مع ابیه عمرو فی بیت واحد ویعیش من طعام ابیه وقد کسب مالاً آخر فلیس لاخوانه بعد وفاة ابیه اد خال ماکسبه زید فی الشرکة (دررالحکام صـ۴۲۱ج۳).

واما قول علمائنا اب وابن یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهما شئی ثم اجتمع لهما مال یکون کله للاب اذا کان الابن فی عیاله فهو مشروط کما یعلم من عبارتهم بشروط منها اتحاد الصنعة وعدم مال سابق لها وکون الابن فی عیال ابیه فاذا عدم واحد منها لایکون کسب الابن للاب هکذافی (تنقیح الفتاوی الحامدیة صـ۱۸ج۲) و (الفتاوی الخیریة صـ۵۸) (دررالحکام صـ۴۲۰ج۳) وتعبیر ولده لیس احترازیا فالحکم فی الزوجة والاخوة علی الوجه المذکور ایضا (دررالحکام صـ۴۲۱ج۳)

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

له جنازي وروسته دغه مرده اونوروته په ناسته دعاکول روادي ؟

سوال : محترمو علماء وروسته دلمانځه دجنازي دعا کول ومرده ته او نورو مردگانو ته په ناستي جائز دی کنه ؟

جواب : دعا کول پس له لمانځه ځخه دجنازي تر مخه دکسر دصفوفو مکروه او بدعت دی فقهاؤ منعه ځنی کړی ده او پس له کسر دصفوفو تر مخه ددفن جائز ده چه منع هم نه ده کړی او سنت والی ئی هم ثابت نه دی او پس له دفن ځه مستحب ده.

اذا فرغ من الصلوة لایقوم بالدعاء ﴿الفتاوی السراجیة بهامش قاضیخان صـ۱۴۱ج۱﴾هکذافی ﴿البحرالرائق صـ۱۸۳ج۲﴾ و ﴿احسن الفتاوی صـ۳۳۶ج۱﴾ و ﴿تاتارخانیه صـ۱۸۰ج۲﴾ و ﴿فتاوی دارالعلوم دیوبند صـ۳۰۵ج۵ وصـ۳۴۱ج۵﴾ واکثرهم لم یذکروادلیل المنع والبعض عللوا المنع بالزیادة علی الجنازة والبعض الاخر عللوه بتکرارالجنازة وکلتا القبیحتین انما تلزمان اذاد عاقائما فی الصف دون بعد کسر الصف وکذا اکثر الفقهاء یعبرون بلفظ طویل ای لایقوم بالدعاء ولایعبرون بلفظ مختصر ای لایدعو فیکون الدعاء بعد کسر الصف عفواً ومباحاالحدیث ماسکت عنه فهوعفو رواه ابوداودنعم کم من مباح یصیر ممنوعا لعارضٍ مثل الالتزام ﴿منهاج السنن شرح جامع السنن الامام الترمذی صـ۲۱۶ج۴﴾ ویستحب اذا دفن المیت ان یجلسو اساعة عند القبر بعد الفراغ بقدرماینحر جزورویقسم لحمها یتلون القرآن ویدعون للمیت کذافی الجوهرة النیرة ﴿الفتاوی الهندیة صـ۱۶۶ج۱﴾ هکذافی ﴿احسن الفتاوی صـ۲۳۳ج۴﴾.

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که اکا کوچني واره هبه وکړي، مور زامنو ته او هغه تقسیم چې دخوندو حق ور نه کړي صحت لري کنه؟

(**اول سوال**): زمونږ درې سوالونه په لاندې ډول دی هیله کوم چه د شریعت مطابق جوابونه ئی په تحریری ډول راکړی اول سوال یو نفر خپل جایدادو دوو کوچنی وریروته مشترک وبخښی او ددی جایداد قبض دکوچنیانو پلار کړیدی که چیری وروسته ۱۸ کاله وروسته اکا وغواړی دابخښه گرځولای سی او که نه ؟

(**دوهم سوال**): دیوی والدی ۷ زامن او دوې لوڼې وي او دې والدې خپل حق ودرو زامنو ته مشترک وبخښی ایا دامشترکه بخښه صحت لری او که نه چه خارجی شاهد او سند هم ونه لری ؟

(**دریم سوال**): دیو میت یوه زوجه ۷ زامن دوې لوڼې وي زامنوئی جایداد په ۸ برخو تقسیم کړی یوه اتمه برخه دمور سوه او یوه یوه برخه ئی دزامنو سوله وخوندوته ئی حق نه دی ورکړی خوندی ئی چه هر وخت پوښتل سویدی هغه وایي چه زمونږ حق دټولو ورڼو دی چه دپلار دمرگ ئی ۴۲ کاله کیږی او ۲۸ کاله دتقسیم کیږی دخوندو دحق په خاطر داویش غلط دی او که نه دی خوندی اوس هم مونږ پوښتلی دی مگر حق نه غواړی ؟

﴿المستفتی ملامحمد نسیم﴾

داول سوال جواب: دغه نفر چه جایداد یی خپل ۲ کوچنی وریروته هبه کړی او دهغوی پلار قبض کړی دی دغه هبه صحیح ده که څه هم هبه دمشاع ده او اکا په هیڅ وخت کی بیا پر دغه هبه رجوع نسی کولای.

اذا وهب واحد شيئا لطفل تتم الهبة بقبض وليه او مربيه ﴿المجلة المـ۸۵۲﴾ وهب اثنان دارًا لواحد صح لعدم الشيوع وبقلبه لكبيرين لا (الدرالمختار) قوله لكبيرين هذه عبارة البحر وقد تبعه المصنف وظاهرها انهما لو كانا صغيرين فى عياله جاز عندهما وفى البزازية مايدل عليه فراجعه ﴿ردالمحتار صـ۵۷۳ج ۴﴾ قوله عندهما بل هو جائز عنده ايضا فالاولى حذف

عنـد همـا او ابداله بـضمير الجمـع (تقريـرات الرافعـي علـى ردالمحتـار صـ۲۵۲ هـكذافي سليم بازصـ۴۷۳) من وهب لاصوله وفروعه او لاخيه او اخته اولاولادهما اولعمــه اولعمتــه اولخالــه اولخالتــه شــيئا فلــيس لــه الرجــوع (المجلة الـمـ۸۶۶ هـكذافي الهـنـدية صـ۳۸۷ج ۴).

د دوهم سوال جـواب : کـه چيرې ددغـه والدې خپلـه حصـه دميـراث معلومـه سوې وي او تقسيم سوې وي نو بيا دغه والده کولای سي چه خپلو زامنو تـه ئـي ورتقسيم کړی او هبه يې کړي او که يې دميراث حصه نه وي معلومـه سوې يا ئې وهغـه زامنـو تـه چه بالغان وي بې له تقسيمه هبه وکړه نو بيائی هبه نه صحيح کيږي.

كذلک لو وهب احد حـصـة فـي تـركـة قبل ان يعلم مايـصيبه منهـا من المـال لاحـد الورثـة لاتـصح الهبـة (دررالحكـام صــ۴۳۹ج ۲ هـكـذافي تنـقـيح الفتـاوی الحامديـة صـ۹۳ج ۲) وانيكون الموهـوب مقـسوما اذا كـان ممـا يحتمل القسمة وانيكون الموهوب متميزا (الهنـدية صـ۳۷۴ج ۴).

د دريم سوال جواب : دغه تقسيم صحيح ندی بلکه دخوند وخق به حتماً جلا کوی هغوی ته به خپله حصه ورکوی بيا دهغوی اختيار دی که ئی يو چاته هبه کوی که ئی ځان ته راګرځوی تر څو چه حق او حصه ئی جلا نسی په شرعی تقسيم سره نه دغه تقسيم صحيح کيږی او نه دنورو دپاره ددوی په حصه مال کی تصرف او مصرفول جائز دی.

سئل في امرءة ماتت عن ام واخت شقيقة وخلفت تركة مشتملة على امتعة واوان اشهدت الاخت المزبورة على نفسها بعد قسمة بعضها انها اسقطت حقها من بقية ارث اختها وتر كتها لامها المزبورة فهل لايصح الاسقاط المذكور الجواب الارث جبری لايسقط بالاسقاط (تنقيح الفتاوی الحامدية صـ۵۱ج۲ هكذافي الكاملية صـ۱۴۷)

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که په حالت دغضب کي داسي ووايي(زمابنځه پر ماخور اومورده) څه حکم لري؟

سوال : که يوڅوک ووايي چه زمابنځه پر ماخور او مورده او دی په حالت کی دغضب وی نو ددغه ښځي حکم څه دی ؟

جواب : چه يوڅوک ووايي زما ښځه پرما خور او مورده په دې سره نه طلاق واقع کيږی نه ظهار که څه هم نيت يې دطلاق وی چه دامسئله صراحةً فقهاؤپه خپلو فتاوی کی ليکلی ده البته دالفظ ويل مکروه دی.

هنا الفاظ انت امی مثل امی کامی حرام کظهرامی ففی انت امی لايکون مظاهر او ينبغی ان يکون مکروها فقد صرحوا بان قوله لزوجته يا اخية مکروه ﴿ فتح القدير صـ۹۰ج۴ ﴾ (والا) ينوشيئا او حذف الکاف (لغا) وتعين الادنی ای البر يعنی الکرامة ويکره قوله انت امی ويا ابنتی ويا اختی ونحوه (الدرالمختار) قوله او حذف الکاف الخ بان قال انت امی ومن بعض الظن جعله من باب زيد اسد درمنتقی عن القهستانی قلت ويدل عليه ماننذکره عن الفتح من انه لابدمن التصريح بالاداة ﴿ ردالمحتار صـ۶۲۶ج۲ ﴾ بخلاف مالو حذف الکاف منها فانه يلغو کما مرویاتی ﴿ الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر صـ۴۴۹ج۱ ﴾ لوقال لها انت امی لايکون مظاهراً ﴿ الفتاوی الهندية صـ۵۰۷ج۱ ﴾

اگر کسی زوجه خودرا خواهر یا مادر بگوید بر زوجه اش طلاق واقع نمی شود ونیز ظهار نمی شود البته چنان گفتن یعنی زوجه خودرا خواهر گفتن مکروه است.

﴿فتاوی دارالعلوم دیو بند صــ۲۱۲ج ۱۰ هکذا صــ۲۰۴ج ۱۰﴾ و﴿امداد المفتین صـ۶۸۷﴾ و﴿عزیز الفتاوی صـ۴۹۳ج ۵﴾﴿امداد الفتاوی صــ۴۸۰ج ۲﴾﴿فتاوی محمودیه صـ۱۲۶ج ۸﴾.

(**سؤال**): دغه مذکور لفظ په عرف کي د طلاق او حرمة د پاره استعمالیږي او په حالت کي دغضب استعمالیږي نو باید دا طلاق صریح سی که نیت وی او که نوی باید طلاق واقع سی (جواب) که څه هم استعمال یی د طلاق او د حرمت د پاره کیږي لکن بیا هم تعریف د صریح نه باندی صادقیږي ولی د صریح په تعریف او بیان کي فقهاؤ لیکلی دی چه صریح هغه دی چه د کثرة استعمال په وجه داسی حد ته رسیدلی وی چه سامع ته هیڅ شک او شبهة پاته نسی لکن دا لفظ چه هر چا ویلی یا اوریدلی دی د هغه یقین پر وقوع د طلاق نوی بلکه شکمن سی او د علماؤ څه پوښتنه کوی چه آیا د دغه لفظ ویونکی د زوجي حکم څه دی او بل دا چه که یو څوک دغه لفظ په غیر حالت کي د غضب یا په حالت کي د خندا و وایی نو هیڅ څوک به دا نه ووایي چه دا طلاق دی او صریح هغه دی چه په هر حالت کي د سامع یقین وی په وقوع د طلاق لکه د لاندی عبارا تو څه معلومیږي.

فالصریح ماظهر المراد منه ظهورا بینا حتی صار مکشوف المراد بحیث یسبق الی فهم السامع بمجرد السماع حقیقة کان او مجازا و منه الصرح للقصر لظهوره ﴿تبیین الحقائق صــ۱۹۷ج ۲﴾ الصریح ماظهر به المعنی المراد ظهورا بینا بسبب کثرة الاستعمال.... فالمعنی الصریح واضح بحیث لایحتاج السامع الی التامل فیه سواء استعمل اللفظ فی المعنی الحقیقی له اوفی غیره کالمجاز المشهور المتعارف مثل لااشرب من هذا الحوض ای من مائه ﴿اصول

الفقه الاسلامی صـ۳۰۸ج۱) یفهم مماذکر انه یشترط لایقاع الطلاق الصریح مایاتی...... ۴ الایکون مشکو کافی عدد الطلاق او فی لفظه الخ (الفقه الاسلامی صـ۳۸۰ج۷).

(**سوال**): په (عمدة القاری صـ۲۵۰ج۲۰) کی په لفظ کی دیا اختی ویلی دی قال ابویوسف إنلم یکن له نیة فهو تحریم وقال محمدبن الحسن هو ظهارا اذا لم یکن له نیة الخ. او حال دا چه اداة دتشبیه هم نسته (جواب): داغه علامة عینی رحمه الله تعالی په (البنایةشرح الهدایةصـ۳۳۶ج۵) کی راوړی دی ولوقال انت امی لایصیر مظاهرا او همدغه دبنایی نقل یی دنورو فقهاؤ داقوالو سره هم مطابق دی او همدارنگه فقهاؤ ویلی دی چه هلته چه اداة تشبیه نوی دامام ابویوسف صاحب او امام ابوحنیفة رحمه الله تعالی رأیه داده چه داقول لغو دی.

وان لم تکن له نیة او حذف الکاف کما فی الدرفلیس بشئی لاحتمال الحمل علی الکرامة وهذا عند ابی حنیفة و ابی یوسف وقال محمد یکون ظهارا قال جمال الاسلام فی شرحه الصحیح قول ابی حنیفة وابی یوسف واعتقده البرهانی والنسفی وغیرهما (اللباب شح الکتاب بهامش الجوهرة النیرة صـ۸۴ج۲) او هغه اختلاف چه په عمدة القاری کی راغلی دی هغه اختلاف په الجوهرة النیرة کی د (انت علی مثل امی او کامی) دلفظ په متعلق راغلی دی (الجوهرة النیرة صـ۸۴ج۲).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

له يوې ولې څخه چې لښتی جلاسوی وي
په ګډه به ئې کاروي که يواځې دلويه ولې مالکان؟

سوال: محترما دکوه کران دکلي او دفارم کوه کران او به په يوه لښتی کي جريان لری چه دغه لښتی دهغې ويالې څخه را جلاسوی دی چه هغه دپنج آب په ويالـه بانـدی مشهوره ده اوس دپنج آب خلق وايي چه تاسی تر پايه يا تر بابا صاحب پوری دپنج آب ويالـه زموږ سره کار کړئ چه موږ دغه کار دپنځوس کالو راپه دې خوا نـه دی کړی آيا دکوکران پر خلقو ددغې ويالې کارول لازم دي کنه؟

جواب: دکوکران او فـارم کـوکران خلق مکلف دی چـه د ويـالی پـه پـاکولو کـی بـه دپـنج آب دخلقو سره اشتراک کوی ترهغه ځايه پوری چه ددوئ لښتی جلاکيږی ددوئ دغـه خبره چه دا پنځوس کاله راپه دی خوا دا کار موږ نه دی کړی شرعاً اعتبار نه لری.

اذا لزم كرى النـهر المشترک بين عـشرة اشخاص فمصارف اعلى حصة شريک الى نهاية اراضيها تقسم على جميعهم وما بعدها على التسعة واذا مرمن اراضى الثانى فعلى الثمانية ثم يسار على هذا السياق الخ (المجلة المــ١٣٢٦) اما اذا كان النـهر نهرا عاماً فاذا وصل الكرى الى فم نهر قرية فيخلص اهالى تلک القرية من مونة الكرى (دررالحكام صـ٣٣٥ج ٣) قال ابوحنيفة رحمة الله تعالى البداية بالكرى من اعلاه فاذا جاوز ارض رجل رفع عنه مؤنة الكرى وكان على من بقى..... وبقول ابى حنيفة رحمة الله تعالى اخذ وافى الفتوى كذافى فتاوى قاضيخان (الفتاوى الهندية صـــ٣٩٠ج ٥) هكذافى (ردالمحتار صـ٣١۴ج ٥)

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که مځکه اجاره کړي اوپه مځکه دعوه وسي درپ فصله معطل سي څه حکم لري؟

سوال : د (۲)کالو دپاره ما مځکه اجاره کړه غنم مي په وکرل خلګو دمځکې څخه په زور اوبه بندي کړي اجاره دار دمځکې مالک ته خبر ورکړی چه دمځکې څخه ئې اوبه بندي کړي دی خلګ وايي چه مځکه دولتی ده دمځکې مالک سرنه ګرځوی د اجاره دار (۳) حصوله ناغه سول وروسته مالک دمځکې دعوه شروع کړه مځکه خپل مالک په شرعی اسنادو وګټله د اجاره دار څخه ئی قیمت پوره اخستی دی دلته اجاره دار تاوان وکړی دلته دمځکې مالک حق لری چه دخلګو څخه د(۳) حصولو تاوان واخلي؟که د مځکي مالک دشریعت دلاری دتاوان حق پیدا کړی نو اجاره دار بیا دمځکې پر مالک حق لری چه د(۳) حصولو تاوان دمځکې دمالک څخه دشریعت دلاري واخلي خلګو دمځکې د مالک څخه په زور اوبه ګرځولی دی؟

جواب : مالک حق نه لری چه دخلقو څه تاوان واخلي که څه هم خلقو په زور اوبه بندي کړي وی دده دمځکي څخه او نه اجاره دار دا حق لری چه دخپلو حصولو تاوان واخلي دمالک څخه لکن هر څومده چه دده دمځکي څخه اوبه بندي سوي دي د هغونه وخت اجرة دې اجاره دار نه ورکوي او نه مالک دا حق لری چه ددغې مدې اجرة د اجارة دار څخه واخلي.

بخلاف مالومنـع الماء من ارضٍ رجل حتى هلک زرعه عطشا لم يضمن المانع شيئا(جامع الفصولين صـ١٣٥ج٢) حقابه دیگری رابملک خود برد لایضمن اذله حق ولاية اتلاف بعضه بواسطة الشرب وسقى الدواب والاصل ان من اتلف شيئا وله ولاية اتلاف بعضه ولويسير الايضمن كغزاة احرق بعضهم مافى دارالحرب من الحطب وغيره (جامع الفصولين صـ٨٥ج٢) فالتسليم الذى بسببه يستحق المؤجر المسمى على المستاجر هو عبارة عن تخلية المؤجر بين المستاجر والماجور على وجه يتمكن من استيفاء المنفعة بلاحائل يمنعه منها..... حتى لو عرضٌ فى بعض المدة او بعض المسافة مايمنع من الانتفاع به كمالو غصبت الدارمن المستاجر او غرقت الارضٌ المستاجرة او انقطع عنها الشرب..... سقطت الاجرة بقدرذلک كما فى الهندية وغيرها(شرح المجلة الاتاسى صـ٦٨٠ج٢). والله تعالى ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

دحج او اوقافو وزارت کارکونکي دحاجيانو وکيلان دي که اجيران؟

سوال : لکه څرنګه چه تاسو خبر یاست چه هر کال دحج او اوقافو داداري لخوا ټول مملکت ته دحج دداخلي اعلان کيږي هغه په دې طريقه چه نومړی اداره مخکې تر حج دحجاجو مصارف لکه دطیاری کرایه دمکان کرایه ،خاک پولي او داسی نور اټکل کړی په دې معنی چه دهر مصرف حد اعظم په فهم کی ولری تر دې وروسته دهمدغه اورګان له طرفه څخه اعلان وسي چه هغه کسان چه اراده دحج لری کولای سی چه همدغه اداراتو ته مراجعه وکړي او دځان سره به هر سړی دومره روپۍ مثلاً دیارلس سوه یا پنځه لس سوه یا شپارس سوه ډالر او ځو قطعي عکسونه او ورسره تصديقونه په لاس کی لری او دداخلی په وخت کی به ئی ورکوي اوس ددغه اورګان و حج او اوقافو مسئولين مستاجرين دی او که وکلاء او که بل څه ؟

جواب : څرنګه چه دحاجيانو په مسئله کی تعریف داجاری صادقیږی فلهذا دغه مسئولين دحج او اوقافو باید اجیران وبلل سی نه وکلاء ولی دلته هم عقد په مابين کی سته چه دتعر في ورکولو او پيسو تحويلولو په جریان کی دغه عقد مابين ته راځی او هم دغه عقد پر منافعو دی لکه هغه سهولتونه چه په تګ راتګ او په مدة کی داقامة په حر مينو شريفينو کی حاجيانو ته حاصليږی چه يوا هم مقصد دعقد هم دغه سهولة دی او دغه عقد هم په عوض سره دی چه مرا دځنی هغه پيسی دی چه دمصرف سوی پيسو څه زائدی دی چه هغه دوزارت حق کیږی او تعین دمدی او عمل او نورو شرائطو حواله کیږی وعرف ته او که فرضاً به بعضی امورو کی جهالة وی نو هغه جهالة مفضی ونزاع ته ندی نو فساد هم نه راولی .

اما تفسیرها شرعاً فهی عقد علی المنافع بعوض کذافی الهدایة ﴿ الفتاوی الهندیة صـ۴۰۹ج ۴ ﴾ ﴿ الفقه الاسلامی صـ۷۳۲ج ۴ ﴾ و ﴿ الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۲ج ۵ ﴾ وهل تنعقد بالتعاطی ظاهر الخلاصة نعم ان علمت المدة الدرالمختار قوله ان علمت المدة صوابه الاجرة ﴿ ردالمحتار صـ۴ج ۵ ﴾ السمسار والمنادی والحمامی والصکاک وما لایقدر فیه الوقت ولامقدار العمل لما کان للناس به حاجة جازویطیب الاجر الما خوذ لوقدراجر المثل ﴿ الفتاوی البزازیة بهامش الهندیة صـ۴۰ج ۵ ﴾ و ﴿ ردالمحتار صـ۳۲ج ۵ ﴾ الجهالة براد بها المجهالة الفاحشة اوالتی تفضی الی نزاع یتعذرحله وهو النزاع الذی تتساوی فیه حجة الطرفین بالاستناد الی الجهالة ﴿ الفقه الاسلامی صـ۳۷۹ج ۴ ﴾ .

وبما ان عرف الناس مصحح للشروط فی نظر الفقهاء فکل شرط فاسد فی الاصل ینقلب صحیحا ملز ما اذاتعارفه الناس ﴿ الفقه الاسلامی صـ۳۸۲ج ۴ ﴾ استعمال الناس حجة یجب العمل بها ﴿ المجلة المـ۳۷ ﴾ فکل ماافسدالبیع ممامر یفسدها کجهالة ماجوراو اجرة الخ ﴿ الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۳۲ج ۵ ﴾

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

دويالي يالښتي حريم څومره دي؟

سوال : زه حاجي محمد گل غواړم چه ومومړ ته د ولي د حریم په هکله معلومات راکړئ چه یو څوک غواړی خپله مځکه دهغې ولي څخه جدا کړی چه پکښې تیره سویده په کومه اندازه حریم ور کړی اکثراً د دغه حریم پر اندازه دخلگو تر منځ جنجال وی ستاسو څخه خواهش کیږی چه په دغه هکله شرعی طریقه راوښوئ .دغه لښتی زماد مځکې په بغل کی تیر سویدی زه غواړم چه دلښتی او خپلی مځکی په مابین کی دیوال ووهم او دغه لښتی مشترک دی تقریباً (۱۰) کسانو په مابین کی چه زه هم دداغه لښتی څخه خپله مځکه او به کوم.او ددغه لښتی بغلونه هم دمځکی څخه را پورته دی او په کال کی یوه پلاپا کولوته ضرورت لری ؟

جواب : دغسی ویاله چه هر وقت کار ولوته اړتیا نلری حریم یی په اندازه دنیمایی دویالی دی بناء پر قول دامام ابویوسف صاحب رحمة الله تعالی علیه چه داغه قول مفتی به دی او هغه ویاله چه هر وقت کارولوته ضرورت لری هغه په اندازه داحتیاج او ضرورت حریم ورته تاکل کیږی.

حریم النهـر الکبیـر الـذی لایحتـاج الی الکـری کـل وقـت من کـل طـرف مقـدار نصفه فیکون مقدار حریمه من جانبیه مساویا لعرضه ﴿المجلة المـ۱۲۸۳﴾ حـریم النهـر الصغیر المحتاج للکری یعنـی الجـداول والقنـی تحت الارضْ علی مقـدار مـایلز مهـا مـن المحـل لاجـل طـرح الاحجـار والطـین حـین کربهـا ﴿المجلة المـ۱۲۸۴﴾ قوله حـریم النـهـر الکبیر الخ _ وهـذه المـادة مبنـیة علی مـذهب الامـام ابی یوسف وبمـا ان رأی المومأ الیه فی هـذه المسالة مفتی بـه فقد اختارته المجلة ﴿دررالحکام صـ۲۸۹ج ۳﴾ والفتوی علی قول ابی یوسف رحمة الله تعـالی کـذافی الفتـاوی الکبـری ﴿الفتـاوی الهنـدیـة صـ۳۸۷ج ۵﴾ هـکـذافی ﴿الـدرالمختاربهـامش ردالمحتـار صــ۳۱۰ج ۵﴾ حــریم النهــر الـصغیر المحتـاج للکری فی کـل وقت ...... هـو مقـدارمـایلز مهـا حـین الکـری من المحل لطرح احجارها واو حـالها الخ ...... ﴿دررالحکام صـ۲۹۰ج ۳﴾ والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که موټر په داسي ډول چپه سي چې ترافيکي ملامتيا وربانديي نه وي خوک پکي مړسي پرموټروان ديت سته؟ که سته نوڅومره؟

(**اول سوال**): دموټر چلولو په وخت کی یعنی دموټر دسرعت په وخت کی دټیر د چاودیدوله کبله موټر چپه سو او موټروان او نور کسان زخمی او یوکس مړ سو په شهادت ورسیدی اِنَّا لِلّٰهِ وِاِنَّا اِلَیْهِ راجِعُوْن اوس د ترافیکو دقوانینو سره سم موټروان بی گناه ثابت سویدی چه اوس دشرعی مطابق پرموټروان کوم دیت سته او که نسته ستاسو دلوړ مقام څخه هیله کیږی چه ومونږ ته جواب ولیکی او زمونږ مسئله حل سی ؟

(**دوهم سوال**): که چیری دیت وی نو به څونه وی ؟

د اول سوال جواب: که چیری دغه موټروان دعادی لارو او عادی سرعت څه استفاده کړی وی او دواقعی ترمخه هم ټایر جوړ وو او خلل پکښی نوو او دترافیکی قوانینو څه ئی هم مخالفت نوی کړی او دموټر دټایر دچاودیدو له کبله موټر چپه سوی وی نو په دی صورت کی نه دیت سته نه نور تاوان او ضمان پر ده لازمیږی او که ده دغیر عادی لارو څه استفاده کړی وی یائی بل یو داسی فعل کړی وی چه هغه ددغه واقعی سبب گرځیدلی وی بیانو پر ده باندی دیت لازمیږی.

اذا كانت السياره سليمة قبل السير بها وكان السائق يتعهدها تعهدا معروفا ثم طرء عليها خلل مفاجئ فی جهاز من اجهزتها حتى خرجت السيارة من قدرة السائق ومكنة من ضبطها ..... لو تقلبت بسبب ذلک على احد او شئ فمات او تلف فلا ضمان عليه ..... وذلک لان ماحصل بالسيارة بعد خروجها من ضبط السائق بحادثة حدثت بجهاز من اجهزتها لاتصح نسبتها الى السائق ولايقال ان السائق مباشر الاتلاف وغاية مايقال فيه انه مسبب للهلاک فانه هو الذی سير السيارة فی مبدء الامر وبما انه يشترط لتضمينه التعدی ..... نعم ان اخل بشرط من هذه الشروط مثل عدم تعهده للسيارة او تسييره هامع خلل ظاهر فی جهاز من اجهزتها او سوقها سوقا عنيفا فانه يضمن فی كل ذلک

(بحوث فی قضایافقہیة معاصرة صـ۳۱۳) والسائق مسئول عمایحدثه بالغیر من اضرارسواء فی البدن ام المال اذا تحققت عناصرها من خطاو ضررولایعفی من هذه المسئولیة الافی الحالات الایتة- ۱ - اذا کان الحادث نتیجة لقوة قاهرة لایستطیع دفعها وتعذرعلیه الاحترازمنها وهی کل امر عارض خارج عن تدخل الانسان (الفقه الاسلامی صـ۵۲۱۶ج ۷ ط جدید) المتسبب لایضمن الابالتعمد (المجلة المـ۹۳)

واللہ تعالیٰ اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

که دولتي مځکه یوقومندان

شخصي خلګوته ورکړي دولت ئې بیرته ځیني اخیستی سی؟ که اخیستلای ئې سي دهغوئ بناوي څه حکم لري؟ اوپه بناوکي فرق چې ځیني پوره وي ځیني مانده؟

سوال: څرنګه چه دملی بس یا شهری موټرانو سابقه استادګاه دډنډ په ولسوالۍ کي او دګندګان په سیمه کی (۲۹۴) قطعه مذکوره اندازه (۱۲) جریبه (۱۸) بیسوی دکستر دنقشی په حدود اربعه ثابته سوی دتوپکیانو په وخت کی داستاد عبدالحلیم په دوره کي ئې خپلو انډیوالانو ته په خپل سرئی په نمره تقسیم کړی دی او هغه نفرو په بشپړه توګه قبضه کړی او سرایونه ئی پر جوړ کړیدی چه بعضی سرایو کی خلګ سکونت کوی او بعضی سرایونه خالي دی. حالا امارت او خاص دملی بس ریاست نوموړي مځکې ته اشد ضرورت لري چه خپل کار ځنی واخلی لطفاً دشریعت مقدس په رڼا کی دلاندی سوالو ته دحل ضرورت لیدل کیږی.

(اول سوال): نوموړی مځکه دامارت دخاص ارګان مربوطه چه په پورته شکل تقسیم سوی دی ایا امارت ئی ورځنی اخستی شي او حق لری که یا ؟

(دوهم سوال): که امارت حق داخیستو ولری بیا دمیشته کسانو سره څه چلند کوی او هغوئ د څه شی حق لری دخپل مصرف په اړوند ؟

(دریم سوال): ایا فرق ئی سته دهغو کسانو چه سرایونه ئی مکمل جوړ کړی وی او سکونت پکښی کوی او دهغه کسانو چه مکمل ئی جوړ کړی وی خو سکونت نه پکښی کوی یا ئی څه اندازه کار پری کړی وی ؟

((دپورته سوالو دحل کیدو وروسته هغه اجراءات چه په نظر کی وی عملی به شی)).

داول سوال جواب: نوموړی مځکه کچیری شخصی مملوکه نوی دخلقو نو امارت حق لری چه دخلقو څه یی بیرته واخلی ،

ان خلاف الکرخی المذکور انما هو فیما اذا کانت الارض ملکا اما اذا کانت وقفاً فیومر بالقلع والرد مطلقاً اتفاقا کما صرح به فی مجمع الانهر لان الارض

لایجوز تملکها (شرح المجلة الاتاسی صـ۴۴۲ج ۳).(سلیم باز صـ۵۰۲ المـ۹۰۶) و(مجمع الانهر صـ۴۶۳ج ۲) تتمة - اذا بنی او غرس فی ارض متروکة لمنافع العامة کالطریق والمرعی فانه یو مر بالقلع فی کل حال ای ولو کان القلع مضر ابالارض او کان قدبنی او غرس بتاویل ملک اذلیس لبعض العامة او لکلهم اذا اجتمعوا ان یحولو اهذه الارض لغیر ماوضعت له فی الاصل (سلیم باز صـ۵۰۴).

ددوهم او دریم سوال جواب: دمیشته کسانو مصرف که چیری مال متقوم وی لکه لرگی گاډر دروازی او داسی نور هغه دی وکاږی او یو دی سی او که غیر متقوم وو دهغه حق نلری لکه دمزدور او دبناء اجرة او داسی نور.

اذا کرب ارضاً غصبها ثم استردها صاحبها فلیس للغاصب ان یطالب باجرة الکراب (المجلة المـ۹۰۸) قال فی الهندیة رجل غصب ارضامو قوفة فانکان الغاصب زاد فی الارض من عنده انلم تکن الزیادة مالامتقوماً بان کرب الارض وحفرالنهر والقی فی الارض سر قینا واختلط بالتراب وصار بمنزلة المستهلک فان القیم یسترد الارض بغیر شئ آه وفی الخانیة ولو غصب نخلا او زرعا فسقاه وانفق علیه حتی انتهی فلاشئ له وکذالو قصر الثوب المغصوب (سلیم باز صـ۵۰۶) (الفتاوی الهندیة صـ۴۴۷ج ۲).

تنبیه: نوموړی مځکه یا نوری مځکی ترهغه پوری حکومتی او دولتی مځکی نسی بلل کیدلای چه حکومت یو شرعی دلیل او ثبوت نوی وړاندی کړی یوازی دا خبره چه دامځکه په کاډسترکی قید ده کافی نده ولی داد شرعی دلائلو څه ندی

ولیس للامام ان یخرج شیئا من یداحد الابحق ثابت معروف (ردالمحتار صـ۲۸۱ج ۳)

والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که دولتي مال چاته په کرایه ورکړي هغه ئې شریک ته ورکړي څه حکم لري؟

سوال: دکانو او صنایعو ریاست مربوط یو باب گدام محترم عبدالکریم ته دمیل د جوړولو لپاره په کرایه ورکړی کرایه دگدام به دمیل دچالانیدوله نیتی څخه شروع کیږی کله چه میل چالان سو وروسته له دوومیاشتو عبدالکریم دغه میل پخپل شریک عبداللطیف باندی خرڅ کړ خو ۳۷۰۰۰ کالداری دکرایی په نامه عبدالکریم دعبداللطیف څخه اخیستی دی حال دا چه دگدام کرایه باید دکال په پای کښی دکانو او صنایعو دریاست په حساب دافغانستان بانک ته تحویل شی اوس ستاسی دمحترم حضور څخه پوښتنه داده چه نوموړی ۳۷۰۰۰ کالداری دعبدالکریم حق دی یا دعبداللطیف او یا دکرایي په عوض کښی دکانو او صنایعو په مربوطه حساب کښی دافغانستان بانک ته وسپارل سی دپوره معلوماتو په خاطر یوه ورقه قرارداد خط دکانو او صنایعو ریاست او عبدالکریم ترمینځ او یوه ورقه قرارداد دعبدالکریم او عبداللطیف ترمینځ ددې لیک مل درته تقدیم سول هیله ده شرعی فتوی راکړی؟

(دکانواوصنائعورئیس ملااکبرشاه جمالی)

جواب: محترم مستفتی صاحب هغه خط چه دعبدالکریم او محمد لطیف په مابین کی لیکل سوی دی او بیا د معدن او صنایع دمحترم رئیس صاحب له طرفه دستخط سوی دی دهغه څه دامعلومیږی چه دغه اجاره دگدام دعبدالکریم سره فسخه سوی ده او نوی عقد دمحمد لطیف سره سوی دی او په هغه شکل سوی دی لکه دعبدالکریم سره چه سوی دی نو پر دی اساس محمد لطیف مکلف دی چه دگدام کرایه پر هغه ترتیب بانک ته تاویل کړی لکه دعبدالکریم سره چه په قرارداد خط کی لیکل سوی دی او هغه ۳۷۰۰۰ کالداری چه

عبدالکریم اخستی دی کـه ئـی خـاص دگدام دکرائـی پـه نیت اخستی وی او بـل لحاظ نوی پکښې نو حق نلری بیرتـه بـی محمدلطیف تـه ورکوی هغـه بـه دکـال پـه پـای کـی خپله کرایه بانک ته تاویله وی لکه څنګه چه موافقه سوی ده دا چه مونږ وویل چه پخوانی اجاره فسخه او نوی عقد سوی دی هغه دعبدالکریم او محمدلطیف دقرارداد خط پـه شپږمه مـاده کـی ویل سوی دی

(یہ کہ فریق اول اصل معاہدہ پر عملہ درآمد کی بعد متعلقہ فلور ملز سے کوئی تعلق نہیں رکھیں گے اور فریق دوم ابنی الخ)او په اوومه ماده کی لیکلی دي.

(یہ کہ آج تاریخ تک تمام سابقہ ادائگاں بشمول ترانسفار مز کی قیمت وبل بجلی وکرایہ سائیٹ گذشتہ وآیندہ بذمہ فریق دوم یعنی محمدلطیف صاحب وغیرہ ہونگی)
او په نهمه ماده کی لیکلی دی.

(یہ کہ یہ معاہدہ ان امور میں جو کہ امارت اسلامی افغانستان سے متعلقہ ہیں امارت اسلامی کی نمائندہ برای صنعت ومعادن وغیرہ کی تصدیق وتصویب پر منحصر ہے لہذا ان کی تصدیق کی بعد نافذ العمل ہوگا) .

تـصرفات الـفـضولی تـقـع منعقـدة صـحیحة لکنـهـا موقوفـة علـی اجازة صـاحب الـشان وهـو مـن صـدر الـتـصرف لاجلـه ان اجـازه نفـذ وان رده بطـل (الفقـه الاسـلامی صــ۱۶۷ج ۴)لوحـدث عـذرمـانع لاجـراء موجـب العقـد تنفسخ الاجـارة مـثلاً لواسـتاجر طبـاخ للعـرس ومـات احـد الـزوجین تنفسخ الاجـارة (المجلة الـمــ۴۴۳)

والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که دیوه ورور زامن غائب وي دخورزامن ئې د اکا له زوی څخه دمور حق غوښتلای سی چې داکا دزامنو په منځ کي تقسیم هم نه وی سوی؟

سوال : څرنګه چه رب العزت شاهد او واحد دی چه زما دِ اکا زامن دا ۱۵ کاله کیږی چه وخارج ته یي هجرت کړی دی دژوند او مرګ حال ئی نسته ملکیت ئی زما سره ګډ دی تقسیم نه دی سوی اوس ددوئ دخور زامن وماته وایي چه زمونږ دمور حق راکړه حال دا چه ددوئ خور مړه سوی ده زه ورته وایم چه تاسو خو په ما کی حق نه لرئ هر کله چه ستاسو ماماګان راغلل چه هغه زما داکازمن دی زه به ددوئ سره دملکیت تقسیم او ترکه وکړم بیا تاسو خپل حق ددوئ څخه واخلئ زه ستاسو دمور حق نسم درکولای ځکه چه صباورځ زما داکا زامن هیواد ته راسی وو ایي چه مونږ خپله خور په حق رسولی وه تاولی ورکا وه نو زه لاجوابه پاته کیږم او دامسئولیت زه پرغاړه نه اخلم نو زه د دارالافتاء دعالی مقام څخه احترامانه هیله کوم چه ما داخرت دعذاب څخه وژغوری او ددوئ دجنجاله څخه نجات راکړی او دشریعت غراء محمدی ﷺ حق لاره راته وښیی چه زه پر هغه لاره باندی روان سم ځکه چه زه یو مظلوم انسان یم.

(حاجی عبدالرحیم)

جواب : دا چه ستاسو ترمابین دملکیت تقسیم نه دی سوی او بعضی وارثان غائب دی او دهغوئ دخور زامن خپل حق غواړی نو اوس علاج دادی چه هغه دخور زامن یا یوبل وارث به په محکمه کی دقاضی څخه مطالبه دتقسیم کوی او قاضی به د دوی تر مابین جبراً تقسیم کوي او هر یوه ته به خپل حق ور رسوی او ستاسو داخبره چه دخور زامنو ته وایاست چه زه ستاسو دمور حق نسم درکولای ولی که زما داکا زامن راغله او هغو راته وویل چه موږ خپله خور په حق رسولی ده داخبره صحیح نه ده ولی تاسو تر اوسه تقسیم نه دی کړی نو هغوئ به څنګه دخپلي خور حق ورکړی وی حال دا چه دتقسیم ترمخه نه هغه خور خپل حق هبه کولای سی نه ترتیربدلای سی . او ستاسو ترمابین قاضی تقسیم کولای سی که دغه څلور شرطه موجود وه:

(اول) دغه ملکیت به تاسوته په میراث پاته سوی وی.

(**دوهم**) دهغه مورث (متوفی) پر مرګ او پر عدد دوارثانو به شاهدان تیروی او که وصی موجود وو دهغه پر وصية به شاهدان تیر وی

(**دریيم**) اقلاً دوه کسه وارثان به حاضریږی که څه هم یو صغیر وی یا موصی له وی.

(**څلورم**) ټول ملکیت به دحاضرو وارثانو سره وی.

يشترط الطلب فی قسمة القضاء فلذلک لاتصح القسمة من القاضی جبرا مالم يقع طلب ولومن احد اصحاب الحصص (المجلة المـ۱۱۲۹) هكذافی (الفقه الاسلامی صـ۶۶۷ج ۵) تصح قسمة القضاء تارة ولوغاب الشركاء الاانه يلزم فی ذلک وجود شروط اربعة الشرط الاول انيكون المال المراد تقسيمه موروثاو مشتركا من جهة التركة ..... الشرط الثانی انيكون المال المشترک منقولا او عقارافتقام البينة علی موت المورث وعلی عدد الورثة واذا كان الخصم الموصی له فتقام البينة علی الوصية ..... الشرط الثالث يشترط حضورلااقل من وارثين من الشركاء او حضوروارث وموصی له ولوكان احدهما صغيرا ..... الشرط الرابع يجب انيكون كل المال المقسوم فی يدالحاضرينالبالغين الخ (دررالحكام صـ۱۲۶ج ۳) هكذافی (الفتاوی الهندية صـ۲۰۹ج ۵) و (الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۱۸۱ج ۵) صرح علماؤنا بان الارث لايصح اسقاطه اذهو جبری لاسيمافی الاعيان ..... وفی الاشباه والنظائر لوقال وارث تركت حقی لم يبطل حقه (الفتاوی الخيرية صـ۹۹ج ۲) الارث جبری لايسقط بالاسقاط (تنقيح الفتاوی الحامدية صـ۲۶ج۲) هكذافی (دررالحكام صـ۶۹ج ۴) كذلک لو وهب احد حصته فی تركة قبل ان يعلم مايصيبه منها من المال لاحد الورثة لاتصح الهبة كمالاتصح الهبة فيما لو قال احد وهبت مقدارامن الاشياء التی املكها لابنی الصغير ولم يعين الاشياء التی وهبها ولم يعلم بها (التنقيح وعلی افندی)(دررالحكام صـ۴۳۹ج ۲) والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

كه كوچنى نجلى كوچني هلک ته په نكاح كړي (۱۵)كاله وروسته معلومه سي چې هلک ليونى، فلج اوعصبي ده انجلى له نكاح خخه خلاصيداى سي؟

سـوال: من محمد نام ولد شير محمد پانزده سال قبل صبيه يا دختر خورد كه هنوز چند ماهه بوده عنوانى نامزدى زن وشوهرى براى برادر زاده چند ماهه خود به لفظ ايجاب از طرف من وقبول از طرف مادر كلان بحضور دونفر شاهدان صورت گرفته است درين موضوع بين من ومادر كلان اين پسر ايجاب وقبول گرديد بعد ازيک سالگى معلوم شد كه اين طفل داراى سلامت جسمى وروانى نبوده به مرور زمان روشن گرديد كه طفل گنگ فلج ديوانه وفاقد سلامت عقلى وفكرى مى باشد از همان وقت اقدام به تداوى آن شروع شد تا مجرب ترين ډاكترهاى شهر كراچى پاكستان ان راجع نموديم ولى هيچ گونه بهبودى درحالت آن به مشاهده نرسيد بالاخره علاج ناپذير تشخيص گرديد اكنون كه به سن پانزده سالگى رسيده قادر به تكلم كردن راه رفتن منظم خوردن آب وغذا ورفع حاجت به اختيار خود نبوده وهم از نظر عقل وهوش هيچ چيز تشخيص داده نمى تواند واگر دست هاى آن ازاد باشد مواد فضله وغايط خود مى خورد اكنون به ريسمان بسته بوده نان كس ديگربد هنش ميدهد ومواد رفع حاجت ان پاک ميكند فعلاً كه دخترم به سن پانزده سالگى رسيده حاضر نيست كه درقيد نام اين انسان ناقص الخلقه از حقوق شرعى وانسانى خود محروم باشد بناء جريان موضوع به قرار فوق به محضر شما عرض شد واميد دارم كه بايک ملاحظۂ عميق شرعى متناسب به حالت عقلي جسمى مدني وشرعى اين پسر فتوى شرعى صادر فرمائيد تا صبيه مظلومۂ من از قيد نامزدى آن خلاص شود؟

جواب: اگر واقعه همين طور باشد كه مستفتي بيان نموده ونوشته كرده وهمين اوصاف نوشته شده مثل جنون كامل وفلج وغيره بتمامه درين پسر موجود باشد ودختر طلب فسخ نكاح نمايد درين صورت جائز است كه قاضى صاحب محكمۂ درميان ايشان تفريق كند ونكاح ايشان فسخ كند وعمل متأخرين احناف رحمهم الله هم براين است لكن شرط اينست كه دختر هيچ گاه اظهار رضاء باين نكاح در حالتى نكرده باشد كه بجنون زوج خود خبردار باشد بايد گفته شود كه اگر مجنون با وجود جنون قدرت جماع وخانه دارى نداشته باشد حكمش حكم عنين باشد كه باتفاق جميع ائمۂ حنفيه رضوان الله عليهم اجمعين قاضى ميتواند كه بعد از مهلت دادن يكسال فسخ نكاح كند اما اگر قدرت جماع يا عنين بودن اوثابت نباشد لكن جنون داشته باشد جنون كه باعث ايذاء شديد ميشود مذهب امام صاحب وامام ابويوسف رحمهم الله تعالى عدم جواز فسخ است ومذهب امام محمد رحمة الله تعالى جواز حكم بفسخ است كه عمل متأخرين حنفيه رحمهم الله هم بقول امام محمد رحمة الله تعالى عليه است لكن قضاء قاضى شرط است در صورت فسخ زيراكه بحكم قاضى قول مرجوح راجح ميشود وحكم قاضى رافع خلاف است وبعد از حكم قاضى قول ضعيف ومرجوح قوى ومعتمد عليه ميگردد.

قال محمد رحمه الله تعالى ان كان الجنون حادثا يؤجله سنة كالعنة ثم يخير المرأة بعد الحول اذا لم يبرء و ان كان مطبقا فهو كالجب و به نأخذ كذافى الحاوى القدسى ﴿ الفتاوى الهندية صـ۵۲۶ج۱ ﴾ و التفريق طلاق لكون الحاكم نائبا فيه مناب الزوج و هذا هو قولنا معشر الحنفية كما فى الهندية قال محمد ان كان الجنون حادثا الخ ﴿ اعلاء السنن صـ۲۳۹ج۱۱ ﴾ هكذافى ﴿ معين القضاة و المفتين صـ۸۷ ﴾ .

(**ســوال**) اگر زوج را جنون شد بدرخواست زوجه تفریق آن تواند شد یا نہ (الجواب) اگر جنون حادث باشد ہمچو عنین تامدت یکسال مہلت دادہ خواہد شد وبعد آن اگر صحت نیافت زوجہ را اختیار است واگر جنون مطبق است فی الفور فسخ میتواند شد حاجت بمہلت دادن نیست الخ ﴿ مجموعة الفتاوى بهامش خلاصة الفتاوى صـ۴۲ج۲ ﴾ هكذافى ﴿ جديد فقهى مسائل صـ۱۲۰ج۲ ﴾ ﴿ فتاوى محمودية صـ۱۷۰ج۸ ﴾ و ﴿ كفايت المفتى صـ۳۷۷ج۲ ﴾ امداد الاحكام صـ۲۹۱ج۲ وصـ۷۰۲ ج ۲ ﴾ و ﴿ امداد المفتين صـ۲۷۵ ﴾ .

حضرت تھانوی رحمة الله علیہ نے اپنے زمانہ میں تمام علماء ہند کی اتفاق سں دوسری ائمہ اورامام محمد رحمة الله تعالى علیہ کی قول پر فسخ نکاح کا فتوی دیاہے تفصیل کے لئے دیکھے الحيلة الناجزة (ظفير) ﴿ هامش فتاوى دار العلوم ديوبند صـ۲۵۵ج۱۰ ﴾ .

شروط التفريق بالعيب..... (۱) الّا يكون طالب التفريق عالما بالعيب وقت العقد..... (۲) الّا يرضى بالعيب بعد العقد فان كان طالب التفريق جاهلا بالعيب ثم علم به بعد ابرام العقد و رضى به سقط حقه فى طلب التفريق ﴿ الفقه الاسلامى صـ۵۲۱ج۷ ﴾ وفى شرح الطحاوى و ان كان مجنونا فوجدته عنينا فانه ينتظر حولا و لا ينتظر الى البرء ﴿ تاتارخانية صـ۵۳ج۴ ﴾ اتفق ائمة المذاهب الاربعة و الامامية على التفريق بعيبين و هما الجب و العنة ﴿ الفقه الاسلامى صـ۵۱۷ج۷ ﴾ اتفق الفقهاء على ان الفرقة بالعيب تحتاج الى حكم القاضى وادعاء صاحب المصلحة لان التفريق بالعيب امر مجتهد فيه و مختلف فيه بين الفقهاء فيحتاج الى قضاء القاضى لرفع الخلاف..... و قضاء الحاكم يقطع دابر الخلاف الفقه الاسلامى صـ۵۲۰ج۷ ﴾ . (شرائط تفريق) (۱) جنون خطرناک حدتک ہو شدید ایذاء کا باعث ہو معمولی جنون میں خیار تفریق نہیں الخ ﴿ احسن الفتاوى صـ۴۲۵ج۵ ﴾ .

بسم الله الرحمن الرحیم

که دیو ضرورت په خاطر مځکه چاته هبه کړي بیرته رجوع کولای سي؟

سوال: زموږ د موضوع تفصیل ډیر زیات دی خو په لنډ ډول باید ووایو چه زمونږ یو مځکه ده چه په دغه مځکه کی زمونږ ۶ ورونو اول واري خپلی مساوی حصص درلودی او دغه مځکه مونږ پخپله رانیولی وه موروثه نه وه او مونږ چه اول وار خپل تقسیم وکړ نو زمونږ د ټولو ورونو په رضا او رغبت سره قبولي وکړی خو بیا هم حصص د جریب له لحاظ معلومي سوي خو د حدودو په لحاظ نسوی معلومي د دې وروسته د اصلاحات اراضی د قانون له وجې مونږ مجبوره سوو او تقریبًا ۸۷۰ جریبه مځکه مو د خپلې کورنی انسانانو ته هبه کړه هغو ته مو په حدودو تقسیم ورو وکړی او حقابی مو ور معلومي کړي او هغوئ قبض کړی بیا مونږ هجرت وکړ هغه نوره باقی مځکه بیرته زمونږ ورونو تر مابین مشترکه پاته سوه . اوس زمونږ بعض ورونه وایی چه هغه ۸۷۰ جریبه مځکه چه مونږ د کورنی و اعضاء ته ورکړی وه چه عبارت دی د زوجات او زامنو څه هغه خو مونږ د اصلاحات اراضی او مترقی مالیه د قانون د ضرورت په اساس هبه کړی وه اوس چه هغه قانون د مابین څه تللی بولو مونږ په هغه هبه راضی نه یو بله پوښتنه دا ده دغه ۲۳ قطعي باقی مځکه د بعضی ورونو په اجازه او د بعضی بې اجازې تقسیم کیدلای سی کنه؟ (المستفتی عبدالقادر)

د اول سوال جواب: څرنګه چه دغه ۶ ورونو ستاسو د لیکلی بیان مطابق ټولو پخپله رضا او رغبة دغه ۸۷۰ جریبه مځکه و خپلو زوجاتو او زامنو ته ورتقسیم کړی او ورهبه کړی نو د دوئ دغه هبه که د هر ضرورة په اساس وی بیرته رجوع پر دغه هبه نسی کولای او دغه مځکه د موهوب لهم ده.

من وهب لاصوله و فروعه او لاخیه اواخته ..... فلیس له الرجوع (المجلة المـ۸۶۶) لو وهب کل من الزوج و الزوجة صاحبه شیئا وسلمه حال کون الزوجیة قائمة بینهما لیس له الرجوع (المجلة المـ۸۶۷) هکذافی (الجوهرة النیرة شرح القدوری صـ۴۲۵ج۱) و(الفقه الاسلامی صـ۳۱ج ۵) ان الشیوع الذی من طرف الواهب فقط لیس مانعًا من تمام الهبة بالاتفاق فلو وهب شخصان

اموالهما المشتركة القابلة القسمة لشخص واحد فبما انه قد سلم المال جملة و قبض جملة جازت اذ لاشيوع في ذلک (دررالحكام شرح مجلة الاحكام صـ۲۴۴ج۲) هكذافى (الفقه الاسلامى صـ۱۵ج۵).

د دوهم سوال جواب: دغه شپږ ورونه چه په دغه مځکه شریکان دي که بعضو اراده د تقسیم درلوده او طلب د تقسیم یی کاوه او هغه نور ورونه په راضی نه وه او تقسیم یی نه کاوه نو قاضی به ئی مجبوره کوي و تقسیم ته که ځای د تقسیم قابل وو او که په دغه شپږوکی یو غائب وو او دغه مځکه دوی رانیولی وه میراثی نه وه نو بیا قاضی نسی کولای چه تقسیم وکړی تر څو چه ټوله حاضر سوی نه وي.

اذا طلب احد الشركاء القسمة وامتنع الاخر ..... انكان المال المشترک قابلا للقسمة يقسمه الحاكم جبرا والافلا يقسمه (المجلة المـ۱۱۳۰) الطلب فى قسمة القضا شرط فلا تصح القسمة جبرا من الحاكم الا بطلب احد الشركاء (المجلة المـ۱۱۲۹) اما اذا كان المال غير مشترک من جهة الارث بل كان مشتركا بسبب آخر كاشتراء المال المشترک فليس للقاضى تقسيمه ولو كان الغائب شريكا واحدا ..... مثلا لو اشترى خمسة اشخاص بالاشتراک عقارا وقبضوه ثم طلب بعد ذلک الشركاء الحضور فى غيبة احدهم من القاضى تقسيم العقار المذكور و تسليم حصة الغائب الى يد عدل فليس للقاضى اجراء التقسيم (دررالحكام صـ۱۲۶ج۲) هكذافى (سليم باز صـ۶۲۷) و (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۷۴ج۲)

والله ﷻ تعالى اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

که دموټرانو دنمایندګي نماینده ظلم کوي

رشوت اخلي دولت دغه نمایندګي په خپل لاس کي اخیستلای سي

سوال: د جناب محترم عالیقدر امیرالمومنین و لوړ حضور ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهٗ.

محترما: مونږ ټول موټروانان د قندهار ولایت او نورو ولایاتو ستاسو لوړ حضور ته داسی عرض وړاندي کوو زمونږ سره په هرات، غزنی، او کابل کی د موټرانو د نمایندګی له خوا ډیر ظلم (ستم) او بې عدالتي کیږي داسی چه د پیسو او رشوت په مقابل کی د موټروانانو حق پایماله کیږي یعنی هر هغه موټر ته چه پیسی او رشوت و نمایندګی ته ورکړی اول نمبر ورکول کیږي چه دی مابین کښی یو موټر شل شپې کوی او بل موټر یوه یا دوې شپې کوي او د هر موټروان څخه پنځه یا شپږ لکه افغانی د رشوت په توګه اخیستل کیږي نو ستاسو د لوړ حضور څخه هیله لرو چه د هرات، غزنی، او کابل لکه د قندهار نمایندګی چه د طلباء کرامو لاس ته ورغلي او صدفیصد عدالت پکښی روان دی زمونږ غوښتنه ستاسو د لوړ حضور څخه دا ده چه د ټولو ولایاتو پخوانی نمایندګی د طلباء کرامو لاس ته ورکړی چه مونږ د پخوانی نمایندګیو د ظلم زور بی عدالتی او ستم څخه خلاص شو خدای ﷻ دی تاسو ته د نیکو عوض درکړی؟

موضوع امیرالمؤمنین دامنیی قومندان او هغه ابتدائیه محکمی ته او هغو دارالافتاء ته حواله کړل

جواب: محترم مستفتی صاحب په دې هکله باید حکومت داسی یو تصمیم و نیسی چه په هغه کی د موټرانو نظم هم برابر سی او د نمایندګیو مالکانو ته هم ضرر ونه رسیږي ولی د حکومت أو امر به داسی وي چه د ټولو عوامو مصلحت پکښی کی وي نه به یوازی د موټروانانو نفع او مصلحت په نظر کي نیسی نه یوازی د نمایندګی والا نه به د حکومت او بیت المال دپاره استفاده په نظر کی نیسی . دا هم کیدلای سی چه طالبان خپله نمایندګی جوړی کړی او نوری نمایندګی هم پر خپل حال پریږدي بیا که په موټروانانو کی هر څوک د نورو نمایندګیو څخه په عذاب وه هغه به د طالبانو په نمایندګی کي شمولیت کوي او که په عذاب نه وه هغه به خپل پر حال پاته کیږي او دا هم کیدلای سی چه هغه زړې نمایندګی پر خپل حال پاته سی او طالبان په هغه نمایندګی کی خپل منشی مقرّر کړی او بیا هیئتو نه باندي مقررسی . یا یو بله داسی لار اختیار کړی چه د دواړه جانبه مصلحت وي هم د موټروان هم د نمایندګی والا یوازی به د یوه طرف نفع نه سنجوی او نه به دا کار حکومت د خپلی فائدي دپاره کوي او که هر څوک د یوه طرف ګټه په نظر کی وساتی یا حکومت خاص د خپلی استفادي په خاطر دا کار کوي نو دغه امر یی ناجائز او غیر شرعی دی مسئولیت د آخرت به د أمر کوونکی پر غاړه وي.

التصرف علی الرعية منوط بالمصلحة (المجلة المـ ۵۸) اتی بصيغة المصدر المحذوف فاعله ليفيد التعميم لكل من يلی امرا عاما يتعلق بالرعية فيشمل السلطان و من قلده السلطان بذاته او بالواسطة و يشمل ايضًا الاوصياء و متولی الاوقاف جميعهم تناط تصرفاتهم العائدة لمن هم تحت ولايتهم بالمصلحة ای بمافيه نفع يعود اليهم والافتصرفهم غير صحيح و لانافذ شرعا (شرح المجلة للاتاسی صـ۱۴۲ج۱) ای ان تصرف الراعی فی امور الرعية يجب انيكون مبنيا علی المصلحة و مالايكون كذلک لايكون صحيحا و الرعية هنا هی عموم الناس الذين هم تحت ولاية الولی (درر الحكام صـ۵۷ج۱)

والله تعالیٰ اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

که دموټروان اونماینده ترمابین مال ورک سي ذمه وار څوک دي؟

سوال: حضورته د محترم رئیس صاحب شورای مرکزی مقام عالی ریاست تمیز السلام علیکم.

د سږ کال د روژې په ۲۵ تاریخ مي درې گونی تانونه د انتقال په خاطر د لښکرگاه و نمایندگی ته یوور او ور تسلیم می کړه او په لښکرگاه کی می معین ځای ورسره و ټاکی چه انتقال ئی کړی صباته زه هغه معین ځای ته چه ورغلم گونی ئې راتسلیم کړی خولې ئې گنډلي وي چه د یوې گونی څخه شپږ تانه کښل سوي وو او نور تانونه خواره واره پکښی ځای پځای سوي وو چه د کښل سوو تانو ځای و نیسی نماینده وایي چه مامکمل مال و موټروان ته سپارلی او موټروان وایي چه دغه موجوده سربسته ما ته سپارل سوی او ما را رسولی دي مونږ نه نماینده په خپلو سترگو لیدلی چه اخستی وي او نه موټروان موضوع مو ستاسی عالی مقام ته عرض کړه څرنگه چه د شریعت محمدی حکم وي او په هر یوه باندی زما حق کیږي امر راکړی چه هغه زما د تاوان سوي مال حقوق ما ته وسپاری په درناوی؟

(المستفتی محمود)

جواب: دغه مستفتي که چیری د نمایندگی والا تصدیق کاوه چه تاواقعًا شیان پوره موټروان ته ورکړی دی خو موټروان پوره نه دی را ته تسلیم کړی نو موټروان ته به قسم اینبوول کیږي او که یی د نمایندگی والا تصدیق نه کاوه بلکه تکذیب یی کاوه نو بیا به نمایندگی والا ته قسم اینبوول کیږي که یی قسم واخستی نو ذمه یی فارغه ده او مستفتی مجبوره دی چه یا به د نمایندگی والا تصدیق کوي یا به یی تکذیب کوي او داسی مجهول به یی نه پریږدي څکه د دعوی د صحت د شروطو څخه یو دا دی چه مدعی علیه به متعین وي.

يشترط ان يكون المدعى عليه معلوما فاذا قال المدعى لى على واحد لاعلى التعين..... مقدار كذا لاتصح دعواه و يلزمه تعيين المدعى عليه (المجلة الـ١٦١٧) اذا امر صاحب الو ديعة المودع بالدفع الى رجل بعينه فقال دفعتها اليه و قال ذلك الرجل لم اقبضها منك و قال رب الو ديعة لم تدفع اليه ايها المودع فالقول قول المودع فى حق براء ته عن الضمان لافى حق ايجاب الضمان على المدفوع اليه كذافي الظهيرية (الفتاوى الهندية صـ٣٥٨ج ۴) و تجب اليمين على احدهما لاعليهما لانه لابد للمؤكل من تصديق احدهما و تكذيب الاخر فيحلف المكذب منهما دون المصدق (بدائع الصنائع صـ٣۴ج ۶) و كذلك لو اودع ماله رجلاً و امره ان يدفع الوديعة الى فلان فقال المودع دفعت و كذبه فلان فهو على التفصيل الذى ذكرنا (اى فى المؤكل) (بدائع الصنائع صـ٣۴ج ۶).

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

که په تقسيم کي ديوه ورور برخه کمه وي
دده له وفات وروسته دده زامن په اکاډپوره حق دعوى کولای سي کنه؟

سوال: و حضورته د علماء کرامو د دارالافتاء السلام عليکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

وبعد: عرض دا دي چه يو شخص وفات سی او د هغه ورثه تقسيم بالرضاء وکړی د مذکور ميت وارثان يا د وارثانو وارثان بيا حق د نوی تقسيم لري کيا؟مثلاً دوو ۲ ورونو د يو شباروز اوبه داسی تقسيم کړی دی يوه ورور په خپله رضا پردوه نيم ساعته اوبو قناعت کړيدی هغه باقی ئی بل ورور ته ورکړيدی اوس مذکور دوه نيم ساعته والا وفات سويدی د هغه زامن و خپل اکا ته وايي چه زمونږ د پلار حصه د اوبو کمه ده مونږ نوی تقسيم در څخه غواړو ؟ (المستفتی سيد علی شيخ)

جواب: هر کله چه تقسيم بالرضاء وسی او بيا يو طرف دعوی د غبن فاحش کوی نو دوه ۲ صورته لري يو ۱ دا دی چه دغه دعوی کونکی د دعوی څه تر مخه دا اقرار کړی وي چه ماته خپل حق پوره رسيدلی دی يا ئی جانب مقابل ته ابراء ورکړی وي يا ئی مالکانه تصرف

پکښې کړې وي سره د اطلاع پر غبن فاحش باندي پدي صورت کی دعوی د غبن فاحش نه صحیح کیږي او نه نوی تقسیم کیږي هغه پخوانی تقسیم معتبر دی . دوهم . دا دی چه دغه دعوی کونکی دغسی اقرار یا ابراء یا مالکانه تصرف نوی کړی بیا ئی دغه دعوی صحیح کیږي . نو دا چه تا په خپله استفتاء کی لیکلی دی چه دغه یوه ورور پخپله رضا دغه تقسیم کړی دی او هم ئی قناعت کړی دی او باقی ئی خپل ورور ته ورکړی دی نو د دي څه دا معلومیږي چه پخپله مورث هم حق د دعوی نه درلودی نو وارثان ئی په طریق اولی نه لري لکه څنګه چه د لفظ څه د قناعت کولو او ورور ته د باقی حصی ورکولو واضح معلومیږي.

اذا ظهر غبن فی القسمة فاحش انکانت القسمة بقضاء القاضی تبطل عند الکل و انکانت بالتراضی اختلفوا فیه اذالقسمة بالتراضی آکد منها بقضاء القاضی . . . . . قال شارحه فی منحه بعد ما نقل الخلاف و الصحیح المعتمد ما قدمناه عن الکافی و قاضیخان و به جزم اصحاب المتون و صححه اصحاب الشروح و به افتیت مراراً . . . . . وهذا کله اذا لم یقر بالاستیفاء او الابراء و اما اذا اقر بالاستیفاء اوالابراء او شهد شاهدان علی ذلک لم تصح دعواه کما ذکر فی نقد الفتاوی کما نقله الانقروری فی فتاواه من القسمة (فتاوی تنقیح حامدیة ص۱۷۵ج ۲) و تسمع دعوی الغبن الفاحش ان لم یقر المدعی باستیفاء حقه فان اقر باستیفاء حقه لاتسمع دعوی الغبن (الفقه الاسلامی ص۶۸۸ج ۵) هکذافی (الفتاوی الهندیة ص۲۲۶ج ۵) و (الدرالمختار وردالمحتار ص۱۸۷ج ۵).

یصح ان یکون احد الورثة خصما فی الدعوی التی تقام علی المیت اوله (المجلة المـ۱۶۴۲) ویفهم من ذکر الغبن بصورة مطلقة ان الغبن سواء کان فی القیمة . . . . . او کانت عین احد الطرفین اکثر من عین الاخر من جهة الزرع او الوزن او العدد و یکون ذلک فی المذروعات و الموزونات و المعدودات ای انه یشمل جمیع هؤلاء (دررالحکام ص۱۱۹ج ۳) ویفهم من هذه الایضاحات انه لایشترط فی دعوی الغبن الفاحش فی القسمة وجود التغریر کما فی البیع (دررالحکام ص۱۲۰ج ۳) اما اذا ادعی المقسوم لهم دعوی الغبن الفاحش بعد

اقرارهم باستيفاء الحق بعد القسمة او بعد الابراء او بعد الاطلاع على الغبن الفاحش و التصرف بالحصة بعد ذلک علی ماهو مذکور فی المادة ۳۵۹ تصرف الملاک لاتسمع الدعوی (ردالمحتار) ولاتنتقض القسمة ﴿درر الحکام صـ۱۲۱ج۳﴾ المشتری الذی حصل له تغریر اذا اطلع علی الغبن الفاحش ثم تصرف فی المبیع تصرف الملاک سقط حق فسخه ﴿المجلة الم۳۵۹﴾ یتضمن الصلح احد معان ستة هی مایأتی...... ۲ صلح بمعنی الهبة وهو ان یدعی الرجل عینا فی یدرجل ثم یصالح عنها علی بعضها فیکون الباقی هبة ﴿الفقه الاسلامی صـ۲۹۸ج۵﴾.

(**تنبیه**): دا هم کیدلای سی چه دغه یو ورور دی هغه باقی حصه د اوبو خپل ورور ته هبه کړي وي نو داچه واهب اوس وفات سی دی نو ورثه ئی حق درجوع نلري پر موهوب له باندي لکه څنګه چی د فقهاء کرامو د عباراتو څه واضح ده. والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

له کوموسیموچې دولت مالونه بند کړي وي اوخلګ ئې په قاچاق وړي که دغه خلګ یائې مالونه ونیول سي څه حکم لري؟

سوال: په کندهار کی مرکزی دارالافتاء ته اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

په غزنی او یا نورو ځایونو کي چه د هزارګانو علاقي ته غذائی او نور مواد بند دی اوس چه خلق ئی په قاچاق وړی او بیا د مسئولینو لخوا و نیول سی او بیا ئی غوښتنه کوي او یا ئی خاوند ورک سی تاسو فتوی راکړئ چه شرعًا څه و کړو مال استعمال کړو که یی رد کړو او که بل حکم لري دا باید ووایو چه قاچاقبر هم هزاره او هم پښتانه وی. ﴿امیرالمؤمنین﴾

جواب: هغه مالونه چه د قاچاقبرو څخه و نیول سی باید د دغه مالونو سره ډیر احتیاط وسی او باید ضائع نسی او خراب نسی او که یی مالکان معلوم وه خپلو مالکانو ته دي په محفوظه طریقه و سپارل سی او که یی مالکان نه وه معلوم نو جدّی کوشش باید وسی چه خپل مالکان یی پیدا سی او هغوئ ته و سپارل سی او که یی مالکان نه وي معلوم او سره د پوره کوششه او اعلانونو بیا هم پیدا نسی او د پیدا کولو څخه یی مسئولین مأیوسه سوی وي بیا نو جائز ده چه بیت المال ته و سپارل سی د دغسی مالونو اخستل د خپلو مالکانو څه تعزیر بالمال دی او تعزیر بالمال غیر جائز او حرام دی. دغه قاچاق برته دی پر ته له مال

اخستلو په يو بله طريقه تعزير ورکول سی هر قسم تعزير چه د امام خوښ وي ځکه چه مخالفت او عدم اطاعة د امير جرم او گناه ده فاعل يی مستحق د تعزير دی.

وليس للامام ان يخرج شيئا من يد أحد الابحق ثابت معروف (ردالمحتار صـ۲۸۱ج ۳) فاذا حازالشخص مالاً بطريق مشروع اصبح مختصًا به واختصاصه به يمكنه من الانتفاع به و التصرف فيه الا اذا وجد مانع شرعی يمنع من ذلک..... كما ان اختصاصه به يمنع الغير من الانتفاع به او التصرف فيه الا اذا وجد مسوغ شرعی يبيح له ذلک كولاية او وصاية او وكالة (الفقه الاسلامی صـ۵۷ج ۴) الغصب هو اخذ مال واحد و ضبطه بدون أذنه الخ و ما احسن ماعرفه به فی التنوير اذ قال هو ازالة يد محقة باثبات يد مبطلة فی مال متقوم محترم قابل للنقل بغير اذن مالكه لابخفية (شرح المجلة سليم باز صـ۴۸۵) (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۱۲۴ج ۵) الحال المساوی للغصب فی ازالة التصرف حكمه حكم الغصب (المجلة المـ۹۰۱) (ويجب ردعين المغصوب) لقوله ﷺ على اليد ما أخذت حتى تردّ ولقوله عليه السلام لايحل لاحدكم ان يأخذ مال اخيه لاعبا ولاجادا وان اخذه فليرده عليه زيلعی و ظاهره ان ردالعين هو الواجب الاصلی وهو الصحيح (ردالمحتار صـ۱۲۸ج ۵) لايجوز التعزير بأخذ المال فی الراجح عند الائمة لما فيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيأكلونه (الفقه الاسلامی صـ۲۰۱ج ۶) وافاد فی البزازية ان معنى التعزير بأخذ المال على القول به امساک شئ من ماله عنه مدة لينزجر ثم يعيده الحاكم اليه لاأن يأخذه الحاكم لنفسه او بيت المال كما يتوهمه الظلمة اذلايجوزلاحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعی..... والحاصل ان المذهب عدم التعزير بأخذ المال (ردالمحتار صـ۱۹۵ج ۳) وليس فيه شئ مقدر وانما هو مفوضٌ الى رأى الامام على ما تقتضی جنايتهم فان العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية (تبيين الحقائق صـ۲۰۸ج ۳) النوع الثالث الاموال التی تؤول ملكيتها للدولة من

الافراد اویکون للدولة علیها الولایة فالاولی مثل مایؤول الی بیت المال کالاموال الضائعة اوالتی لاوارث لها لان بیت المال وارث من لاوارث له ﴿الفقه الاسلامی صد۵۲۳ج۵﴾

(**نوټ**): دغه قاچاق بر که هزاره وي که پښتانه وي هغه یی حکم دی چه تیر سو ځکه چه دغه هزاره وو ته خو دغه مسئولینو اجازه ورکړیده چه را تیر سویدي او دا هل عدلو په مناطقو کی یی شیان رانیولی دي او بل دا چه دغه هزاره قاچاق بر په حالت کی د جنګ ندی نیول سوی نو عصمة د أموالو یی د مابین څه ندی تللی حتی که د جنګ په حال کی ونیول سی هم د دوی شخصی مال نه ځنی اخستل کیږي لکه چه وایی

وکذلک اهل العدل لایضمنون مااصابوا من دمائهم واموالهم بسبب اسلامهم هکذافی الذخیرة فاما ما اصابو اقبل ذلک فهم ضامنون لذلک کذافی النهایة ﴿الفتاوی الهندیة صد۲۸۴ج۲﴾. والله ﷻ تعالی اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

دکونډې ، رضاعت اوشاهدی په اړه څومهیمي پوښتنې اوجوابونه

سوال: محترما: څرنګه چه زمونږ په ولسوالی او منطقه کی یوه ډیره مغلقه موضوع پیښه شویده او ډیر شدید اختلافات د خلګو او قومونو په منځ کی پیښ سول نو وروسته یی د دغې موضوع اختیارات مونږ قومی مشرانو ته وسپارل نو د دې لپاره چه له یوه طرفه د خلګو حقوق ضایع نه سی او دبله طرفه زمونږ څخه الهی مسئولیت بر طرفه سی نو ستاسو د محترم حضور څخه هیله کووچه مونږ ته په یو څو مسائلو کی شرعی معلومات راکړئ تر څو مونږ د یوې موضوع د اسلامی اصولو سره مطابق حل او فصل کړو.

(**اول سوال**): که چیری یو شخص داسی ادعا وکړی چه پلانی کونډی ښځی په ما باندي ناره کړیده ، نو کله چه هغه کونډه ښځه د یو څو کسانو په حضور کی داسی ووایی چه زما دغه شخص نه میړه دی او نه یی میړه کوم او بل میړه په خپله خوښه انتخاب کړی نو په دې حصه کی د شریعت څه حکم دی ؟

(**دوهم سوال**): او که هغه شخص بیا دا ووایی چه دغه ښځه مخکی زما په نکاح وه نو دا دوهمه دعوه قابل د سماع ده او که نه ؟

(**درېیم سوال**): او که د دغې کونډې ښځې پلار او کاکا د رضاعت شاهدي ووايي چه د کونډې مور د دغه ادعا کوونکي سړي و ښځې ته تي ورکړي دي چه اوس ژوندي ده نو د دغو دوو شاهدانو دغه ښځه د سابقه خسر او د ادعاکوونکي له سرایه و خپل کور ته بوتلل نو پدغه پورته عمل دي له شاهدي وزي او که نه؟

(**څلورم سوال**): که له یوه طرفه څخه د رضاعت شاهدان وي او له مقابل طرفه څخه د نکاح شاهدان وي نو د مقدم توب حق د کومو شاهدانو دي او د رضاعت د دعوی حق د چادي حق الله دي او که حق العبد دي شرعي حکم څه دي؟

(**پنځم سوال**): که چیري لومړي ادعا کوونکي سړي په ډیرو مجالسو کې ووايي چه دغه کونډه ښځه په ما باندي خور او مور ده او د دغو الفاظو شاهدان هم وي او بیا څه موده وروسته د نکاح کولو ادعا وکړي نو هغه لومړي خبري د طلاق معنی ورکوي او که نه؟

نو که په پورتني پوښتنو کي تاسو مونږ ته شرعي معلومات راکړي نو دا به ستاسو د مهرباني عطف شفقت څخه لیري نه وي.

جواب د ټولو څه ترمخه باید په واضح ډول ووایو چه ښځه چه کونډه سي یا پیغله ښځه چه بالغه وي هغه د خپل اختیار ده هیڅ څوک نسي کولای چه د هغې بې له رضاء یې یا پخپله په نکاح کړي یا یې چا ته ورکړي او دا کار د هر چالپاره حرام قطعي دي که پلار وي که ورور وي که بل قریب وي د ښځي او هغه ښځه چه د هغې نکاح د دي بې له رضاء او اجازې وسي او دا بالغه وي نو نکاح یې باطله ده او په دي هکله د امیرالمؤمنین فرمان هم صادر سوی دی پر هر مسلمان لازمه ده چه د دغسې کار مخنیوی وکړي د خپل طاقت سره سم او د کونډې ښځې سکوت هم کافي ندی بلکه تصریح به کوي په خپله رضاء سره.

یاایها الذین امنوا لایحل لکم ان ترثوا النساء کرها (الایة سورة النساء آیة نمبر۱۹) ای تأخذوهن کما یؤخذ المیراث و تزوجوهن کارهات او مکرهات (تفسیر المظهری ص۲۹ ج۲) هکذافی (روح المعانی ص۲۴۱ ج۴) ان النبی ﷺ قال لاتنکح الایم حتی تستأمر و لاتنکح البکر حتی تستأذن الحدیث (بخاری شریف ص۷۷۱ ج۲) عن خنساء بنت خدام الانصاریة ان اباها زوجها و هی ثیب

فکرهت ذلک فاتت رسول الله ﷺ فرد نکاحها (بخاری شریف صـ۷۷۱ ج ۲) هکذا فی (مشکاة المصابیح صـ۲۷۰) اما انکانت المرءة ثیبافرضاها لایکون الابالقول الصریح (الفقه الاسلامی صـ۲۱۳ ج ۷) و (ردالمحتار صـ۳۲۶ ج ۲).

اوس به د سوالونو جوابونه په ترتیب سره ذکر کړو

د اول سوال جواب: نکاح عبارت ده د ایجاب او قبول څه په شرط د حضور د شاهدانو یوازې د ښځې په نعره کولو نکاح نه ثابتیږي او نه ښځه د سړي ګرځي البته که ښځه راغله او ویې ویل چه دغه سړی زما میړه دی او سړي وویل چه ته زما قبوله ئې او په دغه حالت کې دوه ۲ نارینه نور یا یو نر او ٌبل دوې ښځې موجودې وي او شرعي حرمت موجود نوو نو بیا دغه نکاح صحیح کیږي اوس چه نر دعوه کوي او ښځه انکار کوي نو نر به شاهدان تیر وي که شاهدان نوي نو ښځه به قسم اخلی که یې قسم واخستی بیا نو هر څوک چه دی انتخابوی هغه ته دی ورکول سی.

وینعقد بایجاب وقبول کلاهما بلفظ الماضی او احدهما . . . . . و شرط سماع کل من العاقدین لفظ الاخر وحضور حرین او حر و حرتین الخ (متن مجمع الانهر صـ۳۱۷ ج ۱) واما حکمها (ای الدعوی) فاستحقاق الجواب علی الخصم بنعم او لافان اقر ثبت المدعی به وان انکر یقول القاضی للمدعی الک بینة فان قال لایقول لک یمینه (الفتاوی الهندیة صـ۳ ج ۴).

د دوهم سوال جواب: د دغه سړي د دواړو دعوُو تر مابین فعلاً داسې تناقض ندی موجود چه مانع ذ سمع د دعوی سی ولی د تناقض شرط دا دی چه دواړې دعوی به په مجلس کې د قاضی سوې وي یا به یوازې دوهمه دعوی د قاضي په حضور کې وي او د اولې دعوی شاهدان به قاضی ته تیریږي هغه به یې قبلوی او که هر وقت دغه شرط هم موجود سو او د قاضي په حضور کې یې دعوی د پخواني نکاح وکړه او بیا شاهدان تیر سوه چه دده دعوی د نعره کولو د ښځې کړې ده نو دا واقعًا تناقض دی نو که دغه مدعی د خپلو دوو دعوو تر مابین موافقة په یو وجه د وجوه ممکنة رانه وستی دوهمه دعوی یې غیر مسموع ده او اوله

دعوی چه د ښځی د نعره کولو ده هغه مسموع ده پر هغه باندي به دی شاهدان تیر وي یا به ښځه قسم اخلی.

التناقض هو سبق كلام من المدعی مناقض لدعواه ای سبق كلام منه موجب لبطلان دعواه ﴿ المجلة المـ١٦١٥ ﴾ وهل يشترط كون الكلامين المتناقضين عند القاضی او الثانی فقط ويحتاج الی اثبات الاول عند القاضی ليدفع به دعوی المدعی فيه خلاف قال فی الدرالمختار عن البحر و ينبغی ترجيح الثانی لان به التناقض آه ﴿ سليم باز صـ٩٠٨ ﴾ كذلک اذا ثبت للقاضی بان المدعی قد تكلم كلاما فی غير مجلس القاضی منافيا للدعوی التی اقامها امامه فيكون ذلک تناقضا ايضًا ﴿ دررالحكام شرح مجلة الاحكام صـ١٧٦ج ۴ ﴾ ای لو امكن توفيق الكلامين الذين يريان متناقضين و وفقهما المدعی ايضًا يرتفع التناقض الخ ﴿ المجلة المـ١٦٥٧ ﴾ ای لو امكن توفيق الكلامين الذين يريان متناقضين ولم يوفقهما المدعی بالفعل فلا يرتفع التناقض استحسانا وعلی القول الاصح ﴿ دررالحكام صـ٢٨۴ج ۴ ﴾ اذا حصل تناقض بين دعويين فتكون الدعوی الثانية مردودة ولكن للمدعی ان يعقب دعواه الاولی لان الدعوی الثانية لم تستمع بسبب ظهور كذبها اما الدعوی الاولی فلم يظهر كذبها ﴿ دررالحكام صـ٢٧٠ج ۴ ﴾.

د دريم سوال جواب: هغه عداوة چه د هغه په سبب شهادة رديږي د هغه تعريف دا دی چه دغه خصم به د مدعی عليه يا مشهود عليه په خوشحالی خفه كيږي او په غم به يی خوشحاله كيږي او بعضی علماء وايی چه د دغه خصم څه به داسی افعال صادر سوی وي چه هغه سره د ده عدالة ساقط سی نو د غير عادل شاهدی نه قبليږي او دغه مشهود عليه به دغه عداوة پر دغه مذكوره طريقو باندي په شرعی ثبوتاتو ثابتوی يوازی په دعوی د عداوة د هغه شاهدی نه رديږي او دا چه ښځه خپل پلار يا اكا بيولی وي خپل كورته په داسی حالت چه كونده وي او په حالت كی د عدّی هم نوی نو په دي فعل سره نه عداوة ثابتيږي نه عدالت ساقطيږي ولی دا شرعًا يو جائز فعل دی.

والعدو من يفرح بحزنه لفرحه كما في البحر و الخصومة اذا جرت بين المدعي والمدعى عليه بغير حق فهى دنيوية (تنقيح الحامدية صـ۳۳۳ج۱ پاكستان) ونقل في القنية ان العداوة بسبب الدنيا تمنع مالم يفسق بسببها اويجلب منفعة اويدفع بها عن نفسه مضرة وهو الصحيح وعليه الاعتماد (تنقيح الحامدية صـ۳۳۴ج۱ پاكستان) والعداوة الدنيوية هي العداوة التي تنشأ عن اموركالمال والجاه وتعرف بالعرف فلذلك لاتقبل شهادة المجروح على الجارح وورثة المقتول على القاتل والمقذوف على القاذف والمشتوم على الشاتم الخ (دررالحكام شرح مجلة الحكام صـ۴۰۲ج۴) ذكر في البحر عن ابن وهبان لوادعى شخص عداوة آخر يكون بمجرد دعواه اعترافامنه بفسق نفسه ولا يكون ذلك قادحا في عدالة الشاهد انه عدو مالم يثبت المدعى انه عدوله ..... والظاهر ان كيفية اثبات كونه عدوّاله ان يثبت السبب الذى تثبت به العداوة بحكم العرف (شرح المجلة للاتاسى صـ۲۷۳ج۵) هكذافي (تنقيح الحامدية صـ۳۳۳ج۱) لو قال المشهود عليه انه يوجد بيني و بين هؤلاء الشهود عداوة دنيوية و لم يبين سببها فلا يطرء خلل على شهادتهم (دررالحكام صـ۴۰۳ج۴)

د خلورم سوال جواب: رضاع د حقوق الله د انواعو څه ده او دعوى يى مقدمه ده ترنكاح يعنى كه د رضاع شاهدان تير سوه نو د نكاح شاهدانو ته التفات نه كيږي.

ويجب الاداء بلا طلب لو الشهادة في حقوق الله تعالى وهو كثيرة عدّ منها في الاشباه اربعة عشر قال ومتى اخر شاهدا الحسبة شهادته بلا عذر فسق فتردّ كطلاق امرءة اى بائنا وعتق امة و تدبيرها و كذا عتق عبد و تدبيره شرح وهبانية وكذ الرضاع كما مرفى بابه (الدرالمختاربهامش ردالمحتار صـ۳۷۰ج۴ بيروت).

ولو شهد رجلان عدلان او رجل و امرء تان بعد النكاح عندها لايسعها المقام مع الزوج لان هذه شهادة لو قامت عند القاضي يثبت الرضاع فكذا اذا قامت عندها كذافي فتاوی قاضیخان (الفتاوی الهندية صـ۳۴۷ج۱).

د پنځم سوال جواب: دا خبره چه دغه کونډه ښځه په ما باندې خورا و مورده په دغه لفظ سره ظهار نه واقع کیږي ولی ظهار چه ملک یا سبب ته د ملک یی اضافة نوی سوی نو پر اجنبية نه واقع کیږي.

باب الظهار ـ تشبيه المسلم زوجته او جزء شائع منها بمحرّم عليه تأبيدا (متن الدرالمختار) قوله زوجته شمل الامة وخرجت مملوكته والاجنبية الا اذا اضافه الى سبب الملک کما سيأتي (ردالمختار صـ۵۷۴ج۲ بيروت)

والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دغصب په مالونوکي دغصب دورځې

قيمت معتبرده که دنن؟ که دغصب دورځې وي اوهغه مثلاً افغانۍ بې ارزښته وي نودهغه وخت دپیسوخارجی معادل نن هم کیدای سي کنه؟

سوال: محترما. بشما علماء متبحر وجید کشور عزیز ما بهتر معلوم است که درطی اضافه از پانزده سال جنگ های خانمان سوز که در وطن ما افغانستان جریان داشته وبوقوع پیوسته است ـــ دارائی ومواشی اهالی ومردم ما خصوصاً درسمت شمال کشور اکثراً بتاراج بُرده شده وچور وچپاول گردیده است که بصراحت گفته می توانم که بشکل دسته جمعی رمه ها وگله های بزوگوسفندان مردم به این طرز غصب شده است وحالا که نظام آلهی و شریعت غرای محمدي ﷺ از اثر فیض وبرکت تحریک اسلامی طلبای افغانستان درآن ساحات قایم وجاری گردیده است ـــ این دعاوی حقوقی به کثرت در ولایات مذکور اقامه شده ومردم خواهان اعادهٔ حقوق مسلم و شرعی خویش شده اند که این معضله ها ووقایع ـ مشکلات فراوان رابین شورای علماء ومحاکم ولایات سمت مذکور ایجاد نموده است بدین معنی که اکثر علماء بدین قول وفتوی شرعی می باشند که ضمان یوم الغصب مُعتبر است یعنی همان مال ومواشی غصب شده بدراهم ودنانیر سنجیده شده ـ فعلاً بشکل فلوس مروج امروزی

تبادله گردیده وبرای طرف مقابل قضیه داده شود واقل علماء می گویند که درست است ضمان یوم الغصب معتبر است - ولی مال ومواشی غصب شده - فقط به همان قیمت چندین سال گذشته - قیمت گذاری گردیده - صرف همان مبلغ وفلوس سال های گذشته برای شان داده شود نه اینکه به تبادلۂ فعلی دراهم سنجیده شود و ادای حقوق گردد - که این رقم تادیۂ پول وفلوس بجانب مقابل نظر به ارزش واهمیت کسادت ورخص آن در زمان حال هیچ چیزی نیست وحتی خساره ومصرف رفت وآمد دعاوی را در مجلس قضاء ومحکمۂ ذیصلاح نمی نماید - وهم این محکمه نظامی هرقدر جستجو کرد وکتب های معتبر فقهی را ملاحظه ومطالعه نموده - همین فتوی هذا را که ضم همین مکتوب می باشد - جمع آوری وپیدا کرده وخدمت علماء معتبر ومعززآن ولایات میخواهد که قرار دهد - لذا موضوع ومعضلۂ شرعی فوق بشما مقام عالی ومعتبر امارت اسلامی افغانستان احترامانه عرض گردید که هرآنچه فتوای شرعی وحکم دراين مورد بفرملند قابل تعمیل است وبرای آن ها ارسال می گردد که شرعًا یکسان اجراآت نمایند ؟

(معاون محکمه نظامی هرات الحاج مولوی جمال الدین افغانی)

وان فتوی اینست

چه میفرملند علماء دین مبین اسلام اندرین مسئله که بیع وشراء بفلوس رائجه واقع شود ویا معاملۂ دیگر بعد افلوس کسادت ویارخاصت پیدا کرد به همان فلوس کسادورخص میشود ویا بدراهم ودرنرخ ارزان ووقت حساب میشود بینوا توجروا

فتوی : درین مسئله اختلافات زیاد بوقوع پیوسته اما قول مفتی به اینست که بدراهم حساب میشود چنانچه درردالمحتار مرقوم است وفی البزازیة عن المنتقى غلت الفلوس اورخصت فعند الامام الاول والثانی اولا لیس علیه غیرها وقال الثانی ثانیا علیه قیمتها من الدراهم یوم البیع والقبض وعلیه الفتوی (ردالمحتار ج ۱ ص ۵۱۰) ونیز درخلاصة الفتاوی منقولست از منتقی ودربزازیة مرقومست (بزازیة برهندیة ج ۱ ص ۵۱۰) وفی المنتقی اذا غلت الفلوس قبل القبض اورخصت قال ابو یوسف رحمة الله تعالی علیه قولی وقول ابی حنیفة رحمة الله تعالی علیه فی ذلک سواء ولیس له غیرها

ثم رجع ابویوسف رحمة الله تعالی علیه وقال علیه قیمتها من الدراهم یوم وقع البیع ویوم وقع القبض وهوقول ابي یوسف الآخر وعلیه الفتوی هكذاقال فی المحیط والدین علی هذا ﴿ خلاصة الفتاوی ج ۲ صـ۵۴ ﴾ اورخصت كماوقع فی زماننا فی البشلك والزهراوی فمذهب ابی یوسف رحمة الله تعالی علیه المفتی به ان البیع بها یبقی صحیحا ویجب علی المشتری ان یدفع قیمتها من الذهب اوالفضة یوم وقع البیع والقرض ﴿ شرح المجلة ج ۲ صـ۱۶۳ ﴾ وفی البزازیة معزیاالی المنتقی غلت الفلوس اورخصت فعندالامام الاول والثانی اولالیس علیه غیرها وقال الثانی ثانیا علیه قیمتها من الدراهم یوم البیع والقبض وعلیه الفتوی ﴿ بحررائق ج ۶ صـ۲۰۲ ﴾ ولواستقرض الفلوس الرائجة اوالعدالی فكسدت قال ابوحنیفة یجب علیه مثلها كاسدة ولایغرم قیمتها وقال ابویوسف رحمة الله تعالی علیه قیمتها یوم القبض وقال محمد رحمة الله تعالی علیه یغرم قیمتها فی آخریوم كانت رائجة وعلیه الفتوی﴿ قاضی خان ج ۲ صـ۲۵۵ ﴾

جواب: دربارهٔ احکام رخص وکساد وغلاء فلوس فتوی های مفصلی از ریاست دارالافتاء مرکزی صادر شده است که درانها احکام مفصلی دریـن باب واختلاف های علماء وفقهاء عظام باحوالهٔ بکتب های معتبره درج شده است که بعضی ازانها مواد ذیلی است:

(اول) نوتهای بانکی اثمان عرفیه است.

(دوم) برایـن بانک نوتها احکام فلوس نافقه وفلوس غالبة الغش جاری میشود.

(سوم) درصورت بیع وقرض اگرکساد یارخص واقع شود ایـن فلوس بدراهم یادنانیریادیگر سکهای دیگر ممالک قیمت شود وقیمت روزبیع وروز قرض معتبر است.

(چهارم) ایـن حکم درصورت بیع وقرض است وبس درباقی صورتهای دیـن واستحقاق وغصب وودیعت وامثالها تاوقتی که جزئیها ومسائل شخصیه دیده ویافته نشود جرأت برفتوی نباید وبرای هیچ کسی نشاید احکام مفصله ایـن مواد ونیز سائر مواد درفتوی های دارالافتاء مرکزی موجود است اما درصورت غصب باید گفته شود که اموال مغصوبه اگراز قسم مثلیات بوده باشد ضرورت به قیمت کردن آنها نیست بلکه دفع امثال آن اموال متعیـن است واگراز قسم

قیمیات باشد یعنی که امثال آن در بازار یافته نمی شود پس قیمت کردن آن بدراہم و دنانیر یا دیگر سکہا که رخص وغلا در ان واقع شده نباشد اولی وانسب است زیراکه در قیمت کردن بافغانی اضرار است بمالک وفقهاء درینجا نفع مالک ملحوظ داشته است پس حکم بضرر بمالک چگونه صحت داشته باشد در (دررالحکام شرح مجلة الاحکام) آمده است.

یعنی انها تقوم بذهب ذا کان مغصوب یباع فی السوق بذهب و بفضة اذا کان یباع بفضة و اذا کان یباع بهما فبا لانفع للمالک و اذا تساویا فی النفع فالحاکم مخیر یحکم بماشاء (عبدالحلیم البزازیة -الخانیة البا جوری) (دررالحکام صـ۵۲۴ج ۲) والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

دمولود شریف په نامه محفل داسلام له نظره

سوال: د مولود شریف په نامه محفل جوړول څه حکم لري؟ او په دې محفل کې داسې بدعات لکه دا چه خلق په جبر او اکراه سره خیرات ورکوي او زړه یې نه غواړي لکن د شرم په وجه مجبوره وي او هغه څوک چه خیرات نه کوي هغو ته خلق په سپکه گوری او بعضی کسان التزام د دې عمل کوي . او کشرانو ته اجازه د راتلو ورکول کیږي چه خلق په بد نظر ورته گوری او یا نوره فحشاء کوي او د مساجدو بې احترامي کیږي او خلق نبی ﷺ ته نداء کوي او الغیاث یا رسول الله یا نور داسی خرافات پکښی ویل کیږي ؟ (فرضی استفتاء)

جواب: اول باید د مولود شریف د محفل جوړولو حکم بیان کړو قطع نظر د بدعتونو او محرماتو څه او هغه حکم په دې ډول دی د مولود شریف محفل جوړول که څه هم بدعت دی ځکه چه د صحابه کرامو (رضی الله تعالی عنهم اجمعین) په عصر کی نوو لکن ډیر داسی بدعتونه سته چه هغه حسنة دی او ټولو علماؤ د هغه پر حسن اتفاق کړی وي لکه مدرسی خانقاه گانی او داسی نور نو مولود شریف هم بدعة حسنة دی او دا ځکه چه ډیر زیات فوائد پکښی دي (۱) ذکر د حضرت مبارک ﷺ او د هغه سره د محبة اظهار (۲) د درود شریف ویل او همدارنگه صدقات او نور اذکار (۳) وعظ کول خلقوته او هغوی د ده مبارک معجزاتو او

ارشاداتو ته متوجه کول چه د ډیرو خلقو د محبّة یا زیادت محبّت سبب گرځی (۴) شیطان او همدا راز نور کفار پوره کوشش کوي چه د خلقو محبت د خپل اسلام او د خپل نبی کریمﷺ سره کم سی یا ورک سی نعوذبالله او په دی عمل سره د دوی کوششونه ناکام کیږي او همدا راز نوری ډیری فائدي دی پکښی ابولهب چه ډیر لوی کافر او لوی دښمن وو د اسلام حضرت عباس رضی الله تعالی عنه په خوب ولیدی او د حال پوښتنه یی ځنی نوَ ده وویل چه هره دوشنبی شپه عذاب را باندي سپک وي او د دوو گوتو د مابین څه اوبه زبیښم دا پدی وجه چه کله ثویبة مینځی ماته بشارت د نبیﷺ د ولادت را کړی نو ما د ډیری خوشحالی څه هغه مینځه ازاده کړه نو چه د کافر دا حالت وي مسلمان چه د ده مبارک په ولادت د خوشحالی اظهار وکی څه حال به یی وي خو دا ټول په هغه وقت کی چه بدعتونه او غیر اسلامی عملونه په دي محفل کی خلط نوی ځکه چه د دی شیانو په خلطولو سره نه یوازی د مولود شریف حسن د مابین څه ځی بلکه په هر سنت او فرض عمل چی گډ سی لکه جمعه جنازه اخترونه د هغوی حسن هم د مابین څه وړی.

قراءة المولد علی الوجه المشروع ممدوحة شرعا لاشتما لها علی تعظیمه واظهار علامات نبوته وفی شرح العلقمی علی الجامع الصغیر فی الحدیث ان عمل المولد الشریف النبوی الصواب انه من البدع الحسنة المندوبة اذا خلا عن المنکرات شرعا و قال علیّ القاری رحمة الله تعالی علیه و عمل المولد بقراءة القرآن و الانشاد للمدائح النبویة و اطعام الطعام و الصدقات امر حسن یثاب فاعله الثواب الجزیل بقصد الجمیل و انکان عمل المولد المذکور لم ینقل عن السلف الصالح فی القرون الثلاثة الفاضله و انما حدث بعدها فذلک بدعة حسنة عند من حقق العلم و اتقنه (الفتاوی الکاملیة صـ۲۶۳) هکذافی (امدادالفتاوی صـ۲۴۹ج۵) و (احسن الفتاوی صـ۳۴۷ج۱) و (امدادالمفتین صـ۱۷۳ و صـ۲۰۰) و (الحاوی للفتاوی صـ۱۸۹ج۱) و (فصل الخطاب بین الخطاء و الصواب لحضرت شاه محی الدین قادری دیلوری قدس سره صـ۶۷) شیخ ابن حجرهیتمی مکی رحمه الله تعالی دررسالة النعمة

الکبری علی العالم بمولد سید ولد آدم میفر ماید ۔اعلم انه ای ان عمل المولد بدعة ..... لکنها بدعة حسنة لما اشتملت علیه من الاحسان الکثیر للفقراء ومن قراءة القرآن و اکثار الذکر و الصلوة و السلام علی النبی ﷺ و اظهار السرور و الفرح به ﷺ و محبته و اغاظة اهل الزیغ و العناد من الزنادقة و الملحدین و الکفرة و المشرکین ..... ولو لم یکن فی ذلک الا ارغام الشیطان و سرور اهل الایمان لکفی و قال اذا کان اهل الصلیب اتخذوا لیلة مولد نبیهم عیدا اکبر فاهل الاسلام اولی واجدر..... و روئی ابولهب عمه ﷺ فی النوم فقیل ما حالک قال فی النار الا انه خفف عنی کل لیلة اثنین و امص من بین اصبعیّ هاتین ماء و ان ذلک عند اعتاقی لثویبة عندما بشرتنی بولادة النبی ﷺ قال ابن الجزری و اذا کان ابولهب الکافر الذی نزل القرآن بذمه الذی لاذم فوقه جوزی فی النار بفرحه لیلة مولدہ ﷺ فما حال المسلم الموحّد من امته یسر بمولده و یبذل مایقدر علیه فی محبته ﷺ لعمری انما یکون جزاء ه من الله الکریم ان یدخله بفضله العمیم فی جنات النعیم انتهت عبارة الهیتمی بلفظه (فصل الخطاب صـ۶۷).

او دغه قصه د ابولهب امام سیوطی صاحب هم نقل کړیده په رساله کی د حسن المقصد فی عمل المولد (الحاوی للفتاوی صـ۱۹۲ج۱) هکذا فی (روح المعانی صـ۲۱۳ج۳۰)

و ذکرک للمشتاق خیر شراب . وکل شراب دونه کسراب .

هغه بدعتونه چه په دی محفل کی خلط سوی دي

(اول): د ټولو څخه عظیم او ډیر خطرناک دا دی چه واعظان په دي محفل کی موضوعی احادیث روایات او د درواغو قصّی خلقو ته بیا نوی چه هغه اکثر د اسلام د ښمنانو لخوا جوړی سوي دي او د خلقو ده عقیدی او افکارو د خرابی باعث ګرځی اول باید واعظان ښه علماء وي او بل دا چه په وعظ کی دي د هغه کتابو څخه استفاده وسی چه په هغو کی ضعیفه

او موضوعی قصی او روایات نوی او په دی هکله پوره اهتمام وسی لکه چه په حدیث شریف کښی راغلی دي من کذب علیّ فلیتبوء مقعده من النار (بخاری شریف ص۲۱ ج۱) .

(**دوهم**) : زائد او بی ضرورته مصارف کول لکه د ډیرو قالینو او د اعلی درجه نالی او بالنبت اهتمام کول او کله کله په بعضی ځایونو کی د میزونو او چوکیو اهتمام سوی وي د داسی فعلونو څه باید اجتناب وسی ولی په ایة مبارکة کی راغی و (ولاتبذر تبذیرا) د نبی کریم ﷺ سره په محبت کی هغه څوک صادق دی چه د ده د اخلاقو اقوالو او اعمالو زیات متابعة کوی او ده مبارک په داسی شیانو سره اهتمام نه کاوه بلکه ساده او بی تکلف ژوند یی خوښ وو .

(**دریم**) : ډیر شاعران او نعت خوانان داسی شعرونه وایی چه که څه هم په ظاهره نعت وی خو په باطن کی د حضرت مبارک ﷺ په حق کی گستاخی او بی ادبی وي د مثال په ډول ډیر شعرونه داسی سته چه په هغو کی ده مبارک ته په خپل محضه نوم سره خطاب کوي او وایی (ای محمّده) بی له ذکره څه د درود شریف یوازی ئی منظور د خپل وزن شعری برابرول وي او دی ته فکر نکوی چه که په مونږ کی یو څوک چاته د غسی ساده خطاب وکی بی له ضمیمی څه د حاجی صاحب یا ملا صاحب وغیره نو دا بی ادبی بلل کیږي نو د حضرت مبارک ﷺ په حق کی په څنگه بی ادبی نوی تاسو فکر وکړی الله ﷻ په قرآن کریم کښی خطاب په خپل محضه نوم نه ورته کوی بلکه وایی یا ایها النبی۔ یا ایها الرسول۔او داسی نور (بی ادب محروم ماند از فضل رب) .

(**څلورم**) : د حضرت مبارک ﷺ په هکله داسی قصی کول چه مستلزم وي دی لره چه د بعضی عوامو د نورو انبیاء علیه الصلوة والسلام یاملائکة کرامو په هکله اعتقاد ضعیف سی یادهغوی دتوهین واسطه وگرځی نعوذبالله تعالی قال ﷺ لاتطرونی کما اطرت النصاری الحدیث وقال ﷺ لاتخیرونی علی موسی وقال ما ینبغی لعبد ان یقول انی خیر من یونس بن متی وقال لاتفضلوا بین انبیاء الله الحدیث ای تفضلا یؤدی الی تحقیر بعض (امدادالفتاوی ص۲۴۹ ج۵) .

(پنځم): دا عقیده ساتل چه حضرت مبارک ﷺ دی محفل ته تشریف راوړی دی چه دا خبره ثبوت نلري.

(شپږم): څوک چه په دي محفل کی شرکت نه کوی او عقیده یی سالمه وي هغه ته به بدنه وایی نه به یی ملامته وي آیة شریفة دی.

وماجعل علیکم فی الدین من حرج.

(اووم): ما خپله لیدلی دي چه په بعضی ځایو کی په دغسی محفلو کی تصویرونه او عکسونه اخستل کیږي چه دا قطعی حرام دی او په دغسی مجالسو کی شرکت حرام دی د عکسونو حرمت قطعی او ترلمر روښانه دی.

(اتم): اولا خو باید داسی مجالس او محافل په مسجد کی نه وی او که په مسجد کی وي هم باید د ډوډی انتظام خارج له مسجد څه په بل ځای کی وي د مسجد احترام په پوره ډول باید وسی.

(نهم): که ضرورت نوی نو د گویا څه باید استفاده ونسی او که ضرورت وي باید د داخلی گویا څه استفاده وسی چه ږغ یی د ضرورت په اندازه وي چه د نورو خلقو دَ أذیت باعث نسی او د خوبه ونه وزی او که د داخلی گویا سهولت نوی نو باید د شپی ترناوقته پوری پروګرام جوړ نوی چه خلق د خوب څه ووزی که نوی نونباید تر ثواب به عذاب ډیر شی.

(لسم): ډول وهل په دی محفل کی چه غیر له دی محفل څه په نورو محفلونو کی ډول وهل حرام دی نو په یو داسی مبارک محفل کی به څنګه جائز وي.

و اما الآلات فیحرم فی المشهور من المذاهب الاربعة الحنیفة و المالکیة و الشافعیة و الحنابلة استعمال الآلات التی تطرب کالعود و الطنبور والمعزفة و الطبل و المزمار و الرباب و غیرها من ضرب الاوتار و النایات و المزامیر کلها فمن ادام استماعها ردت شهادته ﴿الفقه الاسلامی صـ۵۷۴ج۳﴾ و من کسر معزفا او بربطا او طبلا او طنبورا او مزمارا او دفا سواء کانت لمسلم او کافر یضمن.. .... و قالا لایضمن ..... و الفتوی علی قولهما والاختلاف فی الطبل و الدف الذی

يضرب لللهو فا ماطبل الغزاة والدف الذی يباح ضربه فی العرس فيضمن بالا تلاف بلا خلاف (مجمع الضمانات صـ۱۳۲) هکذافی (الدرالمختار بهامش ردالمحتار صـ۱۳۴ج ۵ بیروت).

(**یوولسم**): اکثر د دغسی محافلو د جوړولو په وجه او بیا په دغه محفلونو کی د ډیری ستړیا یا ډیرو ویلو یا ډیرو او ریدلو په وجه بعضی عباداتو ته تغیر رسیږي لکه د جماعت لمونځ چه دی خبری ته زیاته توجّه پکارده بلکه پر واعظانو دالازمه ده چه د دغسی محفلونو څه په استفادی سره خلقو ته د فرائضو او واجباتو خصوصًا د جماعت د لمانځه په هکله ډیری زیاتی توصیبی وکړی او خلق ورته تشویق او متوجه کړي.

هغه جزئیاتو ت چه مستفتی لیکلی دي

(**اول**): یو څوک چه خیرات ورکوی بی له جبر او اکراه څه نو حتمًا ئی زړه هم غواړی البته په نیت کی تفاوت راتلای سی چه څوک به یی واقعًا د خیرات په نیت ورکوی او څوک به یی د خلقو د شرمه ورکوي هغه څوک چه یی د خلقو د شرمه ورکوی د هغه هم رضاء حاصله ده ولی د خیرات په ورکولو راضی سو د شرم په مقابل کی فلهذا ټوله خیرات ته هیڅ ضرر نه رسوی او بل دا چه زړه نه غوښتل د زړه کار دی بل چا ته نه په دی سره علم حاصلیږی او نه بل چا ته بدګمانی پکار ده او نه امور یقینیة په شک سره د مابین څه ځی فلهذا دا نه د خرافاتو څه دی او نه په دي سره ثواب او برکت د ماببنه ځی.

(**دوهم**): خلقو ته په سپکه کتل واقعًا لویه ګناه ده حدیث شریف کښی راغلی دي بعض د شر څه دا دی چه خپل مسلمان ورور ته یو څوک په سپکه وګوری (الترغیب والترهیب صـ۲۱۰ج۳) او همدارنګه نور ډیر احادیث په دي هکله وارد سوي دي خو د دي کار اصلاح په ترک سره د مولود شریف نه راځی ولی کم خلق چه په استهزاء عادت وی په نورو ځایو کی هم پر معمولی شیانو د خلقو استهزاء کوی بهتره طریقه داده چه په داغه مولود شریف کی خلقو ته په دی هکله وعظ وسی.

(**دریم**): که یو څوک دا قصد وکړی چه زه به همیشه دغه د خیر کار کوم دی ته التزام نه ویل کیږي (یعنی هغه التزام چه شرعًا ممنوع دی) شرعًا چه منع دی هغه التزام دی چه د سړی دغه

عقیده وی چه تارک د دغه فعل گنهکار دی نو په دی شپه خیرات لازمی بلل د التزام د اول قسم څه دی نه د دوهم قسم څه ځکه چه ډیر خلق مونږ وینو چه نه په خیرات کی گډون کوی او نه په دي محفل کی لکن هیڅ څوک د گنهکار نه ورته وایی.

التزام سے مراد مطلق التزام نہیں بلکہ وہ مراد ہے جس کی ترک کو عیب اور موجب ملامت ولعن طعن سمجھا جائے اور اس کا حد شرعی سے تجاوز ہونا ظاہر ہے اور اس تجاوز کا منہی عنہ ہونا (لاتعتدوا) میں منصوص ہیں ﴿امداد الفتاوی ص۳۳۰ج۵﴾.

(**خلورم**): دابیان تر مخه تیر سو.

(**پنځم**): که مراد د ناوړه عملو څخه صرف نظر وی کشرته نو واقعًا کتل کشرته پر طریقه د شهوت حرام دی لکن دا کار سبب د ترک د مولود شریف باید نسی ځکه چه کشران خو همیشه گرځی په بازارونو دکانونو مسجدونو او همدارنگه په نورو اجتماع گانو کی نو د مولود شریف ترک سبب د ترک د نظر نه گرځی دا یوازی د ناظر او کتونکی گناه ده په دي وجه سړی کشرانو ته هم دا امر نسی کولای چه خپل مخ پټ کی. لایؤمر الامرد بالنقاب ﴿ردالمحتار صـ۲۳۳ج۵ بیروت﴾.

او که مراد د ناوړو عملونو څه سوا له نظر څه نور حرام کارونه وي نو هغه په داسی گنو اجتماع گانو کی نسی منل کیدای بلکه هغه تقاضا د فراغ او خلوت کوی او بل دا چه سواله مولود شریف څه نوری اجتماع گانی هم جوړیږي نو ایا هغو ته به هم دا حکم متعدی کیږي.

(**شپږم**): تر مخه تیره سوه چه اولاً خو باید دا محفل په مسجد کی نه وی او که په مسجد کی وي نو باید د مسجد د احترام مراعات کامل وسی.

(**اووم**): الغیاث یا رسول الله ﷺ یا غوث الاعظم نداء ده انبیاء یا اولیاء علیهم الصلوة والسلام ته چه زمونږ د اهل سنت و الجماعت معتمد او مستند مشایخ او علماء کرام د هغه په جواز قائل دی مگر هغه څوک چه یائی په دي هکله تحقیق نوی کړي یا ئی د بدعت او وهابیت ظلمة زړه ته رسیدلی وي او نه دا د خرافاتو څه دی په دي هکله هر څوک باید د خپلو

عقایدو اصلاح وکړی چه په دي کی د یو څو معتمد او مستند مشایخو او علماء اقوال ذکر کوو د نمونې په طور.

صاحب حصن حصین شیخ القراء والمحدثین درآداب الدعاء از بخاری وبزار و حاکم نقل مینماید وان توسل الی الله تعالی بانبیائہ واز بخاری رحمہ اللہ نقل میکند والصالحین من عباده ای ان نتوسل الی الله تعالی بالصالحین من عباده..... امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ فرموده قبر موسی کاظم تریاق مجرب است مراجابت دعارا وحجۃ الاسلام امام محمد غزالی گفتہ ہر کہ استمداد کرده شود ازو در حیات استمداد کرده شود ازو بعد وفات (فصل الخطاب ص۔۱۳۹) شیخ السند در جلد ثالث اشعۃ اللمعات فی شرح المشکوۃ درباب حکم الاسراء میفرماید اما استمداد باہل قبور منکر شده اند آنرا بعض فقہاء اگر انکار از جہت آنست کہ سماع وعلم نیست ایشانرا بزائرین واحوال ایشان پس بطلان اوثابت شد واگر بسبب آنست کہ قدرت و تصرف نیست مرایشان را درآن موطن تا مدد کند بلکہ محبوس وممنوع اند..... چیست دلیل برنفی آن .... آنچہ مامی فہمیم ازآن این است کہ داعی محتاج فقیر الی اللہ دعا میکند خدا را..... یا نداء میکند این بندۂ مکرم ومقرب را کہ ای بندۂ خدا ای ولی وي شفاعت کن مرا وبخواه از خدا کہ بدہد مسئول ومطلوب مرا وقضا کند حاجت مرا پس معطیٔ ومسئول ومأمول پروردگار است تعالی وتقدس ونیست این بنده درمیان مگر وسیلہ و نیست قادر وفاعل ومتصرف در وجود مگر حق سبحانہ الخ (فصل الخطاب ص۔۱۴۱) مولانا دہلوی در انتباه درین نسبت اویسیت میفرماید اعلم ان الشیخ اباالحسن الخرقانی اخذ عن روحانیة ابی یزید البسطامی..... فالشیخ ابو علی الفارمدی اخذا ایضًا عن خواجه ابی الحسن الخرقانی عن الشیخ ابی یزید البسطامی من طریق الباطن لامن طریق الظاهر (فصل الخطاب ص۔ ۱۴۴) ازینجاست آنچہ امام ربانی در مکتوب پنجاه وہشتم جلد ثانی میفرماید ہمچنین ارباب حاجات ازاعزۂ احیاء واموات در مخاوف ومہالک ومسالک مدد طلب مینمایند ومی بینند کہ صور آن اعزه حاضر شده دفع بلیات ازینہا کرده است گاه است کہ آن اعزه را از دفع آن بلیہ اطلاع بود وگاه نبود..... وہمچنین مریدان از صور مثالی پیران استفاده ہا مینمایند وحل مشکلات میفرمایند الخ (فصل الخطاب ص۔۱۴۷)

وہم ازینجاست آنچہ سند العلماء (مولاناشاہ عبدالعزیز صاحب) در تفسیر عزیزی میفرماید کہ بعضی از خواص اولیاء راکہ آلۂ جارحۂ تکمیل وارشاد بنی نوع خودگردانیدہ اند بعد موت ہم تصرف در دنیا دادہ اند واویسیان تحصیل کمالات باطنی ازآنہا مینمایند وارباب حاجات حل مشکلات خود ازآنہا میطلبند ومییابند الخ (فصل الخطاب ص-۱۴۸) صاحب حصن حصین شیخ القراء و المحدثین ابی الخیر محمّد بن محمّد بن الجزری میفرماید (و من کانت له ضرورۃ فلیتو ضأ فیحسن و ضوءہ رواہ الترمذی والنسائی و ابن ماجه و حاکم و یصلی رکعتین رواہ النسائی ثم یدعو اللّٰھم انی اسئلک و اتوجه الیک بنبیک محمد نبی الرحمة یا محمد انی اتوجه بک الی ربی فی حاجتی ھذہ لتقضی لی اللّٰھم فشفعه فی رواہ الترمذی و النسائی و ابن ماجة و حاکم) (فصل الخطاب ص-۱۵۰).

ازینجاست کہ سند المقربین سید المحبوبین شیخ شیوخ العالم الغوث الاعظم امام ربانی سید عبدالقادر جیلانی میفرمایند (یا حبیب الاٰله خذ بیدی مالعجزی سواک مستندی) وہم ازینجاست کہ علامہ ..... بوصیری در قصیدہ بردہ مینگارد (یا اکرم الخلق مالی من الوذبه سواک عند حلول الحادث العمم) ر

ہم ازینجاست کہ مولانا عبدالرحمن جامی در یوسف وزلیخا میفرمایند:

ز مہجوری برآمد جان عالم ترحّم یا نبی اللہ ترحّم

(فصل الخطاب ص-۱۵۲).

حاصل انکہ ارواح اعزۂ احیاء واموات عالم الغیب نیستند تا بمجرد نداء بدون مبلغ مطلع باشند ودربارگاہ عزت برائی حل مشکل متوسل دعا نمایند ونیز ارواح این اجلہ قاضی الحاجات نیستند تا بمجرد تبلیغ قضاء حاجت محتاج سازند بلکہ تبلیغ مرادات وقضاء حاجات ہردو دردست عالم الغیب والشہادات قاضی الحاجات است والامر کلہ بیدہ پس خالق ہر شی وہر کار وقادر مختار در حل مشکلات وقضاء حاجات توانا است بآنکہ عند النداء بواسطۂ ملک یا بی واسطۂ ملک تبلیغ حاجت متوسل بارواح بزرگان نماید وبدعاء ایشان قضاء حاجت سازد یا بعد التبلیغ با حضار صورتی دفع بلیہ مینماید یا بدون التبلیغ باحضار صورتی قضاء حاجت فرماید یا مطلقاً قضأ حاجت نسازد الخ (فصل الخطاب ص-۱۵۴).

داوه نمونه د اقوالو د مشايخ او علماؤ او که چيری د دوی اقوال موږ ښه په تفصيل را جمع کړو نو يو لوی جلد کتاب به ځنی جوړ سی نو دا خبره د خرافاتو ګڼل ډيره لويه بی ادبی ده.

(**نوټ**): هغه کسان چه د مولود شريف محفلونه جوړوی که چيری هغه کسان ټوله راوغوښتل سی او دآية کريمة (ادع الی سبيل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة) پر بناء دغه مذکور مضامين سره د دلائلو ورته بيان سی او په ښه اطمينان سره قناعت ورکول سی نو د دي بدعاتو مخنيوی انشاءالله تعالی په آسانی سره کيدای سی خو د شدة او عنف او خبر داری ورکولو څه چه کاروا نه خسته سی نو دا به ښه وی او همدا راز دغه مذکور بعضی احکام که چيری د خلقو سره تعلق و لري چه د راديو اخبار او د نورو اطلاعاتی و سائلو په واسطه خلقو ته ابلاغ سی نو دا به بهتره وي. والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دتواتر شاهدي

سوال: د تواتر د شاهدی په هکله لطفًا معلومات را کړی؟

(فرضی استفتاء)

جواب: د تواتر لپاره دومره تعداد شاهدان د اوله تر آخره ضروری دی چه د دغه ټولو شاهدانو اتفاق پر کذب باندي محال وي خاص معين تعداد په مذهب کی نسته شاهدان که پر اثبات وي که پر نفی خو دا شاهدان به بناء وي پر حس باندي نه پر استدلال عقلی باندي.

ليس فی التواتر عدد معين للمخبرين و لکن يلزم ان يکونو اجماغفيرا لايجوز العقل اتفاقهم علی الکذب (المجلة المـ۱۷۳۵) ليس فی التواتر عدد معين للمخبرين علی القول المختار يعنی انه لم يعين ولم يحدد بانه اذا کان عدد المخبرين کذا او ازيد من کذا تکون البينة بينة تواتر و اذا کانت انقص من ذلک کانت بينة عادية (دررالحکام صـ۴۷۴ج ۴) ويلزم دوام الکثرة فی الشهود فيجب انيکون آخره کأوله و أوله کآخره واوسطه کطرفيه..... الشرط الثانی انيکون المخبربه مبنيا علی الحس سواء حس السمع اوالبصر (دررالحکام صـ۴۷۴ج ۴) انما شرعت البينة لاظهار الحق بناء عليه لاتقبل

الشهادة بالنفی الصرف..... ولكن بينة النفی المتواتر مقبولة ﴿المجلة الم۱۶۹۹﴾.
والله ﷻ تعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دتواتر یاتسامع شاهدي اوفقهي اعتبار

سوال: ایا شاهدی د تواتر او شاهدی د تسامع په فقه شریفه کی اعتبار لري او کنه؟

جواب: په بعضی مسائلو کی شاهدان د تواتر او تسامع شاهدی اداء کولای سی او هغه شاهدی قاضی قبلولای هم سی چه هغه مسائلي عبارة دی د (نسب) (موت) (نکاح) (د خول پر زوجة باندي) (ثبوت د ولاية دقاضی) (أصل وقف) څه او ماسوا له دغه مسائلو څه په نورو مسائلو کی شهادة بالتسامع نه صحیح کیږي او دغه تواتر دوه ۲ قسمه دی یو حقیقی دی بل حکمی دی حقیقی دی ته ویل کیږي چه دومره کسان نقل او اخبار وکړی چه د ټولو اتفاق پر دروا غو محال وي او حکمی دي ته ویل کیږي چه دغه شاهد ته نورو دوو ۲ عادلانو یا یو نر او دوي ښځی خبر ورکړی وي چه دغه دوهم قسم تواتر هم جائز دی بناء پر مفتی به قول او دغسی خاصه اندازه او تعداد د تواتر حقیقی لپاره زمونږ په مذهب کی نسته. ولایشهد بمالم یعاین الافی النسب والموت والنکاح والدخول وولایة القاضی و اصل الوقف فله ان یشهد بها اذا اخبره بها من یوثق به استحسانا ﴿تنقيح الفتاوی الحامدية صـ۳۲۰ج۱﴾ وهی اما بالشهرة الحقيقية وهی ان يسمع من قوم لايتوهم اتفاقهم علی الكذب..... واما بالشهرة الحكمية بان يشهد عنده عدلان ممن يثق بهما يقع فی قلبه صدقهما فيسعه ان يشهد وهذا عند الامامين ..... وذكر فی فصول العمادی ان الفتوی علی قولهما وماذكريدل علی اشتراط العدلين وبه صرح فی الخلاصة لكن فی الهداية والدرروالزيلعی و الحدادی وكثير من الكتب تجوزشهادة رجل وامرءتين فی ذلک ﴿تنقيح الحامدية صـ۳۱۹ج۱﴾ واما ماتصح فيه الشهادة بالتسامع فهی النكاح والنسب .... امافيما عدا المذكورفلا يجوزللشاهد ان يشهد بشئ لم يعاينه

(الفقه الاسلامی صـ۵۵۹ج ۶) شاهدان شهدا علی رجل بقول او بفعل ..... فاقام المشهود علیه بینة انه لم یکن فی ذلک الموضع اولافی ذلک الیوم فی الموضع الذی وصفاه لم تقبل منه البینة علی ذلک کذافی المحیط ..... وکذلک کل بینة قامت علی ان فلانالم یقل لم یفعل لم یقر کذافی المحیط (الفتاوی الهندیة صـ۵۱۲ج ۳) یشترط فی التواتر ثلاثة شروط ..... الشرط الثالث انیکون المخبر به مبنیا علی الحس سواء حس السمع او البصر کشف الاسرار (دررالحکام صـ۴۷۴ج ۴).

واللهﷻتعالی اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

دمنکراتو دپیداکولو لپاره تلاشي کول

سوال: تلاشي کول د منکراتو د پیداکولو لپاره څه حکم لري او د امربالمعروف عاملین په دي هکله څه مسئولیت لری؟ (فرضی استفتاء)

جواب: په یو کور یا دکان یا موټر یا نورو شخصی ځایونو کی که یقینی معلومات مسئولینو ته د امربالمعروف نه وه حاصل پر وجود دمنکراتو نو تلاشی کول ئی حرام دی او گناه کبیره ده او که چیری یقینی او قطعی اوواقعی معلومات وه پر وجود د منکراتو په یو خاص ځای کی نو بیا یوازی د هغه خاص ځای د تلاشي اجازه سته نو داچه بعضی کسان عام کورونه یا دکانونه یا موټران تلاشي کوي لپاره د پیداکولو د منکراتو داحرام قطعی او گناه کبیره ده او همدا رنگه تعقیبول د بعضی کسانو لپاره د دي چه په وقت کی د فعل د منکر دستگیره سی حرام دی او همدا رنگه یو سړی چه پخوایی منکر کار کړی وي یا بعضی کسان اخبار وکی یعنی د ده راپور راوړی او مسئولین یی خپله ونه وینی نو هم و دغه سړی ته أذی او ضرر رسول یا بندی کول یا وهل په صورت قطعی حرام دی. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر طریقه داده چه مسئولین په بازار کی گرځی مثلاً او پر یو منکر پیښ سی او مشاهده یی وکی نو ازاله یی اول په ښه وعظ وکړی که هغه فائده ونکړی نو په یو لږ تیزو الفاظو که هغه فائده نه وکی نو په زجر او بیا تهدید او بیا تعزیر دی تجسس او د خلقو شخصی یا کورنی

معلوماتونه کول او خلق شرمول په بازار کی یا د خلقو تحقیرول او یا په اول واری وهل او په بازار کی کشول او بندی کول په خپله منکر او حرام او کبائری گناوي دي جداً باید اجتناب ځنی وسی که نوی نو د دي آية مبارک مصداق به گرځی (لم تقولون مالاتفعلون كبر مقتا عندالله ان تقولو ما لاتفعلون) (ولاتجسسوا) آية ۱۱ سورة حجرات.

ولاتبحثوا عن عورات المسلمين و معايبهم و تستكشفو اعما ستروه..
... اخرج ابوداود و ابن المنذر وابن مردويه عن ابی برزة الاسلمی قال خطبنا رسول الله ﷺ فقال يا معشر من آمن بلسانه و لم يدخل الايمان قلبه لاتتبعوا عورات المسلمين فان من تتبع عورات المسلمين فضحه الله تعالى فی قعر بيته...... و اخرج ابوداود و جماعة عن زيد بن وهب قلنا لابن مسعود هل لک في الوليد بن عقبة بن معيط تقطر لحيته خمرًا فقال ابن مسعود قد نهينا عن التجسس فان ظهر لنا شئ اخذنا به (روح المعانی صـ۱۵۷ج ۲۶).

و عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ اياكم و الظن فان الظن اكذب الحديث و لاتحسسوا و لاتجسسو الحديث..... و عن ابن عمر قال صعد رسول الله ﷺ المنبر فنادى بصوت رفيع فقال يا معشر من اسلم بلسانه و لم يفض الايمان الى قلبه لاتؤذوا المسلمين و لاتعيّر وهم ولاتتبعوا عوراتهم فانه من يتبع عورة اخيه المسلم يتبع الله عورته و من يتبع الله عورته يفضحه و لو فی جوف رحله رواه الترمذی۔ (مشكوة المصابيح صـ۴۲۷) بحسب امرإمن الشران يحقر اخاه المسلم كلالمسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه (صحيح مسلم شريف صـ۳۱۷ ج ۲) و ليس للآمر بالمعروف البحث و التنقير و التجسس و اقتحام الدور بالظنون بل ان عثر على منكر غيره جهده هذا كلام امام الحرمين و قال اقضى القضاة الماوردی ليس للمحتسب ان يبحث عمالم يظهر من المحرمات فان غلب على الظن استسراء قوم بها لامارة و اثار ظهرت فذلک ضربان احدهما انيكون ذلک فی انتهاک حرمة يفوت استدراكها مثل ان يخبره من يثق بصدقه ان رجلا خلا برجل ليقتله او بامرءة ليزنی بها فيجوزله فی مثل هذالحال ان يتجسس و يقدم على الكشف..... الضرب الثانی ما قصر عن هذه الرتبة فلا يجوز التجسس

عليه ولاكشف الاستارعنه ﴿شرح النووی علی صحیح المسلم صـ۵۲ج۱﴾ وروی عن ابی سعید الخدری ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لایری مؤمن من اخیه عورة فیسترها علیه الا ادخله الله بها الجنة ﴿الترغیب والترهیب صـ۲۳۸ج۳﴾ وعن معاویة ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ یقول انک ان اتبعت عورات المسلمین افسدتهم او کدت تفسدهم ﴿الترغیب والترهیب صـ۲۴۰ج۳﴾ ومعنی الآیة خذوا ما ظهر ولاتتبعوا عورات المسلمین ای لایبحث احدکم عن عیب اخیه حتی یطلع علیه بعد ان ستره الله ..... عن ابی امامة عن النبی ﷺ ان الامیر اذا ابتغی الریبة فی الناس افسدهم ﴿احکام القران للتهانوی صـ۲۸۵ج۴﴾ والاحادیث فی هذالموضوع لا تعدولاتحصی الشرط الثالث (الامر بالمعروف) اینکون المنکر ظاهر اللمحتسب بغیر تجسس فکل من ستر معصیته فی داره واغلق بابه لایجوزان یتجسس علیه وقد نهی الله تعالی ﷻ عنه ..... فلا یجوز الدخول علیه بغیر اذنه لتعرف المعصیة الاان یظهر فی الدارظهورایعرفه من هو خارج الدار کاصوات المزامیر والاوتاراذا ارتفعت بحیث جاوزذلک حیطان الدار﴿احیاء العلوم صـ۳۲۵ج۲﴾ فلاینبغی ان یسترق السمع علی دارغیره لیسمع صوت الاوتارولاان یستنشق لیدرک رائحة الخمر ولاان یمس مافی ثوبه لیعرف شکل المزمارولاان یستخبر من جیرانه لیخبروه بما یجری فی داره نعم لواخبره عدلان ابتداء من غیر استخبار..... فله اذ داک ان یدخل داره ولایلزم الاستئذان ﴿احیاء العلوم صـ۳۲۹ج۲﴾ الشرط الثانی انیکون موجودا فی الحال وهو احترازایضًا عن الحسبة علی من فرغ من شرب الخمر ﴿احیاء العلوم صـ۳۲۴ج۲﴾ والله تعالی ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

دهدیرې دمځکې حکم

سوال: هغه مځکه چه د هدیرې او مقبرې لپاره وقف سوې وي ایا د هغه مځکې څخه څوک منع کولای سی چه مړی به نه پکښې ښخوي او کی یې نسی کولای؟ ﴿فرضی استفتاء﴾

جواب: هغه مقبره چه وقف سوی وي لپاره د عام مسلمانانو هیڅ څوک نسی کولای چی د هغه مقبری څه د چاړی منع کی ځکه چه په هغه کی حق د عامو مسلمانانو ثابت دی او که داسی مقبره وه چه هغه د خاص قوم یا یوی خاصی کورنی یا یو خاصی محلی لپاره وقف وه نو په هغه کی یوازی د هغه قوم یا کورنی یا محلی حق دی بل څوک نسی کولای چه بی اجازی هلته خپل مړی ښخ کی بلکه خپله واقف لره دا حق نسته چه مقبره یی عامه وقف کړی وي او بیا څوک منع کوي.

فان شرائط الواقف معتبرة اذا لم تخالف الشرع و هو مالک فله ان یجعل ماله حیث شاء مالم یکن معصیة وله ان یخص صنفا من الفقراء و لو کان الوضع فی کلهم قربة (ردالمحتار صـ۳۹۵ج ۳)

ابتداءً وقف میں جب زمیں کو عام مسلمیں کی دفن اموات کی لئے وقف کردیا گیا تو اب اس کی کسی حصہ کو واقف اپنی خاندان یا اور مخصوص لوگوں کی لئی معیں نہیں کرسکتا کیونکہ اب تمام زمیں کی ساتھ حق عامہ متعلق ہوگیا اور سلب حق کا خود واقف کو بھی بعد تمامی وقف کی اختیار نہیں رہتا . وفی فتاوی الشیخ قاسم و ماکان من شرط معتبر فی الوقف فلیس للواقف تغییره و لاتخصیصه بعد تقریره و ولا سیما بعد الحکم آه فقد ثبت ان الرجوع عن الشروط لایصح الا التولیة مالم یشرط ذلک لنفسه (ردالمحتار) (کفایت المفتی صـ۱۲۹ج ۷).

قبرستان وقف میں کسی کو دفن کرنی سے روکنا درست نہیں ہے (عزیزالفتاوی ص۳۴۳).

والله تعالی ﷻ اعلم .

بسم الله الرحمن الرحیم

دټکس اماکن شرعي حکم

سوال: ټکس اما کن اخستل جواز لري او کنه ؟
(فرضی استفتاء)

جواب: ټکس اما کن هغه چه مستفتی ئی په دي شکل بیان کړیدي د اشخاصو د کرائی ملکیتونو د یوي میاشتی کرایه دا ټکس حرام دی په قطعی ډول او حرمت یی ډیر غلیظه دي او داسی قانونونه چه پر دغسی حرامو شیانو مشتمل وي د هغو لغو کول ضروری دي او عملی کول یی حرام دی همدارنګه نور داسی ټکسونه چه په شریعت کی اصل نلري بلکه د

قانون پر بناء اخستل کیږي د داسی ټکسونو اخستل حرام دي او داسی قوانیـن عملی کول حرام دي بیت المال باید د غیر شرعی او حرامو عوائدو څه وسائل سی پر حکومت لازم دی چه بیت المال به د حرامو څه صفا کوي او پر شرعی طریقه به ئی عوائد او مصارف کنترول کوي.

ولاتـأكلوا امـوالكم بينـكم بـالباطـل و تـدلوا بهـا الى الحكـام لتـاكلوا فريقـا مـن امـوال النـاس بـالاثم و انـتم تعلمـون ﴿ سـورة البقـرة آيـة نمـ١٨٨ ﴾ قولـه بـالباطل اى بوجه ممنـوع شرعا كـالغصب و السـرقة و الخيانـة و القمـارو الربـوا و العقود الفاسدة ﴿ تفسـير مظهرى صـ٨٧ج ٢ ﴾ وفى ايـراد هـذه الايـة . . . . . اشارة الى ان الظلم على اموال العبـاد و انفسـهم مـن اعظـم الكبـائر ﴿ تفسـير مظهـرى صـ٩١ج ٣ ﴾ قال رسول الله ﷺ من اقـتطع مال امرئ مسـلم بغيـر حـق لقـى الله عزوجل وهـو عليـه غضبان رواه احـمد . . . . . وقال ﷺ لايحـل لامـرئ ان يأخـذ مـال اخيه بغيـر حقـه و ذلک لـما حـرم الله مال المسـلم على المسـلم رواه احـمد ﴿ احـسن الفتـاوى صـ٥١٣ج ٥ ﴾ لـيس لـلامـام ان يخـرج شـيئا مـن يـد احـد الابحـق ثابـت معـروف ﴿ ردالمحتـار صــ٢٥٧ج ٣ بيـروت ﴾ هـكـذافى ﴿ كـتـاب الخـراج صــ٦٥ ﴾ و ﴿ مـتن غمزعيـون البـصائر صـ٣٧٣ج ١ ﴾ لـيس لاحـد ان يأخـذ مـال غيـره بـلاسـبب شـرعى ﴿ المجلة الـمـ٩٧ ﴾ هـكذافى ﴿ الفقه الاسلامى صـ٥٧ج ٤ ﴾

(سوال): انکم ٹیکس ویلتھ ٹیکس گفٹ ٹیکس سیل ٹیکس چولہا ٹیکس..... محصول چونگے اور اسی طرح کی دیگر ٹیکسون کی شرعی حیثیت کیا ہے نیز ان محکمون میں ملازمت کرنا کیسا ہے ؟

(الجواب باسم ملہم الصواب): یہ سب ٹیکس ناجائز ہے اور ان محکموں میں ملازمت بھی ناجائز ہے ﴿ احسن الفتاوی ص۹۹ج۸ ﴾ وجمع المال بلاحق شرعی سحت ویکون جامعہ متصفا بصفات الیهود الذين قال الله فيهم سماعون للكذب اكالون للسحت اى يجمعون المال الحرام ﴿ التعليق على الترغيب والترهيب ص۵۷۱ج۱ ﴾

والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

که پلار زامنو ته تقسیم ورکړي لونو اوخویندو ته حق ورنکړي هغوئ حق لري کنه؟

سوال: که پلار و زامنو ته خپل مال ورهبه کې او ورتقسیم یې کړی او لونو ته څه ورنه کړی ایا خوندی بیا د دغه ورونو سره حق لري او کیا ؟ (فرضی استفتاء)

جواب: په دي مورد کی مونږ تر مخه هم تفصیل کړی وو خو هغه بعضي جزئیات چه تر مخه ندي واضح سوی د هغو په هکله باید ووایو. (اول): دغه جایداد او سرمایه کچیری پلار تاسو ته هبه کړی وي او خوندو ته یې نوی هبه کړی نو بیا خوندی پدغه مال کښی حق نلري او نه ستاسو پخوانی یا اوسنی تقسیم تر موافقی پوری د خوندو اړه لري او نه د خوندو رضائیت پکښی شرط دی. (دوهم): هغه مال چه د پلار څه په میراث پاته سوي وي یا ئی ستاسو خوندو ته هبه کړی وي یا ئی ستاسو سره په هبه کی خوندي شریکی کړي وي په هغه مالو کی د خندو حقوق ثابت دی او د دوی بی موافقی او رضاء تقسیم سرته نه رسیږي. (دریم): پلار کچیری ټول مال وزامنو ته ورکړی او لونی محرومی کړي بغیر له شدیده ضرورته نو دا لویه گناه ده او پلار ته ډیر زیات مسئولیت راجع کیږي او زامن کچیری د خپلو خوندو سره صلۀ رحمی نه کوي یا خوندي محتاجی وي او ورونه اغنیاء وي او دا ورونه هیڅ امداد نه ورسره کوي نو بیا دغه زامنو ته هم جدّی مسئولیت راجع کیږي.

یشترط فی قسمة التراضی رضی کل واحد من المتقاسمین فاذا غاب احدهم لاتصح قسمة الرضی (المجلة المـ۱۱۲۸) فیبدء بذوی الفروض ای السهام المقدرة وهم اثنا عشر من النسب ثلاثة من الرجل وسبعة من النساء (الدرالمختار) قوله وسبعة من النساء هن البنت و بنت الابن الخ (ردالمحتار صـ۵۳۸ ج ۵) و اذا اعطی بعض ولده شیئا لم یجز حتی یعدل بینهم و یعطی الاخرین مثله ولایشهد علیه و قال النبی ﷺ اعدلوا بین اولادکم فی العطیة ..... عن النعمان ابن بشیر ان أباه اتی به الی رسول الله ﷺ فقال انی نحلت ابنی هذا غلاما فقال اکلُ ولدک نحلت مثله قال لاقال فارجعه (بخاری شریف صـ۳۵۲ ج ۱) ان النبی ﷺ قال ان الملائکة لاتنزل علی قوم فیهم قاطع رحم

(ترغیب و ترهیب صـ۳۴۵ج۳) قالت سمعت رسول الله ﷺ یقول من انفق علی بنتین او اختین او ذواتی قرابة یحتسب النفقة علیهما حتی یغنیهما من فضل الله او یکفیهما کانتا له سترا من النار رواه احمد والطبرانی (ترغیب و ترهیب صـ۳۵۱ج۳) والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحیم

د دوهم جماعت حکم

سوال: ایا دوهم جماعت کول په مسجد کی صحت لري او کیا ؟

(فرضی استفتاء)

جواب: د دوهم جماعت په باره کی علماء داسی وایی ، چه هغه محلی مسجد چه امام او مؤذن و لري هلته دوهم جامع مطلقًا یعنی که أذان او أقامت وي او که نه وي که تغیر د هیئت سابقه وي که نوي مکروه دي.

تکرار جماعت در مسجد محله که امام ومؤذن اش معین باشند اگرچه بلا أذان واقامت وتغیر ہیئت باشد مکروه است کمافی الشامی الخ (عزیز الفتاوی ص۱۹۰) وہکذافی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۳۵ج۳)

او په (فتاوی دارالعلوم دیوبند صـ۳۹ج۳) که ئی په دیرو د لائلو کراهت ثابت کړیدي. حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب د امت برکاتهم په خپله رساله (الوصیة الاخوانیة فی حکم الجماعة الثانیة) کی لاندي توضیحات کړیدي. (اول): جماعة ثانیة ۷ صورته لري .(۱) دلاري مسجد یعنی چه معین مقتدی یا امام نلري (۲) هغه مسجد چه خپل امام او مؤذن نلري (۳) هغه د محلی مسجد چه بیگانه خلقو تر مخه جماعت کړي وي پکښی (۴) هغه مسجد چه د محلی خلقو بی أذانه یا بی اعلامه د أذان جماعت کړي وي (۵) هغه مسجد چه د محلی خلقو جماعت سره دا علانه د أذان کړي وي او جماعت ثانیه سره د آذانه ادا کړي شی (۶) چه جماعت ثانیه بی د أذانه ادا کړه شی امّا پر هیئت د اول جماعت وي (۷) چه جماعت ثانیه بی له أذانه اداء کړه شی سره د تغیره په هیئت کی د اول جماعت . په اول څلورو صورتو کی دوهم جماعت جائز څه چه افضل دی اتفاقًا او په پنځم او شپږم صورت کی مکروه تحریمی دی اتفاقًا او په اوو م صورت کی اختلاف دی امام صاحب رحمة الله تعالی علیه ئی

مکروه بولي او امام ابو یوسف رحمة الله تعالی علیه صاحب ئی جائز بولي (دوهم): مراد دتغیر څه د هیئت أولی ایسته کیدل دي د محاذاة څخه د محراب صرف لیري کیدل د محراب څه او بیرته دریدل پر محاذاة د محراب کفایت نه کوي (دریم): تطبیق په مابین کی د قول د امام صاحب او امام ابو یوسف رحمة الله تعالی علیه دا دی چه مراد د امام صاحب رحمة الله تعالی علیه د اثبات څه د کراهة . کراهة تنزیهی دي او د امام ابو یوسف صاحب رحمة الله تعالی علیه د نفی څخه د کراهة نفی د کراهة تحریمی دي نو د دواړو شخینو مراد یو دي چه ثبوت د کراهة تنزیهیة دی(من الوصیة الاخوانیة فی حکم الجماعة الثانیة المطبوعه) فی (احسن الفتاوی ص۳۲۱ج۳). والله تعالیٰ ﷻ اعلم

بسم الله الرحمن الرحیم

دولت کولای سی چې دچاشخصي مالونه له خارجه بندکړي ؟

سوال: ایا حکومت کولای سی چه یو څوک و خارج ته د خپلو مالونو د وړلو څخه منع کړی کنه او که د حکومت لخوا بندیز و لګول سی او یو څوک تخلف و کړی او حکومت د ده مالونه ضبط کړی او لیلاموي ئی ایا دغه لیلام د حکومت جواز لري او کنه ؟ (فرضی استفتاء)

جـواب: ازاین مواد چهارگانه مسئول عنها فقط سوال سیوم تعلق بریاست دارالافتاء مرکزی دارد و در تشریح جواب همین سوال باید گفته شود که دریں باره نکات ذیل بسیار مهم است .

(اول) : هر کسی که مالک مال میباشد اورا در مال خود کاملاً اختیار ثابت است هیچ کس نمیتواند اورا از تصرفات عادیهٔ غیر مضرة ممنوع کند حکومت باشد منع کننده یا رعیت .

(دوهم) : درصورتی که در تورید یا تصدیر یا تولید بعض اموال ضرر عام باشد به ملت حکومت میتواند که اورا ازین قسم تصرف منع کند .

(سوم) : حکومت را جائز است که تخلف کننده را تعزیر بدهد و مقدار تعزیر مفوض است برای امام وقاضی واین تعزیر تخلف کننده را ازین جهت جائز است که او ترک اطاعت أوامر حکومت کرده است واین یک معصیت است زیراکه اطاعت امراز واجبات است وترک آن از معاصی .

(چهارم) : تخلف کننده را تعزیر بالمال در هیچ وقت وهیچ صورت جائز نیست .

(پنجم) : لیلام یا بیع اموال ضبط شده از طرف حکومت بغیر رضاء صاحب المال ...

(ششم): بہ اموال ضبط شدہ از طرف حکومت باید ہیچ ضرری رسانیدہ نشود.

(ہفتم): تعین قیمت ونرخ از طرف حکومت برای اموال ضبط شدہ تسعیر است وتسعیر جائز نیست باید کہ مالک اموال خودرا بدست خود وبہ قیمت خود درہرجاکہ اومیخواہد (البتہ درداخل افغانستان) بہ فروش برساند.

اعلم ان فی جنس هذه المسائل اختلافا حاصله انه لايمنع على أصل الامام وهو أن كل من تصرف فی خالص ملكه لايمنع منه فی الحكم وان لحق بالغير الضرر وافتى بهذه طائفة لكن ترك غالب المتأخرين ذلک فی موضع يتعدى ضرر تصرفه الى غيره ضررا بينا وقالوا بالمنع وعليه الفتوى كما فی كثير من المعتبرات (غمزعيون البصائر صـ۲۸۲ج۱) الملک اختصاص بالشئ يمنع الغير منه ويمكن صاحبه من التصرف فيه ابتداء الالمانع شرعی الخ (الفقه الاسلامی صـ۵۷ج۴) لايجوزلاحد أن يتصرف فی مال الغير بلااذنه (المجلة المـ۹۶).

ولهذا يجب انتكون أوامرالسلطان واولی الامر والنهی موافقة لمصالح الرعية الخ (شرح المجلة سليم بازصـ۴۲) ولايسعر حاكم لقوله ﷺ لاتسعروا فان الله هوالمسعر القابض الباسط الرازق الخ (ردالمحتارصـ۲۸۳ج۵) وبناء عليه الاصل عدم التسعير ولايسعر حاكم على الناس وهذا متفق عليه بين الفقهاء (الفقه الاسلامی صـ۵۸۸ج۳) فتصرف الغير فی مال الغير ممنوع الا انتكون وصاية او ولاية او تدعو ضرورة فيجوزلان الضرورات تستثنى من القواعد العمومية (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۶۲ج۱) التصرف على الرعية منوط بالمصلحة (الملجة المـ۵۸).

حکومت کا ضبط کردہ مال خریدنا..... اس مال پر حکومت کا قبضہ ظلم ہے مالی جرمانہ ہر حال نا جائز ہے اس لئے اگر خرید نی والی کو علم ہو تو اس کی لئے اس کا خرید نا جائز نہیں.

قال رسول الله ﷺ لايحل مال امرئ مسلم الابطيب نفس منه قلت وكل مال محترم حكمه حكم مال مسلم (احسن الفتاوى صـ۹۳ج۸) والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دزور اقرار ،اوددووکسانوقتل چې مشخص قال پکې معلوم نسي څه حکم لري؟

(اول سوال): یو څوک چه د اولسوال د وهلو په زور اقرار و کړی ایا د غـه اقـرار اعتبار لـري کیا. **(دوهم سوال)**: جرحة مهلکة چه په قصاص کی اعتبار لري کم جراحة ته ویل کیږي.

(دریم سوال): که یو سړی په توپک ووژل سی او قاتل یـی معلوم نـسی یعنی فیر کوونکی ۲ کسان وي قصاص به څنګه کیږي.

(څلورم سوال) که قاضی یو متهم او مجرم ته داسی ووایی چه ته اقرار وکړه زه به تا خلاص کړم یا به صلح در وکړم او هغه مجرم هم په دغه امید اقرار وکړی ایا دغه اقرار اعتبار لري کیا

جواب: (جواب سوال اول و سویم): اگر شخص مذکور از نزد ولسوال رفته وتنها درپیش قاضی اقرار کرده در حالیکه ولسوال و هیچ فرد از افراد او حاضر نباشد و هیچ قسم تهدید و تخویف از طرف قاضی بمیان نه آمده باشد درین صورت اکراه نیست واگر شخص مذکور در حضور ولسوال درپیش قاضی اقرار بکند درین صورت اکراه موجود است اقرار وي صحت ندارد و حکم اقرار بازی دادن در جواب سوال ششم می آید.

عنـد الامامين يتحقق الاكراه من كل متغلب يقدر على تحقق ما اوعد والفتوى على قولهـما ..... ان غـاب المكره عن نظر من اكـره يـزول الاكـراه (الانقروية صـ۲۳۲ج۲) الاكـراه يثبت حـكمـه اذا حـصل ممـن يقـدر على ايقـاع ماتوعـد بـه سلطانا كـان او غيره وان غـاب المكـره عن نظر من اكـره يـزول الاكراه (مجمع الضمانات صـ۲۰۴) يتحقق من كل متغلب يقدر على تحقيق ماهدد به و عليه الفتوى و ان غـاب المكـره عن بصر من اكـره يـزول الاكـراه (القاضى خان صـ۴۱۵ج۲) سئلت فـيمن اكـره على الاقـرار فـاقر هـل لايـصح اقراره والحالة هذه فالجواب لايصح اقراره قال فى الخانية ولو اكـره ليقـر كـان بـاطلا آه وفـى الخيريـة الاكـراه يعـدم الاختيـار فـلا صـحة للاقـرار مع الاكـراه آه (الكاملية صـ۱۹۹ج) هـكذافى (مجمع الضمانات صـ۲۰۶).

(جواب سوال چهارم): درکتاب جوهرة در تعریف جراحة مهلکه اینچنین آمده است.

اذا جرحـه جراحـة لایعـیش معهـا (ردالمحتـار صـ۳۹۵ج ۵) (وباقی اقسام جراحات جائفہ وغیر جائفہ در فصل الشجاج از کتاب الدرالمختار آمده است) .

(جواب سوال پنجم) : این صورت مسئلہ شما مشتمل برسہ صورت میگردد اول اگر جرح از یک نفر صورت گرفتہ باشد قصاص برسر شخص جارح میباشد دوم اگر جارح معلوم نشود کہ از فیرکدام شخص مجروح کشتہ است ہر دونفر شان از قصاص خلاص و بری میگردد سویم اگر جرح از ہر دونفر صورت گرفتہ باشد اثخان وغیر اثخان معلوم نباشد ہر دونفر شان قصاص میگردد چراکہ اثخان فرع جرح میباشد .

سئل فی جماعة یضربون بالبنـادق فاصابت بنـدقة وجه صـغیر ولم یعلم فمـا الحکم (اجـاب) حیـث لم یعلـم الـضارب و لـم یعیـن لاتـسمع الـدعوی علی جمیـع الـضاربین حیـث لا یـتصور الـضرب مـنـهم بـاجمعهم لان ذاک محـال وفـی التنـقیح شرط صحة الدعوی العلم بالمدعی علیه فحیث لم یعلم الضارب و لم یعین لاتسمع الدعوی علی جمیع الضاربین آه (الفتاوی الکاملیه صـ۱۱۶ صـ۱۱۷) وقد ذکـر فـی صورت الـدعوی ان البنـدقة التی بهـا رصاصـة قتلته ولم یعینـو القـاتـل وان ادعـی علـی واحـد غیر معیـن لاتـسمع لمـا ذکرنـا ان شـرط صـحة الـدعوی العلـم بـالمـدعی علیه فیشـترط تعیـن الـضارب و اقامة البینـة بوجهها الشرعی علیه غیر واحـد من علمائنـا رحمهم الله تعـالی منـهم الخیر الرملی (تنـقیح الحامدیه صـ۲۸۱ج ۲) .لاتصح الـدعوی علـی جمیـع الـضاربین بالبنـدق اذا أصابت واحـدا بنـدقة فقـتلته اذا لم یعلم الضارب (تـکملة ردالمحتـار صـ۳۹۱ج۱) ثم رأیت فـی حـاشیة ابـی الـسعود مانـصه ولوجرح جراحـات متعاقبة ومات و لـم یعلـم المثخن منهـا و غیر المـثخن یقتص من الجمیع لتعـذر الوقوف علـی المـثخن و غیره کما فی فتاوی ابی السعود (حـاشیه الطحطاوی صـ۲۷۰ج ۴) هـکذافی (ردالمحتـار صـ۳۹۵ج ۵) و تـقتل الجماعـة بالواحـد .... ولان القتـل بطریـق التعـاقب غـالب و القصاص شرع لحکمـة الزجـر فیجعـل کل منـهم کـالمنـفرد

الفعل فيجب تحقيقا لمعنى الاحيا من الكل (لسان الحكام بهامش معين الحكام صـ١٧٨).

(جواب سوال ششم): اگر قاضی متهمین را بازی بدهد وبامید صلح یا خلاصی از حبس مجرمین اقرار بجرم خود نماید این را در شریعت مقدسه اقرار تلجئة میامد اقرار تلجئة قطعا معتبر نیست واگر قاضی باین اقرار تلجئة عمل نماید عمل او بر خلاف شریعت باشد وگنهگار میباشد.

سئلت فيمن اقر على طريق التلجئة هل يصح اقراره فالجواب لايصح اقراره ولا يؤخذبه (كاملية صـ١٤٣) وكذا لايصح الاقرار تلجئة ...... وكما لايجوز بيع التلجئة لايجوز الاقرار بالتلجئة بان يقول لاخر انى اقولك فى العلانية بمال و تواضعا على فساد الاقرار لايصح اقراره (شرح المجلة لسليم باز صـ٨٦٣) والله تعالى ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

سوال دسوال ورقه ضائع سوی وه

د اول سوال جواب: لپاره د اثبات د خپل ملکيت په شريعت کی د دغه طريقی وضعه سوی دي لکه بيّنة ، قسم ، نکول ، قرائن ، قاطعة او اقرار له دغه شرعي طريقو پرته په بله طريقه اثبات د دعوی نه کيږی نو يوازی وجود د علاماتو او آثارو لکه جو وي وغيره کفاية نسی کولای لپاره د اثبات د مّدعی.

طرق الاثبات التى يعتمد عليها فى القضاء هى الشهادة و اليمين و النكول والاقرار (الفقه الاسلامى صـ٥١٦ ج ٦) اسباب الحكم سبعة (١) القرنية (٢) الشهادة (٣) الاقرار (۴) اليمين (۵) النكول عن اليمين (۶) القسامة (٧) علم القاضى على قول (دررالحكام صـ٤٨٣ ج ۴).

د دوهم سوال جواب: كه چيری ته د تقسيم شرعی شاهدان ولري او هغوئ شاهدی اداء کړي او قاضي يی قبوله کړی نو په دي سره يوازی د هغه خلقو حق ساقطيږي ستاسی د حصې څه چه تاسو تقسيم ورسره کړيدی نور نو ستاسو لپاره حجة د ملکيت نسی کيدلای د عامو

انسانانو په مقابل کی یوازی او یوازی ستاسو د شریکانو تعلق قطعه کیږي ستاسی د حصی ثه. و اما حکمها ای القسمة فتعین نصیب کل واحد منهم من نصیب صاحبه بحیث لایبقی لکل واحد منهم تعلق بنصیب صاحبه کذافی التبیین (الفتاوی الهندیة صـ۲۰۴ج۵) هکذافی (الفقه الاسلامی صـ۶۸۶ج۵).

والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

دتیلو په اړه قراردادونه دشریعت په رڼاکي

سوال: مونږ د مواد نفتی د تجارانو سره په لاندي دول قرار داد کړی دی ایا زمونږ دغه قرار داد جائز او د شریعت سره مطابق دی کنه؟

(الف): برای تمام تاجران اجازه است که مواد نفتی را از قبیل پطرول - دیزل - تیل خاک بصورت دوام دار بمقدار کافی از کشور ترکمنستان مطابق به کیفیت و ماهیت مطلوب واعلا از طریق بندر کشکی تورغندی وارد نمایند که از مجموع مقدار به تفصیل ذیل فیصدی را بطور مجانی بدون قیمت به ریاست مواد نفتی واگذر شوند. (۱): از مقدار پطرول سیزده ۱۳% فیصد. (۲): از مقدار دیزل و تیل خال شانزده ۱۶% فیصد. (۳): البته ۸۴% هشتادچهار فیصد دیزل و تیل خاک و ۸۸% پطرول از هر پارتی وارد شود به خود تاجران تعلق داشته که میتوانند در بازار ازاد به قیمت عادلانه برای مستهلکین بفروش برسانند.

(ب): پول کرایهٔ انتقال موادنفت سهم تاجران باپول مالیه و صکوک و کسرات صد فیصد و معرف قرطاسیه از هر پارتی علیحده تخنیص وتوسط تاجران واردکننده به حسابات مربوط مستوفیت وریاست مواد نفتی رسما تحویل بانک شود.

(ج): تاجران مکلف اند حین تورید مواد نفتی تمام نوعیت را مطمح نظر قرار داده واز هر سه نوعیت وارد نمایند البته ماهیت کیفیت موادنفت از طرف ریاست مواد نفتی کنترول میشود که باید مطلوب واعلی باشد.

(د): تمام تاجران محترم مکلفیت دارند که حین اخذ تصمیم به تورید مواد نفتی قبلا برایاست مواد نفتی مراجعه وعقد قرارداد بدارند.

(ه): تاجران مکلف میباشند که موادنفت را به نوعیت اعلی یعنی پطرول ۷۶ A دیزل ال ۶۲ تیل خاک مطلوب باشد در غیرآن واپس مسترد میشود.

(و) : پروتوکول هذا اعتبار از تاریخ اول سال جدید قمری ۱۴۲۰ قابل اعتبار بوده البته اگر بعداکدام فیصله و تجویز دیگری از طریق مقام محترم وزارت تجارت وریاست عمومی مواد نفتی کابل اتخاذ گردید مطابق به ان رسید گی واجراات خواہد شد.

پروتوکول ہذا بداخل (۲) ماده وفقره ترتیب والبته به موافقه طرفي-ن امضاء گردید ؟

جـــواب: دربارهٔ پروتوکو ل فرستاده شده از طرف مسؤل انحصارات ہرات باید گفته شود که اولین ماده از مواد ششگانه آن موافقت با شریعت ندارد واین ماده مخالفت تام باشریعت میدارد زیراکه اخذ این دوازده فیصد وشانزده فیصد بصورت مجانی از تجاران بصورت قانونی ہیچ اصلی در شریعت مقدس ندارد بلکه أخذ آن ظلم است وحرام است چراکه این عقد نه ہبه است نه بیع است نه دیگر عقدی است از عقود شرعیه ــ مگر درآن صورت که این فیصدی دادن از طرف تجاران برضائی کامل ایشان بطور معونت بایت المال میباشد که درین صورت أخذ این فیصدی بلکه زائد ازان جائز است بشرط رضائی تجاران لکن این صورت وقتی متحقق میشود که ہیچ نوع جبر وفشار از طرف حکومت برتاجر نباشد وبشکل قانونی نباشد ونیت وقصد تاجر فقط وفقط معونت باحکومت میباشد ودر صورت نه دادن تاجراین فیصدی را ازایراد مواد نفتی ممنوع وب-ی بہره نشود ــ ومادهٔ دوہم احتیاج بتفصیل وتوضیحی میدارد که بانجا فرستاده شود ومواد چہارگانه أخیرکدام ممنوعیت شرعی ندارد چراکه بناء آن بر مصلحت عامه یا مصلحۃ نظم وانتظام اموراست و کدام ضرری دران محسوس نمیشود.

ولـيس لـلامـام ان يخـرج شـيئا مـن يـد أحـد الابحـق ثابـت معـروف (ردالمحتار صـ۲۸۱ج ۳) عن عبدالله ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من اقـتطع مـال امرئ مسلم بغير حق لقى الله عزوجل وهو عليه غـضبان رواه احـمـد وعـن ابـى حـميـد الساعدى ﷺ ان رسول الله ﷺ قال لايحل لامرئ ان يأخذ مـال اخيه بغير حقه و ذلک لما حرم الله مـال المـسلم على المسلم رواه احـمـد...... الفـتح الربـانى (احـسن الفتاوى صـ۵۱۳ج ۵) ليس لاحـد ان يأخذ مـال غيره بلاسبب شرعى (المجلة الـمـ۹۷) وان اخذه ولو على ظن انه ملكه وجب عليه رده عينًا انكـان قائمـا و الاافيضمن قيمته انكـان قيميا و مثله انكان مثليا (شرح المجلة سليم باز صـ۶۲) اذا رفع انسان شيئا

الی آخر غیر واجب علیه اداءه فله استرداده مالم یکن اعطاه ایاه علی سبیل الهبة ووجد مایمنع من ردها ..... قوله بلاسبب شرعی لانه بالاسباب الشرعية كالبيع والاجارة و الهبة والكفالة والحوالة يحق اخذ مال الغير (درر الحكام شرح مجلة الاحكام صـ۹۸ج۱) ای لايحل فی كل الاحوال عمدا او خطأ او نسيا ناجدا او لعبا ان يأخذ احد مال احد بوجه لم يشرعه الله تعالى و لم يبحه ..... فمن تناول مال احد باحدی هذه الطريق فهو ظالم غاصب يجب عليه رده قائما او مثله او قيمته هالكا (شرح المجلة للاتاسی صـ۲۶۴ج۱).

(يا ايها الذين آمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل) فالباطل مايخالف الشرع و قال ابن عباس و الحسن البصری هو ان ياكل بغير عوض فالباطل مايؤخذ بغير عوض ..... و اذا لم يجز اكل المال بالباطل و هو غير المشروع و المأخوذ من عين او منفعة ظلما من غير مقابل فيجوز اخذه بالتراضی الذی يقره الشرع (التفسير المنير صـ۳۱ج۵) التصرف علی الرعية منوط بالمصلحة (المجلة المـ۵۸) فيشمل السلطان و من قلده السلطان بذاته او بالواسطة ..... فان جميعهم تناط تصرفاتهم العائدة لمن هم تحت ولايتهم بالمصلحة ای بما فيه نفع يعود اليهم (اتاسی صـ۱۴۱ج۱) والله تعالی ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

په هيواد کي دتيلو دپمپونو اړوند بشپړ احکام اومفصل بيان

سوال: از ریاست محترم دارالافتاء ـ محترما: درسابق تمام معاملات خرید وفروش تیل انحصار بر دولت بودند وتوسط ریاست انحصارات صورت میگرفت وتانک های تیل تماما مربوط دولت بودند برای فعلا هم امارت قصد دارند که تمام تانک های تیل را به امارت انحصار نمایند ـ واز دست اشخاص تمام تانک های تیل بکشند واین تانک هابرسه قسم تقسیم است.

(۱) : تانگ از سابق دولتی بوده اما فعلا توسط مردم واشخاص با اخذ کردن قرارداد به پول شخصی اشخاص ترمیم گردیده فعال شده .

(۲) : زمین دولتی اما تانگ توسط اشخاص بعد از قرارداد جدید اعمار گردیده .

(۳) : زمین هم شخصی و تانگ هم توسط ان شخص بعد از قرارداد شخصا مالک زمین جود نموده درسه حالت فوق باهمه یکسان قراردادشده وهریک به قرارداد راضی شده و قرارداد صرف برای یک صورت گرفته که نمونه آن به شما ارسال نمودم پس فعلا طالب حکم شرعی بوده که امارت درسه حالت فوق میتواند که بر طبق قرارداد که برضائیت طرفین صورت گرفته طبق ماده (۱۱) قراردادها تانگ را از اشخاص بگرداند وانرا در تصرف خود دراورد و طبق سابق در انحصارات دولت داخل نمانند یا خیر فایده ونفع انحصار کانترول نرخ تیل ونگاهداشتن تیل از خلط شدن آب ودیگر اشیاء که ضرر آن منجر به به خرابی هزار موتر مسلمانان میگردد در صورت مجرائی تعمیر اشخاص بر امارت ایا اشخاص حق پول مصرف شدنی اول کرت دارند یا فعلا در وقت تسلیمی تانگ به قیمت موجود قیمت گذاری می شود وآنرا به اشخاص داده می شود درباره طالب حکم شرعی میباشم .

قرار عریضه جداگانه حاجی محمد حسین ولد حاجی عبیدالله حاجی فضل الرحیم ولد محمد رحیم و محمد صادق ولد مولوی عبدالعزیز شریکا در مورد تجدید قرارداد سالانه تانک (۲۲) دوراهی و موافقه ریاست محترم عمومی انحصارات مواد نفتی چنین امر هدایت فرموده اند . (مدیریت تخنیک) . در حصه تجدید قرارداد تانک (۲۲) دوراهی اقدام گردد وسالانه مبلغ شصت ملیون افغانی عقد قرارداد .

(۱) : مکلفیتهای قراردادی و مکلفیتهای ریاست انحصارات در مورد تانک (۲۲) دوراهی قرارذیل است

(۲) : قراردادي مکلف است که تانک (۲۲) دوراهی را مطابق نقشه انحصارات دولتی ترمیم کاری نمانند .

(۳) : قراردادی مکلف آند که تمام سامان مورد ضرورت تانک مذکور را بوقت وزمانش تهیه و ترمیم نمانند .

(۴) : قراردادي تماما مصارفات تانک (۲۲) دوراهی به پول شخصی خود بالای تانک (۲۲) مصرف نمانند .

(۵) : قرارداد هذا از تاریخ ۱/۷/۷۶ ۱۳ الی تاریخ ۱/۷/۷۷ ۱۳ مدت (۱۲) ماه بطور اجاره عقد گردید .

(۶): اجاره تانک (۲۲) در شش ماه اول مبلغ سی (۳۰) ملیون افغانی و در شش ماه دوم مبلغ سی (۳۰) ملیون افغانی میباشد.

(۷): قراردادی مکلف است که مواد نفتی را بروز نرخ بازار برای تمام عراده جات انفرادی واشخاص توزیع نماید.

(۸): قرارداد‌ي مکلف است اگر به تانک قرارداد شده کدام عوارض تخنیکی عاید گردد به انحصارات اطلاع دهند تا مشکل دفع گردد.

(۹): قراردادي مکلف است که همه وقته در تانک مربوط خویش موجود باشد در غیرآن مورد بازپرسی قرار میگیرد.

(۱۰): مامورین وکارگران انحصارات دولتی میتوانند که تانک را وقت بوقت ملاحظه و بررسی نماید

(۱۱) اگر قراردادی به رضایت خویش تانک رهانمایند پمپ قیمت گذاری شده ولی مجرائی تعمیر داده نمیشود واگر دولت به تانک مذکور احساس ضرورت نمایند قراردادی کمیشن کاری را قبول کرده مجرائی تعمیر ومصرف پمپ خویش را گرفته تانک رهانمایند.

قرارداد هذا از تاریخ ۱۳۷۶ الی تاریخ ۱۳۷۷ به مدت یکسال در یازده ماده اعتبار است وقراردادي باید چهار اطراف وساحه پیش روی تانک (۲۲) همه وقته پاکسازی نماید.

د اول او دوهم سوال جواب: هغه وقت چه مخکه دولتي وي يعنې د دولت شخصي مملوکه وي نو حکومت کولای سي چه يو چاته يې په اجاره ورکړي او قرارداد ورسره وکړي او کله چه د اجارې وقت پوره سي بيرته ئې ځنې اخستلای سي او هغه مصارف چه مستأجر په مخکه کې د بيت المال کړيدي نو هر څو مصرف چه ئې سوی وو هغه مصرف به حکومت حتمًا ورکوي اوسنی قيمت ته ضرورت نسته.

د دريم سوال جواب: هغه وقت چه مخکه شخصي وي تانک هم شخصي وي په دي صورت کې نه حکومت ته جواز لري چه آينده ئې پخپل انحصار کې راولي او نه د غسې قرارداد کول د حکومت له طرفه د دغه شخص سره جائزدي بلکه د غه قرارداد د دوی سره باطل دی ولی د

قرارداد په پنخمه ماده کی عقد د اجاری لیکل سوی دی او کله چه مځکه او ټانګ دواړه شخصی وي نو عقد د اجاری به څنګه صحت پیدا کړی او دا چه تاسو لیکلی چه په صورت کی د عدم انحصار ډیر اضرار مابین ته کیږي نو په دي هکله باید وو وایو چه شریعت و احتمالی اضرار وته قطعًا اعتبار نه ورکوي او د هغه اضرارو د فعه په شریعت یعنی په شرعی طریقه هم کیدلای سی یعنی چه یو هیئت مقرر سی او وقت په وقت د هغوی تیل معاینه کړه سی او په صورت کی د وجود د ضرر شدید تعزیر ورکول سی او د غه احتمالی اضرار خو په ټول تجارتی او خوراکی موادو کی راتلای سی نو که د دي شیانو انحصار جائز سی ټول خلق به د تجارت څه منع سی او معطل به سی چه دا پخپله یو ضرر عام دی حاصل او خلاصه دا چه خلق په خپلو اموالو کی د شرعی نګاه څه پوره حرّیة او ازادي لري منع کول او انحصارول یی بغیر له یو واقعی متحقق او عام ضرر څه او بغیر له هغه موادو څه چه په شریعت کی متعین او بیان سوی دی په صورت قطعی حرام او ناجائز او د ټولو مذاهبو څه خلاف عمل دی.

و تقدم اول الباب الثانی عن القنية ماحاصله انه اذا عمر المستأجر باذن القيم يرجع عليه مطلقا الا اذا كانت العمارة يرجع معظم منفعتها على المستأجر فلا يرجع الا اذا شرط الرجوع (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۲۲۲ج۱) هكذافى (صـ۱۷۹ج۱) و (الفتاوى المهدية صـ۴۵۱ج۲ و صـ۴۷۷ج۲) و (ردالمحتار صـ۴۶۰ج۳) عمارة الوقف باذن متوليه ليرجع بما انفق توجب الرجوع باتفاق اصحابنا بما انفق و ان لم يشترط الرجوع ذكر فى جامع الفصولين فى عمارة الناظر بنفسه قولين عمارة مأذونه كعمارته فيقع الخلاف فيها و قدجزم فى القنية و الحاوى الزاهدى بالرجوع و ان لم يشترطه اذا كان معظم منفعة العمارة الى الوقف كذافى فتاوى العلامة الرملى (الفتاوى المهدية صـ۴۷۷ج۲) و (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۲۲۲ج۱) ان راضى بيت المال جرت على رقبتها احكام الوقوف المؤبدة (ردالمحتار صـ۴۲۵ج۳) هكذافى (تنقيح الفتاوى الحامدية صـ۱۷۶ج۱).

و ماانـفقه المـستأجر دیـن لـه علی الوقـف (تنـقـیح الفتـاوی الحامدیـة صـ۲۰۰ج۲) الـدیون تـقـضی بامثالهـا (تنـقـیح الفتـاوی الحامدیة صـ۲۸۱ج۱) و یتعیـن الافتـاء فـی الوقـف بمـا هوالانـفع والاصـلح للوقـف (تنـقـیح الفتـاوی الحامدیة صـ۲۱۱ج۱) هـکذافی (الفقه الاسلامی صـ۷۳۶ج۸) الملک التام هـو ملک ذات الشیٔ (رقبته) و منـفعته معًا بحیث یثبت للمالک جمیع الحقـوق الشرعیة . . . . . ویمنـح صـاحبه الـصلاحیات التامـة مـن حـریـة الاسـتعمال و الاسـتثمارو التـصرف فیمـا یملـک کیف یـشاء (الفقـه الاسـلامی صـ۴۵۴۹ج۶ ط جدیـد) لاعبرة للمتوهم (المجلة المـ۷۴) و قـد ذکـروا أصـلا کـمـا فـی البـدائع بـان مـالم یکن ثابتـا اذا وقع الشک فی ثبوته لایثبت مع الـشک فکیف مع التوهم فهـو باطـل لایثبت معه حـکم شرعی کما لایؤخر لاجله حـکم شرعی (شرح المجلة لـلاتاسی صـ۲۰۹ج۱) یعنـی ان الامر المـتیقن ثبوته لایرتفع الابـدلیل قـاطع ولایحکم بزواله بـمجـرد الـشک کـذلک المتیقـن عـدم ثبوتـه لایحکـم بثبوتـه بـمجـرد الـشک لان الشک اضعف من الیقیـن فـلا یعـارضه ثبوتًا و عدما (اتاسی صـ۱۸ج۱) .

(**نوټ**) : په دغه یوولس مادوی قرار دادکی چه تاسو را استولی دی باید ووایو چه پنځمه او شپږمه او یوولسمه مـاده پـه هغـه صورت کی جـاری کیـدلای سی چه ټانـګ دولتـی وي پـه شخصـی ټانـګ کـی داسـی مـواد ایښوول حرام دی چـه تـفـصیل ئـی پـوره تیـر سـوی دی او د اوومی مادي په متعلق باید ووایو چه داماده پخپله صحیح ده لکن حکومت بـه د خپـل جانب څه نرخ نه تعینوي او خلقوته به نرخ نه ورکوي ولی تسعیر پـه شریعت مقدس کـی حرام دی پـه احادیثو کی منعه ځنی راغلئ ده مګر په هغه صورت کی کـه خلقو یو شی پـه دو چنده قیمت خرځاوه ((یعنی د لس روپی شی په شل روپـی خرڅول)) او کـه د دوچنده څه کم وي نو نرخ ورکول بیا حرام دی او نوری موادي صحیح دی چه د قسمه څه د اوامرو د حکومت دی چه بناء پر مصلحت دی .

ولایـسعر حـاکـم لقولـه ﷺ لاتـسـعـروا فـان الله هـو المـسعر القابض الباسط الرازق الا اذا تعدی الارباب عن القیمة تعـدیا فاحـشا فیـسعر بمشورة اهـل

الرأی (الدرالمختار) قوله تعدیا فاحشا بینه الزیلعی و غیره بالبیع بضعف القیمة (ردالمحتار صـ۲۸۳ج۵) هکذافی (تبیین الحقائق صـ۲۸ج۶) و (فتح القدیر صـ۴۹۲ج۸) و (البحرالرائق صـ۲۰۲ج۸) التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة (المجلة المـ۱۴۱) فیشمل السلطان و من قلده السلطان بذاته او بالواسطة ..... لان کل من دون السلطان ولایتهم مستمدة منه فحکمهم حکمه فی اناطة تصرفهم بالمصلحة (اتاسی صـ۱۴۲ج۱).

والله تعالیٰ ﷻ اعلم.

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان آمين ثم آمين

پہ تولہ دیني مینه
مولوی عبدالاحد «مجروح»
دهجرت مینه پښتون آباد کوټه
۲۰۱۵ میلادي کال
۱۴۳۶ هجري
۰۳۲۱۲۵۸۹۶۷۳
۰۷۰۲۸۰۶۵۱۵